د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون

د شرعیت او قانون پوهنځی

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام


# د اسلامي فقهې تقنین او په افغانستان کې یې هڅې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: روح الله الیاس

لارښود استاد: دکتور نجیب الله "صالح"



کال: ۱۴۰۲ هـ ش - ۱۴۴۵ هـ ق

سلام پوهنتون

د شرعیات او قانون پوهنځۍ

د فقه او قانون د ماسترۍ پروګرام

د افغانستان اسلامی امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د علمي چارو معینیت

# د اسلامي فقهې تقنین او په افغانستان کې یې هڅې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: روح الله الیاس

لارښود استاذ: دکتور نجیب الله " صالح "


کال: ۱٤۰۲هـ ش – ۱٤٤٥هـ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

علمي معاونیت

د فوق لیسانس برنامو آمریت

د شرعیات اوقانون پوهنځی

د فقهي او قانون ماستری برنامه

## تــــصـــديــق پــــــاڼـــــه

بناغلی (روح الله) د (جلاد خان) زوی د ID: MSF-S1401 - 906 نمبر لرونکي، د فقهي او قانون د (لسمی) دوری محصل، خپله د ماستری مرحلې رساله چې عنوان يې دی:

<u>(د اســـــلامي فقهي تقنين او په افغانستان کې يې هڅې)</u>

په ۲۹/ ۴ /۱۴۰۴ هـ ل نېټه بریالیتوب سره دفاع کړه او د حـــــکم پلاوي د ارزونې پر بنسټ د ___۹۰___(نمرو په عدد) ___نوي نمرې___(نمرو په حروفو) ور وګرځېد، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتی بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي غړي :

| ګڼه | داستاذ نوم | مسئولیت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور محمد یونس ابراهیمی | دحکم پلاوي غړی | |
| ۲ | استاد وزیر محمد سعیدی | د حکم پلاوي غړی | |
| ۳ | دکتور نجیب الله صالح | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | |

د فوق لیسانس برنامو آمر..............................

علمي مرستیال ..............................

## ډالۍ

خپله د غه لړه هڅه او ليکنه ډالۍ کوم!

خپلې ګرانې مور ته، چې د ژوند په ټولو پړاوونو کې يې زما بې سارې مرسته کړې او په خپلې مينې او دعاګانو سره يې ما ته قوت راکړی دی. خپلو وروڼو ته، چې په هره مبارزه کې زما تر څنګ ولاړ دي او تل يې د ملاتړ او همکارۍ احساس راکړی دی، او خپل يوائځيني زوی عدنان ته، چې د هغه معصوميت او پاکي ما ته الهام راکړی تر څو د ژوند په لاره کې پرمختګ وکړم، او ټولو هغه کسانو ته چې زما علمي سفر يې اسانه کړی دی.

## مننليک

هر څه له مخه د الله تعالی څخه ډېر شکر ګذار یم چې د دې رسالې د لیکلو توفیق یې را په نصیب کړ. ثانیا د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځی د ماسترۍ پروګرام له محترمو استاذانو او اداري کارمندانو څخه نړۍ مننه کوم چې خپل ټول وس د محصلینو د سویې لوړولو او پوهولو په خاطر په هر وخت کې مصرفوي، په ځانګړي توګه د قدرمن استاذ دکتور نجیب الله (صالح) صاحب څخه چې د خپلو ډېرو مصروفیتونو سره سره یې زما د رسالې اشراف په غاړه واخیسته او د تیزس لیکلو په جریان کې یې راسره نه ستړې کیدونکې مرسته وکړه، او په پای کې غواړم د لوړو زده کړو وزارت څخه هم مننه وکړم چې د افغان نسل په روزنه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي.

په درناوي

روح الله الیاس

## د څېړنې لنډيز

دا څېړنه چې (د اسلامي فقهې تقنين او په افغانستان کې يې هڅې) تر عنوان لاندې ترسره شوې ده، يو ارزښت ناکه څېړنه ده؛ ځکه چې دې بحث د اسلامي فقهې د تقنين اړوند موضوعاتو په اړه پراخه علمي بحث وړاندې کړی. څېړنه د اسلامي فقهې د مفهوم او تاريخي پرمختګ په وضاحت سره پيل شوې ده، او پکې د اسلامي فقهې بنسټيز اصول، منابع، او د هغې د تطبيق مختلف پړاوونه ذکر شوي دي. په ځانګړې توګه د اسلامي فقهې تقنين اړوند مفصل تحليل شوی دی، چې پکې د تقنين اړتياوې او لاملونه په علمي ډول سره بيان شوي دي، او په دې اړه مختلف نظرونه د مستندو دلايلو سره وړاندې شوي دي. څېړنه دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې ولې او څنګه د اسلامي فقهې فروع په قانوني چوکاټ کې ځای پر ځای کېدی شي؟ د تقنين په برخه کې د نړۍ او اسلامي هيوادونو تجربې هم څېړل شوې دي. د تقنين لپاره ټاکل شوې اصول او ضوابط، چې د شريعت سره په توافق کې دي، په تفصيل سره تحليل شوي دي، چې د اسلامي قوانينو د تدوين لپاره يو لارښود وړاندې کوي، او د معاصرې ټولنې اړتياوې هم پکې په پام کې نيول شوې دي.

د څېړنې وروستی فصل په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنين هڅو ته ځانګړی شوی دی. په دې برخه کې د افغانستان د مختلفو پړاوونو، په ځانګړې توګه د معاصرو دولتونو د هڅو، د شريعت په چوکاټ کې د قوانينو د تدوين او عملي کولو اړوند اقدامات په مفصله توګه تحليل شوي دي. څېړنه د قانوني او سياسي ستونزو، د ديني او سيکولر نظرياتو ترمنځ د تضادونو، او د تقنين په پروسه کې شته ننګونو او فرصتونو ته هم اشاره کړې ده.

د اسلامي فقهې تقنين د اسلامي تمدن يوه بنسټيزه برخه ده. چې د اسلامي شريعت اصول د معاصرو اړتياوو سره په تطابق کې د قانوني چوکاټ په بڼه وړاندې کوي، دا عمل نه يوازې د ټولنيز عدالت تأمينولو لپاره اړين دی بلکې د الله تعالی د رضا تر لاسه کولو لپاره هم يوه مقدسه هڅه ګڼل کېږي. پدې څېړنه کې توصيفي- تحليلي ميتودونو څخه کار اخيستل شوی دی، چې د بحث هره موضوع په مستنده توګه بيان شوې ده.

په دې څېړنه کې هڅه شوې چې د اسلامي فقهې تقنين د اړتياوو او ننګونو په اړه يو واضح او روښانه تحليل وړاندې کړي، او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د اسلامي قوانينو د نافذولو او تدوين اړوند لاسته راوړنې او ستونزې په تفصيل سره وڅېړي.

## لړلیک

سریزه.......... ۱
د څېړنې اهمیت.......... ۱
د موضوع ټاکلو لاملونه.......... ۲
د څېړنې اساسي پوښتنې.......... ۲
د څېړنې مخینه.......... ۳
د څېړنې تګلاره.......... ٤
د څېړنې موخې.......... ٤
د څېړنې ستونزې.......... ٥
د څېړنې پلان.......... ٦

### لومړی څپرکی

### د اسلامي شریعت او تقنین مفاهیم

لومړی مبحث: د اسلامي فقهې بنسټیز مفاهیم او اصول.......... ۸
لومړی مطلب: د اسلامي فقهې مفهوم.......... ۸
دوهم مطلب: د اسلامي فقهې سرچینې.......... ۱٥
درېیم مطلب: د اسلامي فقهې مذهبي بنسټ.......... ۱۷
څلورم مطلب: د شرعي احکامو مفهوم.......... ۲۱
پنځم مطلب: شرعي احکامو ځانګړتیاوې.......... ۲۴
دوهم مبحث: د تقنین مفهوم او په اسلامي شریعت کې د تدوین ارزښت.......... ۲٥
لومړی مطلب: د تقنین لغوي او اصطلاحي تعریف.......... ۲٦
دوهم مطلب: د تقنین او قانون اړوند اصطلاحات او ځانګې.......... ۳۱
درېیم مطلب: د قانون ډولونه.......... ۳۴
څلورم مطلب: د تقنین اصل او هڅوونکي لاملونه.......... ۳٦
پنځم مطلب: د تقنین مشروعیت او تدوین عوامل.......... ٤۰
شپږم مطلب: د تقنین تاریخي پړاوونه او اسلامي شریعت کې د تدوین فکر.......... ٤٥
اووم مطلب: د تقنین پړاوونه.......... ٥۰
درېیم مبحث: د تقنین ځانګړتیاوې او اسلامي فقهه کې یې اړین اړخونه.......... ٥۱
لومړی مطلب: د تقنین خصائص او ځانګړتیاوې.......... ٥۲
دوهم مطلب: د فقهې د تقنین ښېګڼې او عیبونه.......... ٥۳

الف: د تقنين ښېګڼې او مزايا:........................................................................٥٦

ب: د تقنين عيوب:.....................................................................................٥٧

درېيم مطلب: د اسلامي فقهې په تقنين کې اړينې لاربښوونې........................................٦١

څلورم مبحث: د شرعي احکامو د تقنين مفهوم او اغېزې.............................................٦٥

لومړی مطلب: د شرعي احکامو د تقنين مفهوم.........................................................٦٥

دوهم مطلب: د شرعي احکامو د تقنين موخې او مثالونه ...........................................٦٦

درېيم مطلب: د شرعي احکامو د تقنين اغېزې.........................................................٦٩


## دوهم څپرکی

## د تقنين مشروعيت او د فقهاوو اندونه


لومړی مبحث: د تقنين په اړه د فقهاء نظرونه او د هغه ملاتړي او مخالف دلايل...................٧٣

لومړی مطلب: تقنين اړوند د فقهاء نظرونه.............................................................. ٧٣

دوهم مطلب: تقنين د مؤيدينو اندونه او دلايل.........................................................٧٧

درېيم مطلب: تقنين د مانعينو اندونه او دلايل.........................................................٨٤


## دريم څپرکی

## د اسلامي فقهې تقنين اړوند هڅې


لومړی مبحث: د اسلامي شريعت د تقنين تاريخچه او پړاوونه.........................................٩٧

لومړی مطلب: د شريعت تقنين د رسالت او خلافت په دوره کې......................................٩٨

دوهم مطلب: د شريعت تقنين د امويانو په دوره کې ................................................٩٩

درېيم مطلب: د شريعت تقنين د عباسيانو په دوره کې...............................................١٠١

څلورم مطلب: د شريعت تقنين د عثمانيانو په دوره کې..............................................١٠٤

پنځم مطلب: استعمار وخت کې د اسلامي هيوادونو د تقنين هڅې ..................................١٠٩

دوهم مبحث: اسلامي فقهې تقنين اړوند فکري هڅې..................................................١٠٩

لومړی مطلب: عبدالله بن المقفع هڅې ..................................................................١١٠

دوهم مطلب :خليفه أبو جعفر منصور هڅې .............................................................١١٢

درېيم مبحث: سيمه ييزې هڅې ..........................................................................١١٣

لومړی مطلب: مصر.......................................................................................... ١١٢

دوهم مطلب: ترکيه .........................................................................................١١٣

دريم مطلب: تونس ..........................................................................................١١٤

څلورم مطلب: سعودي عربستان..........................................................................١١٤

ځلورم مبحث: د تقنین ضوابط............................................................. ۱۱۵
لومړی مطلب: عام ضوابط ............................................................... ۱۱۶
دوهم مطلب: شرعي ضوابط ............................................................. ۱۱۸
درېیم مطلب: شکلي ضوابط.............................................................. ۱۲۲


**ځلورم څپرکی**

**په افغانستان کې د تقنین مخینه**


لومړی مبحث: په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنین هڅې.................................. ۱۲۷
لومړی مطلب :د اسلامي فقهې د تقنین لومړي پړاوونه........................................ ۱۲۷
دویم مطلب: افغانستان کې د قانون سرچینې................................................. ۱۲۸
درېیم مطلب: د فقهې مذاهبو ترتیب او د قوانینو محدودیتونه.................................. ۱۲۹
دوهم مبحث: په افغانستان کې د قانون جوړونې بهیر ........................................ ۱۳۵
لومړی مطلب: شاهي دوره کې قانون جوړونه................................................ ۱۳۵
دویم مطلب: اماني دوره کې قانون جوړونه .................................................. ۱٤٦
درېم مطلب: اماني دورې وروسته قانون جوړوونه............................................ ۱۵۳
ځلورم مطلب: جمهوري دوره کې قانون جوړوونه............................................. ۱۵٦
پایله .................................................................................. ۱٦٤
وړاندیزونه.............................................................................. ۱۶۶
د قرآنکریم آیتونو لړلیک................................................................ ۱۶۷
د نبوي حدیثونو لړلیک................................................................... ۱۶۹
د أعلامو لړلیک......................................................................... ۱۷۰
منابع او مصادر......................................................................... ۱۷۳
Summary of the research.......................................................... ۱۸۱

## سریزه

إنَّ الحَمْدَ للهِ نَحْمَدُهُ، ونَسْتَعِينُهُ ونَسْتَغْفِرُهُ، ونعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنفُسِنَا ومِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، ومَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. اما بعد:

په هره ټولنه کې د قانون او تقنين ارزښت نه يواځې په حقوقي چوکاټ کې، بلکې په مذهبي، ټولنيزو، او اقتصادي ابعادو کې هم تر سترګو کيږي. دا پروسه د ټولنيز نظم د ساتلو، عدالت د تامين، او د وګړو د حقوقو د خونديتوب لپاره بنسټيزه ده. په دې چوکاټ کې، د اسلامي فقهې په رڼا کې د شرعي احکامو د تقنين موضوع يو له هغو بنسټيزو او ژورو موضوعاتو څخه ده چې په اسلامي ټولنه کې ځانګړې اهميت لري. دا موضوع نه يواځې د فقهي اصولو په پياوړتيا کې اساسي رول لوبوي، بلکې د معاصر حقوقي نظام په رڼا کې يې د تطبيق او پلي کولو اړتيا هم را ولاړه کړې ده.

تقنين د قانون جوړونې پروسه ده چې د ټولنې لپاره قواعد او قوانين وضع کوي، او په دې لړ کې مختلف حقوقي مصطلحات او اصول په پام کې نيول کيږي. د تقنين اصل او لاملونه به روښانه کړي چې ولې هره ټولنه د قانون جوړونې ته اړتيا لري او دا پروسه څنګه د ټولنيز نظم د ساتلو لپاره اړينه ده. د دې تر څنګ، د تقنين تاريخ او پرمختګ ته هم کتنه کيږي ترڅو د دې پروسې تکامل او د وخت په اوږدو کې د هغې بدلونونه روښانه شي. دا برخه د تقنين د مختلفو مرحلو او د هغې پر بنسټ ولاړو حقوقي سيستمونو په اړه ژوره مطالعه وړاندې کوي. همدارنګه، د تقنين ځانګړتياوې به په دې څېړنه کې تشريح شي، چې دا پروسه څنګه ځانګړې او په حقوقي سيستم کې اساسي ځای لري. د دې ترڅنګ، د تقنين مزايا او عيوب به په تفصيل سره وڅېړل شي، ترڅو د دې پروسې ګټې او احتمالي نيمګړتياوې په ډاګه شي.

### د څېړنې اهميت

د دې څېړنې اهميت په دې کې نغښتی دی چې اسلامي فقهه د مسلمانانو ټولنيز او حقوقي ژوند لپاره يو هر اړخيزچوکاټ وړاندې کوي، او د تقنين ضرورت يې د معاصرو اړتياوو سره تطبيق ته اړتيا لري. څېړنه د اسلامي فقهې تقنين پر اړوند د افغانستان په معاصر سياسي او حقوقي نظام کې د هغې د تطبيق اړخونه هم تحليل کوي. دې څېړنې د اسلامي فقهې د اصولو او معاصرو حقوقي غوښتنو ترمنځ توازن موندلو ته پام کړی، چې څنګه د اسلامي ارزښتونو ساتنه او نړيوالو حقوقي معيارونو پلي کول همزمان رامنځته کړي. همدارنګه، څېړنه د اسلامي فقهې تقنين ته په يوه عملي تګلاره کې ګوري، چې د مسلمانانو ټولنيز نظم او د اسلامي ارزښتونو پياوړتيا ته لاره پرانيزي.

د دې څېړنې بل مهم اړخ د شرعي قوانينو تطبيق دی، چې د ټولنې ستونزې حل کوي او د يوه واحد قانون شتون ته اړتيا لري، ترڅو په ټولنه کې امن او استقرار رامنځته شي. په تقنين سره، شرعي قوانين عام فهمه کيږي او هر فرد کولای شي په اسانۍ سره پرې پوه شي.

## د موضوع ټاکلو لاملونه

ما نوموړې موضوع د لاندې دلايلو پر اساس وټاکله:

۱- د اسلامي فقهې تقنين د قانوني پرمختګ يوه بنه ګڼل کيږي؛ ځکه تقنين شوې فقه د يو قانوني مرجعيت په صفت پېژندل کيږي کوم چې مسائل سره تنظيموي او ټولنه کې امن او استقرار حاکموي.

۲- قانون د ټولنې سره نېغه اړيکه لري او له يو او بل يې جلاوالی د تصور وړ نه دی، نو په دې اساس په ټولنه کې د خلکو اړيکې او معاملات، او د دولت اړيکې له خلکو سره يو تنظيم ته اړتيا لري چې د قانون په چوکاټ کې وي، نو په همدې خاطر کولای شو ووايو چې انسان ټولنې ته اړ دی او ټولنه نظام او قانون ته اړتيا لري.

۳- خلکو ته د اسلامي شريعت د آسانۍ په اړه خبره کول، دا چې څنګه اسلامي شريعت د انسانانو حالت او ظروف مراعاتوي او آساني حل لارې مطرح کوي او هېڅکله سختي نه خوښوي.

۴- اسلامي فقه د مسلمانانو د ټولنيز ژوند لپاره يوه ځواکمنه حقوقي بنسټ دی او د هغې د تقنين له لارې د اسلامي ارزښتونو ساتنه او دوام يقيني کيږي، په دې سره د اسلامي فقهې مرونة، تجدد، پراخوالی او درستوالی يې د هر وخت او هر ځای لپاره څرګندېږي.

## د څېړنې پوښتنې

**اصلي پوښتنه:**

۱- د اسلامي فقهې تقنين څه ډول تعريفېږي، ولې په افغنستان کې اړتيا ورته احساسېږي او د تقنين اړوند موافق او مخالف نظريات کوم دي او دلايل يې څه دي؟

**فرعي پوښتنې:**

۱- اسلامي فقهه څه ته ويل کيږي او د هغې بنسټيزې سرچينې کومې دي؟

۲- د اسلامي فقهې تاريخي پرمختګ څنګه ترسره شوی او د هغې د تطبيق مهم پړاوونه کوم دي؟

۳- د اسلامي فقهې تقنين لپاره اساسي اصول او ضوابط کوم دي؟

۴- په اسلامي نړۍ کې د اسلامي فقهې د تقنين هڅې کومې برياوې او ستونزې لري؟

## د څېړنې مخينه

د اسلامي فقهې تقنين او د هغې په چوکاټ کې د قوانينو تدوين د اسلامي امت په تاريخ کې يوه بنسټيزه موضوع ده چې د پيغمبر اکرم ﷺ او د هغه د صحابه کرامو له لاربنوونو سرچينه اخلي. اسلامي فقهه د شريعت د عملي تطبيق لپاره يو داسې نظام دی چې د مسلمانانو ټولنيز او انفرادي ژوند ټولو اړخونو ته لارښود وړاندې کوي. د دې فقهې بنسټ قرآن او سنت دي، او په تاريخ کې يې د اجتهاد له لارې وده کړې ده.

د اسلامي فقهې د تقنين اړتيا هغه مهال زياتېږي چې اسلامي ټولنې د معاصرې نړۍ حقوقي او قانوني ننګونو سره مخامخ شي. په ځانګړي ډول د لويديځ حقوقي نظامونو اغېز او د اسلامي هېوادونو د سياسي او ټولنيزو تحولاتو اړتياوې دې ته اړ ايستلې چې د اسلامي فقهې اصول د معاصرو حقوقي چوکاټونو سره همغږي شي. په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنين بهير د دې هېواد اسلامي هويت يوه مهمه برخه ده، چې په تېرو پېړيو کې د ديني عالمانو او سياسي مشرانو له خوا د شريعت د تطبيق لپاره مختلفو هڅو سره مخ شوی دی. د اسلامي فقهې د تقنين په برخه کې د سعودي عربستان او مصر په څېر هېوادونو ځانګړې تجربې رامنځته کړې دي، چې په دې څېړنه کې د دې تجربو تحليل او د افغانستان د ځانګړو شرايطو سره سمون څېړل کيږي، نو په همدې خاطر د دې موضوع په اړه يو څه ليکنې شوي چې يو څو ليکنې په لاندې ډول دي:

- تقنين حقوق اسلامى در افغانستان، عبدالشکور رشاد، سعيد چاپخانه-کابل، د چاپ کال ۱۳۹۴ ل کال، په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنين د تاريخي او حقوقي بهير په اړه يو مهم اثر.
- المدخل إلى الفقه الإسلامي، عبدالکريم زيدان، مکتبه نور، ۱۳۷۹ هـ، د اسلامي فقهې عمومي پېژندنه او د هغې تاريخ په اړه يو بنسټيز کتاب دی.
- التشريع الجنائي الإسلامي، عبدالقادر عودة، دار الكاتب العربي، بيروت، ۲۰۱۵م، اسلامي جزايي قانون په اړه يو ژور او تخصصي کتاب چې د اسلامي فقهې اصولو په رڼا کې ليکل شوی.
- قانونگذاری کتاب د دوکتورعبدالباقي امين، سال طبع ۱۳۹۷ه ش، مرکز تحقيقات قاصد، کابل-افغانستان.

خو د دې څېړنې توپير د پورته ذکر شوو ليکنو سره پدې کې دی چې د پورته ذکر شوو ليکنو ليکوالانو د موضوع ټول اړخونه پدې تفصيل او پدې طريقه چې ما بحث کړی ندي ليکلي، او بل داچې زما د علم مطابق د دې موضوع په اړه په ملي ژبو په خاص ډول په پښتو ژبه پدې ميتود او تفصيل سره کومه هر ازخيزه ليکنه نده شوې، نو په همدې خاطر بنده دا موضوع وټاکله تر څو ګرانو هيوادوالو ته په پښتو ژبه کې د تقنين په اړه يوه هراړخيزه منبع چمتو شي.

## د څېړنې تګلاره

پدې څېړنه کې د توصيفي- تحليلي ميتودونو څخه کار اخستل شوی دی، چې تفصيل يې په لاندې ډول دی:

- د موضوع تحليل او د اختلافي ټکو بيان: د اسلامي فقهې د تقنين اړوند د علماوو نظريات او اقوال په ژوره او تفصيلي توګه راټول شوي دي. د مسألې اصلي تصوير په وضاحت سره وړاندې شوی، ترڅو د بحث لپاره بنسټيز چوکاټ چمتو شي. د علماوو ترمنځ د اختلاف ټکي په علمي او کره توګه ذکر شوي، ترڅو د نظرونو ترمنځ اړيکې روښانه شي.
- د دلايلو تحليل او ارزونه: د علماوو وړاندې شوي دلايل په دقت سره ذکر شوي او د علمي اصولو په رڼا کې يې تحليل او مناقشه شوې ده. د اختلاف د اسبابو څېړنه شوې او د راجح رأيي څرګندونه د موضوع د روښانتيا لپاره ترسره شوې ده.
- د علماوو ترمنځ د اتفاق ټکو بيان: د څېړنې د توازن ساتلو لپاره د هغو ټکو ذکر چې علماوو په کې اتفاق کړی، ترڅو د اسلامي فقهې اړوند يوې ټولمنلې ليدلوري ته لار هواره شي.
- د لومړنيو سرچينو کارول: د قرآني آيتونو ذکر د دقيقو سورتونو او آيتونو د شمېرو سره يو ځای شوی دی، ترڅو د څېړنې لپاره اصلي او معتبرې سرچينې وړاندې شي. د نبوي حديثونو ذکر د سندونو سره يو ځای شوی، ترڅو د څېړنې د محتوا کرهوالی يقيني شي.
- د نادره او غريب الفاظو وضاحت: د نادره او غريب الفاظو وضاحت د عربي معتبرو معاجمو په مرسته شوی، ترڅو د متن فهم لپاره د لوستونکو لپاره اسانتيا رامنځته شي.
- د احاديثو پوره تخريج او په هغه صورت کې يې حکم بيانول چې شيخينو نه وي روايت کړي.

## د څېړنې موخې

**اصلي موخه:**

**۱-** د اسلامي فقهې د تقنين اړوند د مختلفو علماوو نظريات په تفصيل سره څېړل. په دې برخه کې موافق او مخالف نظرونه او د هغوی دليلونه روښانه کول. د موافقو علماوو نظريات د اسلامي قانون جوړونې د اړتيا پر اساس توضيح کول، او مخالف نظريات د هغوی په دلايلو سره تشريح کول. د دواړو لورو دلايل تحليل او د دې له منځه د راجح رأيي تشخيص تر څو لوستونکي وکولای شي په اسانۍ سره ترې فهم واخلي.

**فرعي موخې:**

۱- د اسلامي فقهې د تقنين اړوند ضوابط او اصول په واضحه توګه تشريح کول. په دې برخه کې د اسلامي شريعت اساسي اصول او د تقنين لپاره مهم قواعد ذکرکول، چې د قانون جوړونې لپاره لاربښوونه

کوي. د ضوابطو په عملي تطبیق او د هغوی د اهمیت په اړه هم بحث کول، ترڅو قانون جوړونه د اسلامي اصولو سره په مطابقت کې ترسره شي.

۲- په اسلامي نړۍ کې د تقنین اړوند تجربې څېړل او د ځینې هېوادونو بېلګې ذکر کول چې د اسلامي فقهې د تقنین اصول یې په خپلو حقوقي سیستمونو کې عملي کړي دي. د دې ترڅنګ، په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنین هڅې په ژوره توګه تحلیلول. په دې برخه کې د تقنین لپاره د هڅو پایلې او د هغوی د تطبیق خنډونه تشریح کول.

۳- د تقنین په اړه شته ستونزې او خنډونه په علمي ډول تشخیص کول. د دې ستونزو اساسي عوامل، لکه د معاصرو اړتیاوو او اسلامي اصولو ترمنځ د تطابق نشتون، په ګوته کول. د دې خنډونو د لرې کولو لپاره علمي وړاندیزونه وړاندې کول.

۴- د اسلامي فقهې د تقنین او معاصرو حقوقي اړتیاوو ترمنځ اړیکه په تفصیل سره روښانه کول. په دې برخه کې د معاصرو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي شرایطو اړتیاوې څېړل او د اسلامي تقنین د اصولو سره یې د توافق لارې په ګوته کول. په دې توګه، هڅه مې کړې چې د اسلامي فقهې اصول د معاصرو قوانینو سره په تطابق کې وړاندې کړم تر څو د قانون جوړونې پروسه د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ووایي.

## د څېړنې ستونزې

د اسلامي فقه پر بنسټ د قوانینو تقنین نه یوازې د موجودو حقوقي تشو ډکولو کې مرسته کوي، بلکې د شریعت، اساسي قانون، او نړیوالو معیارونو ترمنځ یو توازن هم رامنځته کوي. دا به د خلکو اعتماد زیات کړي، د قانون تطبیق ته مشروعیت ورکړي او د حقوقي نظام ثبات ته به زمینه برابره کړي.

او د بحث یو لړ ستونزې په لاندې ډول دي:

1 - د مذاهبو تنوع او د فقهې د نظرونو اختلاف: اسلامي فقه بېلابېل مذاهب لري، که څه هم په افغانستان کې ډېری خلک د حنفي فقهې پیروان دي خو دلته نور اقلیتونه هم شته چې نور مذاهب تعقیبوي، له همدې امله د یو ځانګړي فقهي نظر تقنینول یوه پېچلې او جنجالي مسئله ده. ممکن دا د مذهبي اقلیتونو د حقونو نقض وګڼل شي او مذهبي حساسیتونه را پورته کړي.

2 - د ځینې فقهي احکامو او نړیوالو قوانینو تر منځ ټکر: ځینې فقهي احکام له نړیوالو قوانینو او بشري قوانینو سره په ټکر کې راځي، په ځانګړي ډول د ښځو حقوق، جسمي سزاګانې او دیني آزادي. کله چې هڅه وشي دا احکام تقنین شي نو د داخلي او خارجي فشارونو سره مخ کېدی شي.

3 - په افغانستان کې د تقنين د عملي کولو لپاره د قانوني او اداري بنسټونو کمزورتيا: د اسلامي فقهي تقنين ته اړتيا ده چې غښتلي قانون جوړوونکي بنسټونه، متخصصين فقهاء او حقوقپوهان، او يو همغږي قضائي نظام ولري. د څېړنې لپاره د کافي وخت نشتون يو له اساسي خنډونو څخه دی. د څېړنې پروسه ډېره ژمنتيا، دوامداره هڅې، او په ژوره توګه مطالعه غواړي. که څېړونکی کافي وخت ونه لري، نو د څېړنې کيفيت زيانمنېږي. دا ستونزه په ځانګړي ډول زما لپاره جدي وه. او همدارنګه د څېړنې لپاره د معتبرو کتابونو، مقالو، او لومړنيو سرچينو موندل يوه جدي ستونزه ده، په ځانګړي ډول زموږ ګران هېواد افغانستان کې چې مجهز کتابتون شتون نه لري. ډېری وخت څېړونکي اړ کېږي چې پر غيرمعتبرو يا نيمګړو معلوماتو تکيه وکړي، چې د څېړنې پايله اغېزمنوي.

## د څېړنې خطه او پلان

اسلامي فقه د انساني ټولنې د حقوقي اړتياوو د پوره کولو لپاره يو جامع او بشپړ نظام وړاندې کوي، چې د ژوند په ټولو اړخونو کې لارښوونې لري. د اسلامي فقهي تقنين د دې علم يو پرمختللی اړخ دی چې د اسلامي اصولو په رڼا کې د معاصرې ټولنې اړتياوو ته ځواب وايي. په ځانګړې توګه په افغانستان کې، چې يو اسلامي هېواد دی، د اسلامي فقهي تقنين د ټولنيز، سياسي او حقوقي نظام لپاره يو بنسټيز ارزښت لري.

دا څېړنيز پلان په څلورو څپرکيو ويشل شوی، چې هر څپرکی د موضوع ځانګړي اړخونه څېړي چې په لاندې ډول ذکر کېږي:

لومړی څپرکی: پدې فصل کې د اسلامي شريعت او تقنين مفاهيمو اړوند بحث شوی دی، ياد فصل څلورو مبحثونو او ګڼ شمېر مطلبونو ته مشتمل دی.

دوهم څپرکی: پدې څپرکي کې د تقنين مشروعيت او د فقهاوو اندونه ذکر شوي دی. ياد فصل دوه مبحثونه لري چې په کې د تقنين اړوند د علماوو نظرونه په مفصل ډول سره ذکر شوي دي.

دريم څپرکی: پدې څپرکي کې د اسلامي فقهي تقنين اړوند هڅې ذکر شوې دي. ياد فصل څلورو مبحثونو او ګڼ شمېر مطلبونو ته شامل دی.

څلورم څپرکی: پدې فصل کې په افغانستان کې د تقنين مخينې اړوند مفصل بحث شوی دی، او ياد فصل دوه مبحثونو او ګڼ شمېر مطلبونو ته شامل دی.

او په پای کې د بحث پايله، وړانديزونه، د ايتونو، احاديثو او د اعلامو لړ ليکونه او په انګليسي ژبه د بحث خلاصه ذکر شوي دي.

# لوموړی څپرکی

# د اسلامي شریعت او تقنین مفاهیم

دا فصل څلور مبحثونو ته شامل دی، په لومړي مبحث کې د اسلامي فقهې مفهوم په اړه بحث شوی دی او اړوند مسائل مفصلا ذکر شوي دي او په دوهم مبحث کې بیا په عام ډول د تقنین په اړه بحث شوی دی، اساس، لاملونه او هڅوونکي ټکي یې بیان شوي دي. په دریم مبحث کې د تقنین خصائص او ځانګړتیاوې بیان شوې دي او په ټوله کې د تقنین ښېګڼې اوعیوب ذکر شوي دي. او په وروستي یا څلورم مبحث کې بیا د شرعي احکامو د تقنین اړوند بحث شوی دی، مراحل، موخې او مثالونه یې ذکر شوي دي او په ورته وخت کې هغه ننګونو او اندېښنو ته هم پکې اشاره شوې ده چې یاد کار په خپل وخت کې ورسره مخ شوی وو او آخر کې بیا د یاد تقنین په اغېزو باندې بحث شوی دی.
دا فصل به د تقنین د پروسې په اړه یو جامع انځور وړاندې کړي چې د اسلامي او معاصر حقوقي نظریو ترمنځ اړیکو ته په نوی نظر ګوري.

## لومړی مبحث

## د اسلامي فقهې بنسټیز مفاهیم او اصول

دا مبحث په شپږو اساسي مطالبو مشتمل دی چې د اسلامي فقهې ټولیز وضاحت وړاندې کوي. په لومړي مطلب کې د اسلامي فقهې مفهوم تشریح شوی دی، چې د دې علم بنسټیز تعریف او د هغه اهمیت روښانه کوي. دویم مطلب د اسلامي فقهې سرچینې بیانوي، لکه قرآن، حدیث، اجماع، او قیاس، چې د فقهې د احکامو اساس جوړوي. په درېیم مطلب کې د اسلامي فقهې تاریخ او پرمختګ څېړل شوې، چې د دې علم د ودې او پراختیا پړاوونه تشریح کوي. څلورم مطلب د اسلامي فقهې د مذهب بنسټ روښانه کوي، چې د اسلامي فقهي مدرسو بنسټیزې اړیکې بیانوي. پنځم مطلب د شرعي احکامو وضاحت وړاندې کوي او د اسلامي شریعت د قوانینو اهمیت روښانه کوي، او په پای کې، شپږم مطلب د شرعي احکامو ځانګړتیاوې لکه عدالت، انعطاف، او عملي تطبیق بیانوي.

### لومړی مطلب

### د اسلامي فقهې مفهوم

اسلام په لغت کې تسلیمۍ او اطاعت دلالت کوي، هر هغه څوک چې د الله تعالی اطاعت کوي که په خوښه وي او که په زور، هغه ته مسلمان ویل کېږي. الله تعالی فرمايي: {وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا أَوْ كَرْهًا} [١]

ژباړه: او لله تعالی لره تسلیم شوي دي هر هغه څوک چې په آسمانونو او ځمکه کې دي، که خوښ وي یعنې په رضا سره او یا ناخوښ وي یعنې په زوره.

[١] - آل عمران سورت، ۸۳م آیت.

بیا دا مفهوم یواځې هغو کسانو ته محدود شو چې په خوښه د الله تعالی اطاعت کوي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: {فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} [١]

ژباړه: نو مه مړه کېږئ مګر داسې حال کې چې تاسو مسلمانان یاست.

وروسته د "اسلام" کلمه په ځانګړي ډول هغه دین ته وکارول شوه چې محمد ﷺ راوړی دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: {وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ} [٢]

ژباړه: او که څوک د اسلام نه پرته بل دین وغواړي، له هغه څخه به هېڅکله قبول نه شي.

**دویم: د فقه معنی: فقه په دوه معناګانو سره راځي:**

**١-** مطلقه پوهې په معنی راځي[٣]، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: {لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ} [٤]

**ژباړه:** یعنې چې په دین باندې پوه شي.

ویل کیږي چې فلانی خیر او شر پېژني، یعنې هغه پوهیږي، پرته له دې چې د پوهې اندازه یې په نظر کې ونیول شي. موسی علیه السلام ته چې کله د پیغام رسولو دنده ورکړل شوه خپل رب ته د دعاء په ترڅ کې داسې وفرمایل: {وَٱحۡلُلۡ عُقۡدَةٗ مِّن لِّسَانِي ۝ يَفۡقَهُواْ قَوۡلِي}[٥]

ژباړه: او زما له ژبې څخه ګنډه یا تاوه لرې کړه چې هغوی زما په خبره وپوهیږي. همدارنګه د نبي کریم ﷺ دعاء چې ابن عباس رضی الله تعالی عنه ته یې کړې وه: عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَضَعَ يَدَهُ عَلَى كَتِفِي - أَوْ عَلَى مَنْكِبِي، شَكَّ سَعِيدٌ - ثُمَّ قَالَ: " اللهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَعَلِّمْهُ التَّأْوِيلَ "[٦] د سعید بن جبیر څخه نقل دی چې هغه وویل، د ابن عباس نه یې واوریدل، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل لاس زما په اوږه کېښود - سعید شک لري چې په کوم ځای یې لاس کېښود - او بیا یې وویل: "اللهم فقهه في الدين، و علمه التأويل.[٧] ای الله! ده ته په دین کې پوهه ورکړه، د تاویل او تفسیر علم ورکړه.

الله تعالی د پیغمبر ﷺ دعا قبوله کړه، او ابن عباس د خپل وخت یو له تر ټولو پوه کسانو څخه وو چې د الله کتاب یې ښه پېژانده او د یادې دعاء په برکت نوموړي د ترجمان القرآن په نوم باندې

---

١ - البقرة سورت، ١٣٢م آیت.

٢- آل عمران سورت. ٨٥م آیت.

٣ - ابن منظور، جمال الدين أبى الفضل محمد بن مكرم بن منظور، لسان العرب، ط٣، بيروت، دار احياء التراث العربي، ج١٠، ص٣٠٥.

٤- التوبة سورت، ١٢٢م آیت.

٥ طه سورت، ٢٧-٢٨م آیت.

٦ - ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (المتوفى: ٢٤١هـ)، مسند الإمام أحمد بن حنبل، تحقيق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، د حدیث شمیره: ٢٣٩٧ ، مؤسسة الرسالة (٤/ ٢٢٥)

٧ - د حدیث حکم: سند یې صحیح دی، پدې اړه احمد محمد شاکر لیکلي: إسناده صحيح, مسند أحمد ت شاكر (٣/ ٩٥)

مشهور شو. په يوه بل حديث کې راځي: عَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي" [1] د معاويه رضی الله عنه نه نقل دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: " چاته چې الله تعالی ورته خير وغواړي، هغه ته په دين کې پوهه ورکوي، او زه يوازې تقسيم کوونکی يم، او الله تعالی ورکوونکی دی. [2]

**دوهم:** د خبرو د مقصد پوهه، په دې معنی کله چې يو کس ستا په وړاندې خبرې کوي، نو ته د هغه د خبرو مقصد درک کړې دا مفهوم تر لومړي مفهوم ځانګړی دی. کله چې شعيب عليه السلام خپل قوم ته هغه پيغام وړاندې کړ چې الله تعالی ورته لېږلی وو، هغوی ورته وويل: {قَالُواْ يَٰشُعَيْبُ مَا نَفقَهُ كَثِيرًا مِّمَّا تَقُولُ}

ژباړه: هغوی وويل: اې شعيبه! موږ د هغه څه ډېره برخه نه پوهېږو چې ته يې وايې.
امام ابن حجر[3] بيا ليکلي: "فقه بالضم اذا صار الفقه له سجية، و فقه بالفتح اذا سبق غيره الی الفهم، و فقه بالكسر اذا فهم"[4]. فقه په پيښ د قاف سره کله چې فقه د يو شخص ځانګړی طبع يا طبيعت شي. فقه د قاف په زور سره په دې مانا ده چې پوهه او فکري وړاندې توب درلودل، او د قاف په زير سره په دې مانا ده چې يو څوک پوهه لري يا يو شی ته په بشپړ ډول پوهه پيدا کوي.
مګر په عام عرف کې بيا دا د شريعت علم ته په عملي احکامو کې ځانګړې شوې؛ ځکه چې شريعت د نورو علومو په پرتله لوړ مقام لري[5]. فقهې دا ځانګړې پېژندنه وروسته رامنځ ته شوې البته په اصل کې د فقهې نوم ټول شريعت رانغاړي، چې په دې کې هغه علمونه هم شامل دي چې د الله تعالی معرفت، يووالي، تقديس او صفاتو پېژندنې ته لار هواروي.

---

[1] - البخاری ، محمد ابن اسماعيل البخاري، صحيح البخاری، ط۱، حديث نمبر ۷۱، دار ابن كثير –بيروت (۱/ ۲۵)

[2] - هود سورت، ۹۱م آيت.

[3] - د امام ابن حجر عسقلاني لنډه پېژندنه: شهاب‌الدين ابو الفضل احمد بن علي بن محمد بن محمد بن علي بن احمد الكناني العسقلاني وو. نوموړی ۷۷۳هـ (۱۳۷۲م) کال د شعبان مياشتې په ۲۲مه نېټه په قاهره کې زېږېدلی او د ۸۵۲هـ (۱٤٤۹م) کال د ذي‌الحجې په ۲۸مه نېټه وفات شوی. ابن حجر عسقلاني د اسلامي نړۍ له سترو محدثينو، فقيهانو، مؤرخينو او قاضيانو څخه وو. د حديثو په علم کې يې لوړه مرتبه درلوده او د شافعي فقهې له مهمو علماوو څخه شمېرل کېږي. مشهور علمي آثار يې په لاندې ډول دي: فتح الباري شرح صحيح البخاري, تهذيب التهذيب, الإصابة في تمييزالصحابة, تقريب اولسان الميزان. نوموړی د علم، زهد، تقوا او قضاوت له امله ډېر مشهور وو. (الأعلام للزركلي، ج ۱، ص۱۷۸.)

[4] - العسقلانی، امام احمد بن علي بن حجر العسقلانی، فتح الباری بشرح صحيح البخاری، دار الريان للتراث- القاهرة، ج۱، ص۱۹۸.

[5] - الرازي ، زين الدين ابو عبدالله محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر الحنفی الرازي، مختار الصحاح، محقق: محمود خاطر، مكتبة لبنان ناشرون- بيروت ص۴۴۸.

بدرالدين الزركشي[1] د امام ابو حامد الغزالي[2] قول ذكر كړی دی چې فرمايي: خلكو د فقهې په نوم كې تصرف كړی دی او دا يې د فتواګانو علم او د هغو دلايلو ته ځانګړی كړی. په پيل كې د فقهې نوم د آخرت علم، د نفس د آفتونو او عملونو د فساد د نازكو مسائلو پېژندنې، د دنيا د حقارت په درک، او د آخرت دنعمتونو د تر لاسه كولو لپاره د زړه په هيله باندې اطلاق كېده[3]. امام حسن بصري[4] بيا ويلي دي:رښتينی فقيه هغه دی چې له دنيا يې مخ اړولی وي، د آخرت زاهد وي او د خپل نفس په عيبونو بصيرت ولري[5].

د فقهې اصطلاحي تعريف امام ابو حنيفه رحمه الله په لاندې ډول كړی دی: **"معرفة النفس ما لها و ما عليها"** [6] چې نفس په دې پوه شی او خپل ما لها و ما عليها و پېژني. ياد تعريف د امام ابو حنيفه په وخت كې ملائم او درست وه ځكه چې فقه هغه مهال له نورو شرعي علومو څخه بېله شوې نه وه.

امام شافعي رحمه الله فقه داسې تعريف كړې:**"هو العلم بالأحكام الشرعية العملية المكتسب من أدلتها التفصيلية"** [7]. د شرعي عملي احكامو هغه علم چې د هغو له تفصيلي دلايلو څخه ترلاسه شوی وي فقه ګڼل كېږي.

---

[1]- بدرالدين الزركشي: محمد بن بهادر بن عبدالله الزركشي, كنيه: ابو عبدالله او لقب يې بدرالدين دی. نوموړی په كال ۷۴۵ هـ ق ۱۳۴۴م قاهره كې زيږېدلی دی. په اصل كې تركی دی. شافعي مذهبه فقيه، أصولي او محدث دی. مشهور استادان يې سراج الدين البلقينی، جمال الدين الاسنوي، شهاب الدين الأذرعي دي او خورا ډېر مؤلفات لري چې ځنې يې په لاندې ډول دي: البرهان في علوم القرآن، البحر المحيط في أصول الفقه، إعلام الساجد بأحكام المساجد، الإجابة لما استدركته عائشة على الصحابة دی او په كال ۷۹۴ هـ ق ۱۳۹۲ م وفات شوی دی. (الأعلام، ج۶، ص۲۳۵.)

[2] - الامام الغزالي: ابو حامد محمد بن محمد بن محمد الغزالي الطوسي النيساپوري، چې د حجة الإسلام په لقب مشهور دی، د ۴۵۰ هـ (۱۰۵۸ م) كال د خراسان د طوس په ښار كې زيږېدلی دی. لومړنی زده كړې يې همدلته وكړې، خو وروسته نيشاپور ته ولاړ، چې د امام الحرمين الجويني تر لارښوونې لاندې زده كړې وكړي. په فقه شافعي او علم كلام كې يې ځانګړی مهارت ترلاسه كړ. د استاد له وفات وروسته، هغه د بغداد په نظاميه مدرسه كې د تدريس مقام خپل كړ، ډېری شاګردان يې وروزل او د اسلامي علومو تدريس ته يې نوې روحيه وركړه. د نوموړي مشهور آثار عبارت دي له: إحياء علوم الدين، تهافت الفلاسفة، المستصفى في علم الأصول، المنقذ من الضلال او نور. امام غزالي د ۵۰۵ هـ (۱۱۱۱ م) كال د طوس په ښار كې وفات شو. (الأعلام للزركلي, ج۶، ص۲۲/همدارنګه: سير أعلام النبلاء، امام الذهبي، ج۱۹، ص۳۲۳)

[3]- التهانوي ، محمدعلي التهانوي، موسوعة كشاف اصطلاحات الفنون والعلوم، ترجمة عبدالله الخالدي، جورج زيناتي، تحقيق على دحروج، مكتبة لبنان -بيروت، ص ۴۰-۴۱.

[4]- حسن بصري: پوره نوم يې الحسن بن أبي الحسن يسار البصري دی، (۶۴۲ م) كال په مدينه منوره كې وزيږېد او د ۱۱۰ هـ (۷۲۸ م) كال په بصره كې وفات شوی دی. هغه د تابعينو له سترو علماوو، فقيهانو، محدثينو، او زاهدانو څخه وو. د علم زده كړه يې د ګڼ شمېر صحابه كرامو څخه وكړه، چې تر ټولو مشهور يې عبدالله بن عباس، انس بن مالک، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم دي. حسن بصري د علم، فقه، او زهد له پلوه ځانګړی مقام درلود، او ويناوې يې تر نن ورځې پورې د اسلامي نړۍ لپاره الهام بخښونكې دي. له مهمو آثارو يې كتاب التفسير، كتاب الزهد، او كتاب الفتن دي. (الأعلام, ج۱، ص۲۸۰. )

[5] - ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي (المتوفى: ۱۲۵۲هـ)، رد المختار على الدر المختار شرح تنوير الأبصار، تحقيق على محمد عوض، عادل احمد عبدالموجود، ط۱، دار عالم الكتب- الرياض، ص۳۵-۳۸

[6] - الزحيلي، وهبة الزحيلي، الفقه الاسلامی و أدلته، دار الفكر، ط الثاني، ج ۱، ص ۱۵.

[7] - الفقه الإسلامي وأدلته (۱/ ۱۴)

د اصول فقهې د علماوو په اصطلاح کې، فقه داسې تعریف شوې: **"العلم بالأحکام الشرعية المکتسبة من أدلتها التفصيلية"** [۱]. د شرعي احکامو علم چې له تفصيلي دلايلو څخه ترلاسه شوی وي. البته د يادولو وړ ده چې په وروسته وختونو کې د فقهې علم يواځې د فروعو علم ته ځانګړی شو، او فقيه هغه چا ته ويل کېده چې په فقه کې ماهر وي. د اصول الفقه د علماوو په وينا، فقيه مجتهد[۲] وي. د صحابه کرامو په منځ کې ځينې فقيهان داسې وو چې د شرعي احکامو د استنباط تخصص يې درلود، او خپل اجتهادات او فقهي مذاهب يې درلودل او ورپسې تابعينو په بېلابېلو سيمو کې د دوی څخه علم ترلاسه کړ، چې په دې سره په حجاز، عراق، شام، يمن او مصر کې فقهي مدرسې رامنځته شوې او له هغو څخه د څلور فقهي مذهبونه خورا مشهور او عام شول. امام أبو اسحق شيرازي[۳] بيا د فقهې تعريف په لاندې ډول کړی دی: **"معرفة الأحکام الشرعية التی طريقها الاجتهاد"** يعنې د اجتهاد له لارې د شرعي احکامو پېژندنه فقه ګڼل کېږي[٤]. د اسلامي تاريخ په لومړيو کې فقه د شرعي احکامو عمومي علم ته ويل کېده، مګر د فقهي مطالعاتو او علمي څېړنو د پرمختګ او تدوين وروسته، فقهي مطالعاتو په ځان کې اصول، فروع، قواعد، د فقهي مطالعاتو تاريخ، فقهي مذهبونه، د مذاهبو پېژندنه، د فقيهانو مراتب، د اجتهاد مراتب، او نور شامل کړل. د فقه اصطلاحي معنی اوس د فقهې فروعو علم ته ځانګړې شوې، چې دا د شرعي علومو يوه برخه ده. د شرعي عملي احکامو علم چې د هغو له تفصيلي دلايل څخه ترلاسه شوی وي. په پای کې به تعريف د شاعر په دې قول سره ختم کړم چې وايي:

"اذا ما اعتز ذو علم بعلم

فعلم الفقه أولی باعتزاز

فکم طيب يفوح ولا کمسک

وکم طير يطير ولا کباز

---

[۱]- الزرکشي ، بدرالدين محمد بن بهادر الزرکشي، البحر المحيط فی أصول الفقه، دار الکتبی، ط۱، ۱۹۹۴م، ج۱، ص۳۰.

[۲]- مجتهد هغه کس ته ويل کېږي چې د شرعي احکامو د درک لپاره خپل پوره کوښښ کړي، (المجتهد هو من يبذل الجهد فی ادراک الأحکام الشرعية)- Islamweb.net.

[۳]- شيرازي: پوره نوم يې جمال‌الدين ابراهيم بن علي بن يوسف فيروزآبادي دی، په ۳۹۳ هـ (۱۰۰۳ م) کال کې د فارس د فيروزآباد په ښار کې وزېږېد. هغه د شافعي فقهې يو لوی عالم او د بغداد د نظاميه مدرسې نوميالی استاد و. لومړنۍ زده کړې يې په خپل ټاټوبي کې وکړې او په ۴۱۰ هـ کال کې، چې شاوخوا ۱۷ کلن وو، شيراز ته ولاړ او هلته يې د قاضي ابو عبدالله جلاب په حلقه کې ګډون وکړ. وروسته بصرې او بيا بغداد ته ولاړ، چېرې چې يې د علم په ډګر کې لوړ مقام ترلاسه کړ. له مشهورو استادانو څخه يې قاضي ابو عبدالله جلاب، ابو عبدالرحمن بن حسن غدنجاني، ابوالحسن شيرجي فرضي حاسب، ابوالقاسم منصور بن عمر کرخي دي. د نوموړي له مشهورو آثارو څخه المهذب، التنبيه، طبقات الفقهاء، او اللمع في أصول الفقه دي. امام ابو اسحاق شيرازي د ۴۷۶ هـ (۱۰۸۳ م) کال د ربيع‌الآخر په ۲۵مه نېټه په بغداد کې وفات شو. (الأعلام للزرکلي، ج۱، ص۵۱.)

[٤]- الشيرازی ، أبو اسحاق ابراهيم بن علی بن يوسف الشيرازی، اللمع فی أصول الفقه، دار الکتب العلمية، دار الکبت العلمية، ط۲، ۲۰۰۳م، ص۶.

وخير علوم علم فقه لأنه

يكون الى كل العلوم توسلا" [1]

ترجمه: کله چې يو عالم په خپل علم باندي فخر کوي،

نو د فقه علم د فخر کولو لپاره تر ټولو غوره دی.

څومره خوشبويي چې خوشبو خپرېږي، خو هېڅکله يې د مشک خوشبو ته نه رسېږي،

او څومره مرغه چې الوتنه کوي، خو هېڅکله د باز (باز په ځواکمنه الوتنه کې) سره نه سيالي کوي.

او د ټولو علومو تر ټولو غوره علم فقه دی، ځکه چې دا د ټولو علمونو ته لاره پرانيزي.

که موږ د فقهي لغوي او اصطلاحي معناوې سره پرتله کړو، نو وينو چې لغوي معنا عمومي ده او هر ډول پوهه رانغاړي، خو اصطلاحي معنا يې ځانګړې ده او يواځې په هغه څه پورې اړه لري چې فقهاء پرې تمرکز کوي. د دې نومونې علت هم دا دی چې د فقه کلمه په قرآن او سنتو کې په ډېرو ځايونو کې راغلې ده. د مثال په ډول، الله تعالی فرمايي: {فَلَوۡلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرۡقَةٖ مِّنۡهُمۡ طَآئِفَةٞ لِّيَتَفَقَّهُواْ فِي ٱلدِّينِ} [2] نو ولې له هر ټولي څخه يوه ډله نه وځي چې په دين کې پوهه ترلاسه کړي او بيا خپل قوم ته د علم او دين لارښوونه وکړي کله چې بېرته وګرځي. په لومړيو کې فقه په هر ډول اعتقادي، اخلاقي، او عملي احکامو باندې اطلاق کېده. وروسته بيا هر علم ځانګړی نوم خپل کړ، لکه د توحيد علم او د اخلاق علم او فقه يواځې د عملي احکامو لپاره ځانګړې شوه، او هغه څوک چې په دې علم کې بوخت دی، فقيه وبلل شو. فقه په اصطلاحي معنا کې هغه عملي احکام رانغاړي چې د خلکو ترمنځ اړيکې تنظيموي، که هغه په انفرادي ډول وي يا په ټولنيزه توګه.

فقهاوو د فقهي موضوعات په دوه لويو برخو وېشلي دي[3]:

۱. د عباداتو برخه.

۲. د معاملاتو برخه.

د عباداتو برخه کې مهم موضوعات عبارت دي له: طهارت، لمونځ، زکات، روژه، اعتکاف، جنازې، حج، عمره، مساجد او د هغو فضيلت او احکام، ايمان او نذور، جهاد، خوراک او څښاک توکي، ښکار او حلاله ذبحه او د معاملاتو په برخه کې مهم موضوعات عبارت دي له: واده، طلاق، حدود او قصاص، بيع او سوداګريزې راکړې ورکړې، پور، رهن، اجاره، حواله، شرکت، شفعه، کفالت، او نور.

---

[1]- محمد بن عبدالرحمن بن عمر بن محمد بن عبدالله، نشر طي في فضل حملة العلم الشريف والرد على ماقتهم الخيف، ط۱، دار المنهاج – جدة (ص: ۱۹۹)

[2]- توبة سورت، ۱۲۲م آيت.

[3]- البرشومي، عبدالفتاح عبدالله البرشومي، السامي في تاريخ التشريع الاسلامي، دار الكتب الحديث، ص۶۸.

ځيني فقهاء لکه ابن عابدين[1] حنفي فقه درې برخو ته وېشلي[2]: عبادات، معاملات او عقوبات. نوموړي عبادات پنځه ګڼلي دي: لمونځ، زکات، روژه، حج، او جهاد. او معاملات يې په پنځو برخو وېشلي دي، چې عبارت دي له: مالي معاوضات چې مطلب يې امانت، پور او داسې نور دي، نکاح او هغه څه چې له دې سره تړاو لري، مخاصمات چې مطلب يې دعوه او قضاوت او داسې نور دي، ميراث، او عقوبات. نوموړي په اند عقوبات پنځه دي: قصاص، د غلا حد، د زنا حد، د قذف حد، او د اسلام څخه د ارتداد سزا.

د امام شافعي پيروانو بيا فقه په څلورو برخو وېشلې ده: دوی ويلي دي چې شرعي احکام يا د آخرت سره تړاو لري چې هغه عبادات دي، يا د دنيا سره تړاو لري چې يا د شخص د پاتې کېدو سره تړاو لري چې هغه معاملات دي لکه پلور، اخيستل او داسې نور، يا د نوع د پاتې کېدو سره تړاو لري چې د کور په نظر کې نيولو سره هغه د نکاح عقدونه او له دې سره تړلي مسايل دي، يا د ښار په نظر کې نيولو سره اړوند مسائل دي چې هغه عقوبات دي.[3] ابن جزي المالکي[4] فقه په خپل کتاب "قوانين الاحکام الشرعية ومسائل الفروع الفقهية" کې په دوو برخو وېشلې ده: يوه برخه عبادات ده او بله برخه معاملات. په هره برخه کې يې لس کتابونه په سلو ابوابو کې شامل کړي دي، نو فقه يې په شلو کتابونو او دوه سوه ابوابو کې خلاصه کړې ده.[5]

اسلامي فقه يواځې تر هغه وخت پورې محدوده نه ده کوم کې چې محمد ﷺ وو، بلکې دا ټول هغه پرمختګونه هم رانغاړي چې د رسول الله ﷺ له وخته تر اوسه پورې په اسلامي فقه کې رامنځته

---

[1] - ابن عابدين الحنفي: محمد أمين بن عمر بن عبدالعزيز بن عابدين الشامي الحنفي، د ۱۱۹۸ هـ (۱۷۸٤ م) کال د ربيع‌الاول په ۱۵مه نېټه په دمشق کې زيږېدلی دی. هغه د حنفي فقهې يو نامتو فقيه، محدث، او اصولي عالم تېر شوی دی. ابن عابدين د خپل پلار، چې د حنفي فقهې يو عالم وو، تر لارښوونې لاندې زده کړې پيل کړې. وروسته يې د دمشق په مشهور مدرسو کې د ګڼ شمېر علماوو څخه علم ترلاسه کړ، چې په دې کې د امام زين‌الدين بن نجيم، او امام شمس‌الدين بن قاسم شامل دي. د نوموړي مشهور اثر رد المحتار على الدر المختار: د حنفي فقهې يو جامع کتاب دی، چې په کې د "الدر المختار" کتاب تشريح شوي دی. ابن عابدين د ۱۲۵۲ هـ (۱۸۳٦ م) کال د ربيع‌الاول په ۱۳مه نېټه په دمشق کې وفات شو. (الأعلام لخيرالدين الزرکلي، ج۱، ص۵۰)

[2] - حاشية بن عابدين، ج۱، ص۵۶.

[3]- البرشومي ، عبدالفتاح عبدالله البرشومي، السامي في تاريخ التشريع الاسلامي، دار الکتب الحديث، ص۱۸.

[4]- ابن جُزَي المالکي: نوم يي ابوالقاسم محمد بن احمد بن محمد بن عبدالله بن يحيى بن عبدالله بن يحيى بن جُزَي الکلبى الغرناطى وو، په ۶۹۳ هـ (۱۲۹۴ م) کال کې په غرناطه يا اوسنۍ هسپانيه کې زيږېدلی وو. هغه د مالکي فقهې يو وتلی عالم، مفسر، او شاعر وو. ابن جُزَي په غرناطه کې د وخت له مشهورو علماوو څخه زده کړې وکړې او په فقه، حديث، تفسير، او ادب کې يې مهارت ترلاسه کړ. د هغه له استادانو څخه د امام ابوعبدالله محمد بن احمد بن مرزوق او امام ابوعبدالله محمد بن ابراهيم بن خليل نومونه يادېږي. او له مهمو آثارو څخه يې التسهيل لعلوم التنزيل او القوانين الفقهية فى تلخيص مذهب المالکية. نوموړی په کال ۷۴۱ هـ (۱۳۴۰ م) کال د جمادی‌الاول په ۱۲مه نېټه د طريف په جګړه کې، چې د جبل الطارق په نږدې سيمه کې وشوه، په جهاد کې ګډون وکړ او په همدې جګړه کې شهيد شو. الأعلام, خيرالدين الزرکلي، ج۶، ص۲۲۶)

[5] - السامي في تاريخ التشريع الاسلامي ص۱۸.

شوي دي، چې پکې د فقهاوو او مجتهدینو خبرې او د دوی علمي آثار په هره دوره کې شامل دي. اسلامي فقه هغه علم دی چې د اسلامي شریعت عملي قوانین او اصولو ته د پوهیدو لپاره جوړ شوی دی.

اسلامي فقه د اسلامي ژوند ټولو اړخونو باندې رڼا اچوي او د مسلمانانو لپاره واضح لارې چارې وړاندې کوي چې څنګه د خپل ورځني ژوند سره سم اسلامي احکام پلي کړي. فقه د اسلامي حقوقو او احکامو یوه ژوره پوهه وړاندې کوي چې د ټولنې عادلانه نظم، د افرادو حقوق، او د دیني اصولو سره سم عمل په پام کې نیسي.

په ټوله کې، اسلامي فقه د اسلام د قوانینو پراخ او جامع څېرنه ده چې د مسلمانانو لپاره د الله د رضا ترلاسه کولو لپاره لاره پرانیزي او اساسي موخه دا ده چې مسلمانانو ته داسې لارښوونې ورکړي چې د هغوی ټول اعمال د الله تعالی د رضا ترلاسه کولو لپاره وي. په دې موخه کې عبادات او د ژوند په ټولو برخو کې د شریعت پلي کول شامل دي. همدارنګه اسلامي فقه په مسلمانانو کې نظم او د ټولنیزو اړیکو سمبالښت لپاره لارښوونې وړاندې کوي. دا د ټولنې افرادو ترمنځ عدالت، اخلاق، او د یو بل حقونو ته درناوی تضمینوي او د فرد او ټولنې ترمنځ اړیکې تنظیموي، نه یوازې فردي اعمالو ته لارښوونه کوي، بلکې ټولنیز او اقتصادي تعاملات هم تنظیموي، ترڅو د ټولنې هر غړی په اسلامي اصولو مطابق ژوند وکړي او د مسلمانانو لپاره د دنیا او آخرت بریا تضمینوي. دا د انسانانو لپاره یو ټول شموله لارښود دی چې په ټولو حالاتو کې د شریعت لارښوونو مطابق ژوند تېر کړي، ترڅو د الله تعالی رضا ترلاسه کړي او په آخرت کې هم کامیاب شي.

## دویم مطلب

## د اسلامي فقهې سرچینه

قرآن کریم د اسلامي قانون اساس دی، په دې کې د شرعي احکامو بنسټونه او د عقایدو او په عمومي ډول د عباداتو او حقوقو په اړه ځانګړتیاوې لري. په اسلامي شریعت کې قرآن د ملتونو په جوړ شوي قانون کې د اساسي قانون په څېر دی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او له هغه وروسته د هغوی لپاره قدوة ده، قرآن یوازې په اجمالي توګه احکام بیانوي او په تفصیلي توګه یې نبوي حدیث وړاندې کوي د مثال په توګه، د لمانځه او زکات په اړه په عموم کې ذکر شوي او د لمانځه طریقه او مقدار یې نه دی بیان کړي، بلکې سنت یې په تفصیلي توګه بیان کړی دی[1].

قرآن کریم د اسلامي فقهې لومړنۍ او تر ټولو مهمه سرچینه ده. دا د الله تعالی کلام دی چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه خلکو ته رسیدلی دی. په قرآن کې د شریعت بنسټیزې لارښوونې او احکام

[1]- الفقه والشريعة، الكتاب منشور على موقع وزارة الأوقاف السعودية بدون بيانات، ص٣١.

وړاندې شوي دي، چې د هر مسلمان لپاره لاربنود دي. قرآن د اسلامي فقهي په ټولو برخو کې بنسټيز احکام لري، لکه عبادات، معاملات، او نورې ټولنيزې اړيکې. او ورپسې په دوهمه مرحله کې بيا نبوي حديث قرار لري چې د حضرت محمد ﷺ خبرې، کړنې، او تقريرات دي. دا د اسلامي فقهي دويمه اساسي سرچينه ده، چې په هغو برخو کې تفصيل وړاندې کوي چې په قرآن کې په عمومي توګه بيان شوي دي. الله تعالی په دې اړه فرمايي: {وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا}[1] په ذکر شوي آيت کې الله تعالی مسلمانان په دې مکلف کړي چې د نبي ﷺ اطاعت وکړي او له هغه څه يې چې منع کړي، منع شي. سنت نه يوازې د قرآن احکام تشريح کوي، بلکې د مسلمانانو لپاره د ورځني ژوند په ټولو برخو کې هم لاربنووني وړاندې کوي. سنت د قرآن څخه ورسته قرار لري په دې اړوند نبي کريم ﷺ فرمايي: «عن معاذٍ بن جبلٍ رضي الله عنه قال: قال لي رسول الله صلى الله عليه وسلم: بِمَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟ قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللَّهِ. قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟ قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ؟" قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو. فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ، وَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ لِمَا يُرْضِي اللَّهَ وَرَسُولَهُ»[2].د معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: "کله چې ته د قضا کولو په حالت کې واقع شي، نو څنګه به قضا کوې؟" معاذ ځواب ورکړ: "زه د الله په کتاب سره قضا کوم." رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: "که په الله کتاب کې دې څه ونه موندل، نو څه کوې؟" معاذ وويل: "نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په سنتو سره قضا کوم." رسول الله صلى الله عليه وسلم بيا وويل: "که په سنتو کې دې څه ونه موندل؟" معاذ وويل: "نو زه به خپل نظر وکاروم او هڅه به وکړم." رسول الله صلى الله عليه وسلم خپل لاس پر د خپلې سينه کې ولګاوه او وفرمايل: "الحمد لله چې الله د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابي لپاره داسې څه توفيق ورکړ چې د الله او د رسول الله صلى الله عليه وسلم رضا ته برابر دي.[3] په دريم قدم کې بيا اجماع قرار لري[4] او اجماع د علماء هغه متفقه نظر دی چې د يوې خاصې مسلې په اړه موجود وي. کله چې د يوې ځانګړې مسلې اړوند په قرآن او سنت کې صريح حکم موجود نه وي، نو علماء په دې اړوند يو ځای نظر څرګندوي

[1]- الحشر سورت، ۷م آيت.

[2]- السِّجِسْتاني ، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: ۲۷۵هـ)، سنن أبي داود، تحقيق: : شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، د حديث شميره: ۳۵۹٤، دار الرسالة العالمية (۵/ ٤٤٤)

[3]- د حديث حکم: ضعيف حديث دی، پدې اړه شعيب الأرنؤوط ليکلي: إسناده ضعيف لإبهام أصحاب معاذ وجهالة الحارث بن عمرو، سنن أبي داود ت الأرنؤوط (۵/ ٤٤٤)

[4]- الإجماع هو اتفاق الفقهاء المجتهدين في عصر على حكم شرعي معين, ولا فرق بين أن يكون هؤلاء المتفقون من فقهاء صحابة الرسول عليه الصلاة والسلام بعد وفاته، أو من الطبقات التي جاءت بعدهم. (الآجري ، ابوبكر محمد بن حسين الآجري، الفقه والشريعة، دار الكتب العلمية، ط۲، ۲۰۰۳م، ص۳۷)

چې په اسلامي فقه کې يې د اجماع په نامه پيژني. اجماع په اسلامي تاريخ کې په ځو مهمو مسايلو کې ترسره شوې او د فقهې لپاره يوه بنسټيزه سرچينه ګرځېدلې ده. او په ځلورم پړاو کې بيا قياس قرار لري[1]. دا هغه پروسه ده چې په کې عالمان د يوې نوي مسلې لپاره د مشابه مسلې پر بنسټ حکم ټاکي. قياس د فقهې په برخه کې د نوې مسايلو د حل لپاره يوه ضروري او ابتکاري وسيله ده.

د اسلامي فقهې بنسټيز هدف د الله تعالى رضا ترلاسه کول او د مسلمانانو لپاره يو ټول شموله لارښود جوړول دي چې هغوی ته په دنيا او آخرت کې کاميابي ورکړي. په دې برخه کې د فقهې ياد ځلور اساسي سرچينې - قرآن، سنت، اجماع، قياس، استحصان، عرف، مصلحت مرسله، سدالذرائع او د شريعت مقاصد - د اسلامي فقهې د علم لپاره يو بنسټيز چوکاټ جوړوي.

## درېيم مطلب

## د اسلامي فقهې مذهبي بنسټ

د اسلامي فقهې د مذهبونو جوړول د تاريخ يوه مهمه مرحله وه. د لومړيو پېړيو په ترڅ کې، د فقهې مشهور مذهبونه تأسيس شول چې هر يو يې خپل ځانګړي اصول، قواعد، او د قرآن او سنت د تعبير ځانګړې کړنلاره لري چې دلته يې يواځې د ځلورو مشهورو مذهبونو ته په لنډ ډول رڼا اچوم.

**امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب**

امام ابوحنيفه النعمان بن ثابت بن زوطي په ۸۰ هجري قمري کال کې زيږېدلی او په ۱۵۰هـ کال د ۷۰ کلونو په عمر په بغداد کې وفات شوی دی. هغه د عراق د خلکو فقيه او د فقهاوو امام وه. د رسول الله ﷺ د احاديثو په حافظانو کې شميرل کيږي. حافظ ذهبي رحمه الله په تذکرة الحفاظ کې ترجمه کړې او په دې ډول يې خبره کړې ده: ( أبو حنيفة الامام الأعظم فقيه العراق) [2]ابو حنيفه د عراق تر ټولو ستر امام او فقيه  وو. نوموړي فقه له حماد بن ابي سليمان[3] څخه زده کړې ده او د ده په زمانه کې ځلور صحابه وو: انس بن مالک، عبدالله بن ابي اوفي، سهل بن سعد او ابو طفيل، البته له دوی څخه يې فقه نه ده اخستې. انس بن مالک يې ليدلی وه او د عطاء بن ابي رباح او ابو اسحاق السبيعي، محارب

[1]- المنياوي ، أبو المنذر محمود بن محمد بن مصطفى بن عبدالطيف المنياوي، شرح الكبير لمختصر الأصول، المكتبة الشاملة، القاهرة، ط١، ٢٠١١م، ص ٤٧٥. قال الشيخ: (واصطلاحاً: تسوية فرع بأصل في حكم لعلة جامعة بينهما)

[2]- الذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: ٧٤٨هـ)، تذكرة الحفاظ، ط١، دار الكتب العلمية بيروت- لبنان (١/ ١٢٦)

[3] - حماد بن سليمان: پوره نوم يې ابواسماعيل حماد بن ابی سليمان اشعری کوفی وو، په ۲۱ هـ (٦٤٢ م) کال کې زيږېدلی او په ۱۲۰ هـ (۷۳۸ م) کال کې وفات شوی دی. هغه د کوفې يو وتلی فقيه او د امام ابوحنيفه استاد وو. نوموړي په کوفه کې زده کړه کړې وه او د ابراهيم نخعي شاګرد وو. هغه له انس بن مالک او سعيد بن مسيب څخه روايتونه کړي دي او له مشهورو شاګردانو څخه يي امام ابوحنيفه دی، چې شاوخوا ۱۸ کاله يې د هغه په حلقه کې زده کړې کړې دي. حماد بن ابی سليمان په ۱۲۰ هـ (۷۳۸ م) کال کې وفات شو. (العبر في خبر من غبر، امام شمس الدين الذهبي، ج١، ص ١١٥/ سير أعلام النبلاء, امام شمس البين الذهبي، ج٥، ص٢٣٢.)

بن الثار، الحيثم بن حبيب العرف، قيس بن مسلم، محمد بن المنكدر، نافع، هشام بن عروه، يزيد الفقير، سماک بن حرب، علقمه بن مرثد، عطة العوفي، عبدالعزيز بن رافع، عبدالكريم ابا اميه او نور يې آورېدلي دي.[1] نوموړي د حنفي مذهب اصول د قياس او اجتهاد پر بنسټ کېښودل. ياد مذهب د اجتهاد لپاره زيات انعطاف لري او د قياس په کارولو سره د نوي مسايلو د حلولو لپاره مناسبې او غوره حل لارې وړاندې کوي. [2]

## امام مالك رحمه الله مذهب

مالکي مذهب د څلورو مشهورو مذهبونو له جملې څخه دوهم مذهب دی، مالک بن انس بن مالک بن عامر الاصبحي المدني، د دار الهجرت امام، د اسلامي نړۍ له سترو امامانو څخه، او د مالکي مذهب بنسټګر وو. هغه اصيل عربي وو او د تابعينو له ډلې څخه ګڼل کېږي. نوموړی په مدينه منوره کې زېږېدلی او ټول ژوند يې په همدې ښار کې تېر کړ، په هغه ځای کې چې د وحيي نزول شوی، د صحابه کرامو ټاټوبی او د علماوو او فقهاوو د راټولېدو مرکز وو. امام يوازې د حج لپاره مکې مکرمې ته سفر کړی وو. هغه په مدينه کې وفات شو او په جنت البقيع کې خښ شوی دی. امام مالک خپل علم د مدينې له علماوو څخ ترلاسه کړ. د قرآن قرائت يې له نافع[3] څخه زده کړی وو، حديثونه يې له ابن شهاب الزهري[4] څخه ترلاسه کړي وو، او په فقه کې يې استاد ربيعة بن عبدالرحمن وو، چې د ربيعة الرأي په نوم يې شهرت درلود. مالک د ۱۷ کلونو په عمر کې خپله علمي زده کړه بشپړه کړه او د خپلو استادانو له تصديق وروسته يې تدريس پيل کړ. هغه وويل: زه تر هغو د فتوا ورکولو لپاره ناست نه يم مګر چې اويا استادانو زما اهليت تاييد کړ.

---

[1]- عبد الوهاب، على جمعة محمد عبد الوهاب، المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية، دار السلام – القاهرة، ط۲، ۱٤۲۲ هـ - ۲۰۰۱ م، ص۷۳.

[2] - الذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز الذهبي (المتوفى: ۷٤۸هـ)، تذكرة الحفاظ، الطبعة: الأولى، ۱٤۱۹هـ-۱۹۹۸م، دار الكتب العلمية بيروت-لبنان تذكرة الحفاظ = طبقات الحفاظ للذهبي (۱/ ۱۲٦)

[3]- امام نافع: نافع بن عبد الرحمن بن أبي نعيم المدني، د تابعينو له سترو قاريانو څخه وو. دی د ۷۰هـ (٦۹۰م) د مدينې منورې په شاوخوا کې زېږېدلی او د ۱٦۹هـ (۷۸٥م) کال په شاوخوا کې وفات شوی. امام نافع د تابعينو له سترو قرّاو څخه و، او د مدينې خلکو به د ده له قرائت څخه پيروي کوله. مشهور شاګردان يې، قالون (عيسى بن مينا) او ورش (عثمان بن سعيد المصري)، د ده قرائت خپور کړ، او نن ورځ د نافع قرائت د "قالون" او "ورش" له طريقه د شمالي افريقا، سودان، او ځينو نورو اسلامي هېوادونو رسمي قرائت دی. دی د ۱٦۹هـ (۷۸٥م) شاوخوا وفات شوی. (معرفة القرّاء الكبار للذهبي، ج ۱، ص ۷۹-۸٥/غاية النهاية في طبقات القرّاء لابن الجزري، ، ج ۲، ص ۳۳۰.)

[4]- ابن شهاب الزهري: محمد بن مسلم بن عبيد الله بن عبد الله بن شهاب الزهري القرشي وو. دی د ٥۰هـ (٦۷۰م) کال شاوخوا د مدينې منورې په شاوخوا کې زېږېدلی وو او د ۱۲٤هـ (۷٤۱م) کال په شاوخوا کې وفات شو. ابن شهاب الزُهري د هغو محدثينو له ډلې څخه وو چې د احاديثو د ليکلو او راټولولو کار يې پيل کړ. له تابعينو څخه شمېرل کېږي، د اموي خليفه عبدالملک بن مروان او د هغه د زوی، وليد بن عبدالملک، په زمانه کې د حديثو د راټولولو رسمي دنده تر سره کړه.مشهور شاګردان يې امام مالک، سفيان بن عيينه، ليث بن سعد، او نور مشهور محدثين د ده شاګردان وو. د ۱۲٤هـ کال شاوخوا وفات شو، ځينې روايات يې د ۱۲٥هـ کال د وفات ذکر هم کوي. (سير أعلام النبلاء، ج ٥، ص ۳۲٦-۳٤. ابن حجر، تهذيب التهذيب، ج ۹، ص ٤٤٥.)

امام خپل مذهب په لاندې اصولو جوړ کړی وو:۱. د الله ج کتاب (قرآن). ۲. د رسول الله ﷺ سنت. ۳. اجماع. ۴. قیاس یا د اهل مدیني عمل، چې که په دواړو کې یې کوم مصلحت لیده، هغې ته به یې لومړیتوب ورکاوه. وروسته یې واحد روایت، مصالح مرسله، عرف، استصحاب، او سد ذرائع ته هم اهمیت ورکاوه. مالک خپلواک مجتهد وو، او د هغه مذهب د هغه د خپل اجتهاد محصول دی. د هغه پیروانو یوائې لږ شمیر احکام د هغه د اصولو پر اساس استخراج کړي دي. د هغه مشهور شاګردان علي بن القاسم، سحنون، او اسد بن الفرات دي. د مالکي مذهب په ټولو سیمو کې خپور شو. خلک له هر ځایه د هغه علم ترلاسه کولو لپاره راتلل. مالک نړدې اویا کاله تدریس او فتوا ورکړه، او د هغه شاګردان په حجاز، یمن، خراسان، شام، مصر، مغرب، او اندلس کې دېر شول. د دې له امله، مالکي مذهب په مصر، مغرب، الجزایر، تونس، طرابلس، سوډان، ځینې افریقایي هېوادونو، اندلس، بصرې، کویټ، قطر، او بحرین کې ډېر خپور شو. په بغداد او احساء کې یې شهرت لږ وو.امام مالک بن انس د مالکي مذهب اصول د مدیني د خلکو د عمل پر بنسټ کېښود. مالکي مذهب د سنت د تطبیق لپاره ځانګړي اصول لري چې د مدیني د خلکو د عمل په رڼا کې د فقهې د اصولو تنظیم کوي[1].

**امام شافعي رحمه الله مذهب**

نوم یې أبو عبدالله محمد بن ادریس بن العباس بن عثمان بن شافع بن السائب بن عبید بن عبد یزید بن هاشم بن عبدالمطلب بن عبد مناف دی، هغه په ۱۵۰ هجري قمري کال کښې په غزه کښې زیږېدلی او په ۲۰۴ هجري کښې په مصر کښې وفات شوی دی. امام شافعي په ځوانۍ کې مکې معظمې ته تللی وو او د خپلې مور په غیږ کې د یتیم په توګه لوی شو، هغه په یو سخت اقتصادي حالت کې رالوی شوی تر دې چې دومره څه یې نه لرل چې خپل ښوونکي ته یې ورکړي. امام شافعي رحمه الله له اووه کلنۍ څخه د مخه د قرآن حفظ تکمیل کړی وو، اسماعیل بن قسطنطین [2] ته به یې چې په خپل وخت کې د مکې د خلکو شیخ وو قرآن تېراوه او د مکې له شیخانو څخه یې علم تر لاسه کړ، په دې کې د اهل حدیثو امام سفیان بن عیینه[3] او مسلم بن خالد الزنجي د مکې فقیه هم شامل وو.

---

[1] - الموسوعة العربية العالمية، لمجموعة من العلماء والباحثين http://www.mawsoah.net

[2]- اسماعیل بن قسطنطین لنډه پیژندنه: ابو اسحاق اسماعیل بن عبدالله بن قسطنطین المخزومي، چې په "قُسط" مشهور و، (۱۰۰ هـ - ۱۷۰ هـ)، د خپل وخت د مکې مکرمې د خلکو مشهور قاري و. هغه قرآن کریم د عبدالله بن کثیر او نورو استادانو نه زده کړی و. هغه باوري، دقیق او تکړه استاد و، او د قرآن تعلیم ته یې اوږد وخت ځان وقف کړی و. ډېر کلونه یې خلکو ته د قرآن لوستل ور زده کول. دی د ۱۷۰ هجري کال په وفات شو. (سیر أعلام النبلاء ۱۰/ ۱۳)

[3]- ابن عُیینة: سفیان بن عیینة بن میمون الهلالي الکوفي، د حدیثو او فقهې له سترو امامانو څخه وو. دی د ۱۰۷هـ (۷۲۵م) کال د شعبان میاشتې په ۱۵مه د کوفې په ښار کې زیږېدلی وو، او د ۱۹۸هـ (۸۱٤م) کال د رجب میاشتې په لومړۍ نېټه وفات شوی دی. نوموړی د تابعینو له مشهورو شاګردانو څخه وو او د حدیثو او فقهې په دواړو علومو کې ماهر وو. امام شافعي، احمد بن حنبل، علي بن المدیني، او یحیی بن معین د ابن عیینه شاګردان وو. دی د ۱۹۸هـ (۸۱٤م) کال د رجب میاشتې په لومړۍ نېټه په مکه مکرمه کې وفات شو، او هلته خاورو ته وسپارل شو. ( سیر أعلام النبلاء، ج ۸، ص ٤٥٤-٤٨٩)

په ۱۳کلنی کې مدینې ته ولاړ تر څو هلته له علماء څخه علم زده کړي، نوموړي د امام مالک موطأ حفظ کړې وه او غوښتل یې چې خپله له امام څخه یې واوري او امام مالک هم د نوموړي له لیدلو او علمي قوت څخه متأثره شوی وو[1]. نوموړي د شافعي مذهب بنسټ کېښود د یادولو وړ ده چې یاد مذهب د قرآن او سنت د مستقیم تعبیر پر بنسټ د فقهي اصول بناء کړل او اکثر د اجماع او قیاس پر اصولو ټینګار کوي.

**امام احمد بن حنبل رحمه الله مذهب**

ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن اسد الشیباني، یو مشهور فقیه او محدث وو چې خپل ځانګړی فقهي مذهب یې درلود. نوموړی په بغداد کې زیږېدلی او هلته لوی شو. د هغه پلار د ده په کوچنیتوب کې وفات شوی وو، نو مور یې پالنه وکړه او د دیني علومو مطالعې ته یې وهڅاوه. ده قرآن حفظ کړ او د عربي ژبې زده کړه یې وکړه. د پنځلس کلنۍ په عمر کې یې د حدیثونو زده کړه پیل کړه او د شلو کلونو په عمر کې یې د علم د لاسته راوړلو لپاره سفرونه پیل کړل. ده کوفې، مکې، مدینې، شام او یمن ته سفرونه وکړل او بېرته بغداد ته راستون شو.

په بغداد کې یې د امام شافعي څخه زده کړه وکړه کله چې امام شافعي په ۱۹۴-۱۹۵هـ کلونو کې بغداد ته راغلی وو. بن حنبل د امام شافعي یو له مشهورو شاګردانو څخه وو. ده په عراق کې د نورو مشهورو علماوو لکه ابراهیم بن سعید، سفیان بن عیینه، یحیی بن سعید، یزید بن هارون، ابو داود الطیالسي، وکیع بن الجراح او عبدالرحمن بن مهدي څخه زده کړه وکړه. وروسته دی په خپل مذهب کې یو خپلواک مجتهد شو او د حدیثونو د حفظ او راټولولو په برخه کې یې شهرت وموند. دی د خپل وخت د محدثینو امام ګڼل کېده او د هغه مشهور کتاب "المسند" دی چې شاوخوا ۴۰،۰۰۰ حدیثونه پکې دي، د دې څرګندونه کوي. احمد بن حنبل د قوي حافظې خاوند وو. امام شافعي به ویل: "ما بغداد پرېښوده، حال دا چې هلته مې له ابن حنبل څخه زیات فقیه، تقوا لرونکی، زاهد، عالم او حافظ څوک پرېنښود." احمد بن حنبل په خپلو باورونو کې قوي اراده لرله، صبور وو، او په جرأت سره یې د وخت خلیفه ګانو سره خبرې کولې، چې دا د هغه لپاره د لوی دردسر سبب وګرځېده.

په ۲۱۲هـ کال کې د عباسي خلیفه مأمون د حکومت پر مهال د "قرآن مخلوق دی" په مسئله کې شخړه راپورته شوه. دا مسئله د معتزله عقیده وه، او علماوو ته ویل کېدل چې که څوک په دې عقیده باور ونه لري، نو د حکومت له دندو به محروم او سزا به ورکړل شي. احمد بن حنبل د دې عقیدې مخالف وو او په دې لاره کې ثابت وو. مأمون د هغه د نیولو امر وکړ، خو احمد بن حنبل د مأمون تر مرګ پورې

---

[1]- علی جمعة محمد عبد الوهاب، مفتي الديار المصرية، المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية، دار السلام – القاهرة، الطبعة: الثانية، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م، ص٢١.

ژوندی پاتې شو. وروسته خلیفه معتصم احمد بندي کړ او د ځو میاشتو لپاره یې سخت تعذیب ورکړ. نوموړي خپل موقف پرېنښود او وروسته آزاد شو. د خلیفه متوکل په زمانه کې، چې په ۲۳۲هـ کال کې یې حکومت پیل کړ، د "قرآن مخلوق دی" عقیده ختمه شوه، امام آزاد شو، او د هغه عزت وشو. احمد بن حنبل تر خپل مرګ پورې په بغداد کې پاتې شو. د هغه شاګردانو د هغه د فقهي مسایلو ټولګه جوړه کړه. د هغه له مشهورو شاګردانو څخه امام بخاري، امام مسلم، ابو داود او د هغه زامن صالح او عبدالله یادېږي. د هغه مشهور فقهي اصول په "کتاب الله، سنت رسول الله، د صحابه کرامو فتواوې، قیاس، او مصالح مرسله" ولاړ وو[1].

## څلورم مطلب

## د شرعي أحکامو مفهوم

### أ. د شرعي احکامو تعریف

لکه څنګه چې د اصول فقهې علماء تعریف کړی دی 'خطاب الشارع المتعلق بأفعال المكلفين بالاقتضاء أو التخيير أو الوضع'[2]. یعنې د الله تعالی وینا چې د مکلفینو او بندګانو تر کړنو پورې تړاو لري او شریعت یې د کولو او یا نه کولو غوښتنه کوي، یا د ترسره کولو او نه کولو تر منځ انتخاب بنده ته ورکوي چې دا تکلیفي احکام ګڼل کېږي او بله نوع یې وضعي احکام دي.

شرعي احکام هغه قواعد او اصول دي چې الله تعالی د اسلام په دین کې وضع کړي او د مسلمانانو لپاره د ژوند هر اړخ تنظیموي. دا احکام د اسلامي شریعت برخه جوړوي او په هغو باندې عمل کول د هر مسلمان د ایماني ژوند یوه لازمي برخه ده. شرعي احکام د اسلامي شریعت په چوکاټ کې راوړل شوي چې په دې سره د مسلمانانو ټولنیز، اقتصادي، اخلاقي، او مذهبي ژوند سمبالېږي، نو په دې مطلب کې د شرعي احکامو ډولونه او د یادو احکامو ځانګړتیاوې په مفصل ډول بیانېږي.

### ب. د شرعي احکامو ډولونه

د اسلامي فقهې پوهانو له نظره شرعي احکام په دوو برخو وېشل شوي دي[3]:

۱. تکلیفي حکم
۲. وضعي حکم

---

[1] - الموسوعة العربية العالمية، لمجموعة من العلماء والباحثين http://www.mawsoah.net

[2] - محمد حسن عبدالغفار، تيسير أصول الفقه للمبتدئين، دار السلام القاهرة، ۲۰۰۱م، ص۲.

[3] - زیدان ، عبدالکریم زیدان، مکتبه رحمانیه- لاهور ص ۲۷

## تکلیفي حکم

" الحکم التکلیفي یتطلب فعل الشیء، او ترکه، أو اباحة الفعل او الترک للمکلف" [1] تکلیفي حکم له مکلف څخه دا غواړي چې یا خو یو کار وکړي، پرې یې ږدي، یا دا چې پرېښودل او کول یې دواړه روا (مباح) وي.

١. واجب: دا هغه څه دي چې تر سره کول یې حتمي دي، نو ځوک چې دا کار کوي ثواب لري او ځوک یې چې ترک کوي نو سزا بهویني، او په دوه ډوله دي:

الف: عیني: عبارت له هغه حکم څخه دی چې هر مکلف کس یې باید خپله تر سره کړي او له هر کس سره علایده یې حساب کېږي.

ب: کفائي: عبارت له هغه حکم څخه دی چې الله تعالی د مکلفینو یو ټولي څخه غواړي په دې معنی که ځني یې تر سره کړي نو د نورو اوږو څخه لوېږي لکه د جنازې لمونځ.

١- مندوب: هغه څه دي چې شریعت یې له مسؤول څخه پرته له مکلفیت څخه د ترسره کولو غوښتنه کوي، نو ځوک چې کوي یې ثواب لري او ځوک یې چې نه کوي سزا نه لري.

٢- حرام: هغه څه دي چې شریعت یې په وجوبی توګه پرېښودل غواړي، نو ځوک چې یې پرېږدي هغه ته به اجر ورکول کېږي او چا چې دا کار وکړ هغه ته به جزا ورکول کېږي.

٣- مکروه: هغه څه چې شریعت یې ترک غوره کړی، که څوک یې پریږدي هغه ته اجر ورکول کیږي او چا چې دا کار وکړ هغه ته جزا نه ورکول کیږي.

٤- مباح: هغه څه چې مکلف اختیار لري غواړي تر سره یې کړي او یا خیر، د ستاینې یا غندنې پرته د ترسره کولو یا نه کولو تر مینځ غوره کول دي.

## د تکلیف شروط

د تکلیف خورا مهم شرایط په لاندې ډول دي[2]:

1- د مکلف پوهه په هغه څه سره چې پرې مکلف شوی دی.

2- د شریعت په وینا د پوهیدو وړتیا.

3- عقل، په دې معنی چې لېونی نه وي.

4- تمییز درلودل.

5- بلوغ.

6- د هغه څه د ترسره کولو وړتیا کوم چې پرې مکلف شوی وي.

1 - السامي فی تاریخ التشریع الاسلامي ص۵۴.

2 - السامي فی تاریخ التشریع الاسلامي ص۵۷.

7- اختیار، په دې معنی چې اړ ایستل شوی نه وي. [۱]

## د تکلیف عوارض

د شروطو په شان تکلیف یو لړ عوارض هم لري چې په لاندې ډول بیانېږي:

1- طبیعي عوارض: لکه حیض، ماشومتوب، خوب، ناروغتیا، لېونتوب، نفاس، صرع.
2- اکتسابي عوارض: لکه حمل، ناپوهي، حماقت، سفر، خطا.

## وضعي حکم

دا هغه حکم دی چې یو ځانګړی حالت لري چې د انسان په چلند غیر مستقیم اغیزه لري په داسې توګه چې شارع په خپله وینا سره یو شي سبب، شرط، مانع، صحیح او یا هم فاسد ګرځولي وي[۲].

1- سبب: دا هغه څه دي چې شارع د شرعي حکم لپاره سبب ګرځولی دی په شان د یوې نښې چې په شتون کې یې شرعي حکم شتون لري او په نشتوالي کې شتون نلري، لکه: غلا د لاس پرې کولو سبب دی.
2- شرط: دا هغه څه دي چې شارع یې د یو شرعي امر د بشپړولو لپاره جوړ کړی چې په نشتوالي سره یې د شرعي حکم نشتون مرتب دی او په شتون سره یې د شرعي حکم شتون لازمي نه دی، لکه اودس، خدای تعالی د لمانځه د درستوالي لپاره شرط ګرځولی دی اما ممکن اودس د وي خو لازم نه وي لمونځ وکړې.
3- مانع: په لغت کې د حاجز په معنی دی او په اصطلاح کې عبارت له هغې نښې څخه دی چې د شارع لخوا ټاکل شوې وي کله چې موجوده شي نو حکم له منځه وړي لکه قتل د میراث په وړاندې خنډ دی او کله چې نه وي نو موجودیت او عدم موجودیت د حکم پرې مرتب نه دی[۳].
4- صحة او بطلان: که د مکلفینو کړنې د شرایطو سره سمې تر سره وي نو درستې دي کنه نو په دې معنی چې د دوی شرطونه تر پښو لاندې شوي، هغه به باطل شي.
5- عزیمة او رخصة: رخصة هغه څه دي چې خدای تعالی د عمومي حکم څخه د استثناء په توګه وضع کړي او موخه یې د خلکو لپاره آسانتیا او تخفیف ده. عزیمة دا هغه څه دي چې خدای تعالی په پیل کې د ټولو خلکو لپاره ټاکلي دي، نه په ځانګړې توګه، او پدې کې د واجباتو ټول احکام شامل دي.

---

[1] - السلمي ، أ.د. عیاض بن نامي السلمي، أصول الفقه الذي لا یسع الفقیهَ جهلُه، مکتبة الشاملة (ص: ٤٧)

[2] - السلمي ، عیاض بن نامي السلمي، أصول الفقه الذی لا یسع الفقیه جهله، دار التدمریة-ریاض، ٢٠٠٥م، ص٢٩.(هو خطاب الله بجعل الشي سببا او شرطا او مانعا او صحیحا او فاسدا).

[3] - الشنقیطي ، د محمد الأمین الشنقیطي ، مذکرة أصول الفقه، الجامعة الاسلامیة بمدینة المنورة، پوهنتون رسمي ویب پاڼه، ص ٥.

## پنځم مطلب

## د شرعي احکامو ځانګړتیاوې

لکه څنګه مو چې مخکې د شرعي احکامو مفهوم او ډولونه بیان کړل دلته د شرعي احکامو د ځانګړتیاوو اړوند بحث کېږي او هغه ټکي بیانېږي کومو سره چې اسلامي شریعت پېژندل کېږي او په لاندې ډول بیانېږي:

1- شرعي احکام عام دي په دې معنی چې تر هېڅ قوم او ټبر پورې محدود نه دي او نه هم تر یو ټاکلي وخت پورې منحصر دي[1].

2- توازن: شرعي احکام د ژوند په هر اړخ کې توازن او اعتدال راولي. په دې توګه، د مسلمان ژوند د افراط او تفریط څخه ساتل کېږي او دا د اسلامي شریعت تر ټولو اهمه ځانګړنه ده چې مثیل یې په نورو بشري قوانینو او اصولو کې اصلا نه لیدل کېږي.

3- سهولت: د اسلام احکامو کې سهولت او اساني شتون لري. الله تعالی په شریعت کې سختي نه ده راوړې، بلکې په ډیرو مواردو کې یې اسانتیاوې ورکړي دي. او خپل پیغمبر ته یې په دې امر کړی دی چې خلکو باندې آساني وکړي او له سختی او مشقت څخه یې وساتي.

4- د اسلامي شریعت اصول قطعي الدلالة دي په دې معنی چې له هر ډول ظن او شک څخه خالي دی[2].

5- اخلاقي بنسټ: شرعي احکام د مسلمانانو لپاره اخلاقي او معنوي بنسټ وړاندې کوي. دا احکام مسلمانان د اخلاقي فساد او بدو اعمالو څخه ساتي.

6- لزوم: له لزومیت څخه یې مراد دا دی چې شرعي احکام ملزم دي او هېچا ته اجازه نشته ترې سرغړونه وکړي او دلیل یې د الله تعالی قول دی چې فرمایي: { وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا}[3]. او هېڅ مؤمن سړي او هېڅ مؤمنې ښځې ته دا روا نه ده چې کله الله او د هغه رسول ﷺ یو حکم وکړي، نو دوی دې په خپل کار کې خپله خوښه ولري. او څوک چې د الله او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وکړي، نو په رښتیا چې هغه په ښکاره ګمراهی کې دی. او همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمایي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ

---

1- حسین ، محمد الخضر حسین، الشریعة الاسلامیة صالحة لکل زمان و مکان، دار النهضة مصر للطباعة والنشر والتوزیع، القاهرة، ۱۹۹۹م، ص۱۳.

2- الشاطبي، أبو اسحق ابراهیم بن موسی بن محمد اللخمي الشاطبي، الموافقات، محقق: أبو عبیدة مشهور بن حسن آل سلمان، دار ابن عفان، ۱۹۹۷م، ج۲، ص۷۹.

3- الأحزاب سورت، ۳۶م آیت.

بِهِ» [1] هېڅ يو د تاسو د کامل ايمان خاوند نه شي کېدی تر هغو چې خواهش يې زما د راوړل شوي (وحی او شريعت) تابع نه شي. [2]

7- د عبادت او معاملاتو په تړاو لارښوونې: شرعي احکام نه يوائې د عباداتو په اړه لارښوونې ورکوي، بلکې د مسلمانانو د معاملاتو او ټولنيزو اړيکو لپاره هم دقيقې لارښوونې وړاندې کوي.

8- معصوميت: په دې معنی چې شرعي احکام معصوم دي، لکه څنګه چې آنحضرت ﷺ معصوم وو، او همدارنګه امت يې چې په يو څه اجماع کوي معصوم دی[3].

په ټوله کې، شرعي احکام د مسلمانانو لپاره يوه بشپړه لارښوونه ده چې د الله تعالی د رضا او خوښۍ ترلاسه کولو لپاره وضع شوي دي. دا احکام د مسلمانانو د ژوند هر اړخ تنظيموي او د دوی لپاره د يوې نېکمرغه او کاميابې نړۍ ژوند تضمين کوي. مسلمانان بايد د دې احکامو مطابق ژوند وکړي ترڅو چې په دنيا کې نېکي او په آخرت کې کاميابي ترلاسه کړي.

## دوهم مبحث

## د تقنين مفهوم او په اسلامي شريعت کې د تدوين ارزښت

په دې مبحث کې د تقنين لغوي او اصطلاحي تعريف روښانه کېږي، ترڅو د دې علمي بهير بنسټيز مفهوم درک شي. وروسته، د تقنين او قانون اړوند اصطلاحات او ځانګې تشريح کېږي، چې د قانوني نظام په جوړښت کې د تقنين ځای روښانه کړي. د دې تر څنګ، د تقنين د رامنځته کېدو بنسټونه او هڅوونکي لاملونه څېړل کېږي، څو څرګنده شي چې ولې او څنګه تقنين په ټولنو کې يو مهم ضرورت ګرځېدلی دی. د دې ترڅنګ، د تقنين سندونو قانوني ارزښت او د تدوين موخې تحليلېږي، چې د قانون د رسميت او تطبيق لپاره د اسنادو اهميت روښانه کوي. په پای کې، د تقنين تاريخ او پرمختګ، او د اسلامي شريعت په تاريخ کې د تدوين فکر ته کتنه کېږي، ترڅو د دې بهير ارتقا او د اسلامي شريعت سره يې اړيکې څرګندې شي.

## لومړی مطلب

## د تقنين لغوي او اصطلاحی تعريف

د قانون لفظ اړوند د علماء اختلاف دی، ځنې په دې اند دي چې دا له غرب څخه راغلې کليمه ده او ځنې نور بيا نور نظرونه لري. په ټوله کې کولای شم ووايم چې هېڅ يو د باحثينو داسې نه دي ويلي

---

[1] - محيي السنة، أبو محمد الحسين بن مسعود بن محمد بن الفراء البغوي الشافعي (المتوفى: ٥١٦هـ)، شرح السنة، تحقيق: شعيب الأرنؤوط-محمد زهير الشاويش، د حديث شميره: ١٠٤، ط٢، المكتب الإسلامي - دمشق، بيروت (١/ ٢١٣)

[2]- د حديث حکم: سند يې ضعيف دی، پدې اړه امام بغوي رحمه الله ليکلي: اسناده ضعيف، (شرح السنة للبغوي (١/ ٢١٣)

[3]- الموافقات، ج٢، ص٩١.

چې قانون يوه اصيله عربي کلمه ده[1]. ځنې علماء په دې اند دي چې د قانون کليمې اصل رومي دی، ځنې نور بيا وايي فارسي ده او بعضې بيا ياده کليمه يوناني ګڼي، خو د يادولو وړ ده چې ياد لفظ له پېړيو په کار وړل کېږي[2]، راجح خبره دا ده چې د قانون لفظ په اصل کې يوناني دی په حقيقت کې د مستقيمې عصاء په معنی راځي او مجازا په معنی د قاعدې، قدوة او مبدأ راځي. نوموړی لفظ له خپل يوناني اصل څخه عربي، فرنسی، لاتيني او نورو ژبو ته په مجازي معنی سره نقل شوی دی. په عربي ژبه کې د قانون کليمه د اصل په معنی راځي. نو د يو شي قانون د هغه شي د اصل په معنی دی. په مختار الصحاح کې القوانين اصولوپه معنی راغلی دی چې مفرد يې قانون دی[3]. په معجم الوسيط کې د مقياس په معنی راغلی دی: قانون مقياس د هر شي دی. او په اصطلاح کې عبارت له هغه کلي امر څخه دی چې په ټولو خپلو جزئياتو باندې تطبيق کېږي[4]. په لسان العرب کې قانون د يو شي د لارې او مقياس په معنی بيان شوی دی، ابن سيده په دې اند دی چې د قانون لفظ يو غير عربي او وارد شوی لفظ دی.

ځنې پوهانو بيا د قانون تعريف په لاندې ډول کړی دی: قانون عبارت د يو ليکلي نظام څخه دی چې حکومت پرې عمل کوي او ولس يې پلی کوي. همدارنګه ويل کېږي قانون د قواعدو يوه ټولګه ده چې د ټولنيزو يا دولتي بنسټونو له خوا رامنځته کېږي او پلي کېږي تر څو د افرادو چلند تنظيم کړي[5].

## قانون دوې معناوې لري:

۱- عامه معنی: د قوانينو يوه الزامي ټولګه ده چې د خلکو سلوک او د ټولنې سره يې اړيکه تنظيموي.

۲- خاصه معنی: د قوانينو ټولګه چې تشريعي سلطه يې د يو ټاکلي امر د تنظيم لپاره جوړوي.

قانون جوړونه يوازې د يو ارګان کار نه دی بلکې قضاء، فقه، تشريع او تقنين ورسره شامل دي. دلته دې بحث کې زه يوازې د تقنين په اړه بحث کوم. د تقنين معرفت، قواعد، تاريخ او ضوابط، منهج او اسلوب يې چې د اسلامي فقهې په تقنين کې ترې استفاده کېږي[6].

---

[1]- وهبة الزهيلي، جهود تقنين الفقه الاسلامی، ص۱.

[2]- الأزدي ، علي بن الحسن الهُنائي الأزدي، أبو الحسن الملقب بـ «كراع النمل» (المتوفى: بعد ۳۰۹هـ) ، المنجد فی اللغة، عالم الكتب، القاهرة، ط۳، ص۶۵۶.

[3]- الرازي، زين الدين أبو عبد الله محمد بن أبي بكر بن عبد القادر الحنفي الرازي (المتوفى: ٦٦٦هـ)، مختار الصحاح، المحقق: يوسف الشيخ محمد، المكتبة العصرية - الدار النموذجية، بيروت - صيدا ص ۲۳۱.

[4] - إبراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، المعجم الوسيط، تحقيق / مجمع اللغة العربية ، دار الدعوة ، ص ۷۶۳.

[5] Robertson, Crimes against humanity, ۹۰.

[6]- محمد زكي عبدالبر، تقنين الفقه الاسلامي-المبدأ والمنهج والتطبيق، دار النهضة العربية، ۱۹۹۷م، ص۷۷-۷۸.

د قانون د يوې برخې قواعد په يوه واحده مدونه کې جمع کول په داسې توګه چې خاص ترتيب، تبويب او تنظيم څخه برخمن وي او هېڅ ډول تناقض او غموض په کې شتون و نه لري، دولت يې د خپلو اړوند ذی صلاح ادارو له لوري قانون په شکل صادر کړي، د نوموړي قانون د مصدر په پام کې نه نيولو سره چې د دې قواعدو مصدر اسلامي شريعت، عرف، قضاء او که کوم بل څه دی تقنين ګڼل کېږي[1].

قانوني نظامونه په هيوادونو کې توپير لري، او دغه توپيرونه د مقارن قانون له لارې څېړل کېږي. په هغو هېوادونو کې چې مدني قانوني نظام لري، د قانون تدوين او يوځای کول د قانون جوړوونکي يا کومې مرکزي ادارې له خوا ترسره کېږي. په داسې حال کې چې په ګډو قانوني نظامونو کې قاضيان د پخوانيو قضايي پرېکړو له لارې الزامي قانوني قواعد رامنځته کولی شي. سره له دې، ځيني وخت دغه پخوانۍ پرېکړې د يو لوړې محکمې يا قانون جوړونکي ادارې له خوا لغوه کېدای شي. تاريخاً، د ديني قانون اغېز په غير مذهبي چارو باندې له پامه نه شو غورځولی، او لا هم په ځينو مذهبي ټولنو کې کارول کېږي. د بېلګې په توګه، اسلامي شريعت په ډېرو هېوادونو کې د بنسټيز حقوقي نظام په توګه کارول کېږي، لکه افغانستان او سعودي عربستان. په ټوله کې کولای شو ووايو چې تقنين د قانون د هرې فرعې قانوني قواعد جمع کول او د هغو تبويب، ترتيب او تنسيق کول په داسې توګه چې له هر ډول تناقض او غموض څخه خالي وي او د دولت د تشريعي سلطې څخه د قانون په توګه صدور چې محکمې يې پلی کړي او ټول خلک، ادارې او بنسټونه يې په تطبيق او منلو ملزم شي. له دې څخه په ډاګه څرګندېږي چې تقنين يا قانوني مدونه اويا هم د قوانينو ټولګه عبارت د يو لړ تبويب او ترتيب شوو قواعدو څخه دي چې د قانون تر يوې ځانګې پورې تړاو لري او الزامي بڼه لري. خلک، ادارې او بنسټونه يې په منلو او اذعان مکلف دي.[2]

شيخ صالح بن فوران د تقنين تعريف په لاندې ډول کړی دی: د تشريعي موادو سره راټولول په داسې توګه چې قاضي يواځې په هغو فيصله وکړي تقنين ګڼل کېږي يا په بل عبارت، شرعي احکام په الزامي عبارتونو کې را جمع کول او قاضي په دې مکلف شي تر څو هغه پلي کړي[3].

په موسوعة الميسرة کې د تقنين تعريف په لاندې ډول شوی دی: د قانون د يوې فرعي د تشريعي احکامو څخه يوه اساسي ټولګه جوړول په داسې توګه چې خاص ترتيب او تصنيف څخه برخمن وي

---

[1] - تقنين الفقه الاسلامي المبدأ والمنهج والتطبيق، ص۲۱.

[2] - د شيخ صالح بن فوران لنډه پېژندنه: صالح بن فوزان الفوزان (زېږېدلی: ۱۹۳۵م / ۱۳۵۴هـ) يو مشهور سعودي فقيه، د علماوو د ستری شورا غړی، او د فتواوو د دايمي کمېټې غړی دی. هغه د رياض په امير متعب جومات کې امام، خطيب او ښوونکی دی، او په راډيو کې د "نور على الدرب" له لارې خلکو ته فتاوې وړاندې کوي. همداراز، د فقهي او ديني علومو په برخه کې ګڼ علمي آثار او ليکني لري. ( https://ar.wikipedia.org/wiki/)

[3]- الشتري ، عبدالرحمن بن سعد بن علي الشتري، حکم تقنين الشريعة الاسلامية، دار النهضة العربية، ۱۹۹۷م، ص۱۵.

تقنين ګڼل کېږي[1]. ځنې نورو بیا تقنین د يو موضوع اړوند د تشريعي نصوصو جمع کولو په معنی بيان کړی دی. ځنې بيا د قانون مدونه او يا هم د قوانينو تدوين د تقنين په معنی کارولی دی.

محمد کمال الدين امام شرعي تقنين په لاندې ډول بيان کړی دی: فقهي احکام په نوي اسلوب سره تنظيم، ترتيب او تصنيف کولو ته تقنين ويل کېږي. نوی اسلوب او صياغة په دې معنی کوم پرمختګونه چې د تقنين په ډګر کې تر سره شوي دي د ترتيب، تعبير او تنسيق اړوند هغه ټول کې متمثل اوسي[2].

شيخ يوسف القرضاوي[3] بيا په لاندې ډول تعريف کړی دی: چې شرعي احکام د معاصرو قانوني موادو په توګه ترتيب شي، لکه جنائي، مدني او اداري قوانين، تر څو چې يوه اسانه او ټاکلې مرجع اوسي او قاضيان د هغې په بنسټ فيصله کوي، څارنوالان هغو ته رجوع کړي او ولس هم د هغې په رڼا کې خپلې ورځنۍ چارې مخ ته وړي[4]. شيخ وهبة الزحيلي[5] بيا د تقنين تعريف په لاندې ډول کړی دی: د معاملاتو او نورو احکامو صياغة د قانوني موادو په توګه چې په آسانۍ ورته لاس رسی کېدلای شي تقنين ګڼل کېږي[6]. په بل ځای کې يې بيا د فقهي تقنين داسې کړی دی چې فقهي احکام د قانوني موادو په شان ترتيبول په داسې توګه چې قاضي په آسانۍ وکولای شي رجوع ورته وکړي او ضمنا حکم هم يو وي، په ورته وخت کې د متقاضينو لپاره هم يو سهولت وي ځکه هغوی به پوهېږي چې د کوم حکم په اساس پوښتل کېږي[7].

---

[1]- الموسوعة العربية الميسرة، مجموعة من العلماء والباحثين، المكتبة العصرية-بيروت، ج۲، ص۱۰۱۸.

[2]- امام ، محمد کمال الدين امام، الصياغة التشريعية، دار المطبوعات الجامعية، ۲۰۱۲م، ص۳، سره له تصرف.

[3]-القرضاوي: شيخ يوسف عبدالله القرضاوي د ۱۹۲۶ کال د سپټمبر په ۹مه نېټه د مصر په الغربية ولايت کې زېږېدلی دی. هغه د الازهر پوهنتون څخه فارغ شوی او د اسلامي نړۍ يو له وتلو عالمانو څخه ګڼل کېده. شيخ القرضاوي د نړيوال اتحاد د مسلمانو عالمانو بنسټ ايښودونکی او لومړنی رئيس وو. هغه د اسلامي فقهې او فکر په برخه کې ګڼ شمېر کتابونه او مقالات ليکلي دي. شيخ القرضاوي د ۲۰۲۲ کال د سپټمبر په ۲۶مه نېټه وفات شو. ( https://www.al-qaradawi.net)

[4]- القرضاوی: يوسف القرضاوی ، مدخل لدراسة الشريعة الاسلامية، موسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع ، دار الفرقان للنشر والتوزيع، ۲۰۰۱م، ص۲۹۷.

[5] - الزحيلي: شيخ وهبة بن مصطفی الزحيلي د ۱۹۳۲ کال په فبرورۍ کې د سوريې د دمشق په نږدې سيمه، د دير عطية په کلي کې زېږېدلی وو. هغه د اسلامي نړۍ له وتلو عالمانو څخه شمېرل کېده او په فقه، تفسير، او اسلامي علومو کې يې ژورې څېړنې کړې وې. شيخ الزحيلي د دمشق پوهنتون د شريعت پوهنځي د اسلامي فقهې او مذاهبو د څانګې رئيس وو او په بېلابېلو فقهي مجامعو کې د کارپوه په توګه غړيتوب درلود. د هغه له مهمو آثارو څخه "الفقه الإسلامي وأدلته" او "التفسير المنير" يادولی شو. شيخ وهبة الزحيلي د ۲۰۱۵ کال د اګست په ۸مه نېټه په دمشق کې وفات شو. (https://islamsyria.com/ar/وهبة-الزحيلي-العالم-الفقيه-المفسر/التراجم.)

[6]- جهود تقنين الفقه الاسلامی، دار الفکر، ۲۰۱۴م، ص۲۶.

[7]- الفقه الاسلامی وأدلته، ص۲۷/۱.

طارق البشري[1] تقنين داسې تعريف کړی دی: د احکامو را جمع کول، تصنيف، ترتيب، منطقي او علمي تبويب د متتابع او پر له پسې قانوني موادو په شان تقنين ګڼل کېږي[2].

د مخکې ذکر شوو تعريفونو څخه لاندې ټکي څرګندېږي:

1- ځنې تعريفونو په شکلي اړخ تکيه کړې ده په داسې توګه چې څنګه شرعي نصوص سره را جمع شي.

2- ځنې تعريفونو بيا په عام ډول تقنين بيان کړی دی په دې معنی چې تقنين يې د اسلامي فقهې تر احکامو نه دی ځانګړی کړی.

3- ځنې تعريفونه بيا په دې بناء وو چې تقنين يواځې د قانون رسمي مدونة ده.

4- ځنې تعريفونو بيا تقنين ته د شرعي اړخه کتلي او دا يې د شرعي احکامو يو عامه بېلګه ګڼلې.

5- ځنې نور بيا تقنين د خاص منظر څخه کتلي دي، د يو ټاکلي رأيي او فقهي ټاکلی مذهب.

د يادولو وړ ده چې يادو تعريفونو يو لړ ملاحظات موجود دي چې په لاندې ډول بيانېږي.

شيخ مصطفی زرقاء[3] د فقهې تقنين او له فقهې د تقنين تر منځ توپير کړی دی، د نوموړي په اند د فقهې تقنين څخه مراد د يو ټاکلي فقهي مذهب تر سيوري لاندې تقنين کړل په داسې توګه چې دولت غواړي قضاء يې د همدې قانون په رڼا کې تر سره شي. اما له فقهې څخه تقنين مراد دا دی چې دولت خپل تقنين د مختلفو فقهي مذاهبو، صحابه، تابعينو او نورو مجتهدينو د اقوالو په رڼا کې تر سره کړي، د نوازلو تخريج د اسلامي قواعدو په رڼا کې تر سره کوي[4].

---

[1]- البشري: عبد الفتاح سليم البشري د ١٩٣٣ کال د نومبرلومړي نېټه مصر کې زيږېدلی دی. يو مصری قاضي، تاريخپوه، او مفکر وو. هغه د قاهرې پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه په ١٩٥٣ کال کې فارغ شو او وروسته يې د مصر مجلس الدولة کې د مختلفو مهمو دندو ترسره کولو وروسته، د يادې شورا مرستيال رئيس وټاکل شو. طارق البشري د ١٩٦٧ کال د عرب-اسرائيل جګړې وروسته اسلامي فکر ته ډېر متمايل شو او په دې اړه يې ګڼ شمېر کتابونه وليکل. نوموړی په کال ٢٠٢١م د فبروري ٢٦مه نېټه وفات شو.
https://ar.wikipedia.org/wiki

[2]- البشری ، طارق البشری، الوضع القانوني المعاصر بين الشريعة الاسلامية والقانون الوضعی، دار الشروق١٩٩٦م، ط١، ص١٥.

[3] شيخ مصطفی زرقاء: پوره نوم يې مصطفی بن احمد بن محمد بن عثمان الزرقاء الحلبی وو، په ١٣٢٢ هـ (١٩٠٤ م) کال کې د سوريې په حلب ښار کې زيږېدلی و. هغه د حنفي فقهې يو وتلی عالم، اصولي، نحوي، او شاعر وو. شيخ په يوه علمي کورنۍ کې لوي شوي وه. لومړني زده کړې يې د شيخ محمد الحجار څخه کړې، بيا يې په ابتدائيه او ثانويه (الخسرويه) شرعي مدرسه کې زده کړې وکړې. همدارنګه، هغه د خپل پلار، شيخ احمد زرقاء، څخه هم زده کړې کړي دي. له مهمو آثارو څخه يې المدخل الفقهي العام دي او په دې کتاب کې يې د فقهې عمومي اصول او قواعد تشريح کړي دي. همدارنګه شرح القواعد الفقهية دي او په دې اثر کې يې د فقهې قواعدو تفصيلي شرح وړاندې کړې ده. شيخ مصطفی زرقاء د ١٤٢٠ هـ (١٩٩٩ م) کال د جولای په ٣مه نېټه وفات شو. ( الموسوعة التاريخية الرسمية لجماعة الإخوان المسلمين.
(https://www.ikhwan.wiki

[4]- القيسي، ، رافع ليث سعود جاسم القيسي، نظرات فی تقنين الفقه الاسلامي-تاريخه فقهه ضوابطه، مرکز نماء للبحوث والدراسات، ٢٠١٥م، ص ٥٩-٦٠.

ځنې باحثين د تقنين الفقه کليمې په ځای د تقنين الشريعة لفظ کارول غوره ګڼي. ځکه شريعت عبارت له وحی څخه دی چې اعتقادي او اخلاقي امورو ته شامل دی کوم چې تقنين کې نه راځي[1]. او فقه عبارت له هغه احکامو څخه ده چې شرعي نص په هغې صراحت لري او يا هم فقهاء د نصوصو څخه استنباط کړي دي، مراد تقنين يواځې تر فقهې پورې محصور نه دی بلکې شريعت ته په عام ډول شامل دی، د. هيثم الرومي [2] وايي: کله چې د تشريع کليمه اطلاق کيږي يو له دوو معنی څخه يې مراد دی:

- د شرعي لومړی ځل منځ ته راتګ، چې دا د الله جل جلاله حق دی.
- د شرعي حکم بيان، دا کار له نبي کريم ﷺ څخه وروسته د أمت علماء او فقهاء صحابه او تابعينو او له هغې وروسته نېکانو په غاړه درلود.

په عام ډول د فقهاء عرف کې د شرعي لفظ په کلي ډول فقهي احکامو اطلاق شوی دی. نو په همدې بنسټ سره د تقنين الفقه الاسلامي کلميه غوره ده له تقنين الشريعة الاسلامية څخه، دوهم سره له دې چې درست هم دی اما فعلي مقصود يې د فقهې د يو خاص قسم تقنين ته شامل دی چې عبارت د فقه معاملات څخه دي، لکه څنګه چې وضعي قانون سره له ټولو تقليدي څانګو په مقابل کې يې د معاملاتو بخش دی په اسلامي فقه کې همدارنګه د تقنين په تعريف کې بايد الزامي او شکلي وصفونه متحقق اوسي تر څو تقنين وګڼل شي، لکه ځنې مدونات چې افراد يې صادروي الزامي بڼه نه لري نو په همدې اساس تقنين نه شي ګڼل کېدای، بلکې هغه يواځې تقنيني هڅه بلل کيږي. همدارنګه شرحي مذکرات، د قضائي احکامو مدوني چې له دولت څخه صادرې وي او همدارنګه د علماوو د فتواوو ټولګې چې په ډيری قضيو کې الزامي بڼه هم لري تقنين نه ګڼل کيږي، ځکه هغې ترتيب، تبويب او ترقيم قانوني شکل نه لري نو په همدې اساس تقنين نه ګڼل کيږي.

---

[1] - محمد عبدالجواد محمد، بحوث فی الشريعة الاسلامية والقانون، منشأة المعارف ۱۹۹۱م، ، ص۱۶.

[2] - د هيثم رومي لنډه پيژندنه: هيثم بن فهد بن عبدالرحمن الرومي يو سعودي ليکوال او فقيه دی. هغه د ملک سعود پوهنتون کې د فقه مرستيال استاد دی. د هغه د ماجستير موضوع "فقهي احکام چې له شعر سره تړاو لري" او د ډاکټورا موضوع "فقهي صياغه په معاصر دور کې" وه. (https://midad.com/scholar)

د تقنین لپاره راجح او تر ټولو غوره تعریف د د. شویش المحامید[1] دی: د یوې ټاکلې موضوع د فقهي احکامو صیاغت کوم چې تطبیق یې د انسانانو خوښې ته نه دی پرېښی، په آمرانه عبارت سره، چې مسلسل نمبر او منطقي ترتیب لري او همدارنګه له تکرار او ټکر څخه خوندي وي، تقنین ګڼل کیږي[2].

د. الجرعي وايي: ياد تعريف د تقنين لاندې عناصر بيان کړي دي:

1- صیاغت: په دې سره تقنین له فقهي مدوني توپیر کېدای شي.

2- ترتیب او ترقیم: دا یې بله ځانګړنه ده چې دې سره په آسانی احکامو ته رجوع کېدلای شي.

3- آمرانه عبارت: دې سره د شرعي احکامو د یواځې بیان سره فرق کیږي، الزام د قانون له طبیعت څخه دی.

4- تطبيق يې د خلکو تر خوښې نه دی پرېښی: په دې معنی چې خلک نه شي کولای په خپله خوښه د یاد قانون د پلي کولو څخه انکار وکړی، البته که چېرې انکار کړي نو په دې صورت کې به د سزا وړ ګڼل کیږي.

5- د یوې واحدې موضوع اړوند: ځکه قوانین د هر دوو موضوع تر منځ په عام ډول فرق کړي، او دا باید د اسلامي فقهي په تقنین کې څرګند اوسي[3].

## دویم مطلب

## د تقنین او قانون اړوند اصطلاحات او ځانګې

### لومړی: تدوین

تدوین په اصل کې یوه عربي کلیمه ده چې د انشاء، جمع کولو او ترتیب په معنی راځي. لکه عربي ژبه کې چې ویل کیږي: دوَن الكتاب، یعني کتاب یې جمع او ترتیب کړلو چې د لیکلو او کتاب په معنی راځي. [4]

تدوین په قانوني اصطلاح دوه معناوې لري.

---

[1] - شويس المحاميد: ډاکټر شويش هزاع المحاميد د اردن هيواد يو وتلی اسلامي عالم او د فقهي متخصص دی. هغه د مؤتة پوهنتون د شرعياتو پوهنځي مرستيال او استاد پاتې شوی دی. همدارنګه، ډاکټر المحاميد د اردن د اسلامي علومو پوهنتون د مالکي فقهي پوهنځي استاد هم دی. د هغه له مهمو آثارو څخه مفاتيح التعامل مع كتب الفقه نوميږي، چې په دې اثر کې يې د فقهي کتابونو د مطالعې او پوهيدو لارې چارې تشريح کړېدي.
https://www.researchgate.net/profile/Shaweesh-Al-Mahameed.

[2] - المحاميد ، شويش هزاع علي المحاميد، مسيرة الفقه الاسلامي المعاصر وملامحه-دراسة وثائقية تحليلية، دار عمار للنشر والتوزيع ٢٠٠١م، ص٤٣٧.

[3]- مسيرة الفقه الاسلامي المعاصر وملامحه-دراسة وثائقية تحليلية ص٦٢.

[4]- ظرات فی تقنين الفقه الاسلامي، الطبعة الأولی، بيروت، ٢٠١٥م، ص ٦٢.

۱- د قوانینو مراجعه او لیکل په داسې توګه چې له یوه لوري یې تنسیق شوی وي او له بل لوري د موجوده پلې کېدونکي قوانینو سره پرتله شي تر څو یو درسته بڼه د قانون صادره شي.

۲- د قانون د یوې فرعې اړوند تشریعات سره راټولول په دې نیت چې په یوه واحده ټولګه یا مدونه کې سره تنظیم شي. [1]

د یادولو وړ ده چې له دې دوهمې معنی یې مدونة منځ ته راغلې ده چې هغه عبارت له یو رسمي تجمیع څخه دی چې د یو موضوع اړوند شرعي نصوص سره یو ځای شي او یوه واحده مدونه ترې جوړه شي. مثالونه یې لکه مدونة الاحوال الشخصیة، مجلة الأحکام العدلیة او نور. په قانون کې د تدوین کلیمه له ډېر پخوا یوه پېژندل شوې کلیمه ده او د تدوین شوو قوانینو خورا ډېر مثالونه یې هم شته دي لکه د جودي قانون[2]، بللاما قانون، لبت عشتار قانون، حمورابي قانون[3]، هندي مانو قانون[4] او نور. که چېرې مخکې یاد شوو قوانینو ته وکتل شي څرګندېږي چې د تاریخ په داسې یوه مرحله کې لیکل شوي کله چې ژبې دتطور په لوري حرکت وکړ، نوله ځان سره یې کتابت او لیکنه مل کړه. دې کې شک نشته چې قانون د یادو مرحلو څخه د مخه هم موجود وو، کولای شم ووایم قانون د هرې ټولنې د مستلزماتو څخه ګڼل کېږي. په همدې اساس علماء قانون په لیکلي او نالیکلي، مسنون او غیر مسنون، مدون او غیر مدون باندې وېشلی دی.

د یادولو وړ ده چې ځنې معاصر علماء د تقنین په ځای د تدوین لفظ غوره ګڼي ځکه تقنین کلیمه د قانون څخه اخستل شوې او دا یو غیر عربي کلیمه ده په خلاف د تدوین لفظ چې یوه عربي کلیمه ده او له پخوا څخه استعمالیږي او د دواوین لفظ هم له همدې کلیمې دی[5].

د تدویندوره د دویمې پېړۍ له پیل څخه د درېیمې پېړۍ تر پایه پورې رسیږي، او دا دوره د سنتو لپاره یوه ویاړلې زمانه وه. په دې دوره کې د حدیثو روایت کوونکي دې ته متوجه شول چې د حدیثو

---

۱- نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي، الطبعة الأولی، بیروت، ۲۰۱۵م، ص ۶۲.

۲- نوموړی قانون د ډېر پخوا تدوین شوو قوانینو څخه ګڼل کېږي، کېدلای شو ووایو چې په پېژندل شوو قوانینو کې تر ټولو مخکینی دی. دا قانون د سومرېینو په وخت کې تدوین شوی وو کوم چې په عراق کې اوسېدل، د بابلیینو او آشورېینو څخه د مخه، یعني له میلاد څخه ۲۳۰۰ کاله د مخه، د یاد قانون د پخواني والي غوره دلیل د نوموړي قانون ژبه ده او همدارنګه یاد قانون د حمورابي قانون مصدر ګڼل کېږي. (نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي ص۶۳.)

۳- یاد قانون بابلي پاچاهانو (۲۰۸۰-۲۱۲۳) مخکی له میلاد ته منسوب دی او په پخوانیو تمدنونو کی تر ټولو پوره قانون ګڼل کېږي. (نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي ، ص۶۳.)

۴- نوموړی قانون له میلاد څخه ۱۳ پېړۍ د مخه ترتیب شوی دی، کابو ۲۶۸۵ بیتونه لري. (نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي ، ص۶۳.)

۵- نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي ص۶۴.

ترتیب او لیکنه اړینه ده. د حدیثو ترتیب مطلب دا دی چې هغه احادیث چې په یو ډول موضوع پورې اړه لري، سره یوځای کړل شي، لکه د لمانځه احادیث، د روژې احادیث، او داسې نور[1].

### دوهم: تجمیع

د جمع کولو په معنی دی په داسې توګه چې تیت شیان سره راټول شي او په یوه واحده ټولګه کې سره تنظیم شي. د یادولو وړ ده چې په پیل کې د تجمیع لفظ د تقنین په معنی کارېده تر دې چې اخیرا د تقنین لفظ په خپله معنی استفاده شو. له هغې وروسته یاد لفظ د تقنین لپاره د معلوماتو د راټولولو په معنی استفاده شو، یا هغه کړنې چې هغو سره د قاضیانو خدمت کېدی شي او ورته په چارو کې آسانتیاوې برابرېږي، خو د تقنین دوه مهم او اساسي عنصرونه دي: چې عبارت له الزامیت او شکلي بڼې څخه یې دی[2].

### دریم: تشریع

په عامه توګه د یاد لفظ معنی دا ده چې د ټولنیزو اړیکو د حکم لپاره قانوني قواعد کېښول شي( د یادو قواعدو د مصادرو په پام کې نه نیولو سره). په خاصه توګه بیا د یاد لفظ معنی دا ده چې د عامه سلطې له لورې قواعد صادر شي تر څو د ټولنې د وګړو اړیکې تنظیم کړي، الزامي بڼه ولري[3]. نو کولای شو ووایو چې تشریع په دې معنی ده چې د دولت مقننه قوه منظم قوانین کېږدی ټولنه کې د خلکو د اړیکو د تنظیم په پار منظم قوانین جوړ کړي، او جبري بڼه ولري تشریع ګڼل کېږي.

لکه څنګه چې مې مخکې یادونه وکړه تشریع د قوانینو د ایښولو په معنی دی تر څو د خلکو اړیکې او معاملات سره تنظیم کړي، نو په دې بنسټ کولای شو ووایو چې تشریع الهي او وضعي تشریعاتو ته شامل دی. تشریع سماوي چې یو لړ اوامر، نواهي او ارشادات دي چې الله تعالی د بشر د لارښوونې لپاره ایښي دي. اما وضعي تشریع بیا د مخکني تشریع خلاف یو لړ اوامر، نواهي او ارشادات دي چې یو فرد او یا یوې ډلې جوړ کړي دي چې د ولس له لورې ټاکل شوي دي چې خلک پرې فیصله وکړي او د هغې په رڼا کې خپل ژوند وکړي. تشریع چې اخیرا منځ ته راغلی دی تر څو عدالت ټینګ کړي[4].

تشریع په پخوانیو قوانینو کې څه خاص رول نه درلود، هغه محال د مشرع رول یوازې تر ټولنیزو او سیاسي امورو پورې منحصر وو، مګر د تشریع رول په اوسني وخت کې خورا ډېر مهم دی ځکه

---

[1]- نجم، عبد المنعم السيد نجم، تدوين السنة ومنزلتها، الجامعة الإسلامية المدينة المنورة، الطبعة: السنة الحادية عشرة- العدد الثالث- ربيع الأول ١٣٩٩هـ، ص ۴۶.

[2]- العواء ، فاطمة محمد العواء، عقد التحكيم فى الشريعة والقانون: دراسة لتقنين الفقه الاسلامي والتأثير التشريعي لمجلة الأحكام العدلية، المكتب الاسلامي للطباعة والنشر ٢٠٠٢م، ص۴۵.

[3]- علي محمد جعفر، تاريخ القوانين ومراحل التشريع الاسلامى، بيروت، المؤسسة الجامعية للدراسات والنشر والتوزيع١٩٨۶م، ص١۴۴.

[4] - نظرات فى تقنين الفقه الاسلامي، ط١، بيروت ٢٠١۵، ص۶۶-۶٧.

چې تشریع د قانوني قواعدو او د یادو قواعدو د ودې اساسي او بنسټيز مصدر ګڼل کېږي. د مثال په ډول کولای شو ووایو چې روماني قانون یاد کړو چې دودیز او عرفي بڼه منځ ته راغی بیا وروسته تشریع ور دننه شو او تشریع یې مصدر وګرځېد. په همدې توګه انګریزي قانون هم یادېدلای شي. ځکه چې د تشریع رول په کې خورا کم وو. د عاداتو او رواجونو سربېره پر قضائي سوابقو باندې استوار دی انګرېز په تشریع باور نه درلود او دا یې د حکامو د استبداد او ظلم دریچه ګڼله[1].

د اسلامي تشریع اړوند دوکتور هیثم الرومي وایي: د تشریع لفظ مطلق په دوو معناوو باندې اطلاقېږي: لومړی یې د شرع ایجاد او اول ځل منځ ته راتګ دی چې دا د الله تعالی حق دی. دوهم یې د حکم بیان دی چې یو شریعت ورته اړتیا لري دا کار د نبوت له زماني وروسته علماء تر سره کوي. فقهاء د شرعي او شریعت لفظ عامة ټولو فقهي احکامو باندې اطلاق کوي[2].

## درېیم مطلب

## د قانون ډولونه

یادو مفاهیمو له بیان وروسته دلته د قانون ډولونه په لنډه توګه ذکر کېږي، البته په عام ډول قانون په لاندې برخو وېشل کېږي: عام قانون او خاص قانون، چې هر یو یې بیا په څو نورو برخو وېشل شوی دی چې دلته په لنډ ډول سره بیانېږي[3]:

### أ. عام قانون:

عام قانون په دوه اساسي برخو وېشل کېږي. یوه برخه یې عام نړیوال قانون بلل کېږي، چې پکې دولت د یو واکمن په حیث طرف وي، او بل لوری یې بیا نور دولتونه یا نړیوالې ادارې وي. دویمه برخه یې کورنی قانون دی، چې د کورنیو عامه اړیکو تنظیمولو لپاره دی، په کوم کې چې دولت صاحب السلطان وي. دغه کورنی قانون بیا په درېیو برخو وېشل کېږي: ۱. اساسي قانون۲ . اداري او مالي قانون ۳. جزایي قانون.

په ټوله کې عام قانون څلور څانګې لري[4]:

۱. عام نړیوال قانون:

---

[1] - تاریخ القوانین ومراحل التشریع الاسلامی ص۱۴۱.

[2] - الرومي ، هيثم بن فهد بن عبدالرحمن الرومي، الصياغة الفقهية فی العصر الحديث، دار ابن حزم ۲۰۱۴م، ط۲، ص۳۵۶.

[3] - السديري ، توفيق بن عبدالعزيز السديري، الإسلام والدستور، الناشر: وكالة المطبوعات والبحث العلمي وزارة الشئون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد، الطبعة: الأولى، ١٤٢٥هـ، ج١، ص٢٢.

[4] - النعيم ، عبد العزيز العلي النعيم، أصول الأحكام الشرعية ومبادئ علم الأنظمة، دار الاتحاد العربي، ص ١٧٩.

دا د هغو احکامو ټولګه ده چې د دولتونو ترمنځ اړیکې په سولې او جګړې کې تنظیموي. په دې قانون کې دولتونه اړخ وي، نه اشخاص. د دې تعریف په اساس، عام نړیوال قانون په دوه برخو وېشل کېږي: د سولې قانون او د جګړې قانون، چې هر یو خپلې ځانګړې موضوعګانې لري.

٢. دستوري قانون

دا د هغو احکامو ټولګه ده چې د دولت بڼه، د حکومت نظام، د واکونو ډول، د واکونو وېشلو طریقه، د هغوی ځانګړتیاوې، د یو بل سره د هغوی تړاو، د همکارۍ او څارنې له اړخه تشریح کوي. دغه راز، د اتباعو حقونه او د دولت او عامه ادارو په وړاندې د هغوی مسئولیتونه هم بیانوي[1].

٣. اداري او مالي قانون

ځینې لیکوالان اداري قانون له مالي قانون څخه جلا ګڼي، خو د دواړو بنسټ یو دی؛ ځکه مالي قانون په اصل کې له اداري قانون څخه سرچینه اخلي. له همدې امله زیاتره لیکوالان دا دواړه د یو څانګې په توګه ګڼي، ځکه چې د دولت اداري او مالي اړخونه یو له بل سره ډېر نږدې دي. اداري قانون د قواعدو د یوې ټولګې په توګه تعریف شوی چې دا ښيي چې اجرایوي سلطې څنګه خپلې دندې ترسره کوي.

٤. جزایي قانون

د هغو احکامو مجموعه ده چې جرمونه تعریفوي، جزا پرې وضع کېږي او هغه طرزالعملونه چې د تورن په نیولو، محاکمه کولو او مجازاتو کې یې تعقیبېږي[2].

## ب. خاص قانون:

مدني قانون د خاص قانون اصل ګڼل کیږي او له هغه څخه په جلا کولو سره د خاص قانون نورې څانګې رامنځ ته شوې او په لاندې دول بیانېږي[3]:

١. مدني قانون

دا د یو لړ قانوني موادو ټولګه ده چې په ټولنه کې د خلکو ترمنځ شخصي اړیکې تنظیموي، پرته له هغه څه چې د خاص قانون د بلې څانګې لخوا تنظیم کېږي. دا پدې مانا ده چې مدني قانون د خاص قانون اساس ګڼل کیږي، ځکه چې مدني قانون اساس دی د خاص قانون د نورو څانګو.

٢. سوداګریز قانون:

دا د هغو قوانینو ټولګه ده چې د سوداګرو فعالیت د دوی د مسلک په برخه کې تنظیموي[4]. سوداګریزې راکړې ورکړې د مدني قانون لخوا تنظیم شوي مالي معاملاتو ته ورته دي، او دوی په پیل کې د

---

[1] - الإسلام والدستور ج١، ص٢٣.

[2] - الإسلام والدستور ص٢٥.

[3] - الصدة ، د. عبد المنعم فرج الصدة، مبادئ القانون، دار النهضة العربية للطباعة والنشر والتوزيع، ١٩٨٢م، ص ٤٥.

[4] - الشرقاوي ، جميل الشرقاوي، دروس في أصول القانون، دار النهضة العربية، ١٩٨٤م، ص ٥٨ - ٦٢.

مقرراتو له مخې تنظيم شوي. په هرصورت، دا وروسته روښانه شوه چې دا مقررات د سرعت او امنيت لپاره د سوداګرۍ ارتياوې پوره کولو کې پاتې راغلي. په تدريجي ډول، د سوداګرۍ اړوند سيستمونه څرګنديدل پيل شول، او د دوی تنظيم بشپړ شو تر هغه چې دوی خپل بازار کنټرول نه کړ، نو دوی د مدني قانون څخه خپلواکه څانګه جوړه کړه، کوم چې سوداګريز قانون دی، او د سوداګريز قانون سره تړلی دي: سمندري قانون او هوايي قانون[1].

٣. د مرافعي قانون:

د مرافعي د مدني او سوداګريزو اصولو قانون، چې د مصر د قانون پوهانو له مخې ورته دا نوم ورکول شوی، يا د مدني محاکمو د اصولو قانون، لکه څنګه چې د لبنان د قانون پوهان ورته نوم ورکوي، د هغو احکامو مجموعه ده چې قضايي واک تنظيم او هغه کړنې څرګندوي چې د مدني او سوداګريزو قوانينو د ماهيتي احکامو د پلي کېدو لپاره يې بايد تعقيب شي[2].

٤. نړيوال خاص قانون:

دا د هغو احکامو مجموعه ده چې په اساسي توګه د اړونده محکمې د ټاکلو او د هغه قانون د تشخيص لپاره کارول کېږي چې په خاص حقوقي اړيکو کې پلی کېږي چې پکې بهرنی عنصر شامل وي. يعني هغه اړيکې چې د خاص قانون په حدودو کې راځي او يو له عناصرو يې له بهرني دولت سره تړاو لري. دغه قانون تشريح کوي چې په کومه قضيه کې کومه محکمه صلاحيت لري او کوم قانون بايد پلی شي.[3]

## څلورم مطلب

## د تقنين اصل او هڅوونکي لاملونه

دا چې اوس نړۍ اقتصادي او مالي ودې ته توجه زياته کړې ده او دا يې د پرمختګ لوی ګام ګڼي، له شک پرته چې مال د ژوند يو اساسي او جوهري عنصر دی خو د پام وړ خبره دا ده چې دا مالي بساينه هم په داسې يوه طريقه سره تر سره شي چې د اسلامي شريعت له اصولو سره په ټکر کې نه وي. اوسني عصر کې په معاملاتو کې سود يو اصل ګڼل کېږي او د مال زياتوالي يو اساسي عنصر دی، قوي شتمن هېوادونه په همدې سره فقير هېوادونه تر خپل چتر لاندې راولي په داسې توګه چې غريب هېوادونه داسې بنه له قرضونو لاندې کوي او دا قرض بيا هره ورځ په تېرېدو سره زياتېږي چې بيا له دې لوی بار څخه وتل هم څه اسانه کار نه دی نو په همدې بنسټ وروسته پاتې هېوادونه

[1] - دروس في أصول القانون، ص٢٧.

[2] - دروس في أصول القانون، ص٢٨.

[3] - دروس في أصول القانون، ص٢٩.

مکلف دي چې د شتمنو هېوادونو غوښتنې یو په بله پسې ومنيٖ[1]. په همدې اساس داسې یو عادل نظام ته اړتیا وه چې د خلکو غوښتنې برآورده کړی شي، له سود او بې عدالتۍ څخه لرې او په شرعي قواعدو باندې استوار وي چې هغه یوائې د اسلامي بانکداری نظام دی. کله چې دا بانکونو په کار پیل کړی دی اړتیا وه چې قوانین یې لیکل شوي وي همدا د دې لامل شو چې ډېری فقهاء د قانون تقنین او فقهي احکامو صیاغت ته مخه کړه تر څو بانکي او مالي معاملات د هغو په رڼا کې مختته ولاړ شي او قانون د ټولنې ټولو وګړو باندې یو شان حاکم وي.

په اسلامي فقه کې د تقنین هڅې په دوه بنسټیزو اصولو ولاړې دي[2]:

**لومړی اصل:** د ولي الامر (حاکم) اطاعت کول واجب دي، که هغه په مباح (جایز) شیانو امر وکړي یا د هغوی نه منع وکړي. د ده د اوامرو او نواهیو اطاعت واجب دی، تر هغه چې دا په واضح ګناه نه وي ولاړې، او چېرته چې د دې امر موخه د امت ګټه وي.

**دوهم اصل:** قضاوت یوه داسې موضوع ده چې د زمان، مکان او پېښو په تناسب تنظیم کېدای شي. نو ولي الامر کولای شي چې قاضیان په ځینو قضیو کې د دعوو آوریدو څخه منع کړي که چیرې د مصلحت غوښتنه وي، او دا ډول قضیې د دوی د صلاحیت لاندې راځي.

د شریعت تقنین په لاندې اصولو ولاړ دی:[3]

1- د تقنین تراو د خپلو شرعي سرچینو سره، چې د الله جل جلاله کتاب، د رسول الله ﷺ سنت، د امت اجماع، او د معتبره فقهاوو نظرونه دي ښکاره او څرګند ده.

2- د یو ځانګړي فقهي مذهب پابندي نه کول، که څه هم هر هېواد خپل غالب مذهب ته تمایل لري، خو د یو واحد مذهب محدودیتونه نه منل، او د بېلابېلو مذاهبو پراخوالی د منلو وړ ګرځیدلی. ځکه چې فقه یو بشپړ نظام دی؛ په ځانګړې توګه هغه چې د اسلامي مذهبونو اجتهادونه دي او نور کسان یوائې هغه وخت مجبوروي چې د هغې د صحت لپاره دلیل موجود وي، او هغه د شرعي مصلحتونو لپاره ګټور وي.

3- د هغو معاملو او نویو نظامونو په اړه چې په فقه کې ورته مثالونه نشته او د نصوصو سره په ټکر کې نه وي، د مصالح مرسله پر اساس احکام استنباط کېږي، چې دا ولي الامر ته اجازه ورکوي چې د ټولنې د ګټو د تحقق لپاره مناسب نظام وضع کړي. ځکه چې قانون باید د ټولنې له ژوند او دودونو سره نږدې اړیکه ولري.

---

[1] - زوزو ، فريدة صادق زوزو، جهود تقنين الفقه الاسلامي فى العصر الحديث، ط١، ص٢٣١.

[2]- زقزوق، أ.د.محمود حمدي زقزوق، موسوعة التشريع الاسلامى، وزارة الأوقاف-المجلس الأعلى للشئون الاسلامية- القاهرة، ٢٠١٣م.، ص ٣١١-٣١٢،

[3] - موسوعة التشريع الاسلامى، ص ٣١١-٣١٢

4- په تقنين کې د ليکنې پر وخت هڅه وشي چې ټول جزئيات او ځانګې په نص کې ځای نه شي، بلکې د اصولو په يادولو بسنه وشي، ترڅو انعطاف موجود اوسي، قضاء او فقه خپلې دندې په هغه پېښو کې ترسره کړي چې د اسلامي فقهې د اصولو سره سم يې عملي او بيان کړي.

دا اصول نن د تقنين په منهج کې تثبيت شوي، خو بايد باور ونه شي چې د تقنين لامذهبي حرکت له سختو خنډونو سره مخ شوی نه دی. د تاريخي ثبوتونو پر اساس، مذهبي عالمانو د لامذهبي مکتب په وړاندې کلک دريځ خپل کړ، او د مصر په څو احوال شخصي قوانينو کې يې د نورو فقهي مذاهبو د نظرونو اخذ مخه ونيوله. سره له دې، لامذهبي مکتب وکولی شو چې د مذهبي پابندۍ خنډونه لرې کړي، او د مصر د احوال شخصي قانون په ۱۹۲۹ کال کې تصويب شو، چې د څلورو مذاهبو حدود يې مات کړل. په حقيقت کې د سوريې احوال شخصي قانون، چې يو بشپړ قانون دی، يو لوی ګام واخيست او داسې نوي احکام يې رامنځته کړل چې په فقهي کتابونو کې نه وو ثبت شوي. د فقهي تاريخ لوست تاييدوي چې د مذاهبو تعدد يو ستايل شوی کار دی، خو مذهبي تعصب او د يو مذهب تسلط د امت لپاره د محدوديتونو سبب کېږي، په داسې حال کې چې امة هڅه کوي شريعت تقنين کړي.[1]

د عربي او اسلامي هېوادونو قوانين په ډېره اندازه د فقهې پر علم باندې ولاړ دي. په ځانګړي ډول، د فقهې فرعي برخې ډېر پراخ علمي مواد لري چې د قانون جوړونې متخصصين ترې ګټه اخلي. د وضعي قوانينو موخه د ټولنې دننه د فرد چلند تنظيمول دي، خو اسلامي شريعت د الله تعالی له لوري يو بشپړ، منظم او دقيق نظام دی چې د هر وخت او ځای لپاره مناسب دی. شريعت د قانون په څېر نه دی، او قانون د شريعت درجې ته رسېدای نه شي، ځکه چې شريعت د الله تعالی لخوا دی، خو قانون د انسانانو د افکارو او اړتياوو محصول دی[2]. د الله تعالی شريعت تلپاتې، بشپړ او له هر ډول نيمګړتيا څخه پاک، په داسې حال کې چې انسان جوړ شوي قوانين له کمزورۍ، بدلون او نيمګړتيا سره مخ کېږي. شريعت هغه قواعد دي چې الله تعالی د ټولنې د چارو د تلپاتې تنظيم لپاره وضع کړي دي. دا قواعد د تل لپاره ثابت دي او د بدلون يا تعديل وړ نه دي. برعکس، وضعي قوانين موقتي قواعد دي چې د ټولنې د حالاتو او اړتياوو مطابق وضع کېږي او د ټولنې د حالت په بدلون سره بدلېدلی شي. انسانان خپل قوانين د خپلو رواجونو، فرهنګونو او حالاتو مطابق جوړوي، او دا قوانين د حالاتو په بدلېدو سره بدلون مومي. خو هغه څه چې الله تعالی د وحي په واسطه شريعت ګرځولي دي، د خپل کمال، دقت او حکمت له امله بدلون نه مني. په دې توګه، اسلامي شريعت يو الهي نظام دی چې د ټولنې د هر اړخيزو ستونزو د حل او تنظيم لپاره غوره لارښوونې وړاندې کوي، په داسې حال کې چې

---

[1] - أ.د. محمد کمال الدين امام، موسوعة التشريع الاسلامي، وزارة الأوقاف-المجلس الأعلى للشئون الاسلامية ، القاهرة، ۲۰۱۳م. ، ص۳۱۳

[2]- وګورئ: الطبري، محمد بن جرير الطبري، جامع البيان عن تأويل آية القرآن، تحقيق محمود محمد شاکر، مکة المکرمة، دار التربية والتراث، ج ۱۷، ص۴۵۲.

وضعي قوانين د انسانانو محدود فکر او اړتیاوو پورې تړلي دي، او د وخت په تېرېدو سره زړېږي یا بدلېږي[1].

دا چې نړۍ نن ورځ ټول تمرکز په مالي او اقتصادي امورو باندې دی او مالي ځواکمنتیا د تقدم او پرمختګ یواځینی علامه ګڼي، سره له دې چې مال ژوند کې خورا مهم دی خو ضمنا باید هېر نه شي چې مال باید د حلالي لارې لاسته راوړل شي، نن ورځ خو سود په ټولو معاملاتو کې عام دی او قوي هېوادونه له همدې څخه استفاده کړي او ضعیف هېوادونه تر پښو لاندې کوي او دې ته یې اړ باسي چې ټولې غوښتنې یې باید ومني، نو په دې اساس داسې یو عادل مالي نظام ته اړتیا وه چې هر کس ته خپل حق ورسېږي چې دا حل یواځې اسلامي بانک دی خو یاد بانکي سېستم دې ته اړتیا لري چې باید مقنن وي او د ټولنې د حالت او پرمختګ سره برابر وي نوځکه ډېري علماء او متخصصین په دې فکر کې شول چې فقهي احکام د قانون په شان تقنین کړي[2]. د اسلامي فقهې تقنین یو لړ هڅوونکي لاملونه لري چې په لاندې ډول بیانېږي:

1- په فقهي کتابونو کې د اسلامي شریعت احکامو ته رجوع خورا یو ستونزمن کار دی ځکه له یوه پلوه یاد کتابونه خورا ډېر دي او له بله اړخه په یادو کتابونو پوهېدل او له هغو څخه مطلب اخستل هم څه اسان کار نه دی، ځکه سخته ژبه کې کار شوې ده او په فروعاتو کې خورا ډېر اختلافات لري کوم چې دا امر د عام خلکو لپاره سخته ده شرعي حکم ته ورسېږي او ضمنا دا په محکمو کې د ځنډ لامل هم ګرځي[3]. نو په دې اساس دا غوره خبره ده چې تقنین وشي تر څو هر څه په اسانی سره پیدا شوی شي او د هر انسان لپاره په خورا اسانه ډول د فهم وړ وي.
2- د وضعي قوانینو تبدیل په شرعي قوانینو، دې کار سره اسلامي قوانینو د وضعي قوانینو ځای ونیولو، او دا یوه لویه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.
3- د قوانینو تر منځ د اسلامي فقهې لپاره هم مجال برابر شو تر څو خپل هویت ثابت کړي او تر څو غیر مسلمانانو ته په ګوته کړي چې اسلامي فقه کېدلای شي د قانون ځای ناستی جوړ شي او دا چې د وخت او ټولنې سره سم د ټولو اصولو مطابق کولای شي ځان عیار کړي[4].
4- د اجتهادي او قضائي احکامو تر منځ د تناقض څرګندېدل، په ځینو مذاهبو کې ډېر اجتهادات تر سره شي او ځنې کې بیا کم وي او همدارنګه په یوه مسئله کې د خورا ډېرو آراوو د شتون احتمال خپله یوه ستونزه ده په دې اساس تقنین سره دا ستونزه صفر یا حد اقل کچه یې خورا کمېږي او د اختلاف په

---

[1] - جامع البیان عن تأویل آیة القرآن ، ص۴۵۲.

[2]- جهود تقنین الفقه الاسلامي فی العصر الحدیث ص ۱۱۸.

[3]- جهود التقنین الفقه الاسلامي، ص۲۷.

[4] - نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي ص۱۶۹.

صورت کې د ټولو فقهي آراوو څخه يوه د راجح رايې په ډول اخستل کېږي او په هغه باندې عمل کېږي دې سره له يوه لوري اختلاف کچه کمېږي او بل پلوه په راجح قول باندې عمل کېږي[١].

5- په قضاء کې د اجتهاد کمښت، له يوه اړخه ټول قاضيان په درجه اومستوی د اجتهاد نه دي او نه شي کولای اجتهاد تر سره کړي، د همدې امر په اساس څلورواړه مذهبه په دې متفق دي چې مقلد قاضي کېدلای شي تر څو دمسلمانانو چارې وروسته پاتې نه شي، د يادولو وړ ده چې قاضيان نسبت پخوا ته ډېر ضعيف دی نه يوائې چې اجتهاد نه شي تر سره کولای بلکې همدارنګه ډېری خو يې حتی داسې دي چې په شوي اجتهاد درست نه پوهېږي نو په همدې اساس تقنين د شرعي احکامو د يادو کسانو لپاره هم کار خورا آسانه کوي[٢].

6- د اسلامي فقهي په تقنين سره د فقهي او قانونو تر منځ اړيکه جوړېږي او ضمنا د فقهي قوانين په پوره دقت سره کتل کېږی د خطاء امکان په کې کم وي او فقه په دې کار سره وده کړي ضمنا دا په دې هم دلالت کوي چې اسلامي فقه د هر وخت او هر ځای کې د پلي کېدو وړ ده[٣].

7- عام خلک د دې وړتيا نه لري چې فقهي کتابونه ولولي او په درست ډول له هغو څخه فقهي احکام راوباسي او په خپلو حقوقو او واجباتو باندې پوه شي او همدارنګه د اقوالو تر منځ د راجح قول ټاکل نه شي کولای، همدارنګه که چېرې تقنين وشي دې سره به هغه کسان چې کومه دعوی لري مخکې له مخه به په دې پوه وي چې دې امر کې فيصله څه ده، او انديښنې به يې د امکان تر حد رفع وي، په دې کار سره د قضاء په خونه کې د نزاعاتو او اختلافاتو کچه هم کمېږي[٤].

8- د تقنين وروسته حکومت ته په قضايي ارګانونو د نظارت او اشراف امر خورا اسان کېږي[٥]. ياد تقنين يو اړين او مهم امر دی چې بايد تر سره شي او په دې سره به د ټولنې ډېرې اړوند ستونزې حل شي.

## پنځم مطلب

## د تقنين مشروعيت او تدوين عوامل

له فقهي پلوه د تقنين اساس دا دی چې قاضي په يو واحد مذهب تطبيق باندې مکلف شي او يا هم قاضي د خپل اجتهاد خلاف پلي کولو ملزم شي، د اسلام په پيل کې قاضيان آزاد وو کله به چې يوه مسئله کې نص نه وو نو دوی به خپله اجتهاد تر سره کولو،[٦] او د دې سند د نبي ﷺ حديث دی چې

---

[١] - العطار ، عبدالناصر توفيق العطار، تطبيق الشريعة الاسلامية فى العالم الاسلامي، مطبعة السعادة، القاهرة، ١٩٧٩م، ص٤٨-٤٩.

[٢] - الزحيلي ، محمد مصطفى الزحيلي، معالم النهضة الفقهية المعاصرة، دار العصماء، ١٩٩٥م، ص٤١٧-٤١٨.

[٣] - معالم النهضة الفقهية المعاصرة ، ص٤١٧-٤١٨.

[٤] - تطبيق الشريعة الاسلامية فى العالم الاسلامي، ص٤٨.

[٥] - تطبيق الشريعة الاسلامية فى العالم الاسلامي ، ص٤٨.

[٦] - نظرات فى تقنين الفقه الاسلامي ص١٧٣.

معاذ بن جبل رضی الله عنه یې کله یمن ته واستولو نو ورته ویې ویل: څنګه فیصله کړې؟ نو ویې ویل: د الله تعالی په کتاب باندې فیصله کووم، نبي صلي الله علیه وسلم وویل: که د الله په کتاب کې نه وي؟ معاذ رضی الله عنه وویل د الله د رسول په قول فیصله کوم، نبي ﷺ وویل: که د الله د رسول په سنت کې هم نه وي؟ معاذ رضی الله عنه وویل نو خپله اجتهاد کوم، نبي کریم ﷺ وفرمایل: د الله شکر دی چې توفیق یې ورکړی د رسول الله استازي ته د هغه څه کولو چې د الله تعالی د رضایت لامل ګرځي[1]. د یادولو وړ ده چې یاد تقنین په همدې اطلاق نه دي پاتې شوی بلکي مقید شو، لکه اجتهاد د یو ټاکلي مذهب په چوکاټ کې تر سره کېده. او داسې ښکاري چې د دې محدودیت توجیهات د یو شمېر مسائلو له امله وي، چې ځینې یې د معاذ رضی الله عنه د حدیث د متن د حجیت سره تړاو لري، او ځینې یې د یاد متن د تفسیر سره اړوند دي. د معاذ رضی الله عنه حدیث، سره له دې چې د دلایلو یا سرچینو په ترتیب کې د شیانو له طبیعت سره سمون خوري، خو د هغه ثبوت په مطلق ډول نه دی منل شوی. همدارنګه، د دې متن په تفسیر کې دا خبره شامله ده چې معاذ رضی الله عنه یواځې قاضي نه وو، بلکې د قضایي صلاحیت ترڅنګ د اجتهاد وړتیا هم ورسره وه. نو هغه د اجتهاد د دې ځانګړتیا له مخې اجتهاد کاوه، نه یواځې د قاضي په توګه[2].

له دې څخه داسې پوهېدل کېږي چې د معاذ رضی الله عنه حدیث د قضا په محدودولو دلالت نه کوي، ځکه چې یا خو د دې حدیث د رسول الله ﷺ پورې تړاو د ثابتوالي درجې ته نه رسېږي، یا دا چې معاذ رضی الله عنه ته اجازه یواځې د قاضي په توګه نه وه ورکړل شوې، بلکې د هغه د مجتهد په توګه چې د اجتهاد ټول شرایط په کې موجود وو[3].

ځینې کسان د تقنین د جوهر (د قانون جوړونې د پابندۍ) مفکوره د امیر المؤمنین عمر بن الخطاب له هغې لیک څخه راباسي چې هغه یې ابو موسی اشعري ته د قضا په اړه استولی وه[4].

---

[1] -عن أناسٍ من أهل حمصَ من أصحابِ معاذ بن جبل: أن رسولَ الله -صلَّى الله عليه وسلم- لما أراد أن يَبعَثَ معاذاً إلى اليمن، قال: "كيف تَقضِي إذا عَرَضَ لكَ قَضاء؟ " قال: أقضي بكتابِ الله، قال: "فإن لم تَجِدْ في كتاب الله؟ " قال: فبسُنةِ رسولِ الله - صلَّى الله عليه وسلم -، قال: "فإن لم تجد في سُنة رسولِ الله - صلَّى الله عليه وسلم - ولا في كتابِ الله؟ قال: أجْتَهِدُ رأيِي ولا آلُو، فضربَ رسولُ الله - صلَّى الله عليه وسلم - صَدْرَهُ وقال: الحمدُ لله الذي وَفَّق رسولَ رسولِ الله لما يَرضَى رسولُ الله" (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٥/ ٤٤٤) د دي حديث اسناد د حارث بن عمرو د جهالت له کبله ضعیف دی خو ډیرو علماو، لکه بزدوي او جویني دي حدیث ته صحیح ویلي دي. (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٥/ ٤٤٤)

[2] - عطية ، جمال الدين عطية، مسألة تقنين الشريعة الاسلامية من حيث المبدأ، مجلة المسلم المعاصر، ١٩٧٧م، ص٤٦-٤٧.

[3] - نظرات فی تقنين الفقه الاسلامي ص١٧٥.

[4] - البعلي ، عبدالحميد محمود البعلي، ضرورة تقنين أحكام الفقه الاسلامي لتطبيق الشريعة الاسلامية، ادارة البحوث والدراسات٢٠٠٨م، ص ١٤.

په هغه لیک کې راځي: (...دا چې قضا فرض او یو داسې کړنه ده چې له پخوا پرې عمل کېږي. نو پوهه شه کله چې تا ته کومه قضیه وړاندې شي، او هغه عملي کړه کله چې تا ته روښانه شي، ځکه چې هغه حق چې عملي نشي، ګټه نه لري. په خپل مجلس، مخ، او قضا کې د خلکو ترمنځ برابري وکړه، ترڅو هیڅ شرف لرونکی ستا څخه د بې انصافۍ هیله ونه کړي او کمزوری ستا له عدل څخه مایوس نه شي. دلیل په هغه چا دی چې دعوه کوي، او قسم په هغه چا دی چې انکار کوي...د مسلمانانو ترمنځ سوله روا ده، خو هغه صلح چې حرام روا کړي یا روا حرام کړي، جایزه نه ده. هغه فیصله چې پرون دې کړې وي، او که نن دې خپله پریکړه بیا وکتله او د حق لاره دې وموندله، نو ده دې مخه ونه نیسي چې حق ته رجوع وکړې. ځکه حق تلپاتې دی، او هېڅ شی یې له منځه نشي وړلی، او حق ته رجوع کول له باطل سره دوام کولو څخه غوره دي... که څوک د غایب حق دعوه وکړي یا دلیل وړاندې کړي، نو هغه ته یوه موده وټاکه چې هغه پای ته ورسیږي. که هغه دلیل وړاندې کړ، نو حق ورکړه. که هغه پدې ونه توانېد، نو د هغه په اړه فیصله وکړه، ځکه دا د عذر څرګندولو لپاره غوره ده او د ابهام ختمولو لپاره مؤثره لاره ده[1]... پر تا واجب دي چې هغه څه په پام کې ونیسې چې په قرآن او سنت کې نشته، بیا د چارو ترمنځ پرتله وکړه، شباهتونه او بېلګې وپېژنه، او د هغه څه پر لور حرکت وکړه چې الله ج ته تر ټولو نږدې او د حق سره تر ټولو ورته وي... مسلمانان د یو بل پر وړاندې عادل دي، مګر په استثنا د زور د شهادت، د حدودو په قضیه کې تېروتنې، د ولاء یا قرابت پر بنسټ تېري. ځکه الله ج د خپلو بندګانو پټ رازونه ساتلي دي او حدود یې یواځې د واضح دلیلونو او قسمونو له مخې ښکاره کړي دي... د غضب، بې صبرۍ، مایوسۍ، او د مقابل لوري په وړاندې د زړه تنګۍ څخه ځان وساته، ځکه قضا په حق ځایونو کې د اجر لامل ګرځي او د ښه یادښت سبب کېږي. څوک چې خپله نیت د حق لپاره خالص کړي، حتی که د ځان په زیان وي، الله به د خلکو ترمنځ د هغه

[1] - ... فإن القضاء فريضة محكمة وسنة متبعة، فافهم إذا أُدلي إليك وانفذ إذا تبين لك فإنه لا ينفع تكلم بحق لا نفاذ له، وآس بين الناس في مجلسك وفي وجهك وقضائك حتى لا يطمع شريف في حيفك ولا ييأس ضعيف من عدلك البينة على من ادعى واليمين على من أنكر ... والصلح جائز بين المسلمين إلا صلحا أحل حرامًا أو حرم حلالا ، ولا يمنعك قضاء قضيته بالأمس فراجعت فيه نفسك وهديت فيه لرشدك أن تراجع فيه الحق، فإن الحق قديم لا يبطله ومن شيء والرجوع إلى الحق خير من التمادى في الباطل ... ادعى حقا غائبا أو بينة فاضرب له أمدًا ينتهى إليه فإن بينه أعطيته بحقه، وإن أعجزه ذلك استحللت عليه القضية فإن ذلك أبلغ للعذر وأجلى للعمى ... الفهم الفهم فيما أُدلي إليك مما ورد عليك مما ليس في قرآن ولا سنة، ثم قايس الأمور عندئذ واعرف الأشباه والأمثال ثم اعمد فيما ترى إلى أقربها إلى الله وأشبهها بالحق... المسلمون عدول بعضهم على بعض إلا جرا عليه شهادة زور أو مجلوا في حد أو ظيا في ولاء أو قرابة، فإن الله تولى من عباده السرائر وستر عليهم الحدود إلا بالبينات والأيمان... وإياك والغضب والقلق والضجر والتأذي بالخصوم والتنكر عند الخصومات، فإن القضاء في مواطن الحق مما يوجب به الأجر ويحسن به الذكر، فمن خلصت نيته في الحق ولو على نفسه كفاه الله ما بينه وبين الناس، ومن تزيد بما ليس في نفسه شانه الله، فإن الله تعالي لا يقبل من العباد إلا ما كان خالصا، فما ظنك بثواب عند الله في عاجل رزقه وخزائن رحمته). مخکینی مرجع، ص ۱۷۷.

د ټولو مسائلو کفایت وکړي. او څوک چې د هغه څه دعوه وکړي چې په خپله کې یې نه لري، الله به هغه شرمنده کړي. ځکه الله یواځې هغه څه قبلوي چې د بندګانو له لوري خالص وي[۱].

د عمر فاروق د لیک اهمیت په دې کې دی چې دا د قانون جوړونې لپاره لومړني اصول اېښي دي. ډاکټر عبد الحمید العلي وایي: د عمر بن الخطاب لیک ابو موسی اشعري ته، د فقه د احکامو د قانون جوړونې لپاره لاندې مهم ټکي وړاندې کوي:

1- قضا یو ضرورت دی، یو فرض دی، یو اړین امر او متبع سنت دی.
2- په حکم پابندي د هغه وینا سره سم چې وایي: 'سمه خبره هغه وخت ګټوره ده چې عملي شي.

د یادولو وړ ده چې د عمر رضی الله د پیام سربېره ځنې نور تاریخي سوابق هم شته چې تقنین حمایت کړي او په لاندې ډول بیانېږي:

- عثمان بن عفان رضی الله عنه په لومړۍ هجري پېړۍ کې د قران کریم د مصاحفو ټولولو لپاره یو واحد مصحف ترتیب کړ او پر ټولو یې لازمي کړ چې نور مصاحف پرېږدي. دا مصحف چې د عثماني مصحف په نوم مشهور شو، د قران کریم لومړنی رسمي ثبت ګڼل کېږي. دا مصحف ځانګړې بڼه او ترتیب درلود چې ټول پرې متفق شول، او همدې ته په کتلو سره یاد مصحف د قرآن کریم تر ټولو پخوانی او معتبره نسخه ګڼل کېږي چې بغیر له هېڅ ډول تحریف او تبدیل څخه ساتل شوې ده[۲].

په همدې ډول عمر بن عبدالعزیز په لومړۍ هجري پېړۍ کې د حدیثونو راټولول پیل کړل، چې لومړنی غیرمنظم او رسمي تدوین ګڼل کېږي. دا تدوین یواځې د رسول الله ﷺ تر اقوالو پورې محدود نه وو، بلکې د صحابه وو آثار یې هم شامل کړي وو. عمر بن عبدالعزیز دا کار د دې لپاره پیل کړ چې قرآن له حدیثونو څخه جلا او دواړه له ضایع کېدو څخه خوندي وساتي. د حدیثونو د حافظانو د مرګ له امله، د وخت په تېرېدو، او د مذهبي اختلافاتو د راټوکېدو له امله د حدیثونو د ساتنې اړتیا ډېره شوې وه. د دې تدوین په لومړیو کې دا غیرمنظم وو، خو د وخت په تېرېدو یې بڼه بدله شوه او په مسانیدو، معاجمو، جوامعو، سننو او صحاحو بدله شوه. وروسته بیا دا ټول تحقیق، فهرست بندۍ او علمي ترتیب ته وسپارل شول.

دا چې قانون د ټولنې د پرمختګ او تمدن لومړی قدم دی، او په هره ټولنه کې قانون ته اړتیا ده د یادولو وړ ده چې قانون له هېڅ څخه منځ ته نه راځي بلکې هر هغه څه چې قوانین څېړي او له ټولنیز او دیني اصولو څخه منفصل وي په حقیقت کې یوه ناقصه هڅه ده.

---

۱- الطريفي، ناصر الطريفي، تحقيق رسالة عمر بن الخطاب الى أبي موسي الأشعري، ص۲۰۴-۲۰۶.

2 - العاني ، ابراهيم عبدالرحمن العاني، فقه الموازنات بين المصالح والمفاسد في ضوء مقاصد الشريعة، دمشق، دارالسلام، ط۱، ۲۰۰۸م، ص۲۶۶-۲۶۸.

پخوا د قانون معرفت او پلي کول د پاچاهانو، رجال الدين، کهنه او اشراف په لاس کې وو د قانون به يې هغه شان تفسير کوو څرنګه به چې د دوی مصالح په کې خوندي وو او همدې امر خلک اړ ايستل چې قانون تدوين کړي د مثال په ډول په روم کې دا ستونزه هغه مهال مطرح شوه کله چې عام ولس غوښتل د اشراف او لومړی طبقه خلکو سره له يو شان حقوقو څخه برخمن شي او اشرافو له دې امر سره توافق نه درلود او دا امر يې رد کړ او د همدې امر په اساس يې قانون الالواح اثنا عشر وليکلو، عامو خلکو په کال ۴۶۲ مخکې له ميلاد يو ټولی خلک يونان ته واستول تر څو د صولون قانون ولولي او هغو ته په کتلو يې له بېرته راستنېدو سره سم يې په تختو د روم قانون وليکلو[1].

همدارنګه د دارکون قانون هم هغه مهال وليکل شو کله چې عامو خلکو د دوديزو قواعدو د تدوين غوښتنه وکړله تر څو عام خلک په اسانۍ پرې پوه شي دې سره به له يوه لوري دا قواعد ساتلي وي او له بل لوري به ياد قوانين د اشرافو او رجال الدين له منګلو راوتلي وي، د يادولو وړ ده چې ياد قانون د الواح د قانون خلاف وو ځکه هغه په ټولنه کې د مېشتو خلکو تر منځ د يو شان والي او مساواتو يو کوښښ وو اما د دارکون قانون بيا يواځې عرفي قواعد يې تدوين کړي وو چې په عام ډول په پوره قسوة او سختۍ باندې موصوف وو ياد قانون هغه محال وليکل شو کله چې په ټولنه کې کروندګرو سره خورا ډېر ظلم کېدی د ياد ظلم د رفع کولو لپاره، ياد قانون د صولون قانون څخه کابو شل کاله وروسته ترتيب شو.

سربېره په يادو سببونو په يادو ټولنو کې تدوين د ټولني يوه لازمي اړتيا بلل کېده ځکه د واک ساحه يې خورا پراخه وه. په ټولنه کې د يو لړ سياسي، ټولنيز، عسکري او اقتصادي بدلونونو په پام کې نيولو سره تدوين اړينه اړتيا بلل کېده. د يادولو وړ ده چې سربېره په يادو ټولو دوافعو د تدوين بيا هم ځنې داسي خلک هم وو چې هغوی د تدوين سرسخته مخالف وو لکه انګليس چې په خپل دودونو او رواجونو خورا ډېر متمسک دي نو ځکه يې قانون نه دی تدوين کړی او خپل قانون يې چې رواجونو، تقاليدو او قضائي سوابقو استوار دی غوره ګڼلی دی، کېدای شي ځنې ووايي چې انګليس قاضي په خپل کار کې پوره خپلواکي دی خو حقيقت دا دی چې هغه هم په خپله قضاء کې سوابقو ته په پام کې نيولو سره فيصلې کوي کوم چې قانوني سوابق ګڼل کېږي. د يادولو وړ ده چې انګليس هم يو لړ قوانين ليکلي دي لکه يو لړ جزائي او سوداګريز مسائل لکه د تجارتي اوراقو قانون، د شرکات قانون، بيع، بحري ضمان، انګليس چې خپل قانون يې په عرف باندې روان وو نه يې شوی کولای چې د خپلو مستعمرو لپاره هم همدا توصيه کړي مثلا مصر کې د برېطانيا عام مسول کرونر وايي چې مصريانو خپل قانون تدريب

[1] - محمصاني ، صبحي رجب محمصاني، فلسفة التشريع فى الاسلام،دار الکشاف بيروت، ۱۹۴۶م، ص۱۴۱-۱۴۲.

په فرانسه کې لیدلی دی امکان نه لري چې یاد خلک د عدم تقنین باندې توافق وکړي[1] او یا د هم د انګلیس قانون ومني نو دوی هم پرېښودل چې محکمو کې فرانسي قانون پلی شي، د فرانسي قانون ښه والی دا وو چې مصري ځوانان کوم چې ډېری یې فرانسه کې زده کړې کړې وې هغوي ښه پرې پوهېدل او له بل پلوه فرانسي قانون په ابوابو او فصلونو سره تنظیم او ترتیب شوی دی چې د پلي کولو وخت کې خورا ډېر آساني راولي. دا چې انګلیس یو لیکلی قانون نه درلود او فیصلې یې د قضائي سوابقو او اعرافو په رڼا کې تر سره کولې دا امر یوازې تر دوی منحصر نه وو بلکې د بریطانیا سربېره امریکا، کاناډا، استرالیا، جنوبي افریقا هم ورسره موافق وو چې ځنې برخو کې یې قوانین نه دي تدوین شوي.

د قانون د تدوین مسئله چې د پخوا څخه روانه ده لکه د حمورابي، دراکون، الواح او د جستنیان قانون او په معاصر وخت کې یاد رول لاتیني قانون عملي کوي چې په سر کې یې فرانسي قانون دي کوم چې نابلیون صادر کړی وو البته یاد قانون د تشریعي سلطې څخه صادرېږي او قضائي سلطه یې یوازې د پلي کولو چارې په غاړه لري[2].

## شپږم مطلب

## د تقنین تاریخي پړاوونه او اسلامي شریعت کې د تقنین تدوین فکر

کله چې د تقنین د تاریخ په اړوند بحث کېږي مستقیما د قانون د تاریخ یادونه کېږي. هغه حالات او ظروف چې په سیوري کې یې قوانین منځ ته راغلي او همدارنګه هغه تغییرات چې د وخت په تېرېدو په یادو قوانینو کې منځ ته راغلل، له تاریخي څېړنو څخه څرګندېږي چې له ټولنیز پلوه ولسونه د قوانینو په جوړونه کې سره ورته والی لري او همدارنګه د یاد قانون په وده او تطور کې، نو په همدې بنسټ لاندې ذکر شوو قوانینو کې یو ورته والی تر سترګو کېږي لکه د سومریین، بابلیین، رومان، عرب، فارس، جرمان او هندوانو د قوانینو تر منځ لیدل کېږي . همدارنګه کله چې د تقنین د قانون اړوند بحث کېږي نو د یادو قوانینو مصدر بحث مطرح کېږي چې مختلفو وختونو کې د تشریع مصدر څه وو، عرف، فقه، قضاء او یا هم ټولنیز دودونه او رواجونه د قانون د مصدر په حیث مطرح شوي دي. ځینو ولسونو د قانون تدوین ته مخه کړه کله چې قانون له دین څخه جلا شو، لکه رومیانو، یونانیانو او بابلیانو. د همدې لپاره د دوی د قوانینو احکام په لویه کچه له دیني رنګ څخه لرې وو؛ په داسې حال کې چې د هندوانو او یهودانو په قوانینو کې دیني رنګ ښکاره پاتې شو[3].

---

1 - فلسفة التشریع فی الاسلام، ص ۱۴۷-۱۴۸.

2 - الصیاغة الفقهیة فی العصر الحدیث ص۴۶۲-۴۷۲.

3 - تاریخ القوانین ومراحل التشریع الاسلامی ص۲۲.

په قانون جوړونه کې د قانون رول او د هغې اړیکې په اړه باید وویل شي چې قانوني اصول له دین سره ګډ وو. د دین او قانون تر منځ د جلا والي دلیل د یوناني فیلسوف ارسطو [1] او هغو رومي قانون پوهانو نظریې وې چې د هغه له افکارو څخه متأثر شوي وو. ارسطو قانون د دین او اخلاقو تر څنګ د یوه خپلواک نظام په توګه ګڼلی وو. د همدې پر بنسټ، د رومي قانون پوهانو په خپل ټولنه کې داسې قانون جوړ کړ چې له دې نظریې سره سم وو[2].

## د قانون تدوین د پخوانیو خلکو په اند له تاریخي پلوه

ډېری قوانین تدوین شوي دي که هغه له عرف څخه یې سرچینه اخیستله او یا هم دیني اساس یې درلود خو مهمه دا وه چې قوانین تدوین شوي دي. قانون او یا تدوین چې په بل هر نوم وي یواځې په یوه بشري ټولنه کې موجود کېدلای شي ځکه هېڅ ټولنه بغیر له یو منظم قانون نه شي کېدلای[3]، قانون له هېڅ څخه منځ ته نه راځي، او د قانون په اړه هر کوښښ چې د ټولنیز او دیني اصولو څخه لرې وي یو ناقص کوښښ دی ځکه چې په دې سره له اصل څخه فاصله نیسي[4]. د یادولو وړ ده چې قانون په عام ډول پلی کېږي، که لیکل شوی وي او یا هم نه وي لیکل شوی، په انساني ټولنو کې له پیل قانون موجود وو اما د قانون د یو واحدې مدونې په ډول فکر خورا وروستیو کې مطرح شوی دی. دلته زما بحث د تدوین شوي قانون اړوند څرخي خلاف د هغه څه چې پخوانیو ټولنو کې موجود وو چې کاهنانو، دیني کسانو چې رجال الدین بلل کېږي، راهبانو او نورو به قانون پلی کاوه البته د خپلو غوښتنو او خواهشاتو او امتیازاتو په پام کې نیولو کې به یې خلکو ته تفسیر کاوه، له یو کس تر بل به یې فرق کاوه، لیکلی او تدوین شوی قانون ښه والی دا دی چې د ټولو لپاره یو شان دی هر کس ورته لاسرسی لري او همدارنګه د وخت په تېرېدو نه ضایع کېده چې هېر شوی وي ځکه لیکلی وي.

ځنې ټولنو کې د قانون تدوین ته هغه وخت مخه کړه کله چې قانون له دین څخه جدا شو نو ځکه یې قوانین کومه دیني صبغه او رنګ نه لري په ځنې نورو قوانینو کې بیا دیني رنګ هنوز پاتې دی لکه د هنودو او یهودو قوانین. د یادولو وړ ده چې قانون او قانوني قواعد د دیني رنګ درلودونکي وو دا چې قانون له دین څخ فاصله ونیوله سبب یې فیلسوف ارسطو ته ګرځي نوموړی هغه کس وو چې دا فکر

---

1- ارسطو (۳۲۲-۳۸۴ ق.م) یو یوناني فلسفی او ساینس پوه و. هغه د افلاطون شاګرد و او د اسکندر مقدوني استاد. ارسطو د منطق، اخلاق، سیاست، فزیک، او بیولوژۍ په برخو کې سترې ونډې لرلې. هغه د "سایلوګزم" په نوم منطق سیستم معرفي کړ. په اخلاقو کې یې د فضیلت منځنۍ لاره وړاندې کړه. په سیاست کې یې د مختلفو حکومتي جوړښتونو تحلیل وکړ. ارسطو د خپل وخت تر ټولو ستر پوه و او تر نن ورځې پورې یې اغیز پرېښی. (https://www.khaberni.com/news )

۲- الأشقر ، عمر سلیمان الأشقر، معوقات تطبیق الشریعة الاسلامیة، دار النفائس، عمان، ط۱، ۱۹۹۲م، ص۱۳۷.

۳- واصل ، نصر فرید واصل، فقه المعاملات المدنیة والتجاریة فی الشریعة الاسلامیة، المکتبة التوفیقیة القاهرة، ۱۹۹۸م، ص۱۴-۱۵ سره له تصرفه

٤- فرحات ، محمد نور فرحات، القضاء الشرعي فی مصر فی العصر العثماني، الهیئة المصریة العامة للکتاب، القاهرة، ۱۹۸۸م، ص۵.

يې مطرح کړ او د روم قانون پوهانو د نوموړي رايه تأييد او تعقيب کړه تر دې چې د دواړو تر منځ لويه خلا منځ ته راغله او قانون په ټولي توګه له دين جلا شو. ارسطو قانون يو خپلواک نظام ګڼلو د دين او اخلاقو تر څنګ او د همدې فکر په رڼا کې روماني قانون پوهانو ځانګړی قانون جوړ او په ټولنو کې يې پلی کاوه[۱].

د پخوانيو خلکو سره د قانون دتدوين مسئله هغه مهال مطرح شوه کله چې ليکل وپيژندل شول، او لومړني کسان چې قانون يې تنظيم او ترتيب کړلو هغوی سومريين وو، له ميلاد څخه کابو ۲۰۰۰کاله د مخه په ختيځ کې قانوني مدونې ښکاره شوې په بابل، آشور او مصر کې. په هند کې له ميلاد څخه زر کاله د مخه تدوين شوې وې، همدارنګه يهودو هم مدونې درلودې. په ختيځ کې تدوين شوی قانون د أورنمو السامري وه چې په کال ۲۴۶۵مخکې له ميلاد په ۳۱مادو کې ترتيب شوی وو، د زواج، کرهڼې او جسدي تېريو اړوند قوانين په کې موجود وو چې په تعويض باندې استوار وو. همدارنګه قانون د اورکاجينو چې ۲۳۵۵ کاله مخکې له ميلاد ترتيب شوی وو، البته ځينو بيا ياد قانون يواځې قانوني اصلاحات او تعديلات ګڼلي، بيا قانون د لبت عشتار په کال ۱۸۸۵-۱۸۷۵ مخکې له ميلاد بيا قانون د أشنونا په کال ۱۷۵۰ مخکې له ميلاد، حمورابي هم خپل مشهور قانون ترتيب کړو په ۲۸۲ مادو کې په بابلي ژبه وه، او د ټولو پخوانيو قوانينو مصدر ګڼل کېږي ، قانون د مانو په هند کې، قانون د بوخوريس په پخواني مصر کې، د يهودي شريعت قوانين، همدارنګه په غرب کې هم مدونات موجود وو چې تر ټولو پخوانی يې ۷۰۰ کاله مخکې له ميلاد ترتيب شوې وه د رومان ۱۲ تختو قانون ۵ پېړۍ مخکې له ميلاد، ياد قانون که څه هم دحمورابي له قانون څخه ۱۲ پېړۍ وروسته ترتيب شوې اما د حمورابي قانون په مرونة او منظم علمي ترتيب موصوف دی چې د بابل له خدای څخه يې د تأييد مهر اخستی وو تر څو په خلکو يې پلی شي.

په روماني قوانيو کې ټولو يادو پرمختګونو د اروپا په اوسنيو قوانينو خپل اثر پرېښودی دی تر دې چې په ځنې برخو کې يادو قوانينو کې خورا کم بدلون راغلی دی. له يادو ولسونو ځينو يې قانون هغه مهال تدوين کړ کله چې د دين او قانون تر منځ پوره بېلوالی راغلی وو لکه روم، بابل او يونان، او ځنې نورو بيا ديني رنګ درلود لکه هندي قانون، بوخوريس قانون او له هغې مخکې د تحتوت قانون په پخواني مصر کې ، په عام ډول يادې مدونې شعري او موجزه بڼه درلوده، او ځنې يې بيا له ياد صياغة څخه لرې وو لکه حمورابي قانون چې ډېر ورته والی لري له معاصرو او اوسنيو قوانينو سره، يادې مدونې د پوره احترام وړ وې يا د دې وجهې چې ياد قوانين د الاه له لوري وو لکه د مانو قانون،

---

[۱]- معوقات تطبيق الشريعة الاسلامية، ص۱۳۷.

او یا دا چې د مشرانو له لوري صادر وو لکه قانون د صولون، او حمورابي، او یا دا چې یاد قانون د یو لړ سیاسي پېښو په پایله کې ترتیب شوی وو نو ځکه د احترام وړ وو لکه د الواح قانون[1].

## د اسلامي شریعت په تاریخ کې د تقنین تدوین فکر

په اسلامي شریعت کې عام ډول د تدوین فکر د دوهمې هجري پېړۍ نه را په دېخوا پیل شوی دی اما فقهي تدوین بیا په مختلفو مرحلو تېر شوی دی په پیل کې د فقهې، سنت، او آثار ټول سره ګډ وو بیا له هغې وروسته د فقهي مسائلو فروعاتو او حواشي ولیکل شول، بیا له هغې وروسته د مدوناتو او امهات الکتب د تدوین مرحله راورسېده، په دې سلسلې سره په پای کې یاد تدوین ځان ته یو قانوني منظم او ترتیب شوې بڼه غوره کړه چې د رتبې او منزلې په اساس به له یو او بل سره توپیر درلود د مثال په ډول ځنې به رسمي، غیر رسمي، او یا هم نیمه رسمي وو . د یاد فقهي تدوین په ودې سره مختلف مسمیات منځ ته راغلل لکه قواعد، نظریات، مبادئ، موسوعات او نوازل. په دې وروستیو کې فقهي تدوین دوه بڼې ځان ته غوره کړې دي:

۱- فردي تدوین.

۲- ټولنیز او یا هم جماعي تدوین.

په عام ډول معاصر باحثین په دې اند دي چې د فقهي احکامو د تقنین لومړۍ خښته مشهور ادیب عبدالله بن المقفع[2](ت۱۴۲ه) اېښې ده که څه هم له نوموړي مخکې هم یو لړ هڅې تر سره شوې وې د مثال په ډول خلیفه عمر بن عبدالعزیز کله چې یې د لومړي ځل لپاره د اهل مدینې سره د حدیث د تدوین طرحه شریکه کړه او ویې ویل: د نبي ﷺ حدیث وګورئ او ویې لیکئ ځکه زه د علماوو له منځ تګ (مړینې) څخه وېره لرم[3]. خو نوموړی مخکې له دې چې خپل یاد کار تمام کړی له فاني دنیا رحلت وکړ او کار یې نیمګړی پاتې شو. دا د حدیث د تدوین لومړنۍ هڅه وه او له دې وروسته بیا د فقهې د تدوین هلې ځلې پیل شوې. په عباسي عصر کې بیا خلیفه أبو جعفر المنصور تدوین ته خورا پاملرنه وکړه او امام ذهبي یې په اړوند وایي: علماء په دې عصر کې د حدیث، فقهې او تفسیر تدوین پیل کړ. ابن جریج[4] په مکه، امام مالک په مدینه او أوزاعي په شام کې تدوین تر سره کاوه په داسې حال کې

---

[1] - تاریخ القوانین ومراحل التشریع الاسلامی لعلي جعفر، ص۲۴-۲۸.

[2]- د عبدالله بن المقفع لنډه پیژندنه: عبدالله بن المقفع، چې اصلي نوم یې روزبه بن داذویه و، د فارس اصلي اوسېدونکی او په اتمه پېړۍ کې یو وتلی لیکوال، ژباړن او متفکر و. هغه له زرتشتی اسلام ته واوښت او نوم یې عبدالله بن المقفع شو. بن المقفع د "کلیله و دمنه" کتاب له پارسي نه عربي ته ژباړلی، چې د اخلاقو او سیاست په برخه کې مهم اثر ګڼل کېږي. هغه د عقل‌محور فکر پلوی و او د عربي نثر په وده کې یې مهم رول لوبولی دی. نوموړی په سیاسي دلیلونو د عباسي خلافت پر مهال ووژل شو. (سیر اعلام النبلاء ۶/۲۰۹)

[3] - الدارمي ، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي، سنن الدارمی، دار البشائر الاسلامیة-بیروت، المحقق: نبیل بن هاشم الغمري، ج۱، ص۱۲۶.

[4]- د ابن جریج لنډه پیژندنه: ابن جریج، چې بشپړ نوم یې عبدالملک بن عبدالعزیز بن جریج دی، د ۷۰مې هجري کال په شاوخوا کې په مکه کې زیږېدلی او د ۱۵۰مې هجري کال په شاوخوا کې وفات شوی .هغه د حدیث، فقه، او تفسیر په برخو کې د اهل حجاز یو ستر عالم و .ابن

چې مخکې له دې به علماء له خپل ياد او حافظې څخه خبرې کولې او يا به يې هم له غير مرتب شوو صحيفو څخه خبرې کولې[1].

په اسلامي شريعت کې د تقنين بنسټيزه موخه دا وه چې په قضاء کې ټول په يوه واحده رايه وي. او په دې اړوند يې کتابونه هم ليکلي لکه څرنګه چې مخکې هم يادونه وشوه د ابن المقفع کتاب په نوم د رسالة الصحابة فی طاعة السلطان کوم چې په يتيمية باندې مشهوره ده. ابن المقفع د خلکو ډېر اجتهادات او په احکامو کې اختلاف کتلی وو نو ځکه يې خليفه منصور ته خپله ياده رساله وليکله او ورته بيان يې کړل چې يو عام قانون جوړ کړي چې هر ځای پلی کېږي مصدر يې کتاب، سنة، عدل او مصلحت وي. رساله په عام ډول دوه امرونو ته شامل دی: د احکامو تدوين، د يو قانون صادرول چې قاضيان يې په پلي کولو ملزم وي، د يادولو وړ ده چې خليفه منصورد ابن المقفع ټول وړانديزونه ونه منل اما په ټوله کې خليفه منصور د يادې رسالې تحسين وکړ او دا د دې لامل شو چې علماء د تدوين لورې ته مخ واړولو او په اړه يې خپلې هلې ځلې پيل کړې. د يادولو وړ ده چې خليفه منصور له يادې فکرې پوره متأثره شو او په همدې بنسټ يې د حج په مهال له امام مالک نه غوښتنه وکړه چې ټول خلک به يواځې ستا د مذهب پلوي جوړ کړو په داسې توګه چې د موطأ به څو نسخې جوړې کړو او هر ښار ته به يې ولېږو تر څو يواځې همدا يو قانون جوړ شي او دې سره ډېر د اختلافاتو ستونزې حلې شي اما امام مالک د دې امر نه انکار وکړ او ويې ويل: هر قوم خپل علماء او سلف لري که چېرې اميرالمؤمنين خلک په خپل حال پرېږدي دا به خورا غوره وي. له دې ورسته بيا امام مالک موطأ وليکله اما کله هم د دې پلوی نه وو چې خلک د يواځې د موطأ پلوي جوړ کړي او يا د يواځې موطأ په خلکو تطبيق کړي. ويل کېږي کله چې خليفه رشيد په تخت کېناستلو نفس غوښتنه يې له امام مالک وکړه اما امام مالک د نوموړي وړانديز هم په ياد سبب رد کړ. شيخ أبو زهره[2] وايي چې امام مالک ځکه د خليفه منصور وړانديز رد کړ چې نوموړي وېره درلوده چې داسې نه شي چې خبره مې د سنت خلاف وي

---

جريج د عطاء بن ابی رباح شاګرد و او د هغه تر وفات وروسته يې د حرم امامی او د حديثو د تدوين مسووليت پر غاړه واخيست .هغه د حديثو د لومړنيو تصنيفاتو له جوړونکو څخه و او د حديثو په ترتيب او تدوين کې يې مهم رول درلود .ابن جريج د خپلو دقيقو او په زړه پورې حديثو لپاره مشهور و، او د هغه آثار د اسلامي علمي ميراث يوه مهمه برخه ګڼل کېږي. (الموسوعة العربية، جلد ۷، صفحه ۵۶۱)

[1]- الذهبي، ، شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان الذهبي، سير أعلام النبلاء، مؤسسة الرسالة،ط۱۱، ۱۹۹۶م، ج۶، ص۲۰۸-۲۰۹.

[2] - أبو زهرة: شيخ محمد احمد مصطفی احمد، چې په أبو زهرة باندې مشهور دی، په کال ۱۸۹۸ کې زيږېدلی دی. نوموړی د شلمې پېړۍ له لويو مصري عالمانو څخه وو، چې په اسلامي شريعت او قانون کې يې ژورې څېړنې کړې دي. أبو زهره د فقهې په اصولو او فروعو کې تخصص درلود او د اسلامي فقهې په بېلا بېلو برخو کې يې ګڼ شمېر کتابونه ليکلي دي. هغه د اسلامي شريعت د دفاع په برخه کې فعاله ونډه لرله او د وخت په بېلا بېلو ټولنيزو او فقهي مسائلو کې يې خپل نظرونه وړاندې کړې دي.( العلامة محمد أبو زهرة-اسلام آنلاين./الشيخ محمد أبو زهرة- اسلام ويب.)

او یا هم داسې وي چې تطبیق یې په خلکو تنګي راولي او همدارنګه یې نه غوښتل چې یو مجتهد قاضي د خپل مذهب خلاف فیصله وکړي.

## اووم مطلب

## د تقنین پړاوونه

له دې تاریخي څیړنې او تحلیل وروسته، موږ کولای شو د تقنین د پرمختګ لپاره یو تاریخي ویش وړاندې کړو، په دې شرط چې په پام کې ونیسو چې د قانون جوړونې تدوین د اوږدې مودې لپاره په یو ثابت سرعت روان وو او دا سرعت یوازې په وروستیو دوو پېړیو کې چټک شوی دی. له همدې امله، د دې ویش لپاره لاندې شپږ مرحلې په همدې زماني چوکاټ کې راځي[1]:

### ۱- د تقنین په وخت کې په یو ټاکلي مذهب د قاضیانو الزام

د یادولو وړ ده چې یاد الزام په دوو بڼو تر سره کېده:

**لومړی:** د یوه ځانګړي مذهب رسمي ملاتړ او د همدې مذهب د لویو قاضیانو ټاکل، خو دا د دې معنا نه وه چې قضایي چارې په بشپړ ډول یوازې په دې مذهب پورې محدودې وې. دا مرحله د دویمې هجري پېړۍ په پای کې پیل شوه، کله چې د هارون الرشید په وخت کې ابو یوسف (وفات: ۱۸۲هـ) د قاضی القضات په توګه وټاکل شو.

دا هغه دوره وه چې په قضا کې د کوم ځانګړي مذهب پابند کول څرګند نه وو. په دې وخت کې داسې لوی فقهاء موجود وو لکه امام مالک او امام احمد بن حنبل. همدارنګه، دا هغه دوره وه چې په کې مذهبي مدرسې بشپړ نه وې تثبیت شوي او د فقهي تدوین پروسه لا ناپایه او خامه وه. خو بیا هم، دا د یوه ځانګړي مذهب پر لور د تمایل دوره وه.

**دویم:** د دولت لخوا د یو ځانګړي فقهي مذهب رسمي منل، دا مرحله د عباسي خلافت تر سقوط وروسته (۶۵۶هـ) پیل شوه، کله چې په مشرق، مغرب او اندلس کې کوچني دولتونه رامنځ ته شول. دغو دولتونو ځانګړي مذهبونه خپلول او د قضا چارې یې یوازې د هغو فقهاؤ ته محدودولې. د بېلګې په توګه، ایوبي دولت شافعي مذهب خپل کړ، سلجوقي وزیر نظام الملک په خراسان کې د شافعي مذهب پابندۍ ته وده ورکړه، او د شمالي افریقا او اندلس دولتونو مالکي مذهب خپل کړی وو. عثماني دولت په ۹۰۰هـ کې د حنفي مذهب رسمي ملاتړ وکړ. په دې مرحله کې قاضیان د ځانګړي مذهب په ځانګړو کتابونو پابند وو، لکه د ابن قاسم مدونه په مغرب او اندلس کې او فتاوی عالمګیري په هند کې [2]

---

[1]- صبحي المحمصاني د تدوین مرحلې په ۴ پړاوونو وېشلي دي: ۱- د رسمي مذهب جوړول. ۲- د یو واحد مذهب جوړول. ۳- د مختلفو مذهبونو څخه ټاکل. ۴- د عصري قوانینو څخه اقتباس. (وګورئ: صبحی المحمصاني، الأوضاع التشریعیة، ص۱۸۱-۱۸۶.)

[2]- **Lapidus, Ira M. (۲۰۰۲).** *A History of Islamic Societies*. **Cambridge University Press.**

**۲- د یوه واحد مذهب د تقنین مرحله**

دا مرحله په دوه برخو ویشل شوې ده:

**لومړۍ:** په رسمي کچه په عثماني دولت کې، د "نامه" له خپرونو سره د آل سلطان پاچاهانو لکه محمد فاتح، احمد اول، سلیم اول، او سلیمان قانوني په وخت کې پیل شوه، چې پای یې د "مجله الاحکام العدلیه" په تدوین سره وشو. په همدې ډول، د مراکش سلطان محمد بن عبدالله العلوي د مالکي مذهب پر اساس د فقهي احکامو تقنین وکړ. هغه د ۱۰۰ مادو په بڼه د قضا موضوعاتو په اړه ظاهري فرامین خپاره کړل، چې په ابوابو او فصولو ویشل شوي وو.

**دویم:** په غیر رسمي کچه دا د انفرادي یا ډلهییزو هڅو پایله وه، لکه د قدري پاشا، محمد عامر، او القاري کارونه. دا مرحله نږدې د نهمې هجري پېړۍ په پای کې پیل شوه او د څوارلسمې پېړۍ تر لومړیو او منځنۍ برخې پورې روانه وه.

**۳- د اسلامي معاصرې ویښتیا مرحله[1]**

یاده مرحله د د شلمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې پیل شوې چې قوانین یې د اسلامي فقهې په رڼا کې تدوین کړي لکه اردن، امارات، عراق، مصر او نور یاد قوانین ځنې یې تر احوال شخصي پورې منحصر وو او نور یې بیا د وضعي قوانینو څخه اخستي وو یاده مرحله هنوز په جریان کې ده او خپلې مطلوبې پایلې ته نه ده رسېدلې او سببونه یې خورا ډېر دي د مثال په ډول کولای شو ووایو چې یو قوي سیاسي ارادې عدم موجودیت، خو په ټوله کې کېدلای شي ووایم چې یاد امرد اسلامي فکر په ویښوالي دلالت کړي.

## دریم مبحث

## د تقنین ځانګړتیاوې او اسلامي فقهه کې یې اړین اړخونه

کله چې د تقنین خبره کېږي نو څرګنده خبره ده چې قانون په طبیعت کې الزامي بڼه لري چې باید ومنل شي او پلی شي او قانون خپل ذات کې هغه کسانو لپاره چې غاړه ورته نه ږدي او یا ترې سرغړونه کړي یو لړ سزاګانې لري. او واضح خبره ده چې قانون کې باید یاد امور په خورا ښکاره او واضح ډول څرګند وي تر څو له یوه لوري د قاضي لپاره ستونزه نه وي او له بله پلوه تورن کس هم پرې خبر وي.

دا مبحث درې مطلبونو ته شامل دی چې په کې د تقنین ځانګړنې، عیوب، مزایا، او همدارنګه هغه امور ذکر شوي دي چې د اسلامي فقهې په تقنین کې باید مراعات شي.

---

[1]- ځنې خلک یاده مرحله د تجدید او یا هم نهضة په نوم یادوي شاید د تفائل له کبله خو باید پام کې ولرو چې خورا ډېر کار په کار ده تر څو یا حرکت بریا ته ورسېږي او د پام وړ لاسته راوړنې ولري..

## لومړی مطلب

## د تقنین ځانګړتیاوې

له مخکینیو بحثونو دا څرګنده شوه چې تقنین داوسني عصر یوه لازمي او بنسټیزه غوښتنه ده او د ډېری اسلامي او عربي هېوادونه چې د اسلامي شریعت د تطبیق اړوند کومه ستونزه لري هغه د اسلامي فقهې د عدم تقنین ده نو کولای شو ووایو چې د اسلامي فقهې تقنین د وضعي قانون بدیل دی کله چې د اسلامي فقهې تقنین تر سره شي په دې صورت کې یې د تطبیق سلنه لوړېږي او د موجوده معاصرو وضعي قوانینو څخه مخکې کېږي ځکه اسلامي قانون په عدل او انصاف باندې استوار دی. او په تقنین سره دا خبره لا ښه څرګندیږي چې اسلامي شریعت د هر عصر او هر ځای لپاره په پوره ډول د تطبیق وړ دی، دا چې اوس وخت نړۍ کې اقتصادي، ټولنیز او سیاسي حالت بدلون موندلای نو لازمي ده چې تقنین اسلامي موجود اوسي او د دې حالت سره یو ځای مواکبت وکړي اما یو لړ شروط او ځانګېړنې باید ولري چې په لاندې ډول بیانېږي:

1- کله چې د یو موضوع اړوند کوم قول اختیارېږي باید یو لړ ځانګېړنې ولري د مثال په ډول د شریعت مقصد په کې متحقق وي، د خلکو مصالح او ګټې په کې مراعات وي او ضمنا د خلکو لپاره سهولت او آساني په نظر کې نیول شوي وي لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه کله چې تقنین کې یاد امور مراعات شي او د تخییر لپاره یې وړ کمېټه ټاکل شوي وي نو په دې صورت کې بیا نه یواځې د قاضي لپاره آسانتیاوې منځ ته راځي بلکې د عام ولس لپاره هم په دې کې سهولت رامنځ ته کېږي او دا یو حتمي امر دی چې تر سره شي.

2- کله چې تقنین تر سره شي بیا نو دا یو غیرقابل تغییر او جامد امر نه دی او همدا د اسلامي فقهې د غوروالي ټکی دی چې د وخت او ځای سره سم په قانون کې مجدد نظر کېدلای شي په دې معنی چې دا شونی کار دی چې یو وخت یو قانون کې د خلکو مصلحت وي اما د وخت په تېرېدو بیا د خلکو مصلحت دې امر کې نه وي او دا یو طبیعي امر دی د اسلامي تقنین ځانګېړنه دا ده چې یاد نص د وخت او ځای سره سم د خلکو د مصلحتونو په پام کې نیولو سره تغییر مومي تر څو له یوه لوري خلکو ته آسانتیا منځ ته راشي او له بله پلوه قانون د جمود له حالت څخه راووځي.

3- د یادو امورو سربېره یو اساسي امر دا دی چې باید د فقهي مذاهبو او نړیوالو نظامونو او قوانینو په مستوی باید خلک وروزل شي چې ورځنې پرمختګونه، بدلونونه، او نوښتونه په پوره غور او دقت سره تر نظر لاندې ولري او ضمنا یاد تغییرات د تقنین کمېټې سره په منظم ډول شریک کړي تر څو د عصر سره د مواکبت یوه ټاکلې او منظمه تګلاره موجوده اوسي. [۱]

---

۱ - Hallaq, Wael B. (۲۰۰۹). *Shari'a: Theory, Practice, Transformations*. Cambridge University Press

## دویم مطلب

## د فقهې د تقنین ښېگڼې او عیبونه

تقنین د هرې ټولنې د عدالت او نظم د تامین لپاره بنسټیز اهمیت لري. دا د قانون جوړونې پروسه د قانوني چوکاټ د رامنځته کولو، عدالت د تضمینولو، او د ټولنیزو اړیکو د تنظیم لپاره مهمه ده. سره له دې چې تقنین ګڼې ښېګڼې لري لکه ثبات، روڼتیا، او د حقوقو خوندي کول، خو ځینې عیوب هم لري لکه د قوانینو د زیات تعدیل، د تطبیق ستونزې، او د بهرنیو فشارونو تاثیرات. یاده پروسه به حتما خپل مزایا او عیوب ولري چې لاندې بحث کې په تفصیلي ډول بیانېږي.

تقنین د اجتهاد حرکت مخکې تګ ته وهڅاوه او د هغه ساحې یې په لاندې ډول پراخه کړې:[1]

**د فقهې نوې کولو غوښتنه:**

دغه شعار یو شمېر اسلامي فقیهانو پورته کړ، لکه محمد عبده [2]، رشید رضا [3]، محمد مصطفی المراغي په مصر کې، عبد الرحمن کواکبي او شکیب ارسلان په شام کې، او د دوی په څېر نورو د دوی افکارو په مؤثر ډول د تقنین د حرکت په تیارۍ، جوړولو او خپرولو کې مرسته وکړه. دا ډله د مأثورې فقهې په حد کې پاتې نه شوه؛ بلکې له دې څخه یې انتخاب او اجتهاد ته ګام پورته کړ. د دوی غوښتنه د اجتهاد بېرته راګرځولو لپاره وه، چې په اصولو او فروعو کې د فقهې نوي کولو ته اړتیا وه، مګر له داسې منهج څخه چې د نص او واقعیت تر منځ اړیکه وساتي. د دې منهج له اغېزو څخه یوه هم د مذهبي تعصب له منځه وړلو لپاره د نوو لارو لټون او د اسلامي مذهبونو د نږدې کېدو غوښتنه وه، په ځانګړې توګه د شیعه او سني تر منځ. په دې غوښتنه کې ډېر مشهور فقهاء شامل وو، چې د دوی موخه دا وه چې فقه له سیاسي شخړو څخه بېله کړي او یوه پیاوړې جبهه جوړه کړي ترڅو د فقهې د دښمنانو پر وړاندې ودرېږي او د شریعت له دښمنانو سره مقابله وکړي. دا یوه تېروتنه او خطر دی چې فقهي عقل په خالص فکري کارونو کې بوخت شي؛ ځکه د فقهې او واقعیت تر منځ اړیکه باید وساتل شي، او پرته له تقنین څخه، فقه به یو مجرد ذهني هڅه پاتې شي، د فقهې تاریخ په اوږدو کې

---

[1]- موسوعة التشریع الاسلامي، ص ۳۱۴-۳۱۵

[2]- د محمد عبده لنډه پېژندنه: محمد عبده (۱۸۴۹–۱۹۰۵م) یو ستر مصري مفکر، مصلح او د اسلامي فکر نوی بنسټګر و. هغه د الازهر فارغ، د جمال الدین افغاني شاګرد، او د "العروة الوثقی" مجلې شریک بنسټګر و. عبده د دین او عقل ترمنځ د همغږۍ، د ازاد فکر، او د اسلامي تمدن د بیا راژوندي کېدو لپاره هلې ځلې وکړې. هغه د مصر مفتي و او د الازهر د اصلاح غوښتونکی و. **ماخذ** : فلاسفة العرب، محمد عبده. (فلاسفة العرب جلد ۱، صفحه ۲۳۵)

[3]- د محمد رشید رضا لنډه پېژندنه: محمد رشید رضا (۱۸۶۵–۱۹۳۵م) یو مشهور لبناني عالم، مصلح او د اسلامي تجدید فکر مخکښ و. هغه د محمد عبده شاګرد و او د "المنار" مجلې له لارې یې د اسلامي وحدت، سلفي اصلاحاتو او د قرآن تفسیر ته وده ورکړه. د خلافت د احیا، فقهې د عصري کولو، او د مسلمانانو د یووالي لپاره یې پراخ فکري فعالیت وکړ. د ده فکر د معاصر اسلامي فکري خوځښتونو لپاره بنسټیز اغېز درلود. (الموسوعة العربیة، جلد ۷، صفحه ۵۶۱)

فقه یواځې د قانون تر سیوري لاندې وده کړې ده، او تشریع (قانون جوړونه) به زموږ لپاره هغه وخت مناسب وي او زموږ په ژوند کې به ګټور وي چې عمومي فلسفه او حقوقي سیستمونه یې زموږ له پرمختللي فقهې څخه چې پر قرآن او سنتو ولاړ وي، اخیستل شوي وي.

**د مقایسوي مطالعاتو هڅونه او بیداري:**

د تقنین له حرکت سره، د مقارنه مطالعاتو بیداری هم رامنځته شوه. د دې مطالعاتو د ترسره کولو لپاره د الازهر علماوو په کتابونو کې د واقعیتونو په اړه د مختلفو مذهبونو د احکامو په لټه کې یا په فقه کې د نویو نصوصو د منلو یا ردولو په رڼا کې غور وکړ. د حقوقو ښوونځې یو شمېر غوره زده کوونکو - چې بهرني استادانو یې لارښوونه کوله، د دې ډګر په سر کې پروفیسور {لامبیر}[1] وو - په فرانسې، ایټالیا او مصر کې د خپلو دکتورا رسالو کې د اسلامي شریعت په فقه کې ژورې مطالعات ترسره کړل، چې د وضعي قوانینو سره یې پرتله کړې، په ځانګړې توګه په دې وخت کې د مقارن قانون حرکت په نړیواله کچه خپل ځای ترلاسه کړی و، چې د شلمې پېړۍ له پیل څخه پیل شو.

یاد حرکت دوه پایلې درلودې[2]:

**لومړی:** اسلامي نړۍ، چې د الازهر شریف له لارې استازیتوب کېده، په مقارنه فقهې د یو شمېر کنفرانسونو دایر کړل، چې په پایله کې په ۱۹۵۱ کال کې په پاریس کې دویم کنفرانس کې په نړیواله کچه د اسلامي فقهې په قانوني اهمیت باندې بشپړ اعتراف وشو. د شریعت حیثیت په ټولو راتلونکو کنفرانسونو کې زیاتیدو ته دوام ورکړ، مګر د مسلمانانو ضعف او په دوی باندې د ملتونو له یرغلونو له امله، دا اعتراف په نړیواله کچه کمزورې لاسته راوړنه لرله.

**دویم:** یو زیات شمېر مستشرقینو د اسلامي شریعت مطالعه کولو ته مخه کړه. مخکې له دې، د مستشرقینو زیاتې څېړنې په ادب، ژبه، فلسفه او تصوف باندې متمرکزې وې. دا مطالعات د {ګولډ زیهر}، {سانتلانا}، {فون کریمر} او {سخاو} په لاس پیل شول، بیا نوي نسلونه راغلل چې په انګلیسي ښوونځې کې یې {شاخت}، {انډرسن} او {کولسن} استازیتوب کاوه، او په فرانسوي ښوونځې کې {دی بلفوند} او {لوئیس میلو} او نورو ورته څېړنې ترسره کړې. د دې ټولو څېړنو اوږدې مطالعې او ژورې څېړنې د اسلامي تشریع په اړه وې، مګر د دوی او زموږ تر منځ علمي فاصله لا هم پیاوړې پاتې ده؛

---

[1]- د پروفیسور لامبیرلنډه پیژندنه: پروفیسور لامبیر نوم د څو پوهانو لپاره کارول کیږي، چې مشهور یې لامبیرټ زویدروارټ دی، چې په فلسفه کې تخصص لري او د انتقادي تیورۍ او ټولنیزې فلسفې استاد دی. پییر-ایو لامبیر د فرانسي ژبپوه دی چې د ګالیک ژبې په څېړنه مشهورتیا لري. ډومینیک لامبیر بیا د فلسفې او علم تاریخ کې پوهاند دی. ټول دغه پوهان په خپلو برخو کې مهمې څېړنې کړې دي. که ځانګړی نوم ورکړئ، نور دقیق معلومات درکولای شم. (faculty.icscanada.edu، wikipedia.org، wikipedia.org)

[2] - موسوعة التشريع الاسلامي ، ص ۳۱۵

ځکه دوی په اسلام باندې د دښمنۍ له نظره ګوري، کوم چې دوی د اسلام د عقايدو د سم پوهېدو او د شريعت د اهدافو د درک کولو مخه نيسي.

**د فقهي موسوعاتو پيل:**

دا غوښتنه په دې وروستيو کې نه ده پيل شوې لکه څنګه چې ځينې فکر کوي، بلکې د شلمې پېړۍ له پيل څخه يې رېښې وې، او وکيل سيد عفيفي [1] لخوا په ۱۹۳۸ کال کې يو ليکنه کې څرګنده شوه، چې په هغه کې يې د الازهر شيخ څخه غوښتنه وکړه چې يو فقهي مجمع جوړه کړي، چې د دې مجمع يو له مهمو کارونو څخه د فقهي دايره المعارف خپرول وي. دا نظر ورو ورو پراخ شو، تر هغه چې د دمشق پوهنتون په شرعياتو پوهنځي کې واورېدل شوه، او دوی په فقهي دايره المعارف جوړولو باندې کار پيل کړ، چې د اسلامي فقهي مختلف نظرونه او مذهبونه پکې شامل کړي، او دا يې د قانوني موسوعاتو په شان په الفبايي ترتيب سره تنظيم کړل. د دې موسوعې قانوني سيستم په ۳/۵/۱۹۵۶ د يو جمهوري فرمان په واسطه تصويب شو. مصر په شپېتمو کلونو کې د اسلامي فقهي د موسوعې جوړولو لپاره يوه کميټه جوړه کړه، چې د اسلامي چارو عالي شورا له لارې يې کار پيل کړ او تر دې دمه يې ۲۷ جلدونه خپاره کړي. د دې نه زياتې موسوعې هم بشپړې شوې، لکه د کويت اسلامي فقهي موسوعه، چې ۳۳ جلدونه يې خپاره کړي دي. دا يوه پرمختللې موسوعه ده چې له تېرو تجربو څخه يې ډېره ګټه اخيستې ده. له دې موسوعوي حرکت سره مرستندويه فعاليتونه هم ترسره شول، لکه د اصولي او فقهي کتابونو لپاره د فهرستونو جوړول، او د ځينو فقهي موسوعاتو لپاره معاجم جوړول، لکه د {ابن حزم} فقهي معجم چې د دمشق اسلامي فقه موسوعي کميټې لخوا خپور شو، او همدارنګه د {المغني} کتاب معجم او د {المنهاج} او {مسلم الثبوت} کتابونو لپاره فهرستونه، او نور کتابونه چې د کويت فقهي موسوعي کميټې لخوا خپاره شوي دي. هيلې شته چې دا لوی کارونه به په علمي حقيقت کې خپل انعکاس ومومي [2].

## الف: د تقنين ښېګڼې او مزايا

تقنين خورا ډېرې ښېګڼې او مزاياوې لرې چې ځنې يې په لاندې ډول دي [3]:

---

[1]- د سيد عفيفی لنډه پيژندنه: سيد عفيفی يو مشهور اسلامي عالم، مصلح او ليکوال و چې د اسلامي تعليماتو په پراختيا او د تصوف په ډګر کې يې مهم آثار کړي دي. هغه په خپل وخت کې د ديني زده کړو د لوړولو، د اخلاقو د اصلاح، او د اسلامي فکر د پراختيا لپاره زيار ايستلی دی. د هغه ليکني په ځانګړي توګه د اسلامي عقايدو، اخلاقو او روحانيت په اړه دي او په ګنو اسلامي مدارسو کې درس ويل. (د اسلامي علمي شخصيتونو د تاريخ مجموعه، جلد ۲، صفحه ۱۴۸)

[2]- موسوعة التشريع الاسلامي ، ص ۳۱۶.

[3]- محمد زکی عبدالبر، تقنين الفقه الاسلامي المبدأ والمنهج والتطبيق، ادارة احياء التراث الاسلامی، ۱۹۸۶م، ط۲، ص۲۳.

### ۱- د قانوني احکامو پېژندنه او لاسرسی

کله چې قوانین په یوه واحده ټولګه کې راټول شي، نو د قانوني احکامو پېژندل او پلي کول آسانه کېږي. دا د قاضیانو، متقاضیانو او هغو ټولو خلکو لپاره ګټور دي چې له قانون سره تړاو لري. عام خلک هم کولی شي له دې لارې د قانون په احکامو پوه شي او خپل عملونه د قانون په رڼا کې ترسره کړي. د خلکو اړیکو د پراختیا له امله د دولت په اړیکو کې هم وسعت راغلی، چې د قوانینو شمېر یې زیات کړی. د دې ټولو قواعدو په پام کې نیول یو ستونزمن کار دی، خو تقنین یې ښه حل دی.

### ۲- په هېواد کې د قانون یووالی

تقنین په دې مانا دی چې د هرې فرعي قواعد په جلا توګه په یوه مدونه کې ولیکل شي او په ټول هېواد کې په یو ډول پلي شي. د بېلګې په توګه، په فرانسه کې د ناپلیون له قانون څخه مخکې او په ۱۹مې پېړۍ کې د جرمني قانون ترتیب یادولی شو. دا ډول قانونونه د هېوادونو په سطحه یووالی او تطابق رامنځته کوي.

### ۳- د بهرني قانون ادغام او اصلاح

کله چې یو بهرنی قانون په هېواد کې د نافذېدو لپاره وړاندیز شي، دا په دې مانا ده چې نوموړی قانون اړتیا لري چې اصلاح شي او د هېواد د شرایطو سره سمون ولري. د بېلګې په توګه، په مصر کې د ۱۹مې پېړۍ څخه مخکې قضائي نظام بې نظمه وو، خو وروسته یې د فرانسوي قانون څخه په الهام اخستلو سره خپل قانون تنظیم کړ. سره له دې چې ځینې عالمان پر دې نقد لري چې مصر باید خپل قانون د اسلامي فقهې پر بنسټ ترتیب کړی وای.

### ٤- په یوه واحده ټولګه کې د قانون ترتیب

تقنین هغه قواعد او اصول په یوه واحده مدونه کې را ټولوي چې په بشري ټولنو کې د خلکو په عاداتو او رواجونو کې نغښتي وي. دا کار دا څرګندوي چې په راتلونکي کې څه پېښ شي؟ دې سره حال او راتلونکی له یو بل سره تړل کېږي او د ماضي تجربې د راتلونکي لپاره لارې چارې برابروي.

### ٥- د قوانینو مقایسه او اصلاح

کله چې قانون په یوه واحده مدونه کې ولیکل شي، نو په آسانی سره کولی شو چې خپل قانون د نورو هېوادونو د قوانینو سره مقایسه کړو. دا مقایسه د هر قانون ښېګڼې او نیمګړتیاوې څرګندوي. نن ورځ، کله چې قوانین جوړېږي، نو حتماً د نورو هېوادونو تجربې په پام کې نیول کېږي. دا یو مثبت اقدام دی، ځکه چې نه یواځې د قانون منفي اغیزې کمېږي، بلکې د هېوادونو تر منځ د همکارۍ او ورورولۍ اړیکې هم قوي کېږي. د تقنین پروسه د خلکو د ستونزو په حلولو او د ټولنې د نظم په ساتلو کې مهمه

ونډه لري. تقنين د عدالت د تأمين لپاره يوه قوي او منظمه وسيله ده چې په ټولنه کې د قانون حاکميت تضمينوي.

### ب: د تقنين عيوب

ښايي هغه کسان چې د تقنين د مفکورې مخالفت کوي، ويره لري چې پراخ اسلامي فقه به په يوه متن کې جامده شي او مذهبي فقه به په تلفيق (د بېلابېلو نظرونو يوځای کول) سره کمزورې شي. خو دا هېروي چې قانوني متن د فقهي د رشد لپاره دروازې پرانيزي، که دا د متن د مطالعې او تفسير لپاره وي، يا د قضايي احکامو څارنې او پرې تبصرې لپاره. دوی دا هم هېره کړې چې تلفيق يوه فقهي مفکوره ده، خو د مقنن لپاره اړتيا يې ډېره جدي ده. او معاصر اسلامي مقنن په احتياط سره د فقهي نظرياتو څخه تجاوز کړی. لکه څنګه چې "انډرسن" وايی: "دا يو روښانه حقيقت دی چې په ډېرو هغو قضيو کې چې د احوال شخصي په قوانينو کې اصلاح شوي، د قديمو فقهاوو نظرياتو باندې تر معاصرو فقهاوو ډېره تکيه شوې."[1]

### ۱- جمود:

لکه څنګه چې مې وړاندې يادونه وکړه تقنين د نورو قوانينو په څېر يو ډول قانوني جوړښت دی، خو له هغو څخه د خپل پراخوالي، اهميت، او د جوړولو پرمهال د زيار او هنر له امله جلا دی. دغه ځانګړتياوې تقنين ته ځانګړې درناوی او حتی د تقدس بڼه ورکوي. ورسره، د تقنين د دې ګټې يادونه هم کېږي چې قانوني قواعد په لنډو او اسانه موادو کې راټولوي، چې دا د پخوانيو خواره قواعدو او متضادو فيصلو په پرتله ډېره ګټه لري. په دې سربېره، يو شمېر فقهاء داسې باور لري چې تقنين د قانون يوائينۍ سرچينه ده، او د يو سپېڅلي کتاب په څېر يې ټولې ستونزې حل کړې دي. له همدې امله، دوی د تقنين نصوص يواځې لفظي تفسير کوي او خپله دنده د تقنين د جوړوونکو نيت څرګندول ګڼي. دا حالت کولای شي د قانون سختدريځي (جمود) لامل شي، ځکه چې قانون د ټولنې له پرمختګ سره نه برابرېږي. دا چاره د قانون له اصلي موخې سره په ټکر کې ده، ځکه قانون بايد د ټولنې د شرايطو او پرمختګ سره سمون ولري[2].

خو ډېر ژر څرګنده شوه چې دا نيوکه کې ډېره مبالغه شوې ده. په دې سره څرګنده شوه چې قانون د تقنين تر سيوري لاندې خپله انعطاف‌پذيري ساتي او د تقنين ځانګړې ګټې هم له پامه نه غورځوي. د وضاحت لپاره بايد ووايو چې کله د فرانسې تقنينات د فرانسوي انقلاب وروسته (د ۱۸۰۴ او ۱۸۱۰

[1] - موسوعة التشريع الاسلامي، ص ۳۱۳

[2] - تقنين الفقه الاسلامي لمحمد زكي، ص۲۶.

کلونو ترمنځ) خپاره شول، نو هغو ته په پراخه توګه درناوی وشو او ډېر شهرت یې ترلاسه کړ، چې دا نور خلک هم وهڅول.

### ۲- نیمګړتیا (نقص):

د تقنین په اړه دویمه نیوکه نیمګړتیا او د قوانینو په بشپړتیا کې پاتې راتلل دي، چې په دوه برخو کې څرګندیږي:

1- د هغو اصطلاحاتو تشریح نه شتون چې په تقنین کې ذکر شوي دي، او دا کار فقه او قضا ته پرېښودل شوی. دا ستونزه هغه وخت جدي کیږي کله چې د اصطلاحاتو تعریف کې اختلاف رامنځته شي، لکه د تېروتنې، درغلۍ، ګمراهۍ، ښه نیت، او بد نیت په څېر اصطلاحات.

2- د تقنین د ټولو قانوني احکامو د شاملولو ناکامي، یعنې تقنین د ټولو جزئیاتو او قانوني احکامو بشپړتیا نه لري. د دې نیمګړتیا په اړه باید ووایو چې دا ستونزه د تقنین د طبیعت له امله نه، بلکې د هغه د طریقې (منهج) له امله ده، ځکه د اصطلاحاتو تعریف ممکن په تقنین کې شامل شي، لکه څرنګه چې د "مجلة الأحكام العدلية" په څېر ځینو تقنینونو کې ترسره شوي دي، او دا هم ممکنه ده چې هڅه وشي ټول احکام په تقنین کې شامل شي خو له دې سره، دا نیمګړتیا له منهجي پلوه هم رد شوې ده. د اصطلاحاتو تعریف په تقنین کې د نه شاملولو ګټه دا ده چې دا علمي موضوع ده او باید فقه او قضا ته پرېښودل شي. ځکه چې تعریفونه د حالاتو او شرایطو د بدلون سره سم توپیر کولی شي. د تقنین د ټولو جزئیاتو د شاملولو اړتیا نشته. غوره دا ده چې تقنین یوازې عمومي اصول وړاندې کړي، او جزئیات قضا ته پرېښودل شي. قضا کولی شي د تقنین نیمګړتیاوې په عمل کې بشپړې کړي او د عدالت غوښتنو ته ځواب ورکړي[1].

دغه نیوکه د تقنین په اړه د لومړۍ نیوکې (جمود) ځواب هم چمتو کوي. ځکه چې د ټولو جزئیاتو نه شاملولو له امله د تفسیر په وسیله د نویو اړتیاوو ځای په ځای کول ممکن کیږي، چې په دې سره تقنین خپله انعطاف‌پذیري ساتي. په فرانسه کې هم د دې بیلګه شته. د فرانسوي تقنین چې په ۱۸۰۴ کې رامنځته شو، وروسته داسې قضیې رامنځته شوې چې د هغه مهال د تقنین په متن کې نه وې شاملې. سره له دې، د تفسیر په مرسته دا امکان پیدا شو چې نوې اړتیاوې د تقنین تر سیوري لاندې راوستل شي.

د تقنین اصلي خطرونه په دې کې دي چې د سیاسي عواملو یا نړیوالو فشارونو له کبله د واقعیت په وړاندې تسلیم شي، او داسې تقنین رامنځته شي چې د شریعت سره په ټکر کې وي، خو ټولنیز جوړښت ته ثبات ورکړي او داسې فکرونه او چلندونه رامنځته کړي چې په نامناسبو ټولنیزو حالاتو کې د شریعت د عملي کېدو مخه ونیسي.

---

1 - تقنين الفقه الاسلامي لمحمد زكي، ص۲۸-۲۹.

"شاخت" په خپلو مطالعو کې هڅه کړې چې په اسلامي قانون کې د مقنن تسليمېدل د اسلامي اصلي سرچينو څخه لرې وګڼي، او دا يې د فقهي او قانون جوړوني کار يوه ځانګړتيا ګڼلې، که پخوا وي او که اوس. "شاخت" وايي: "په اوسني نړۍ کې د معاصرو فقهاوو حالت، چې د احوال شخصي قوانينو جوړولو کې بوخت دي، ډېر څه د لومړي او دويم هجري قرن د فقهاوو حالت ته ورته دی. ځکه چې په لومړيو اسلامي دورو کې فقهاوو ډېر اهميت نه ورکاوه چې قواعد د قانون له نظري او مجردو سرچينو څخه واخلي، بلکې هغه څه به يې اخيستل چې د عامو خلکو د ژوند له طريقي سره سمون خوري، که څه هم چې د اسلامي شريعت له احکامو سره سمون نه لري. او بيا به يې هڅه کوله چې دا قواعد د شريعت په چوکاټ کې ځای کړي."[1]

د "شاخت" نظريه له اساسه ناسمه ده، ځکه چې هغه د اسلامي فقهي په ثابت او متغير برخو کې توپير نه کوي، او د واقعيت په حکم کې د عرف رول او ځای ته په عادلانه نظر نه ګوري، چې د نورو شرعي سرچينو ترڅنګ موقعيت لري.

د فقهي احکام دوه ډوله دي: لومړی هغه چې د قرآن او سنتو په نصوصو کې راغلي دي. دويم هغه چې مجتهدينو د استنباط د مختلفو لارو څخه استخراج کړي دي.[2]

لومړی ډول احکام، مقنن هر وخت ورته پابند دی. اما دويم ډول احکام، مقنن په هر وخت کې کولی شي چې غوره يې کړي يا له هغې څخه تېر شي او د خپل وخت او زماني سره مناسب قوانين رامنځته کړي. ځکه چې د مسلمانانو ترمنځ دا متفقه خبره ده چې د هيڅ مجتهد نظر په مسلمانانو باندې لازم نه دی، او په هيڅ انسان باندې دا الزام نه شته چې د يو ځانګړي مذهب پابند پاتې شي.

اسلامي فقه د مختلفو فقهي مذهبونو لکه حنفي، شافعي، مالکي، او حنبلي پر اساس ده، چې هر يو يې خپل اصول او قواعد لري. په دې کې يو مهم عيب دا دی چې هر مذهب د خپلو ځانګړو استنباطي اصولو او قواعدو پر بنسټ مسايل حلوي. که څه هم ټول مذاهب په قرآن او سنت متکي دي، خو د تفسير او اجتهاد په برخه کې اختلافات شتون لري. دا اختلافات د تقنين په پروسه کې يوه ستونزه ده، ځکه چې د قانون جوړولو لپاره يو منظم او واحد چوکات شتون نه لري چې ټول مسلمانان يې قبول کړي. د بېلګې په توګه، که په يوه هېواد کې د حنفي فقهي اصول تطبيق شي، هغه مسلمانان چې د شافعي يا مالکي مذهب پيروان دي، ممکن د دغه قانون سره توافق ونه کړي. د يادولو وړ ده چې کله ناکله د اجتهاد اصول يا شرايط نه مراعات کېږي، او په تقنين کې ناسم اجتهاد ځای خپلوي[3].

---

[1] - موسوعة التشريع الاسلامي ص ٣١٣.

[2] - موسوعة التشريع الاسلامي ، ص ٣١٤.

3- الطوسي، أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي، المستصفي من علم الأصول، دار الكتب العلمية، ١٩٩٨م، ج١، ص ١٢١.

۲- متنوع تفسيرونه: د قرآن او سنتو تفسير او تأويل په اسلامي فقهه کې مهمه برخه ده. د فقهي علما هر يو د خپلو علمي او فکري صلاحيتونو او محيطي شرايطو په نظر کې نيولو سره د قرآن او حديثونو تفسير کوي. دا تفسيرونه د موضوعاتو په مختلفو برخو کې توپير لري. د بېلګې په توګه، يو عالم ممکن د يوه حديث څخه يوه پايله ترلاسه کړي، په داسې حال کې چې بل عالم د همدې حديث څخه بل ډول استنباط کوي. دا ډول اختلافات د تقنين په پروسه کې د ګڼو قانوني سيستمونو او تضادونو سبب کيږي. ځني وخت د قرآن او سنتو نصوصو په نامه ډول تفسير يا تطبيق کيږي چې د اسلامي احکامو پر روحيه برعکس عمل رامنځ ته کوي[1]. همدارنګه، د زماني او ځای په بدليدو سره، د تفسيرونو مختلف اړخونه هم راڅرګنديږي، چې په پايله کې يې د اسلامي قانون په جوړونه کې پيچلتياوې راځي.

۳- تاريخي او جغرافيايي محدوديتونه: اسلامي فقهه په ځانګړو تاريخي شرايطو کې رامنځته شوې، او د هغې ډېرى قواعد د هغه وخت او ځای د ټولنيزو، اقتصادي، او فرهنګي اړتياوو او حالاتو سره سمون لري. په اوسني وخت کې د نړۍ مختلفو برخو کې ټولنيز شرايط بدل شوي دي. د بېلګې په توګه، په اسلامي فقهه کې د غلامۍ مساله يو وخت خورا مطرح وه، خو په نني نړۍ کې غلامي له منځه تللي ده او د غلامۍ اړوند مسايل ندي موجود. په همدې ډول، د سود مساله، د بانکي سيستم د پرمختګ او اقتصادي بدلونونو په رڼا کې، يو مهم بحث دی. که څه هم اسلامي فقهه د دې مسايلو لپاره اصول وړاندې کوي، خو د اوسني نړيوال اقتصادي سيستم سره يې تطبيق کول سخت دي.

۴- د عرف او رواج تاثير: اسلامي فقه د عرف او رواج پراساس په بيلابيلو ټولنو کې توپير لري. د مثال په ډول، يوه قاعده چې په يوه ټولنه کې د عرف په اساس د منلو وړ ده، په بله ټولنه کې ممکن د رواج او عرف له مخې د منلو وړ نه وي. دا د اسلامي قانون جوړونې په پروسه کې يوه لويه ستونزه ده. د عرف پراساس د فقهي اصولو تطبيق په مختلفو ټولنو کې مختلف اغيز لري. په ځينو مواردو کې، عرف او رواج د اسلامي قانون اصولو سره په تضاد کې راځي، او په داسې حالاتو کې د قانون جوړونه يا تقنين سخته کيږي او همدارنګه د اسلامي فقهي په تقنين کې د ټولنې عرف او حالاتو ته پاملرنه اړينه ده، خو ځيني وختونه دا له پامه غورځول کيږي[2].

۳- د تجديد يا نوي کولو محدوديتونه: اسلامي فقهه په ثابتو او متغيرو اصولو ولاړه ده. ثابت اصول د دين بنسټيز او نه بدلېدونکي اصول دي لکه د عباداتو مسايل، خو متغير اصول هغه دي چې د وخت او ځای په شرايطو پورې اړه لري. په فقهه کې د نوي کولو او اجتهاد ضرورت هغه مهال راپورته کيږي چې ټولنه له نوو شرايطو او بدلونونو سره مخ شي. خو د ثابتو اصولو په برخه کې د نوي

[1] - الموافقات في أصول الشريعة للشاطبي ص۴۱۱.

[2] - ابن القيم الجوزية، شمس الدين محمد بن أبى بكر بن أيوب بن سعد الزرعي الدمشقي-المعروف بابن القيم الجوزية، اعلام الموقعين عن رب العلمين، درا الكتب العلمية-بيروت، ۲۰۰۲م، ط۱، ج۳، ص۶۳.

کولو امکانات محدود دي. په داسې حال کې چې معاصره ټولنه د چټک بدلون سره مخ ده، دا محدودیتونه د تقنین په پروسه کې ستونزې رامنځته کوي، ځکه چې د نوې پېښې او مسایلو لپاره نوي او تطبیقي قوانین جوړول لازمي دي. اسلامي شریعت د انسان خیر، عدل، او مصلحت ته ترجیح ورکوي، خو ځینې قوانین د دې مقاصدو سره په ټکر کې وي[1].

٤- د عصري قانوني سیستمونو سره ناپایښت: په نننۍ عصر کې، ډېری هیوادونه د عصري او سیکولر قانوني سیستمونو په اساس اداره کیږي چې له نړیوالو بشري حقوقو او اصولو سره سمون لري. دا سیستمونه د حقوقو د عصري او نړیوالو مفاهیمو، لکه د ښځو حقونو، د بیان ازادي، او ټولنیزو ازادیو پر اساس جوړ شوي دي. په ځینو مواردو کې، د اسلامي فقهې اصول د عصري قانوني سیستمونو سره په ټکر کې واقع کیږي. د بېلګې په توګه، د ښځو د میراث په مسله کې اسلامي فقهه یو خاص سهم ټاکي، په داسې حال کې چې په نړیوالو بشري حقونو کې د مساوات اصل مطرح دی. دا تضادونه د اسلامي فقهې د تقنین په برخه کې لویه ستونزه رامنځته کوي او عین وخت کې ځنې کله په تقنین کې د فقهي مختلفو مذاهبو نظرونه په نظر کې نه نیول کېږي، چې دا په اسلامي ټولنه کې د اختلاف سبب ګرځي[2].

په پای کې، اسلامي فقهه د مسلمانانو لپاره یو بشپړ قانوني سیستم وړاندې کوي، خوشبختانه علماء په همدې باندې کار کوي تر څو وکولای شي دا امر نهایي کړي او ټولنې ته یو درست او عادلانه تقنین وړاندې کړي.

## دریېم مطلب

## د اسلامي فقهې په تقنین کې اړینې لارښوونې

د اسلامي فقهې په تقنین کې باید لاندې اصول او قواعد رعایت شي تر څو دا پروسه موثره او پرمخ روانه وي:

١- **شرعي اصل پیروي:** د اسلامي فقهې د تقنین په بهیر کې باید د اساسي شرعي مصادر لکه قرآنکریم، سنت نبوي، اجماع او قیاس په پام کې ونیول شي. هر مصدر باید وضاحت ولري، او د حکم د استنباط لپاره اړوند آیات او احادیث وړاندې شي. د تضاد په صورت کې د مصادر د لومړیتوب ټاکل مهم دی: لومړی قرآنکریم، بیا سنت، بیا اجماع او بیا قیاس. د علماو ترمنځ د اختلافاتو حلولو لپاره باید ټګلارې وټاکل شي. که چیرې د فقهي مسایلو په اړه څو صحیح نظرونه موجود وي، باید د دې نظرونو ترمنځ د ټاکلو معیارونه لکه د علماو په اتفاق یا د ټولنې ګټو لپاره مناسب نظر په پام کې ونیول شي. د اسلامي

1- الموافقات فی أصول الشریعة، ج٢، ص٢٥۶.

2- خلاف ، شیخ عبدالوهاب خلاف، علم أصول الفقه، مكتبة الدعوة-شباب الأزهر، ١٩٨٢، القاهرة، ص١٩٨.

تقنين هره ماده باید د قرآن او سنت له صریحو نصوصو سره په ټکر کې نه وي، ځکه نصوص د شریعت اساسي سرچینې دي، او ټول قوانین باید له دې سرچینو استنباط شي[1]. او که یوه مسئله کې د امت د علماوو اجماع موجوده وي هغه باید د تقنین برخه شي[2]. او که چېرته نصوص او اجماع شتون و نه لري د قیاس اصول باید پام کې ونیول شي[3].

۲- **شرعي مقصد تحقق:** د[4] تقنین په بهیر کې باید د دین، نفس، عقل، نسل او مال ساتنه ته ځانګړی اهمیت ورکړل شي[5]. قوانین باید د دې مقصدونو د ساتنې لپاره واضح او څرګند وي. د عامه مصلحت تعریف باید وړاندې شي او څرنګوالی یې چې څنګه عامه او شخصي مصلحتونه توازن شي، په تقنین کې توضیح ورکړل شي. د هر فقهي حکم شرعي اهداف باید روښانه شي او دا باید یقیني شي چې د دې اهدافو د ترلاسه کولو وسایل د اساسي شرعي اصولو سره په ټکر کې نه وي. په قوانینو کې باید د ټولنې عرف او رواجونه په پام کې ونیول شي، خو دا باید د شریعت له اصولو سره په ټکر کې نه وي.

۳- وضاحت او د تطبیق وړتیا : تقنین باید د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي بدلونونو لپاره ښه راغلاست ووایي، او د نوو مسایلو د حلولو لپاره د اجتهاد او نوي تقنین لپاره مواد ولري. د اجتهاد لپاره واضح میکانیزمونه لکه د اجتهادي کمیسیونونو جوړول چې پکې د مختلفو تخصصونو علما شامل وي، باید وټاکل شي. د نوي موضوعاتو یا نوازلو چې په فقهي کې په مستقیمه توګه نه دي پوښل شوي، د اجتهاد له لارې حل باید یقیني شي. قانوني نصوص باید په ساده او روښانه ژبه وي، او د فقهي پیچلتیاوو څخه ډډه وشي چې د پوهیدو ستونزې راپورته کوي. قوانین باید د موضوعاتو لکه د شخصي حالتونو، مالي معاملو، حدودو او جزاګانو له مخې په برخو، فصلونو او مادو وویشل شي. وضاحت او تشریحات باید شامل وي ترڅو حکمونه تفسیر او دلیل ورکړل شي، چې دا به د قانونونو په پوهیدو او تطبیق کې مرسته وکړي او قوانین باید د ټولنې لپاره ګټور او د مصلحت پر بنسټ وي[6].

قوانین باید د ټولنې د اقتصادي، سیاسي، او کلتوري واقعیتونو په رڼا کې جوړ شي تر څو عملي او اغېزمن وي. د تطبیق لپاره باید واضح قانوني کړنلارې لکه د حکمونو د تطبیق لپاره اړوند ارګانونه

---

[1] - الشافعي ، محمد بن ادريس الشافعي، الرسالة، محقق: عبداللطيف الهميم و ماهر ياسين فحل، دار الكتب العلمية-بيروت، ٢٠٢١م، ط١، ص٢٠-٢٥.

[2] - النووي ، محيى الدين يحى بن شرف النووي، المجوع شرح المهذب، تحقيق: لجنة من العلماء، ادارة الطباعة المنيرية- مطبعة التضامن الأخوى- القاهرة، ١٩٢٨م، عدد الأجزاء ٩، ط١، ج١، ص٥٢.

[3] - المستصفي من علم الأصول للغزالي، ج٢، ص٣٥٠.

[4]- السرخسي، شمس الأئمة السرخسي، محقق: خليل محى الدين الميس، دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع-بيروت، ٢٠٠٠م، عدد الأجزاء ٣٠، ط١، ج٣٠، ص١٤٢.

[5]- الموافقات فى أصول الشريعة، ج٢، ص٢٥-٣٠.

[6]- الموافقات في أصول الشريعة، ج٢، ص١٠.

وټاکل شي، او د شکایتونو او اعتراضونو وړاندې کولو میکانیزمونه وټاکل شي. د خلکو ټولنیز او اقتصادي حالاتو په پام کې نیول باید وشي تر څو قوانین د تطبیق وړ وي او خلکو ته زیان ونه رسوي او عدالت باید په کې تأمین شي ځکه عدالت د شریعت اساسي موخه ده[1].د اصالت او معاصرې تر منځ توازن: د هغو هیوادونو د تقنیني هڅو مطالعه او تحلیل باید وشي چې د اسلامي فقهې تقنین کې شامل شوي، لکه خلیج هیوادونه، مصر، مغرب او نور. د پخوانیو تجربو مثبتو او منفي اړخونو پیژندل او د مثبتو ټکو تقویه کول او د منفي ټکو څخه ډډه کول اړین دي. د عصري قانوني نظام څخه ګټه اخیستل ترڅو داسې قوانین جوړ شي چې د اسلامي شریعت سره سمون ولري، پداسې حال کې چې د شرعي اصولو ساتنه هم یقیني شي او همدارنګه توازن باید وساتل شي ترڅو د شرعي اصولو ساتنه او د عصري اړتیاوو تجدید هم وکړي. تقنین باید د عصري علومو لکه ټولنیز علم او نړیوال قانون څخه ګټه واخلي ترڅو د فقهي نصوصو پوهیدل او د تطبیق وړتیا یې زیاته شي. د اسلامي ټولنو نړیوالو تاثیراتو ته باید پام وشي او د اسلامي هویت او نوي نړیوال شرایطو ترمنځ توازن راوستل شي. د اسلامي تقنین یو اساسي اصل دا دی چې ضرر دفع کړي او د خلکو لپاره آسانتیاوې رامنځ ته کړي[2].

ټولنیزه ګډون او شمولیت: د فقهي قانوني کمیسیونونه باید جوړ شي چې پکې د اسلامي فقهې متخصصین او د عصري قانون متخصصین شامل وي، ترڅو د فقهې او قانون ترمنځ یووالی رامنځته شي. د عامه خلکو سروې ګانې او نظرپوښتنې باید ترسره شي ترڅو د دوی نظریات او اړتیاوې وپیژندل شي، او داډ ترلاسه شي چې تقنین د ټولنې ټولو برخو ته د منلو وړ وي. د فقهي او قانوني موضوعاتو په اړه د علماوو، قانون جوړوونکو او عامه خلکو ترمنځ خبرې اترې تقویه شي، ترڅو قوانین د ټولنې اړتیاوو سره سمون ولري. او همدارنګه د تقنین په پروسه کې د ټولنې د بېلابېلو ډلو ګډون اړین دی، څو قوانین د ټولنې اړتیاوو او غوښتنو سره سم جوړ شي[3] لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: (وأمرهم شورى بينهم[4])

له نړیوالو نظامونو سره تطابق: باید د نړیوالو معاهدو بیاکتنه وشي چې هیواد یې لاسلیک کړی وي، او وکتل شي چې په کومه اندازه د اسلامي فقهې سره تطابق لري. د دې تطابق لپاره باید قوانین کې اړوند حکمونه شامل شي. د اسلامي فقهې او نړیوال قانون اصولو ترمنځ توازن راوستل اړین دی، او

---

1- ابن التيمية، السياسة الشرعية فى اصلاح الراعي والرعية، المحقق: عبدالرحمن بن عبدالله بن قاسم، مكتبة المعارف-رياض، ١٩٩٩م، ط١، ص١٠.

2- ابن نجيم ، زين الدين بن ابراهيم بن محمد ابن نجيم المصري، الأشباه والنظائر على مذهب أبى حنيفة النعمان، محقق: الشيخ زكريا عميرات، دار الكتب العلمية-بيروت، ١٩٩٩م، ط١، ص٨٧.

3- الموافقات فى أصول الشريعة، ج٢، ص ٢٥٠.

4- الشورى سورت، ٣٨م آیت.

باید معلومه شي چې څنګه د دې ترمنځ تطابق ترلاسه شي. د بشري حقوقو نړیوالو معیارونو سره د اسلامي فقهي نصوصو سمون باید یقیني شي تر څو د مسلمانانو د نړیوال تعامل او هوساینې لپاره زمینه برابره شي[1]، او که کوم اختلاف وي، د دې د حل لپاره مناسبې لارې وړاندې شي البته لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه چې له اسلامي اصولو په هېڅ صورت باید تنازل وشي[2].

٤- دوامداره بیاکتنه او تجدید: د اسلامي فقهي تقنین باید یو دوامداره بهیر وي چې په یو ټاکلي نقطه کې ونه دریږي. د قوانینو د بیاکتنې او تازه کولو لپاره ځانګړي میکانیزمونه لکه د وخت په وخت د بیاکتنې کمیسیونونو جوړول اړین دي، چې پکې فقهي، قانوني او ټولنیز متخصصین شامل وي. د قوانینو د تازه کولو لپاره له تکنالوژۍ څخه ګټه اخیستل لکه پرمختللي قانوني ډیټابیسونه، او په دوامداره توګه د قوانینو تحلیل باید ترسره شي. قوانین باید د وخت په تېرېدو سره بیاکتنه وشي، څو د خلکو د نویو اړتیاوو او حالاتو سره سم اصلاحات پکې راوستل شي[3]. د اسلامي فقهي تقنین باید د شریعت د اصولو په حدودو کې د وخت د اړتیاوو سره سم تجدید شي[4]. او په یوه صحیح حدیث کې راغلي چې نبي کریم ﷺ فرمایي: الله تعالی د هر پېړۍ په سر کې دې امت ته داسې یو کس رالیږي چې دین ورته تجدید کړي[5].

د دې اصولو سره، د اسلامي فقهي تقنین به جامع او اغېزمن وي، او د ټولنې عدالت او عامه مصلحت ترلاسه کول به یقیني شي.

## څلورم مبحث

## د شرعي احکامو د تقنین مفهوم او اغېزې

د شرعي احکامونو تقنین یوه پروسه ده چې د اسلامي شریعت څخه اخیستل شوي احکام په لیکلي قانوني متنونو بدلوي، ترڅو یې په منظم او متحد ډول د قضایي سیستمونو کې پلي کول اسانه کړي. دغه پروسه د اسلامي منابعو څخه د فقهي احکامو راټولول، تحلیل، او بیا یې په واضح قانوني موادو کې ترتیب کول، او وروسته یې رسمي تصویب شاملوي. د تقنین هدف د عدالت تامین، د قانوني پروسیجرونو یووالي، او د افرادو او ټولنې د حقونو ساتنه ده. سره له دې، د تقنین پروسه د فقهي تنوع، د وضعي قوانینو سره تداخل، او د شرعي احکامو او عصري ټولنیزو بدلونونو ترمنځ د توازن ساتلو په څېر ستونزو سره مخ ده.

---

1 - السياسة الشرعية فى اصلاح الراعي والرعية، ص١٥٠.

2 - په دې اړه الله تعالي فرمايي: و تعاونوا على البر والتقوى ولا تعاونوا على الاثم والعدوان) مائدة سورت، ٢م آيت.

3 - الغزالي ، أبو حامد محمد بن أحمد الغزالي، احياء علوم الدين، الناشر: دار المعرفة-بيروت،١٩٩٢م، عدد الأجزاء ۴، ط١، ج١، ص ٢٣.

4 امام ابن القيم، اعلام الموقعين عن رب العلمين، ج٣، ص٣٩.

5 .."يبعث الله على رأس كل مائة سنة من يجدد لهذه الأمة أمر دينها" ( سنن أبي داوود، ۴٢٩١.)

دا مبحث دوو مطلبونو ته شامل دی چې په کې د شرعي احکامو د تقنین مفهوم او اغېزو اړوند مفصل بحث شوی دی.

## لومړی مطلب

## د شرعي احکامو د تقنین مفهوم

تقنین په لغت کې د قانون جوړولو او ترتیب کولو په معنی دی، او په اصطلاح کې د تقنین د هغو شرعي احکامو په رسمي او قانوني بڼه وړاندې کولو ته ویل کېږي چې د مسلمانانو ټولنیز ژوند تنظیم کړي. د اسلامي شریعت په چوکاټ کې تقنین د قرآن، سنت، اجماع او قیاس له مخې د قوانینو ترتیب او تدوین ته ویل کېږي[1]. دا بهیر هڅه کوي چې فقهي احکام په مشخص چوکاټ کې تنظیم کړي، ترڅو په اسانۍ سره په محکمو او مختلفو قانوني نظامونو کې وکارول شي.

د شرعي احکامو تقنین د دې لپاره اړین ګڼل کېږي چې د اسلامي شریعت اصول په واضح او عملي قوانینو بدل کړي، د ټولنې اړتیاوې او د وخت شرایط په پام کې ونیول شي او د قضایي او حقوقي مسایلو د حل لپاره معیاري چوکاټ برابر شي[2]. د یادولو وړ ده چې قوانین باید د قرآن او سنت په رڼا کې ترتیب شي، ضمنا د وخت او ځای اړتیاوو سره همغږي ولري او د خلکو مصلحت، عدل او د شریعت موخې پکې متحققې اوسي[3].

دې سره شرعي احکام په ځانګړو قانوني موادو بدلیږي، او په داسې قانوني ژبه لیکل کیږي چې واضح او الزامي وي. تدوین موخه لري چې دا احکام د محکمو او قانوني ادارو لپاره په اسانۍ سره د پوهېدو او پلي کېدو وړ وګرځي او تقنین شوي احکام د بیاکتنې لپاره قانوني یا مذهبي ادارو ته وړاندې کېږي ترڅو د شریعت سره د مطابقت ډاډ ترلاسه شي. له بیاکتنې وروسته، دوی په رسمي توګه د الزامي قوانینو په توګه تصویب کیږي.

د قوانینو له تصویب وروسته، دوی د دولت په قضایي نظام کې پلي کیږي. محکمې په دې قوانینو تکیه کوي ترڅو خپلې فیصلې صادرې کړي، او دې ته داسې قانوني قوت ورکوي چې دولت پرې اعتراف کوي.

---

1- الفقه الاسلامي و أدلته، ج۶، ص۴۲۵.

2- بن عاشور، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي، مقاصد الشريعة الاسلامية، المحقق: محمد الخبيب بن الخوجة، الناشر: وزارة الأوقاف والشئون الاسلامية-قطر، ۲۰۰۴م، عدد الأجزاء ۳، ط۱، ج۱، ص۲۱۵.

3- عودة ، عبدالقادر عودة، التشريع الجنائي الاسلامي مقارنا بالقانون الوضعي، دار الحديث، ۲۰۰۹م، ص۸۹.

## دوهم مطلب

## د شرعي احکامو د تقنين موخې او مثالونه

د شرعي احکامو تقنين يو لړ اساسي موخې لري چې يو له هغو ټولنه کې د عدالت تأمين دی. دا د اسلامي شريعت بنسټيزه موخه ده چې د افرادو حقونه خوندي او ټولنيز نظم ټينګ کړي[1]. او همدارنګه تقنين بايد د شريعت لوړې موخې لکه د دين، عقل، نسل، مال او ژوند ساتنه تضمين کړي. دا د شريعت بنسټيز اهداف دي چې هر قانون بايد يې رعايت وکړي[2]. تقنين د اسلامي ټولنې لپاره داسې قوانين وړاندې کوي چې د خلکو ترمنځ شخړې کمې کړي او په عملي بڼه د يووالي او اتفاق زمينه برابره کړي[3]. او همدارنګه د وخت او ځای د اړتياوو سره سم د شريعت احکام په داسې بڼه تنظيمول چې د نن ورځې ټولنيز، اقتصادي او سياسي ستونزې حل کړي[4]. او د دې ټولو سربېره تقنين بايد د ټولنې د ټولو وګړو د حقوقو ساتنه وکړي او ډاډ ورکړي چې هېڅوک له خپلو مشروع حقونو څخه بې برخې نه پاتې کېږي.

د احکامو په تقنين سره، يوه ثابته قانوني مرجع جوړيږي چې پرې تکيه کيدی شي، چې په دې توګه د قضاوت بهير اسانه کوي او قانوني استحکام زياتوي او همدارنګه تقنين کولی شي په معاصر ټولنيز او قانوني شرايطو کې د شرعي احکامو د نوي کولو او تطابق په برخه کې مرسته وکړي، چې دا د قانوني نظام په پرمختګ کې ونډه لري.

**د شرعي احکامو د تقنين مثالونه**

لکه څنګه چې مې مخکې يادونه وکړه د شرعي احکامو د تقنين موضوع يوه نوې مطرح شوې مسئله نه ده بلکې دې اړوند خورا ډېرې هلې ځلې شوې دي چې دلته يې يوازې يو څو ځانګړي مثالونه په لنډ ډول ذکر کوم.

١- **د عثماني خلافت** "مجلة الأحكام العدلية": عثماني خلافت د اسلامي فقهې د مدون کولو په برخه کې لويه لاسته راوړنه وکړه. مجلة الأحكام العدلية د اسلامي فقهې لومړنی رسمي تقنين وو چې مدني قانون ته ورته بڼه ورکړل شوه. د دې قوانينو موخه د اسلامي نړۍ په مختلفو سيمو کې د واحد قانوني نظام رامنځته کول وو، ياد قوانين په ځانګړې توګه د شخړو د حل او مدني او تجارتي معاملو د تنظيم لپاره ترتيب شوي وو. د حنفي فقهې پر اساس د دې مجلې ترتيب، د اسلامي تقنين د پراختيا يو مهم پړاو ګڼل

[1] - مقاصد الشريعة الإسلامية لابن عاشور، ج١، ص ٢١٥.

[2] - الفقه الاسلامي وادلته، ج۶، ص۴٣٠.

[3] - التشريع الجنائي الاسلامي مقارنا باالقانون الوضعي لعبدالقادر عودة، ج١، ص١١٢.

[4] - شلبي ، محمد مصطفى شلبي، قواعد الفقه، دار النهضة العربية للطباعة والنشر، ١٩٨١م، ط١، ص١٠٥.

کېږي. د یادولو وړ ده چې د مجلة الأحکام العدلية اصول تر نن ورځې پورې په ځینو اسلامي هېوادونو کې د قانوني چوکاټونو لپاره سرمشق ګڼل کېږي[1]

٢- **د امام مالک په "موطأ" کې قانوني احکام :** الموطأ د اسلامي قانوني ادب یوه له لومړنیو او بنسټیزو کتابونو څخه ده. امام مالک په دې کتاب کې هغه شرعي احکام راټول کړي چې د هغه وخت د مسلمانانو د عملي ژوند اړتیاوې یې پوره کولې. موطأ د احادیثو د راټولولو ترڅنګ، د قضایي فیصلو او فقهي اصولو یوه پراخه ټولګه ده او د مدینې خلکو عمل د امام مالک د تقنین یوه بنسټیزه برخه وه. د یادولو وړ ده چې یاد کتاب په اسلامي نړۍ کې د قانون جوړونې لپاره د تطبیقي فقهي بنسټیزه سرچینه ګڼل کېږي[2]

٣- **د اندلس اسلامي تقنین:** د اندلس اسلامي خلافت د شرعي تقنین په برخه کې ځانګړی ځای لري. د دې دورې قاضیانو او فقهاوو د فقهي اصولو پر بنسټ د خلکو لپاره قوانین ترتیب کړل. د اندلس په دوره کې د عدالت لپاره ځانګړي قاضیان ټاکل شوي وو، چې د شرعي اصولو پر بنسټ به یې فیصلې کولې او د بیت المال او تجارتي قوانینو لپاره ځانګړي اصول ترتیب شوي وو[3].

٤- **امام ابو یوسف د خراج کتاب :** امام ابو یوسف د عباسي خلیفه هارون الرشید لپاره د شرعي مالي نظام د تقنین لپاره د "کتاب الخراج" په نوم ځانګړی کتاب ولیکه، دا کتاب د خراج، عشر او جزیې په اړه ځانګړي قوانین وړاندې کوي. د بیت المال د عوایدو راټولولو او مصرف په اړه تفصیلي لارښوونې وړاندې کړې دي.

کتاب الخراج د اسلامي مالیاتو په اړه لومړنی قانوني کتاب ګڼل کېږي چې د عباسي خلافت لپاره ځانګړی رول درلود[4].

د یادولو وړ ده چې یاده پروسه به له ننګونو او اندېښنو څخه خالي نه وي خاصتا کله چې ګورو اسلامي نړۍ کې د فقهي مذهبونو (حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي) تنوع موجوده ده. دا تنوع د احکامو په واحد ډول تقنین کول ستونزمن کوي، ځکه چې احکام ممکن له یوه مذهب څخه تر بل توپیر ولري[5] او همدارنګه تقنین ممکن د شریعت احکامو او په دولت کې د تطبیق وړ وضع شویو قوانینو ترمنځ په توافق کې ستونزې سره مخ کړي. ځینې شرعي احکام ممکن د مدني یا نړیوالو قوانینو سره په تضاد کې وي لکه نوي عصري مسائل لکه مصنوعي استخبارات، بایوټکنالوژي، او د نړیوال اقتصاد داسې

[1] - د عثماني دولت د قانوني کمیټې لخوا، مجلة الأحكام العدلية، ط۱۸۴۴، استانبول، ج۱، ص۳.

[2]- امام مالک بن انس، الموطأ، دار احياء التراث العربي، ۱۹۸۵م، محقق: محمد فؤاد عبدالباقي، ج۱، ص۱۵.

[3] - بك ، محمد الخضري بك، تاريخ التشريع الإسلامي، ط۶، ۱۹۹۴م، دار الفكر العربي-مصر، ج۱، ص۲۱۵.

[4] - الانصاري ، أبو يوسف يعقوب بن ابراهيم الانصاري، كتاب الخراج، دار المعرفة للطباع والنشر-بيروت، ۱۹۷۹م، ص۸۹.

[5] - الفقه الاسلامي و أدلته، ج۱، ص۲۹

ستونزې چې په پخوانی فقه کې مستقیم ځواب نه لري[1]. او د دې سربېره داسې اندیښنې شته چې د احکامو تقنین به د اسلامي فقهې د جمود لامل شي او اجتهاد به محدود کړي. اجتهاد په شریعت کې یو اساسي عنصر دی، او ځینې یې د نوو پېښو او متغیرو شرایطو سره د مقابلې لپاره ضروري ګڼي. په ځینو مواردو کې، ممکن د شرعي احکامو تقنین شوي احکام په مؤثره توګه پلي کول ستونزمن وي، په ځانګړي توګه په هغو ټولنو کې چې مختلف قانوني نظامونه لري یا نړیوال فشارونه ورسره مخ وي، آن په ځینو هېوادونو کې د اسلامي قانون جوړونې پروسه د سیاسي ګوندونو او ډلو نفوذ لاندې راځي، چې عدالت او بې طرفي ته زیان رسوي[2]. او همدارنګه د شرعي احکامو او معاصر ټولنیزو بدلونونو ترمنځ د توافق ساتل لویه ننګونه ده. د بیلګې په توګه، د بشر د حقونو او د ښځو د حقوقو په برخه کې څنګه معامله کول په هغه چوکاټ کې چې شرعي احکام تقنین کیږي او همدارنګه په هغو ټولنو کې چې مسلمانان او غیر مسلمانان یو ځای ژوند کوي، د اسلامي قانون او نړیوال بشري حقونو تر منځ تعادل ساتل یو لویه ستونزه ده[3].

د شرعي احکامو تقنین یو بهیر دی چې موخه یې د اسلامي شریعت څخه مستنبط شوي احکام په لیکل شویو او واضح قوانینو کې بدلول دي چې په رسمي توګه په قانوني نظام کې پلي کیدی شي. دغه بهیر هدف لري چې عدالت یقیني کړي، قانوني بهیرونه یو ډول کړي، او د افرادو او ټولنې حقوق وساتي. سره له دې چې دا بهیر د فقهي تنوع، د وضع شویو قوانینو سره د تقاطع، او د اجتهاد ساتلو په اړه ننګونې لري، تقنین یوه مهمه مرحله ګڼل کیږي ترڅو اسلامي شریعت په داسې ډول پلي شي چې د وخت له غوښتنو سره سمون ولري.

## دریم مطلب

## د شرعي احکامو د تقنین اغېزې

د شرعي احکامو د تقنین اغېزې په بېلابېلو اړخونو کې څرګندې دي، چې په ټولنه، سیاست، اقتصاد او فردي ژوند باندې اغېز لري.

### ۱- ټولنیز نظم

شرعي احکام د ټولنې د نظم لپاره یو بنسټیز چوکاټ برابروي. د اسلامي قوانینو په مرسته د عدل، انصاف، او مساواتو تضمین کوي، چې په ټولنه کې د شخړو مخنیوی کوي[4]. په اجتماعي ساحه کې،

---

[1] - القرضاوي ، یوسف القرضاوي، في فقه الأقليات المسلمة، دار الشروق، ۲۰۰۱م، ص۱۲۵-۱۳۰.

[2] - علي عبدالرازق، الاسلام و أصول الحكم، دار الكتاب العربي-القاهرة، ۲۰۱۱م، ص۱۱۵.

[3] - الزحيل، وهبة الزحيلي، حقوق الانسان فی الاسلام، دار الفكر العربي- دمشق ، ۱۹۸۶م، ص۲۰۲-۲۰۵.

[4] - الفقه الاسلامي و أدلته، ج۱، ص۷۵

تقنين کولی شي د شخصي حالاتو، لکه واده، طلاق او میراث، د تنظیم له لارې د عدل پرمختګ کې مرسته وکړي، چې د اسلامي شریعت سره سمون ولري. دا لاربښود د افرادو د حقوقو د ساتنې او د عدل د تحقق هدف لري.

۲- فردي خپلواکي او همدارنګه شرعي احکام د انسانانو د فردي حقوقو ساتنه کوي، لکه د ژوند حق، د ملکیت حق، او د عقیدې آزادي. اسلامي قانون هر وګړي ته د هغه حقوق د شریعت په رڼا کې تعریفوي[1].

## ۳- د کورنۍ نظام ثبات

اسلامي قوانین د نکاح، طلاق، او میراث په برخو کې ځانګړي اصول وړاندې کوي، د دې قوانینو موخه د کورنۍ د اړیکو تنظیم او د کورنۍ ژوند ثبات دی[2].

## ٤- د اقتصادي نظام اصلاح

اسلامي شریعت د اقتصادي ژوند لپاره ځانګړي اصول وړاندې کوي، لکه د سود بندیز، او د سوداګرۍ اخلاق. د تقنین له لارې د دې اصولو پلي کول د عادلانه اقتصادي سیستم د جوړولو لپاره خورا مهم دي[3]. د اقتصادي اړخ نه، د مالي معاملو سره تړلي شرعي احکامو تقنین کولی شي د اقتصادي نظام د توازن او عدالت لپاره مرسته وکړي، چې د اقتصادي خنډونو کمول او مالي ثبات زیاتوي.

## ٥- د اخلاقي ارزښتونو پیاوړتیا

شرعي احکام د ټولنې د اخلاقي معیارونو د لوړولو لپاره کار کوي لکه صداقت، امانتداري، او د حرامو څخه ځان ساتنه هغه اصول دي چې د تقنین له لارې پیاوړي کېږي[4].

## ٦- د نړیوالو اړیکو اصول جوړول

شرعي احکام د سولې، جګړې، او نړیوالو اړیکو لپاره معیاري اصول وړاندې کوي چې د اسلامي هېوادونو تر منځ او د نورو ملتونو سره د اړیکو د تنظیم لپاره خورا مهم دي[5].

## ٧- د وګړو د حقوقو خوندیتوب

اسلامي شریعت د ټولنې د هر وګړي حقوق تعریف او بیان کړي دي او خورا ډېره پاملرنه یې بې وسو او معیوبو خلکو ته کړې ده او هغوی ته یې لومړیتوب ورکړی دی او د هر نوع حقوق څخه یې

---

[1] - حقوق الانسان فی الاسلام، ج۱، ص۷۲

[2] - الجزیری ، عبدالرحمن الجزیری، الأحوال الشخصیة فی الفقه الاسلامي، دار الکتب العلمیة- قاهرة-مصر ، ۱۹۹۰م. ج۲، ص۱۵۰

[3] - الصدر، محمد باقر الصدر، اقتصادنا، لبنان، دار الفکر- بیروت، ۱۹۹۰م. ج۱، ص۲۲۲-۲۲۳

[4] - احیاء علوم الدین، ج۳، ص۲۸۰-

[5] ابن قیم الجوزیة، أحکام أهل الذمة، دار الفکر العربي- قاهرة-مصر، ۱۹۸۰م، ج۲، ص۳۵۰-۳۵۱

په زغره دفاع کوي تر څو د خپلو حقوقو څخه برخمن شي او هېڅ ته اجازه نه ورکوي چې د بل کس حق تلف کړي او د تقنين له لارې يې د عملي کولو لپاره لارې چارې برابروي[1].

د شرعي احکامو تقنين د عدالت د پلي کېدو لپاره معياري چوکاټ برابروي، او موخه يې دا ده چې د هر وګړي حقوق خوندي شي او د ظلم مخنيوی وشي[2].

د يادولو وړ ده چې ياد تقنين له څو بنسټيزو ستونزو سره مخ کېدی شي:

**لومړی:** ممکن فقهي اجتهاد محدود کړي، ځکه چې د شرعي احکامو د ثابت قانوني نصوصو ته اړول ممکن فقيهانو ته د نوي اجتهادونو وړانديز کولو مانع شي چې د بدلېدونکو حالاتو سره سمون ولري.

**دويم:** د شرعي نصوصو او وضع قانونونو ترمنځ د سمون ستونزې موجودې دي، په ځانګړي توګه په هغو هېوادونو کې چې د دوه ګوني قانوني نظام سره مخامخ وي.

**درېيم:** دا اندېښنه شته چې تقنين ممکن بعضې شرعي احکام تحريف کړي ترڅو د مدني قوانينو يا سياسي غوښتنو سره سمون ولري.

تمه کيږي چې تقنين به د ټولنې د بدلېدونکو غوښتنو سره سم پراختيا ومومي. ټيکنالوژيکي پرمختګونه کولی شي د شرعي احکامو د تطبيق په طريقو کې ښه والی راولي، چې د قضايي نظام اغېزمنوالی زياتوي او د عدل د ترلاسه کولو کې مرسته کوي. سره له دې، بايد دا پروسه په دقت سره ترسره شي ترڅو د شريعت د تطبيق او د وخت د اړتياو ترمنځ توازن وساتل شي.

په شرعي احکامو د تقنين اغېز يوه پيچلې موضوع ده چې د ګټو او ستونزو ترمنځ توازن لري. تقنين يوه منظم قانوني چوکاټ برابروي چې عدل او ثبات تقويه کوي، مګر دا د شرعي اصولو او عصري قانوني بدلونونو ترمنځ د سمون غوښتنه کوي. دا مهمه ده چې تقنين په احتياط سره ترسره شي ترڅو د شريعت د احکامو د ساتنې او د عصري اړتياو ترمنځ مناسب توازن ترلاسه شي.

---

1 وهبة الزحيلي، حقوق المرأة فی الاسلام۹۹، دمشق، دار الفکر، ۱۹۹۵م ، ص۹۸-

# دوهم څپرکی

# د تقنین مشروعیت او د فقهاء اندونه

لکه څنګه چې مخکې د تقنین اړوند مفصل بحث شوی دی، دې فصل کې د تقنین مشروعیت اړوند بحث کېږي او د علماء نظرونه ذکر کېږي. دا فصل درې مبحثونو ته شامل دی چې په لومړي مبحث کې عام ډول تقنین اړوند د فقهاء نظرونه بیان شوي دي او په دوهم مبحث کې د تقنین د مؤیدینو او دریم مبحث کې بیا د تقنین د معارضینو دلایل وړاندې کېږي.

## لومړی مبحث

## د تقنین په اړه د فقهاوو نظرونه او د هغه ملاتړي او مخالف دلایل

په دې مبحث کې په عام ډول د تقنین اړوند د فقهاء نظرونه ذکر شوي دي، د مؤیدینو او مخالفینو دلایل په پوره امانت سره نقل شوي دي او په پای کې راجح قول ذکر شوی دی.

### لومړی مطلب

### د تقنین اړوند د فقهاوو نظرونه

د اسلامي فقهي تقنین په داسې بڼه چې فقهي کتاب په ابواب او فصولو سره ترتیب شي، فقرات او مواد ولري، په دې سره کومه ستونزه نشته. که څه هم د مؤلفینو د مصطلحاتو بڼه بدله وي. البته، که تقنین تر معلومو او قطعي احکامو ځانګړی شي، چې په هغو باندې اجماع موجوده وي او هېڅ خلاف نه وي، نو په دې باندې هېڅ اعتراض نشته. مګر هغه کسان چې د معاصرو قوانینو له شکل او جوړښت سره ستونزه لري، د دې نظر سره مخالف دي. شیخ عبدالله بن حمید [1] د تقنین په اړه ویلي دي[2]. ځینې علماء لکه محمد الأمین الشنقیطي [3] د تقنین په اړه له دواړو لورو نقد کړی دی، هم له جوهري اړخه او هم له ظاهري او شکلي اړخه، او دواړه یې منع کړي دي. هغه زیاتوي چې وضعي نظام حقیقتاً په دوو ستنو استوار دی:

**لومړی:** شکل یې، چې د جوړښت په هکله دی.

[1]- د شیخ عبدالله بن حمید لنډه پیژندنه: شیخ عبدالله بن حمید (۱۳۲۹–۱۴۰۲هـ) یو نامتو سعودي عالم، قاضي او خطیب و. هغه د فقه، تفسیر، او عقیدې په برخو کې تخصص درلود او د مسجد الحرام خطیب او د دیني چارو رئیس پاتې شوی و. د "الإبداع في شرح خطبة حجة الوداع" په څېر ګڼ دیني آثار لري. نوموړی د عدالت، علم او اصلاح لپاره پیژندل کېږي. ماخذ :موقع محتویات، بحث عن الشیخ عبدالله بن حمید. (https://ar.wikipedia.org/wiki/)

[2]- نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي، ص۱۸۲.

[3]- د محمد الأمین الشنقیطي لنډه پیژندنه: محمد الأمین الشنقیطي (۱۹۰۷–۱۹۷۴م) یو ستر موریتانیایي عالم، مفسر او فقیه و، چې د تفسیر، اصول فقه او منطق په برخو کې یې ژور آثار پرېښي. هغه د "أضواء البیان" تفسیر لیکلی، چې د قرآن په آیاتو د قرآن تشریح یو بې‌ساری اثر ګڼل کېږي. نوموړی په مسجد نبوي او معهد القضاء کې استاد و، او د سعودي د هیئت کبار العلماء غړی هم پاتې شوی. د هغه علمي میراث د اسلامي علومو یوه مهمه برخه ده. (https://www.aljazeera.net/encyclopedia/۲۰۲۲/۱۱/۲)

**دوهم:** جوهر او روح یې، چې د دې ویره لري چې که فقهي قواعدو ته د وضعي قوانینو څېره ورکړل شي، نو ممکن د شرعي قوانینو روح د یاد شکل څخه متأثر شي. په تقنین کې قاضي په یو واحد قانون پلي کولو باندې ملزم ګڼل کېږي.

### الف: خپلواکی او یا هم مطلق مجتهد قاضي

په قضاوت کې اجتهاد اساس دی. په صدر اسلام کې باور دا وو چې قاضي باید د خپل فکر او علم په رڼا کې اجتهاد وکړي، حتی که د نورو مجتهدینو د اجتهاد سره توپیر ولري. د اجتهاد اساس د نبي کریم ﷺ مبارک حدیث دی چې فرمايي: عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ" [1]. یعنې، که قاضي په خپل اجتهاد سره حکم وکړي او صحیح نتیجه ته ورسیږي، نو دوه اجرونه به ترلاسه کړي، او که څه هم چې غلط نتیجه ته ورسیږي، نو یو اجر به ترلاسه کړي.

نو قاضي ته لازمه ده چې په موجوده اقوالو کې یو نظر ته د نورو په پرتله ترجیح ورکړي او په هغه عمل وکړي. امام الشهاب القرافي [2] وایي چې کله قاضي مجتهد وي، نو لازم دی چې حکم او فتوی د هغه په نزد د راجح قول سره سم عمل وکړي[3].

### ب: مقلد قاضي

جمهور متقدمین فقهاء په دې نظر دي چې مقلد باید قضاوت ته مخه ونه کړي. مګر امام أبو حنیفه د دې لپاره اجازه ورکړې چې غیر مجتهد یا مقلد د قضاوت وکړی شي. برعکس، متاخرین علماء په دې باور دي چې په اوس وخت کې چې مطلق مجتهد پیدا کول ډېر ستونزمن دی او مسلمانانو شمېر او د دوی امور زیات دي، نو د دې لپاره چې ورځني چارې شاته پاتې نه شي، مقلد قاضي د دې ضرورت له مخې قضاوت کولی شي. برعکس، جمهور احناف په دې اند دي چې مقلد قاضي قضاوت کولی شي، حتی که جاهل هم وي[4]. امام قاضي ابن سریج [5] (۳۰۶ه) چې شافعي مذهبه وو، کله چې بغداد کې

---

[1]- صحیح البخاري- طوق النجاة، د حدیث شمېره: ۷۳۵۲, (۹/ ۱۰۸)

[2]- د امام الشهاب القرافي پیژندنه: امام شهاب الدین القرافي (۶۲۶–۶۸۴هـ) د مالکي فقهې یو ستر عالم، اصولي او مؤلف و، چې په مصر کې زېږېدلی او لوی شوی و. هغه د فقه، اصولو، تفسیر او منطق په برخو کې ژور آثار پرېښي. له مشهورو آثارو یې "الذخیره"، "أنوار البروق" او "تنقیح الفصول" دي. القرافي د امام مالک د فقهې مهم مدافع او تشریح کوونکی و. (الأعلام للزرکلي (۱/ ٩٤)

[3]- القرافي ، شهاب الدین احمد بن ادریس القرافي، الاحکام في تمییز الفتاوی عن الأحکام وتصرفات القاضي والامام، دار الکتب العلمیة، ۱۹۹۵م، ط۲، ص۹۲.

[4]- نظرات في تقنین الفقه الاسلامي، ص۱۸۵.

[5] - د امام قاضي ابن سریج پیژندنه: قاضي ابن سُرَیج (وفات: ٣٠٦هـ) د شافعي فقهې یو ستر عالم و. د اصول الفقه او فروعو په خپرولو کې یې مهم رول درلود. د مناظرې او علمي بحث ماهر و، او د شافعي مذهب "دویم بنسټایښودونکی" بلل کېږي. ډېر متقي، زاهد او فصیح و. د هغه شاګردانو د ده علمي میراث ژوندی ساتلی. (الأعلام للزرکلي (۱/ ۱۸۵

قاضي وګمارل شو د حنفي مذهب په پلي کولو ملزم کړی شوی وو او هغه هم منلی وه[1]. امام شاطبي وايي: علماء په دې سره اتفاق کړی دی چې قاضي باید داسې یو کس وګمارل شي چې هغه مجتهد وي خو که حالت داسې وه چې مجتهد کس نه وو نو دې صورت کې دوه اختیاره دي:

لومړی دا چې هېڅ قاضي موجود نه وي او خلک په یو فوضوي حالت کې قرار ولري. چې دا په خپل ذات کې فساد او هرج دی.

دوهم دا چې یو کس په حیث د قاضي وګمارل شي په داسې توګه چې مجتهد به نه وي په دې معنی چې یواځې اجتهاد به له منځ لاړ شي اما ټولنه کې به امن او عدالت برقرار وي، د فساد مخه به نیول شوې وي[2]، چون دا یو مصلحتي نظر دی حجت الاسلام امام غزالي هم په همدې اند دی او وايي: کوم شرایط چې د قاضي لپاره علماء ایښي چې مطلق مجتهد باید اوسي اوس وخت کې یې شونتیا خورا ستونزمن کار دی نو په همدې اساس د دې لپاره چې د مسلمانانو چارې ستونزمنې نه شی او نه هم د وقوف سره مخ شي په دې اړه به یو کس چې مجتهد نه وي اما قضاء په مخ یوسي تر څو د چارو تعطیل رامنځ ته نه شي او دا یو غوره کار دی[3].

ابن طلاع المالکي [4]وايي: امام مالک به ویل چې کوم خصال او صفات چې د قاضي اړوند روایت شوي دي، فکر نه کړم حتی یو کس د هم په یادو صفاتو ملبس وموندل شي، فکر کړم کله چې یو کس کې علم او تقوا موجود اوسي یاد کس کولای شي قضاء په مخ یوسي[5]. ویل کیږي له سلطان علماء امام العز بن عبدالسلام [6] څخه د عصر د قاضیانو او هغوی کې د اجتهاد شروط موجودیت په اړه پوښتنه وشوه، هغه وویل چې هغه شروط د اوس عصر د قاضیانو په اړه نه دي. سره له دې چې دا یې شرط ګڼلی وو چې مقلد باید د اقوالو تر منځ ترجیح وکړی شي.

---

[1]- ابن أبي الدم، أدب القضاء، دار الكتب العلمية، ص۹۸،

[2]- الاعتصام،دار الكتب العلمية، ۲۰۰۰م، ج۳، ص۴۳.

[3]- الغزالي ، أبو حامد محمد بن محمد الغزالي، الوسيط فى المذهب، تحقيق: أحمد محمود ابراهيم-محمد محمد تامر، دار السلام-القاهرة، ط۱، ۱۹۹۷م، ج۷، ص۲۹۱.

[4]- د ابن طلاع المالکي لنډه پیژندنه: ابن طَلَاع المالكي (۳۵۲–۴۹۷هـ / ۹۶۳–۱۱۰۴م) د اندلس وتلی فقیه، محدث او قاضي و. بشپړ نوم یې أبو عبد الله محمد بن فرج بن طلاع المالكي و. د مالکي مذهب له مشهورو علماوو څخه و او د قرطبه د قضاوت منصب یې درلود. په حدیث، فقه، او ادب کې یې مهارت درلود. د ده له مهمو اثارو څخه "المُعْلِم بفوائد مسلم" دی. (*سير أعلام النبلاء*، ج۱۸، ص۱٤۲

[5]- القرطبي، محمد بن فرج القرطبي المالكي ابن الطلاع، أقضية رسول الله ﷺ ، دار احياء الكتب العربية، ۱۹۲۷م، ص۸۱.

[6]- د امام العز بن عبدالسلام لنډه پیژندنه: امام العز بن عبدالسلام (۵۴۸–۶۳۰هـ / ۱۱۵۳–۱۲۳۳م) د شافعي مذهب مشهور عالم، فقیه او قاضي و. نوم یې محمد بن عبدالسلام ابن عبدالسلام دی او د "سلطان العلماء" لقب یې درلود. د فقه، اصولو او حدیث په برخو کې ډېر مهارت درلود او د اسلامي شریعت په پیاوړي کولو کې مهم رول یې لوبولی دی. هغه د فتنو پر وړاندې کلک دریځ نیولی او د عدالت قوي ملاتړی و. (سير أعلام النبلاء، ج۱۳، ص۲۷۷)

امام قرافي وايي: که زمونږ د زماني قاضيان په اول عصر کې وی نو دوی به قضاء نه وی کړې او د دوی قضاء فسوق ګڼل کېږي، د دې وخت ښه خلک د هغه عصر له اراذلو سره برابر دي، او د اراذلو ولايت او قضاء فسق دی، البته دا د هغه په وخت کې اوس زمونږ په وخت کې خو دا معنی لا سخته ده که د شر او فساد دروازې له هر لوري وازې دي او د هغسې خلکو شتون په کامله معنی يو خيال دی[1].

مخکې بحث د مقلد د قضاء اړوند وشو، اوس د نومورړي د قضائي احکامو اړوند بحث کړو چې آيا مقلد قاضي مکلف دی د خپل مذهب پابندي وکړي او که کولای شي له هغه څخه بهر شي؟

کله چې يو مقلد او يا هم متبع قاضي وګمارل شي او امام يې په يو ټاکلي مذهب مقيد کړی نه وي، نو په دې صورت کې د خپل مذهب امام ارجح اقوالو په رڼا کې فيصله کړي.

ابن عبدالسلام الهواري المالکي[2]په دې اړوند وايي: اصل کې عدم لزوم دی، ځکه متقدمينو عوام خلک د يو عالم په متابعت نه مجبورول، او نه يې چا ته ويل چې له يو کس يې پوښتنه وکړه چې له بل کس پوښتنه مه کوه، اما د قاضي په اړه دا غوره خبره ده چې يو مذهب باندې پابند اوسي او له هغه څخه بل ته ميل ونه کړي ځکه دې کار سره به په ميلان متهم شي. اما عامه فقهاؤ دا اجازه ورکړې کله چې مقلد قاضي د امام له لوري په يو واحد مذهب متابعت مکلف شوی نه وي کولای شي له مذهب خارج شي په دې شرط چې د نظر خاوند وي او د اقوالو تر منځ د ترجيح کولو وړتيا ولري. شيخ الاسلام هم په دې اړه يادونه کړې چې که يو کس د خپل امام تابع وي او مکلف کړی يې نه وي مطلق متابعت او په ځنو مسائلو کې د امام مخالفت وکړي او له مذهب بيرون فيصله وکړي او داکار يې په قوي دليل استوار وي نو دا يو نېک کار دی. د يادولو وړ ده کله چې مقلد قاضي د امام له لوري د يو ځانګړي مذهب باندې ملزم شي نو په کار ده چې اطاعت او متابعت يې وکړي ولو که قاضي په هغه مذهب نه وي، او که چېرې خلاف د هغه څه چې امام ورته ويلي دي فيصله وکړي، حکم يې باطل دی. د احنافو په نزد دې کې هېڅ خلاف نشته دی، او اجازه يې ورکړې چې قضاء داسې يو څوک وکړي چې اهل د اجتهاد نه وي، مقلد وي ولو که ناپوه هم وي[3].

تقنين دوه امورو ته شامل دی:

١. الزام

---

[1] - القرافي ، شهاب الدين أحمد بن ادريس القرافي، الذخيرة، تحقيق: محمد حجي، دار الغرب الاسلامي-بيروت، ١٩٩۴م، ط١، ج١٠، ٢۴۶.

[2]- د ابن عبدالسلام الهواري المالکي لنډه پيژندنه: ابن عبدالسلام الهواري المالکي (تقريباً ۵٣۶–۶١١هـ / ١١۴١–١٢١۴م) د مالکي مذهب يو مشهور فقيه او عالم و. بشپړ نوم يې عبدالسلام بن محمد الهواري المالکي و. هغه په فقه، اصولو او تفسير کې تکړه و او په اندلس کې يې د مالکي مذهب علمي خپرونه پياوړې کړه. د عدالت او تقوی په لار يې کلک ټينګار کاوه او د خپل وخت له مخکښو علماوو ګڼل کېده. (سير أعلام النبلاء، ج١٣، ص٣١٠)

[3] - الماوردي ، أبو الحسن علي بن محمد بن حبيب الماوردي، الأحكام السلطانية والولايات الدينية، دار الفكر، ٢٠٠١م، ص٩٠.

۲. تدوین

او له یادو دوو امورو سربېره دقانون د صیاغت کړنلارې او شکلي امور مطرح کېږي، اما دا امور د تقنین اړوند اختلاف کې د پام وړ رول نه لري. تقنین کوم چې قاضي ملزم کوي تر څو په یو مدون او لیکل شوي قانون فیصله وکړي محل د خلاف دی، او په اړوند یې اوسني فقهاء په دوو ډلو وېشل شوي دي، موافقین او هغه کسان چې دوی د تقنین پلوي دي او غواړي چې تقنین وشي او دوهمه ډله مانعین دي چې دوی بیا د تقنین مخالف دي، لاندې بحث کې د هر یو دلیل او موقف مفصل ډول ذکر شوی دی.

## دویم مطلب

## تقنین د مؤیدینو اندونه او دلایل

د دې مخکې بحث چې د تقنین د معرفت اړوند پای ته ورسېد، اوس به د تقنین شرعي اړخ باندې رڼا واچوو. علماء د تقنین په اړه دوه مختلف نظریات لري: یو یې د تقنین پلوي کوي او بل یې د دې کار سره سرسخت مخالف دی او دا عمل د دین خلاف ګڼي.

اوس به د تقنین د مؤیدینو دلایل او حجتونه بیان کړو. د یادولو وړ ده چې د تقنین پلوي کوونکي په څو ډلو تقسیم شوي دي: لومړۍ ډله تقنین جائز ګڼي، چې دوی بیا خپل منځ کې په دوه نورو ډلو وېشل شوي دي. دوهمه ډله تقنین واجب بولي[1].

زموږ بحث به د ټولو نظریاتو او دلایلو په اړه وي. ځینې علماء چې د تقنین جواز ورکوي، په دې باور دي چې مقلد قاضي باید په یو ټاکلي مذهب باندې مکلف شي، سره له دې چې په اصل کې دا کار درست نه دی. اصل دا دی چې قاضي باید خپله اجتهاد وکړي، او مجتهد قاضي نه باید د یو واحد او ټاکلي مذهب پابند شي. مګر دا چې په اوسني عصر کې مجتهد قاضي نشته، نو د اړتیا له مخې جائز دی چې قاضي په یو ټاکلي مذهب مکلف شي. ځینې نور علماء د دې جواز په اساس د ضرورت نه، بلکې د ولی الأمر د امر په اساس ورکوي، چې د ولی الأمر امر اطاعت واجب دی، او د هغه سیاست د ټولنې او خلکو د مصلحت سره تړلی دی. ځینې نور بیا تقنین یواځې یو مباح امر ګڼي، چې یواځې د فقهي قواعدو شکلي تغییر دی چې قانوني قالب کې اچول شوي دي او د شریعت سره یې ټکر نه دی.

هغه علماء چې تقنین ته جواز ورکوي، دلیل یې دا دی چې دا عمل د ضرورت له مخې ترسره کېږي، نه د اختیار، د دې سره د خطا احتمال کمېږي. که ټول قاضیان مقلدین وي، نو د خطا احتمال خورا زیات دی، نو غوره ده چې د مخکینیو مجتهدینو اقوال تقنین او تطبیق شي، چې د خطا احتمال کم شي.

[1] - نظرات في تقنين الفقه الاسلامي، ص۲۳۹.

هغوی چې د تقنین جواز ورکوي دلایل به یې وروسته بیان شي، او ځنې نورو بیا تقنین جائز ګڼلی او دا یې یوائځې یو شکلي تغییر ګڼلی دی .

لکه څنګه چې مې مخکې یادونه وکړه یو ډله علماء په دې اند دي چې تقنین واجب دی، دلایل یې نفس هغه دلایل دي چې په جواز یې علماء وړاندې کړي دي خو دوی وجوب په دې قاعده باندې بنا کړی دی چې وايي: ما لا یتم الواحب الا به فهو واجب[1]. چون اوس عصر کې مجتهد نشته دی، د عدل اقامت او د شریعت تطبیق په تقنین سره په غوره توګه کېدلای شي نو په دې اساس تقنین واجب دی، که چېرې دې امر کې کوتاهي وشي نو د دې لامل ګرځي چې خلک وضعي قانون پلی کړي.

شیخ حسنین مخلوف [2] وايي: دا چې قاضي په دې مکلف شي تر څو هغه مدونه چې د فقهي مذاهبو څخه د کتاب، سنة، اجماع او قیاس په رڼا کې اخستل شوې او جوړ شوی دی او په قانوني ډول ترتیب شوی دی تر څو ټولنه کې عدل او انصاف قائم کړي او د قاضیانو لپاره له یوه لوري آسانتیا او له بل لوري د نوموړو لپاره د خطأ څخه د لرېوالي امکان زیات کېږي، نو اوس وخت کې شرعا دا غوره خبره ده چې د فقهي احکامو تقنین د قوانینو په شان تر سره او پلی شي[3].

هغه کسانو چې تقنین ته جواز ورکړی دی دلایل یې په لاندې ډول دي:

1- الله تعالی فرمایي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ[4]) ای ایمانوالو! اطاعت وکړئ الله ج څخه او اطاعت وکړئ د رسول (صلی الله علیه وسلم) څخه او هغه چې ستاسو کې د آمر یا رهبري مسؤلیت لري. دا آیت د اسلامي ټولنې د اصولو او قوانینو د تطبیق په اړه لارښوونه کوي، چې په هغې کې د الله، د رسول (صلی الله علیه وسلم) او د اهل مشرانو اطاعت اړین دی. امام رشید رضاء وايي: قرآن د دنیا سیاسي، قضائي او اداري امور خلکو ته پرېښي دي تر څو د علم او رأی خلک یې د ټولنې د مصلحت په پام کې نیولو سره اړوند تصمیم ونیسي[5]. الله تعالی فرمایي: ( وأمرهم شوری بینهم[6]) همدارنګه الله تعالی فرمایي: ( ولو ردوه الی الرسول و الی أولی الأمر منهم

---

1- الندوی ، علی أحمد الندوی، القواعد الفقهیة، دار ابن حزم، ۲۰۲۰م، ط۱۵، ص۱۰۶.

2 - د شیخ حسنین مخلوف لنډه پیژندنه: شیخ حسنین مخلوف (۱۸۷۵–۱۹۵۷م) د معاصر الجزایر یو مشهور اسلامي عالم، محدث او فقیه و. نوم یې حسنین بن عبد الله مخلوف و او په اسلامي علومو، خاصتاً حدیث او فقهي علومو کې یې ځانګړی مقام درلود. د اسلامي تعلیمي مرکزونو په تاسیس او د اهل سنت د فقهي فکر په خپرولو کې یې مهم رول لوبولی. هغه د خپلې ټولنې د اصلاح لپاره هلې ځلې کړې. (رجال العلم في الجزائر المعاصرة لمدم ناجی، ص۱۱۲)

3 - فی الصیاغة التشریعیة ص۱۲.

4- سورة النساء، ۵۹ آیة.

5 - شیخ محمد رشید رضا، تفسیر المنار، دار المعرفة للطباعة والنشر-بیروت، ۱۹۹۰م، ج ۵، ص۶۴-۶۵.

6 - سورة الشوري، ۳۸آیة.

لعلمه الذين يستنبطونه منهم[1]). يادو آيتونو څخه په ښکاره ډول څرګندېږي چې د أولی الأمر اطاعت واجب دی.

2- نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ حَقٌّ مَا لَمْ يُؤْمَرْ بِالْمَعْصِيَةِ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ" [2] ابن عمر رضي الله عنهما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت كوي چې ويلي يې دي: په خلكو باندي د امير خبره اوريدل او د هغي پيروي لازمه ده تر څو چې په ناورا باندي امر ونكړي، او كله چې په ناروا باندي امر وكړي نو بيا يې اطاعت لازم ندی. شهيد عبدالقادر عودة په دې اړوند وايي چې ولي الأمر حق د تشريع لري اما ياد حق يې مطلق نه دی بلكي د يو لړ قيودو سره دی. امام يا ولي الأمر په هېڅ ډول نه شي كولای داسې تشريع جوړ كړي چې د اسلامي فقهې د اصولو او قواعدو خلاف وي[3].

3- دا د شرعي يا قانوني قواعدو د وضع كولو لپاره يوه ښه وسيله ده، ځكه د قوانينو په جوړولو كې د قانون جوړوونكي ځانګړې مهارت او تخصص د دقيقو، مشخصو او ژورو قواعدو په رامنځته كولو كې مرسته كوي. دغه قواعد د عامه او خصوصي شرايطو په پام كې نيولو سره د متخصصينو په مرسته جوړېږي او د غوره حلونو د ازمويل كېدو وروسته تطبيق ته وړاندې كېږي. دا قواعد په واضحه اهدافو سره د تطبيق لپاره ټاكل كېږي، چې پايله يې د ټولنې ثبات او د خلكو ترمنځ د اړيكو د روغتيا ساتنه ده[4].

4- دا يوه اغېزمنه وسيله ده، ځكه د دې ځانګړتياوې د قواعدو په جوړولو كې اسانتيا، چټكتيا، او د اړتيا پر مهال د هغې د تعديل يا لغوه كولو وړتيا دي. دا د هغه قواعدو لپاره چې د اجتهاد پر بنسټ وي ځانګړې ګټه لري، او د دې ټولو پايله د قانون د انعطاف وړتيا ده، ترڅو په هر وخت او ځای كې د تطبيق وړ وي[5].

5- دا د قانون د يووالي وسيله ده، ځكه د عامې اداري لخوا جوړ شوی قانون د غوره غړو په انتخاب سره، د عامه نظر په رڼا كې رامنځته كېږي، چې د تېروتنو د اصلاح كولو وړتيا لري. دغه يوازيني قانون د هېواد په ټول نظام كې يووالي رامنځته كوي او د ټولنې د افرادو ترمنځ عدالت او مساوات تأمينوي.

6- كه اسلامي تاريخ ته په غور وګورو، نو ليدل كېږي چې ډېری هغه امورو چې د ټولنې او خلكو د مصلحت سره تړلي وو، په عمل كې راوړل شوي دي. د دې لپاره ځينې مثالونه شته، لكه: صحابه

---

1 - سورة النساء، ٨٣ آية.

2 - صحيح البخاري ، د حديث شمېره: ٢٨٥٦ (٤/ ٤٩)

3 - عبدالقادر عودة، التشريع الجنائي الاسلامي، دار الفكر العربي،ط١، ١٩٤٩م، ج١، ص٨٩-٩٤.

4 - الالفي ، محمد جبر الالفي، محاولات تقنين أحكام الفقه الاسلامي، ١٩٩٤م، ص١١٤.

5 - محاولات تقنين أحكام الفقه الاسلامي ، ص١١٤.

کرامو د قرآن کریم ټول آیتونه په یو واحد مصحف کې راټول کړل، چې د ټولنې د مصلحت لپاره یو مهم ګام وو همدارنګه د نبوي احادیثو تدوین هم د همدې مصلحت یوه برخه وه، چې د دین صحیح پوهه او عمل ته یې لاره هواره کړه. د فقهي تدوین هم د دې لپاره وشو چې اسلامي قوانین او احکام په منظم ډول او د خلکو د اړتیاوو سره سم ترتیب شي او د دې کار د ترسره کولو هدف دا و چې اسلامي شریعت په داسې ډول تطبیق شي چې د ټولنې د اړتیاوو او شرایطو سره سمون ولري[1]، البته د یادولو وړ ده چې په یو واحد او معین قول فیصله په اسلام کې د د صدر اول څخه را رواج وو. لیدل کیږي چې د عثمان رضی الله عنه په وخت کې د قرآن جمع کول په یو حرف سره او نورو قرآنونو سوزول د دې لپاره چې د مسلمانانو مصلحت په کې نغښتې وو او یو واحد قرآن په میراث پاتې شو او په پوره ډول یې د اختلاف مخه نیولې او په دې کې لوی خیر وو.

7- د قانوني احکامو په یوه ټولګه کې راټولول د هغو پېژندنه اسانه کوي، چې له دې څخه قاضیانو، دعوې کوونکو، د قانون په چارو بوختو کسانو، او حتی عامو خلکو ته لویه ګټه رسیږي. ځکه په دې توګه خلک د خپلو معاملاتو لپاره د تطبیقېدونکي قانون په اړه پوهیږي[2].

په ځانګړي ډول، کله چې د قانوني قواعدو شمېر زیات شي، که دا قواعد د دودونو او رواجونو له لارې رامنځته شوي وي یا د دولت د مداخلې له امله جوړ شوي وي. د ژوند د پېچلتیا او تنوع له کبله دولت اړ دی چې په ډېرو هغو برخو کې مداخله وکړي چې مخکې به یې نه کوله. دې زیاتېدو سره د قواعدو بشپړه پوهاوی ستونزمن کیږي، او د دوی ترمنځ د ټکر احتمال زیاتیږي.

8- یوازینۍ حل لار د قانون په تدوین کې ده، چې ټول قواعد په یو ځای کې تنظیم او ترتیب شي ترڅو د پېچلتیاوو او تناقضاتو مخه ونیول شي. که چېرې وکتلای شي په ښکاره ډول معلومیږي چې ټول قاضیان د دې وړتیا نه لري چې اجتهاد تر سره کړي آن تر دې چې اکثر خو حتی د دې وړتیا نه لري چې د موجوده فقهي احکامو احتوی ولري او هغه یې د زده وي نو واضح خبره ده چې احتمال د خطا خورا ډېر دی اما که چېرې تقنین تر سره شوی وي دې سره د قاضي لپاره خورا اساني ده او ضمنا د خطا احتمال هم کمیږي. همدارنګه اصل دا دی چې قاضي باید مجتهد وي او پخوانی قاضیان په همدې ډول وو، د وخت په تېرېدو سره مجتهدین کم شول فقهاء دا اجازه ورکړه چې مقلد هم کولای شي د عام مصلحت په بنسټ قضاء په مخ بوزي.

9- امام شاطبي وايي: علماء په دې سره متفق وو چې قاضي باید مجتهد وي خو که احیانا مجتهد نه وي یا عصر له مجتهدینو خالي شو نو دې صورت کې دوې خبرې دي: یا دا چې اصلا قضاء پرېښول شي نو

---

[1] - العطار ، عبدالناصر العطار، تطبيق الشريعة الاسلامية فى العالم الاسلامي، ص۴۶.

[2] - تقنين الفقه الاسلامي لمحمد زكي ص۲۳.

په واضح ډول دې سره ټولنه کې هرج مرج او فساد جوړېږي او دوهم دا چې يو کس قضاء په مخ بوزي ولو که مجتهد نه وي. د دې لپاره چې د مسلمانانو چارې په سم ډول مخکې لاړې شي علماء دې ته اجازه ورکړې مقلد قضاء په مخ بوزي[1].

۱۰- تقنين په اساس د مصالح مرسله جائز ګڼل کېږي، لکه څنګه چې د عثمان رضی الله عنه په وخت کې خلک په يو مصحف سره راټول شول[2] او همدارنګه د عمر بن عبدالعزيز په وخت کې نبوي حديث سره راټول شول، هېچا يې مخالفت نه دی کړی او په دې کې د خلکو اتحاد نغښتی دی او همدارنګه قاضيان کولای شي په اسانۍ رجوع ورته وکړی، او دې سره په عام ډول فقه تطور مومي.

۱۱- د اکثرو علماء خصوصا متأخرينو اجماع په دې سره ده چې که يو کس د اجتهاد شروط په کې متحقق وی نه بايد مجبور کړی شي تر څو د يو ټاکلي مذهب او تقنين مطابق فيصله وکړي اما که چېرې قاضي مقلد وي لکه څنګه چې اوس حال دی نو دې صورت کې قاضي په دې مکلف کول چې د يو ټاکلي مذهب په رڼا کې فيصله وکړي. هغه کسان چې فکر کړي بايد قاضي مجتهد اوسي، دې کې حقيقت کې لويه ستونزه ده او اوس عصر کې يې تحقق ناشونی دی نو په دې اساس همدا يوه چاره ده چې مقلد قاضيان مکلف شوی شي تر څو ياده دنده مخکې يوسي او له تقنين شوي قانون څخه چې يو علمي او معتبر مرجعيت له لوري ترتيب شوی وي فيصله وکړي[3].

۱۲- د يادولو وړ ده چې قاضيان په مثابت د وکيلانو د امام يا ولي الأمر دي، د هغه په اجازه ګمارل کېږي او وکيل د خپل موکل په شروط مقيد وي او په هېڅ ډول بايد ترې تجاوز و نه کړي. نو کله چې قاضي د ولی الأمر له لوري په يو ټاکلي مذهب سره فيصله کولو باندې مکلف شي واجب دی چې اطاعت يې وکړي. کله چې تقنين نه وي او قاضيان په خپل سره هر کس د يوې موضوع اړوند خپل اجتهاد تر سره کوي دوی حتما سره مختلفو پايلو ته رسېږي چې په دې سره فوضی او ورته قضاياء کې اختلاف رامنځ ته کېږي او آن ځنې کله د محاکمو تر منځ هم د يوې موضوع اړوند اختلاف سره رامنځ ته کېږي. چې په دې کار سره په قضائي ارګانونو باندې باور هم کمېږي يا حداقل هغه ځايګاه يې تر سوال لاندې راځي اما له بله اړخه که وګورو تقنين سره دا ستونزه بلکل حل ده ځکه هلته قانوني توګه ليکل شوي دي او يواځې قاضي يې آوروي او تطبيق کوي[4]. البته د يادولو وړ ده چې تقنين په حتمي ډول له عيب څخه خالي نه دی خو کوم مصالح چې کې نغښتي دي هغه يې له مفاسدو څخه ډېر دي نو په دې اساس

1- الموافقات في أصول الفقه ج۴، ص۲۰۷-۲۰۸.

2- الزركشي ، بدرالدين محمد بن عبدالله الزركشي، البرهان في علوم القرآن، دار المعرفة بيروت، تحقيق: محمد أبوالفضل ابراهيم، ج۴، ص۴۳۳-۴۳۵.

3 - الزرقاء مصطفى الزرقاء، المدخل الى الشريعة الاسلامية، دار القلم-دمشق، ج۱، ص۲۲۶-۲۲۸.

4 - الزحيلى ، وهبة الزحيلى، جهود تقنين الفقه، ص۲۸، دار الفكر دمشق، ۱۹۹۶م.

باید تر سره شي او بل که چېرې د اسلامي تاریخ په اوږدو کې ولیدل شي نو ښکاري چې تقنین عملي وو او قاضیان په یو واحد مذهب پلي کولو سره مجبور کړی شوي وو او آن تر اوسه په ځنې هېوادونو کې عمل پرې کېږي[1].

۱۳- د اسلامي شریعت تقنین جلب د مصلحت دی او دفع د مضرې، په دې معنی که له یوه لوري دقیق غور وکړو ښکاري چې یاد تقنین تقیید او مقید کولو په معنی دی خو له بل لوري بیا د قاضیانو هغه حقیقي حالت دا تقاضا کوي چې تقنین وشي ځکه چې اوس نه یواځې چې مجتهد قاضي نشته بلکي آن داسي کسان چې د اختیار او ترجیح پوهه ولري هم خورا کم دي نو په دې اساس غوره خبره ده چې تقنین وشي له یوه لوري به قاضیانو ته کار اسانه شي او له بل پلوه به ټولنه کې د اضطراب او تناقض مخنیوی شوی اوسي۲.

۱٤- شیخ الزرقاء وایي چې تر څو قانون خپل رول ادا کړي، نو باید لازمي وي، او د دې لپاره چې د اطاعت تضمین وکړي، اصلي شریعت ته یوه ځانګړې قسمه تقنیني احکامو ته اړتیا ده چې "تأییدات" بلل کېږي. دا تأییدات یا د مدني او جزایي بندیزونو په شکل کې وي، لکه د قراردادونو باطلول، یا د تعلیمي سزاګانو په شکل کې وي، لکه بندي کول او جریمې چې د تېروتنو لپاره د سزا په توګه ورکول کېږي، تر څو مکلف کس د اطاعت حدودو ته ځان اړ باسي۳.

۱۵- خلفاء راشدینو (رضوان الله علیهم) په ډېرو حالاتو کې د اختلافاتو په مسایلو کې یو ځانګړي قول ته ژمن وو، نو امر شوی کس باید هغه څه ومني چې ورته ویل شوي. که څه هم چې یو څوک اعتراض کوي، دا ټولې کړنې د دې ښکارندویي کوي چې دا اصل په هغوی کې منل شوی وو. د دې څخه ځینې مثالونه عبارت دي له: د ابو بکر صدیق (رضي الله عنه) د هغو کسانو په وړاندې جګړه چې زکات یې نه ورکولو، د عمر (رضي الله عنه) لخوا د عصر لمونځ وروسته خلک په لمونځ کولو وهل، د عثمان (رضي الله عنه) لخوا د ټول مصاحفو سوځول پرته ځانګړي مصحف څخه، او د ابن مسعود (رضي الله عنه) قول په اړه چې په مسأله د جد او ورورانو یې وویل: "موږ یواځې د خپل قضاوت پر اساس حکم کوو." عمر (رضي الله عنه) د جد لپاره شپږمه برخه ورکوله، خو عثمان (رضي الله عنه) هغه ته دریمه برخه ورکوله. همدارنګه، عمر رضي الله عنه دې حکم اړوند ابو موسی رضي الله عنه ته لیک ولېږه، لکه څنګه چې معاویه رضي الله عنه زیاد ته لیک ولېږه او هغه ته یې امر وکړ چې مسلمان ته

[1] - جهود تقنین الفقه ، ص۲۲۸.

[2] - نظرات في تقنین الفقه الاسلامي، ص۲۴۲.

[3] - المدخل الفقهي العام للزرقاء، ج۱، ص۲۸.

د کافر څخه میراث ورکړي، نو زیاد رضي الله عنه قاضي شریح رضي الله عنه ته امر وکړ چې دا حکم عملي کړي[1].

۱٦- د ځینو علماوو په نزد د جواز منع کول ښایي د فساد سبب وګرځي، او وېره ده چې د تقنین د نشتوالي په دوام کې داسې پایلې رامنځته شي چې د ستاینې وړ نه دي. تاریخ کې له دې څخه ډېرې عبرتونه شته، نو د شرعي احکامو د تدوین په لور اقدام کول اړین دی.

۱۷- تقنین هغه پلمې ختموي چې د قضا له اداري اړخ څخه د جلا محکمو د جوړېدو لپاره توجیه ګرځېدلې وې، لکه د تجارتي شخړو د هواري محکمې او نورې ورته ادارې. دې حالت د قضايي یووالي په ماتېدو، د شرعي محکمو د صلاحیت په کمېدو، او د تقنیني او قضايي دوه‌ګونو پایلو په ښکاره کېدو کې خپل اغېز ښودلی دی.

۱۸- که څه هم تقنین له زیانونو او منفي اړخونو خالي نه دی، خو عامه ګټې چې تقنین یې تأمینوي او ټولنې ته یې راوړي، د پام وړ دي. پر پنځه ضروري اړتیاوو د پاملرنې، ساتنې او حفاظت لپاره هڅې، دې ته لاره برابروي چې له دې نیوکو تېر شئ، د دې قاعدې د تطبیق په پار چې وايي: کله چې دوه ضررونه سره مخ شي، هغه چې زیاته ضرر رسوي، مخنیوی یې د کمه ضرر په منلو سره کېږي[2].

۱۹-نوې پېښې د یوه شرعي حکم اړتیا لري چې په تقنین کې یې څرګندونه وشي، او د دې پرېښودل چې قاضیان پرې اجتهاد وکړي، له حکمت څخه نه دی، ځکه هغوی په ډېرو چارو بوخت دي او د دې لپاره وخت نه لري چې هر نوې پېښه وڅېړي او تفصیل یې ومومي. په ځانګړي ډول د ژوند پرمختګ او چټکتیا، او د نوو پېښو زیاتوالی، لکه د بانکداری معاملې، د قراردادیانو موضوعات، د تېندو مناقصاتو مسایل، د جریمې شرایط، او د وارداتو او صادراتو او بیمې په مختلفو اړخونو کې شته ستونزې. اکثر قاضیان د دې توان نه لري چې د دې ډول پېښو د شخړو په اړه د حکم صادرولو لپاره اړین احکام ومومي، او دا د دې سبب شوی چې د نورو محکمو د جوړېدو اړتیا پېښه شي، چې د شرعي محکمو له اداري څانګې څخه جلا او خپلواکه اداره ولري. له دې سره، داسې محکمې رامنځته شوي چې په کې قانوني قاضیان د شرعي قاضیانو ترڅنګ دندې ترسره کوي، لکه د تجارتي شخړو د حل محکمې.

۲۰- د شریعت د احکامو نه تقنین به دې ته لار هواره کړي چې د دولت د چارو د تنظیم لپاره به له بهرنیو قوانینو استفاده وشي، او دا یوه لویه ستونزه ده چې د فقهې په تقنین سره مخنیوی کېدای شي. د دې پرېښودل زیان اړوي، نو د اسلامي تقنین عملي کول د دې لپاره غوره ده چې له نورو قوانینو څخه د ګټې اخیستنې لار وتړل شي. دا د شریعت د تطبیق یوه وسیله ده او د هغو کسانو پر وړاندې د یو خنډ

---

1 - نظرات في تقنين الفقه الاسلامي، ص۲۴۵.

2 - جهود تقنين الفقه، ص۲۸.

په توګه کار کوي چې د وضعي قوانينو د تحکيم غوښتنه کوي، په دې ادعا چې شريعت د تطبيق لپاره مناسب نه دی[1]. حجوي وايي: "دغه ډول احکام نن ورځ پلي کېږي، که فقيهان پرې خوښ وي يا نه وي. نو که موږ ورته يو معقول چوکاټ جوړ کړو او د شريعت په نوم يې پلی کړو، دا غوره ده له دې چې بې ګټې سخت دريځ خپل کړو چې يواځې د انزوا، د اسلام د حيثيت د غورځېدو، او د هغه د احکامو د بشپړ رد پايله به ولري... نو ستاسو د وخت حالات وڅېړئ – خدای مو وبښي – ځکه ستاسو په وس کې نه دي چې نړۍ د خپلې ارادې له مخې وچلوئ. علماء بايد په هغو مسايلو کې چې له هغو پرته د ټولنيز ژوند دوام ممکن نه دی، پر امت يا دولت سختي ونه کړي... که قاضي د يوه زيان د مخنيوي يا د فتنې د وېرې يا د کوم بل ګټور مقصد لپاره پر ضعيف حکم وکړي، نو امام په دې کې لومړيتوب لري، ځکه قاضي د هغه استازی دی، خو دا بايد بې پامي ونه شي[2].

۲۱- د تقنين عملي کول د واکمنو لپاره اسانه کېږي د دې پر بنسټ چې فقيهان د سياست شرعي اصولو مطابق د هغو ګټو په رڼا کې چې د شريعت له قواعدو سره په ټکر کې نه وي، د عمل کولو اجازې ورکوي[3].

۲۲- د يو اسلامي قانون اړتيا شتون لري ترڅو د حقوقي مقايسوي مطالعاتو اسانتيا رامنځته کړي، د دې له لارې اسلامي شريعت په علمي مرکزونو او مجلو کې په ښه ډول وړاندې کېږي او نظريات يې څېړل کېږي. دغه راز، دا د نړيوالو حقوقي کنفرانسونو ګډونوالو ته د هغو موضوعاتو په اړه چې دوی څېړي د شريعت نظر وړاندې کوي، او د هغه وړانديزونو ملاتړ کوي، ترڅو د قانوني مکتبونو او ميتودونو په ډګر کې د شريعت د زياتېدو لپاره لاره هواره شي.

## درېيم مطلب

## تقنين د مانعينو اندونه او دلايل

د تقنين د مانعينو دلايل او سببونه په لاندې ډول دي:

۱. د قرآن کريم آيتونه په مجمل ډول په عدل او قسط سره د حکم کولو امر کوي او له جور او ظلم څخه مخنيوی کوي، الله تعالی فرمايي: ( انا أنزلنا اليک الکتب بالحق لتحکم بين الناس بما أراک الله ولا تکن للخائنين خصيما[4]) او همدارنګه په بل مبارک آيت کې فرمايي: ( يداود انا جعلنک خليفة فی الأرض فاحکم بين الناس بالحق ولا تتبع الهوی فيضلک عن سبيل الله ان الذين يضلون عن سبيل الله لهم عذاب

1 - تطبيق الشريعة الاسلامية فی العالم الاسلامي ، ص۴۹.

2 - الثعالبي ، محمد بن الحسن الحجوي الثعالبي، الفکر السامي في تاريخ الفقه الاسلامي، دار الکتب العلمية، ۱۹۲۷م، ج۲، ص۴۲۰.

3 - تقنين الفقه الاسلامي، ص۶۲-۷۱.

4 - سورة النساء، ۱۰۵ آية.

شدید بما نسوا یوم الحساب[1]). عدل دې ته ویل کېږي کوم چې قاضي وروسته له ډېر فکر او تأمل څخه په یو شرعي امر د خپل اجتهاد او ترجیح د دلایلو په نتیجه کې ورته رسېږي ځکه قاضي ملزم دی د خپل اجتهاد په نتیجه کې فیصله وکړي او په دې سره اجماع ده[2]. د یادولو وړ ده چې مخکینی آیتونه په دې سره امر کوي چې حکم بما أنزل الله وشي او پرته له شکه چې هغه حق دی. او حق د علماء په راجح اقوالو سره نه پېژندل کېږي ځکه چې د علماء اقوال یوائې علماء نظر دي په داسې حال کې چې په نورو قضاة باندې ملزم کېدی نه شي. د یادولو وړ ده چې یاد اعتراض د جمهورو په نزد مجتهد قاضي ته متوجه دی نه مقلد.

٢. الله تعالی فرمایي: ( وما اختلفتم فیه من شی فحکمه ال الله[3])، همدارنګه الله تعالی فرمایي: فان تنازعتم فی شی فردوه الی الله والرسول[4]) د یادو دواړو آیتونو وجه داستدلال دا ده چې واجب او حتمي خبره دا ده چې حکم د الله تعالی په کلام سره وشي او د الله تعالی تعالی حکم په کوم ټاکلي مذهب او رایه کې نه دی نغښتی. مخکې ذکر شوي استدلال ته په لاندې ډول ځواب ویلی شي چې یاد آیتونه عام دي او په موضع الزام کې نه دي، او دا ستونزمنه خبره ده څه چې علماء راجح اقوال ګڼي هغه د د حق خلاف اوسي، او یا دا چې کله د علماء قول ته رجوع وکړو په دې معنی چې غیر کتاب او سنة ته مو رجوع کړې په داسې حال کې چې یادو علماء هم له کتاب اوسنت څخه اخذ کړی دی.

٣. په نبوي احادیثو کې هم د تقنین اړوند ذکر شوی دی په حدیث مبارک کې راځي له بریدة الأسلمي څخه روایت دی چې نبی کریم ﷺ فرمایلي دي: عن ابن بُریدةَ عن أبیه، عن النبي - صلَّی الله علیه وسلم - قال: "القُضاةُ ثلاثة: واحِدٌ في الجنة، واثنان في النار، فأما الذي في الجنة فرجلٌ عَرفَ الحقَّ فقَضَی به، ورَجُلٌ عرف الحقَّ فجار في الحکم، فهو في النار، ورَجُلٌ قضی للنَّاس علی جهلٍ، فهو في النار"[5]ابو بریدة د خپل پلار څخه او هغه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: قاضیان پر دري ډوله دي، یو ډول یې په جنت کې او دوه نور ډولونه یې په اور کې دي: هر چې د جنت څښتن دی نو هغه دی چې حق پیژني او په حقه فیصله کوي، او کوم یو چې په قضا کې ظلم کوي او یا په ناپوهی سره فیصلي کوي نو په اور کې دي.

---

1- سورة ص، ٢٦آیة.

2 - البسام ، عبدالله بن عبدالرحمن البسام، تقنین الشریعة: اضراره و مفاسده، دار الثقافة-مکة المکرمة، ١٩٦٠م، ص٩.

3 - سورة الشوری، ١٠ آیة.

4 - سورة النساء، ٥٩آیة.

5- السجستاني، أبو داواد سلیمان بن الأشعث السجستاني، سنن أبی داود، دار الرسالة العالمیة، ط١، ٢٠٠٩م، حدیث رقم (٣٥٧٣)، (٥/ ٤٢٦)/ دحدیث حکم: صحیح حدیث دی، پدی اړه شعیب الأرنؤوط لیکلي: حدیث صحیح ، (سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٥/ ٤٢٦)

وجه استدلال يې دا دی چې هغه حکم چې له ګناه څخه خالي دی عبارت له هغه حکم څخه دی قاضي په فکر هغه حق وي، البته ډېر کله تدوين شوی راجح قول ممکن د قاضي په اند راجح نه وي چې په دې صورت کې که نوموړی د خپل اجتهاد خلاف فيصله کړي ګنهګارېږي او دا امر د دې لامل کېږي چې نه بايد قاضي په تقنين باندې ملزم شي. ياد استدلال ته هم د تېر استدلال په شان ځواب ويل کېدی شي.

٤. اجماع هم په دې سره ده چې قاضي نه بايد ملزم او مکلف شي د يو واحد مذهب په متابعت او پلي کولو سره، ابن قدامة وايي: قاضي په دې سره مکلف کول چې د يو واحد مذهب په رڼا کې فيصله وکړي ، جواز نه لري، او دا امام شافعي مذهب دی او دې کې هېڅ خلاف نشته دی[1].

د دې په ځواب کې ويل کېږي چې ياده اجماع د مجتهد قاضي په حق کې ده اما د مقلد قاضي په اړه صدق نه کړي، ځکه جمهور متأخرين د دې خلاف نظر لري، البته د يادولو وړ ده که چېرې ټول قاضيان مجتهدين وي نو په دې صورت کې نه بايد ملزم شي بلکې پرېښودل شي قاضي خپل اجتهاد تر سره کړي، خو چون دا امر ممکن نه دی اوس عصر کې نو په دې اساس سره دا غوره خبره ده چې قاضيان په يو واحد قول سره ملزم شي او دې کې به هېڅ ستونزه هم نه رامنځ ته کېږي.

٥. قانون د ژبې په څېر دی، چې د هغې چاپېريال سره نږدې تړاو لري چې په کې منځته راځي. قانون بايد د ټولنې د پرمختګ سره سم وده وکړي. که قانون په يوې ټولګې کې محدود شي او په جامد چوکاټ کې واچول شي، نو حرکت يې فلج کېږي او له پرمختګ څخه پاتې کېږي، ځکه د ټولنې اړتياوې وخت په وخت بدلېږي.

٦. د تقنين په ليکلې بڼه کېدل ممکن د عدالت لپاره زيانمن وي، ځکه دا به قاضي د يوه جامد قانون مخې ته ودروي چې په ورته وخت کې نيمګړی دی. قانون نه شي کولی ټولې احتمالي قضيې په خپل دايره کې راونغاړي. د وخت په تېرېدو سره به داسې نوې پېښې مخې ته راشي چې د قانون جوړونکي په ذهن کې نه وې. دا حالت به د اوړدې مودې لپاره د قانون د زوکړې له وخت سره واټن پيدا کړي او د قاضيانو د واک پراخېدو سبب به شي.

٧. د اجتهاد حرکت بندول: کله چې قاضي يا فقيه د يو متحد قانون مخې ته ودرېږي، نو هغه د دغه قانون په چوکاټ کې محدود کېږي. په داسې حال کې د اجتهاد لپاره هېڅ ځای نه پاتې کېږي، چې د فکري او تشريعي نوښت مخه نيسي. په پايله کې، د ژوند بدلېدونکي اړتياوې او نوې معاملې به له ځواب پرته پاتې شي.

---

[1]- بن قدامة ، موفق الدين عبدالله بن أحمد بن قدامة بن قدامة المقدسي، المغنى، عدد الأجزاء ١٥، دار عالم الكتب للطباعة والنشر والتوزيع- الرياض-اللمملكة العربية السعودية، ط٣، ١٩٩٧م، محقق: دوكتور عبدالله بن عبد المحسن التركي والدكتور عبدالفتاح محمد الحلو، ج١۴، ص٩١.

۸. په یوه نظر ځان محدودول: عامه مقوله ده چې د ائمه‌وو اختلاف د امت لپاره رحمت دی. د قانون د یووالي په حالت کې، هر څوک به یواځې په یوه نظر مجبور وي، چې د فقهي د تنوع او انعطاف ورتیا مخه نیسي.

۹. ځینې کسان د "قانون" او "تقنین" له کلمو سره کرکه لري، ځکه چې دوی باور لري چې دا کلیمې د اسلامي شریعت د احکامو په پلي کېدو کې خنډ جوړوي او وضعي قوانین یې ځای نیسي. حتی ځینې خلک د قانون او تقنین کلماتو استعمال باندې بندیز هم لګولی دی، لکه څنګه چې په سعودي عربستان کې د "قانون" کلمې په ځای د "نظام" لفظ کارول کیږي. په حقیقت کې، د قانون د کلیمې په استعمال باندې اعتراض یو لفظي اعتراض دی. په مختلفو عربي او اسلامي هېوادونو کې د قانون لپاره بېلابېل الفاظ لکه "مسطرة"، "مجلة"، "مدونة"، او نور کارول شوي دي، او په دې کې کومه ستونزه نشته. دا خبره صحیح ده چې په معاصر وخت کې د "قانون" کلمه په پراخه توګه کارول شوې ده او ممکن اسلامي شریعت ته یې زیان رسولی وي، خو په اسلامي شریعت کې د دې تحول مسوولیت یواځې د قانون کلمه او قانون پوهانو باندې نه دی. په اصل کې، لومړی ګام کې یې مسوولیت د اسلامي نړۍ د حکامو او مشرانو دی چې دوی فکر کاوه چې د غربي تمدن ته د رسېدو یواځینۍ لاره د هغوی د قوانینو پلي کول دي. دې کار سره اسلامي شریعت د خپلې منزلې شاته کړای شو، او په دې مسأله کې د قانون کلمه او قانون پوهانو څه تقصیر نه دی[1].

د اعتراض په ځواب کې، باید وویل شي چې "قانون" یو نسبي لفظ دی، لکه "فقه" او "تشریع". هر لفظ د هغه اضافت له مخې چې ورته کیږي، ځانګړې معنی پیدا کوي. کله چې "قانون" د بشري احکامو سره تړل کیږي، نو وضعي قانون ګڼل کیږي، او کله چې د شریعت او اسلامي فقهې سره تړل کیږي، نو شرعي قانون یا اسلامي قانون ګڼل کیږي[2]. د تقنین مخالفت د قانون لفظ سره د کرکې له کبله دی، یا د ځینو نورو دلایلو له مخې، دا ممکنه ده چې د دې ډول اعتراضات قوت کم وي. عبدالرحمن القاسم[3] وایي چې "قانون داسې یو لفظ دی چې ځینې له مونږ ترې ډارېږي، ځینې نور بیا ترې تېښتي، او ځینې نور بیا په مطلق ډول د یاد لفظ منکر دی" دا مطلب دی چې د قانون لفظ نه یواځې د معنی په برخه کې اختلاف لري، بلکې په کارونې کې یې هم مختلف نظرونه شته. عبدالرحمن القاسم په دې اړه د دې ټکي ملاتړ کوي چې قانون په اصل کې د نظام، لائحة، او عمومي اوامرو سیستم دی. د قانون لفظ یا مفاهیم ممکنه ده چې د فردی تجربو، فرهنګي نظریاتو، او نورو عناصرو له مخې متنوع تعبیر شي، مګر د

---

1 - نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي، ص۲۰۱.

2 - نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي ، ص۲۰۱.

3 - الاسلام و تقنین الأحکام ، ص۱۸۴.

قانون په اصل کې یو ډول تنظیم شوي قواعد او اصول شامل دي چې د ټولنیز نظم د ټینګولو لپاره کارول کیږي.

نو، که څه هم د قانون لفظ ته د کرکې، یا د نورو دلایلو له مخې اعتراض شته، دا باید په دقت سره وکتل شي. که د قانون په مفهوم کې درک وکړو چې دا یواځې د قواعدو او نظام په معنی دی، نو د دې لفظ سره مخالفت باید په علمي او منطقي توګه تحلیل شي، نه یواځې د احساساتو او نظریاتو پر بنسټ.

۱۰. کله چې تقنین په یو واحد مذهب کې تر سره شي دا په دې معنی ده چې حق یواځې په همدې مذهب کې نغښتی دی او بس په داسې حال کې چې حق نه یواځې په یو قول او نه هم په یو واحد مذهب کې سره راټول شوی دی.

یاد اعتراض ته په لاندې ډول ځواب ویل شوی دی: تقیید له پخوا وه او موجود دی یاد اعتراض به هله درست وی چې تقنین په یو واحد مذهب باندې بنا شوی وی په داسې حال کې اکثر د تقنین غوښتونکو فکر دا دی چې تقنین باید د معتبرو مذاهبو په راجح اقوالو سره بنا شي.

۱۱. تقنین د دې لامل کیږي چې علماء شرعي أحکام د دیني نصوصو په رڼا کې ونه ګوري، د قرآن او سنت څخه یې راونه باسي بلکې د یو لیکلی شوي قواعدو څخه فیصله وکړي چې په دې کار سره شرعي نصوص یواځې یو تاریخي مصدر د اسلامي قانون جوړیږي. او په دې کار سره پاک او تقواداره علماء ځوریږي او د تقنین مخالفت تر سره کوي خاصة کله چې مقنن أحکام الله تعالی ته نسبت کړي او ممکن دی په ځینو حالاتو کې یې مصدر شرعي نه وي بلکې د شرعي نصوص سره په ټکر کې وي او یا هم غیر راجح قول یې را اخستی وي[1].

یاد امر ته په داسې توګه ځواب ویلی شي چې تقنین یواځې شرعي نص په واقع باندې پلی کوي او بس د دې سربېره بل څه نه دي، د تقنین مؤیدین د تقنین جمود نه مني بلکې په دې فکر دی چې تل باید فکر کې وشي او د عصر سره سم تجدید شي البته یاد تجدید شرعي قطعي احکامو ته شامل نه دی ځکه هغه ثوابت دي او په هېڅ صورت هغو کې څه تبدیل نه شي راتلي بلکې د ټولو عصرونو او ټولو ټولنو لپاره همدا یو قانون دی او همدا به پلی کیږي، همدارنګه د تقنین مؤیدین په دې اند دي چې په هېڅ ډول نه باید تقنین د شرعي نص خلاف وي او په اجتهادیاتو کې ترجیح هغه قول ته ورکول کیږي چې دلیل یې قوي وي، او دا خبره چې قرآن کریم او نبوي حدیث به یواځې یو تاریخي مصدر د قانون وي یواځې یو مستشرق کولای شي بل هېڅوک داسې خبر نه شي کولای لکه کولسون[2] چې ویلي یې دي چې د

[1] - تاریخ الفقه الاسلامی للأشقر ص۲۰۲.

[2] - کولسون د مشهور مستشرق حوسیف شاخت شاګرد دی، هغه اسلامي شریعت ته یو تاریخي نظر لري او د نبوي احادیثو منکر دی، فکر یې کاوه چې دا ټول په نبي کریم ﷺ پسې تړل شوي دي، البته د یادولو وړ ده چې کولسون د خپل استاد سره موافق نه وو او قوي مناظرات

شریعت په تطبیق کې باید اصول فقه او د فقهاء اجتهادات له پامه وغورځول شي کوم چې په دې سره ډېر کم څه پاتې کېږي، نوموړی په دې اند دی چې فقه په شان د بل هر بشري قانون د ټولنې سره ځان برابروي او ورسره جوړه وده کوي او دا ټول څه باید د قرآن په رڼا کې تر سره شي او په ټوله معنی باید کوښښ وشي چې د فقهاء د اجتهادات او فقهي ضوابطو څخه لرېوالی وشي، مثلا نوموړی وايي: دا چې امام شافعي خپل کتاب الرسالة ولیکه دې سره یې د اجتهاد دروازه بنده کړه او دا د دې لامل شو چې فقه نضج او پوخوالي ته و نه رسېږي او د ودې مخه یې ونیوله ویې نه شوی کړي چې د ټولنې سره یو ځای پرمختګ او وده وکړي او د خلکو غوښتنو ته شرعي حل وموميي ، یا په بل عبارت نوموړی وايي چې شرعي نهضت هغه مهال را منځ ته کېدلای شي چې أصول شرعي له منځ یوړل شي او په دې سره فقه ته مجال د اجتهاد او له عصر سره د مواکبت لاره پرانستل کېږي په داسي حال کې چې دا یو پوچ او بې مفهوم نظر دی آن هغه کسان چې د تقنین پلوي دي هغوی هم د دې نظر مخالف دي[1].

۱۲. امام مالک د ابن المقفع هغه طرحه رد کړه چې خلیفه منصـــــور ته یې ورکړې وه، یو واحد مذهب د تدوین شوی شي او هغه د پلی کړي او همدارنګه د خلیفه رشید غوښتنه یې ونه منله او په دې سره د سعودي د علماء ټولنې دا قرار نیولی وو چې تدوین نه باید وشي ځکه د یاد امر په رڼا کې لیدل کېږي چې امام مالک د تدوین پلوی نه وو، خو حقیقت د امر دا دی چې کله امام مالک ته دا خبره وشـوه، نوموړي موطأ تدوین کړه اما دا چې یوائې موطأ د په خلکو جبري تطبیق شــي د دې پلوی نه وو.

۱۳. په دې اړه شیخ أبو زهرة وايي: ( دا چې امام مالک د دواړو خلیفه ګانو غوښتنه رد کړه سبب یې دا نـه وو چې نوموړي د تدوین مخالف وو بلکي لامل یې دا وو چې نوموړي وېره درلوده چې داسې نه شي قول یې مخالف د سنت وي او یا هم زما د قول په اساس په خلکو سختی راشي، اما د دې امر مخالف نه وو چې محتهد قاضي د د خپل مذهب خلاف فیصله وکړي).

بله خبره دا ده چې دې سره استدلال درست نه دی ولې ځکه چې خلیفه منصور د تقنین په لټه کې نه وو بلکي هغه یوائې غوښتل چې یو واحد فقهي منهج په خلکو تطبیق کړي تر څو له یوه لوري کار اسانه شوی وي او له بل لوري د ډېرو مخالفتونو مخه نیول شوې وي. دا چې ډېری فقهاء د تدوین مخالف دي سبب یې دا دی چې اجتهاد په اسلامي شریعت کې یو اصل دی، په تدوین سره یاد فصل په ټوله معنی سره بندېږي، نه به مخالف مذهب او رأیه وي او نه به بل فکر وي بلکي خلک به ټول د

یې سره درلودل خاصة په مسئله د د دې کې چې نوموړي اسلامي شریعت ته یوائې یو تاریخي نظر درلوده او کولسون د دې امر سرسخت خلاف وه.

[1] - نظرات في تقنين الفقه الاسلامي، ص۲۱۳.

همدې يو واحد مذهب تابعداره وي. دوی زياتوي چې که چېرې دا ښه کار وی نو پخوانيو به تر سره کړی وی او هغوی هر نېک کار کې مخکښوالی کولو، د دې په ځواب کې ويلی شي چې دا چې هغوی دا کار نه دی تر سره کړی دا دليل خو نه دی چې ياد کار ناروا دی بلکې بې له دليل يې پرېښی دی، نو دا چې ترک غير المستند دليل نه دی نو عدم الفعل په وجه اولی دليل نه شي کېدای.

١٤. تقنين په عام ډول په فقه او په خاص ډول په قضاء تأثير خورا تاثير کړی دی ځکه د فقهي ثروة د تعطيل لامل ګرځي ځکه دې کار سره به قاضيان يواځې د قوانينو سره سرکار وي او د فقهي کتابونو څخه به فاصله ونيسي، اجتهاد ودرېږي او فکري نشاط له منځه خي تر څو د ورځني ژوند پرمختګ لپاره حل لارې ومومي.

دې ته په ځواب کې ويلی شي چې تقنين قاضيان له اجتهاد څخه نه منع کوي ځکه د فقهي تدوين د اجتهاد مانع نه ګرځي دا چې ژوند کې نوي امور واقع کېږي دا امر مجتهد قاضي ته د دې مجال ورکوي تر څو نوي احکام د شرعي اصولو په رڼا کې استنباط کړي

١٥. تقنين د دې لامل ګرځي چې اسلامي شريعت لغوه شي او دا چې ځنې هېوادونو د مذهب راجح اقوال ليکلي دي او بيا يې په محاکمو کې د هغه تطبيق لازمي کړي دي او د اسلامي شريعت أحکام لغوه کړي دی نو کولای شو ووايو چې تقنين د دې لامل ګرځي چې حکومتونه په اسلامي شريعت څخه عبث جوړ کړي او پوره ورته پابند نه اوسي او په تدريجي ډول يې پرېږدي[1].

په حقيقت کې دا امر مردود دی ځکه داسې هېوادونو دين يواځې په قضائي مجال کې نه دی پرېښي بلکې دين يې د ژوند په ټولو مجالاتو کې شاته پرېښی دی، دا علماني هېوادونه دي لکه ترکيه او مصر، دا په ټوله معنی سياسي تغيير دی، حتی ډېری داسې اسلامي هېوادونه هم شته چې فقهي احکام يې اصلا تقنين کړی نه وو اما بيا يې اسلامي شريعت پرېښود او اروپايي او غربي قوانينو ته يې مخه کړې نو تقنين د ياد امر يواځينی لامل نه دی بلکې دا امر د اسلامي شريعت د حفظ لامل دی[2]. په دې اړوند شهيد عبدالقادر عودة وايي: له تاريخي پلوه غربي قوانين مصر ته د خديوي اسماعيل په وخت کې را نقل شوي دي نوموړې غوښتل چې مصر کې د مذاهبو په رڼا کې يو قانون جوړ کړي او په دې اړوند يې د الأزهر الشريف څخه غوښتنه کړې وه چې داسې مجموعه جوړه کړي خو د ازهر علماء يې غوښتنه و نه منله په دې دليل چې دې امر کې مذهبي تعصب ممکن وشي چې ازهر له دې امر څخه پوره ځان لرې ساتي، نوموړی زياتوي زما په فکر په ډېری اسلامي هېوادونو کې واکمنان او د دولتونو مشران نه غواړي د اسلامي شريعت څخه سرغړونه وکړي مګر قوانين سربېره په هغو هم مخالف

[1] - نظرات في تقنين الفقه الاسلامي، ص٢١٩.

[2]- البشري، طارق البشري، الوضع القانوني المعاصر بين الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي، دار الشروق، ط١-١٩٩٦م، ص١۶.

راځي ممکن راز يې په دې کې وي چې قانون پوهان او قانون جوړوونکي اکثريت غربيان او اروپايان دي چې له شريعت سره هېڅ صلة نه لري او يا هم مسلمانان دي چې قوانين يې لوستي دي او دين يې نه دی لوستی.

او دا اساسي ستونزه ده، چې فقهاء له قانوني ميدان څخه لرې پاتې شوې دي او يا يې ځان لرې کړی دی چې دا د دې لامل شو چې کورني قانون پوهانو ته فرصت برابر شو تر څو هغه څه يې چې غرب کې زده کړي وو هغه راوړي او خپله شرقي او يا هم اسلامي ټولنه کې يې پلي کړي.

په دې اړوند د پخواني شيخ الأزهر عبدالحليم محمود خبره د يادولو وړ ده چې وايي[1]: دا ډېره بده خبره ده چې يو کس ووايي چې چېرې اسلامي قانون چې په هغه فيصله وشي؟ اسلامي قانون د اسلامي فقهې په کتابونو کې دی، او د فقهې کتابونه په عربي ژبه دي، خو استعمار د دې لامل شو چې يو عربي ځوان چې د حقوق له پوهنځۍ څخه فارغ وي يو تشريعي کتاب په عربي ژبه نه شي لوستلای، او نه پرې پوهېږي او تر دې لا جالبه دا ده چې پوهنځۍ اونۍ کې شل درسي ساعته غربي قانون او يواځې دوه درسي ساعته کې فقهي او شرعي درس ته ځانګړي کړي دي، آيا فکر مو کړی دی چې حتی په فرنسا کې به پوهنتون له دې ډېر وکړي، يعنې حتی هلته هم اونۍ کې دوه ساعته ديني درس ورکړي او دا پوهنځې د تشريعي وروستوالي اصلي لامل دی او اسلامي امت ځوانان يې مجبور کړي قانوني امورو کې د غرب تر لمن لمن لاندې ځان ته حل لارې ومومي

اسلامي قانون پوهانو هم يوه تېروتنه وکړه هغه دا چې دوی د غربي قانون څخه په تأثر په شرق کې د قانون جوړونې په لور قدم کېښود په داسې يو فکر چې ديني امور تر ملايانو پورې تړاو لري او مونږ يواځې قانون او قانوني امورو ته مسول يو په داسې حال کې چې قانون په هېڅ صورت د اسلامي فقهې او ديني ارشاداتو څخه مستغني کېدلای نه شي.

١٦. يو د اساسي مبرراتو د تقنين دا دی چې تقنين خلاف له منځ وړي خو حقيقت دا دی چې خلاف لا هم په خپل ځای قايم پاتې کېږي او په تقنين کې هم موجود وي او د ا امر د هغو هېوادونو له تجربو څخه ثابت دی چې دوی تقنين تر سره کړی دی اما بيا هم د نصوص په تفسير کې يې قاضيان اختلاف سره لري.

١٧. که چېرې د قاضيانو مستوی او قدرت د استيعاب په مختلفو مسائلو سره توپير ولري په کار ده چې په قاضيانو باندې کار وشي او هغوی لپاره کورسونه او سيمينارونه داير شي تر څو مستوی يې لوړه شي او وکولای شي مسائل په غوره ډول درک کړي د دې په ځای چې د اسلامي شريعت د تقنين مخنيوی وشي.

[1] - نظرات فی تقنين الفقه الاسلامي، ص٢٢١.

۱۸. که چېرې قاضیانو ته یو لیکلي قانون او مدونه وسپارل شي نو په دې صورت کې دوی هېڅ زیار نه باسي بلکې یواځې په لیکلي قانون کې ګوري او پلي کوي يې[1]، یاد نقد ته په ځواب کې ویلای شو چې تقنین که څه هم خلاف په پوره ډول له منځه نه وړي اما دا خو نه انکارېدونکی حقیقت دی چې تر ډېره بریده خلاف را کموي.

۱۹. د تقنین د مساوئ څخه یو دا هم دی چې د نص د تجمید لامل ګرځي نو په دې اساس هغه أحکام چې په عرف باندې بناء دي نه باید تقنین شي ولې ځکه چې عرفي قوانین ورځ تر بلې تغییر مومي او د دې سربېره دا چې نړۍ د ژوند په هر مجال کې د تطور او پرمختګ په لور روانه ده نو د نصوصو په تقنین سره قانون له یاد تطور سره د مواکبت نه شاته پاتې کېږي.

۲۰. په تقنین سره د اجتهاد دروازه بندېږي ځکه دې سره قاضي په مختاره رایه ملزم کېږي چې یواځې هغه به تطبیق کوي او په ټولنه کې د اجتهادي جمود او فقهي رکود لامل ګرځي[2]، کله چې تقنین شوی وي قاضي نور په فقهي أحکامو کې د تدبر او تبصر څخه لاس اخلي او بس یواځې هغه څه چې لیکل شوي وي هغه پلي کوي. دې ته په ځواب کې ویلی شي چې د قانون تطبیق دا تقاضا ده چې قاضي فهم، تأمل او فکر څخه کار واخلي دا چې قاضي په یوه ټاکلي مدونه ملزم وګڼل شي، ښه والی یې دا دی: ټول قاضیان د اختیار او ترجیح قدرت نه لري نو دا غوره ده چې دوی لپاره یو تحریر شوی قانون ور وسپارل شي او د هغ په رڼا کې دوی فیصله وکړي.

۲۱. دا چې افراد د فقهي احکامو صیاغت په خپل بشري اسلوب سره تر سره کوي، یاد امر به حتما د انسان له بشریت څخه متأثره وي ولې ځکه چې انسان یې تر سره کوي، او بیا د دې نسبت الله تعالی ته چې ګاکي دا د خدای جل جلاله حکم دی، درست کار نه دی، ځکه چې د شرعي نصوصو صیاعت رباني دی او د الله تعالي له لوري تر سره شوی دی. د یادولو وړ ده چې یاد نقد شکلي دی په دې معنی چې د قانون په شکل باندې وارد دی. دې ته په ځواب کې ویلی شي چې تقنین مثال په شان د فقه دی، چې دا یو فقهي صیاغت دی او بس، او کوم چې په تقنین کې نور امور دي لکه تدوین، ترتیب او مسلسل ارقام لګول دا یواځې یو شکلي امر دی چې پلټونکی ته اسانه کوي څنګه مطلوب امر ته په کم وخت کې وموندی شي اما د حکم په مضمون هېڅ کوم اثر نه لري، ځکه خو هم د فقهي مختصراتو او تدوین شوو أحکامو تر منځ هېڅ کوم توپیر نشته دی.

۲۲. دا چې تقنین یو بشری کار دی، نو انسان خو له خطا څخه خالي نه دی نو که چېرې تقنین کې یې عدل نه وي کړی نو دې صورت کې نقد به مستقیم په اسلامي شریعت وارد شي او همدارنګه دا

[1] - مدخل لدراسة الشريعة الاسلامية لقرضاوي ص۳۰۵،

[2] - جهود تقنين الفقه الاسلامي للزحيلي، ص۲۶،

ورځني تعديلات چې قوانيو کې راځي د دې لامل ګرځي چې قوانين له خپل شرعي أصل څخه فاصله ونيسي. دې ته په خواب کې ويلی شي چې قاضي مکلف نه دی چې په خپل لومړني اجتهاد باندې قايم پاتې شي په داسې حال کې چې نوموړی د يوې موضوع اړوند يې نوي دلايل پيدا کړي وي او يا نوی اجتهاد يې تر سره کړی وي او تقنين هم په همدې شان دی کله چې وليدل شي چې قانون تعديل کې د خلکو او ټولني صلاح او خير دی نو بايد تعديل شي او د وخت سره مواکبت يې يو له اساسي او جوهري اصولو څخه دی.

٢٣. ځنې خلک بيا دا نقد هم کړي چې هره قضيه خپل ظروف لري، که چيرې تقنين وشي نو نه شي کيدلای چې يو حکم په ټولو ورته قضاياوو پلي شي ځکه د ټولو جرم که ورته وي اما ظروف خو يې په هيڅ صورت نه شي ورته کيدلای نو دلته ظلم واقع کيدلای شي، دې ته په جواب کې ويلای شي چې قاضي دلته د تصرف خپلواکي لري[1]، هغه دلته د ظروف ته په کتلو سره تخفيف او تشديد فيصله کوي او په همدې اساس محکمو کې ابتدايه، استئناف او تمييز شته دي تر څو ياد امور په غوره ډول پلي کړي. ځنې خلک بيا دا هم وايي چې د اسلامي شريعت تطبيق ترتقنين پورې ولاړ نه دی ګورو چې دا څلورلس کاله چې د اسلامي شريعت تقنين موجود هم نه وو بيا هم پلی کيدلو، دې ته په ځواب کې ويلای شي چې هر څه په وخت او ځای او ظروف او عادات د خلکو سره تغيير مومي، څه چې هغه وخت نه وو اړين ممکن اوس ډير اړين وي ، ممکن هغه وخت د دې کار د تر سره کولو هيڅ دواعي موجود نه وو اما اوس شته دی او دا د اسلام غوره والی دی چې د هر وخت او هر ځای ستونزې کې حل کيدلای شي.

٢٤. د دې سربيره دا چې تقنين انسان تر سره کوي او انسان په هيڅ ډول له تيروتني او خطأ څخه خالي نه دی، نو چې يو شی له خطا څخه خالي نه وي ولې بايد نور پرې ملزم شي؟ دې ته په ځواب کې ويلی شي احتمال د خطأ خو په هر حالت کې تحقق موندونکی دی وګورئ که چيرې قاضي د يوې موضوع په اړه فيصله کوي په يواځې توګه هلته احتمال د خطا ډير دی نسبت دلته چې يو ګروپ د پياوړو کسانو يو ځای د يو واحد او سپيڅلي هدف لپاره کار کوي او طبعا احتمال د خطا يې کم دی. د تقنين ځنې مانعين خو آن په دې اند دي چې د تقنين فکره د ابن المقفع ده او هغه زنديق دی نو ولې بايد د داسې يو کس فکر ته احترام وشوی شي او يا د د خير هيله ترې وشي. شيخ بکر أبو زيد رحمه الله وايي: د تقنين فکر د ديارلسمي پيړۍ تر آواخرو پورې اصلا نه وو. خو حقيقت د امر دا دی چې دا درسته خبره نه ده چې د يو کس فکر مطلق رد شي فقط په سبب د هغه د شخصيت او دا د علمي اصولو خلاف کړنه ده.

[1] - تقنين الفقه االاسلامي لمحمد زکي، ص٩١، ٩٢.

۲۵. ځنې بيا وايي: چې تقنين کې د غربي وضعي قانون تقليد شوی دی[1]. دې ته په ځواب کې ويلای شي چې مونږ په شريعت مکلف په دې يو چې هغه څه کې چې مو خير وی له هغه څخه استفاده وکړو او اجازه ورنه کړو په دې نومونو له ياد خير څخه ځان او خپله ټولنه محرومه کړو، د خير کار چې منفعت يې عام مسلمان ولس ته رسيږي بايد تر سره شي البته چې په صريح ډول د شرعي نصوصو سر په ټکر کې نه وي. دلته که غور وشي ليدل کيږي چې هيڅ نوعه شرعي مانع شتون نه لري او دې امر کې خير دی. د دې تر څيرمه يو نقد دا هم شته دی چې که چيرې تقنين وشي نو قاضيان به يوائې همدا تقنين شوي مواد لولي او بس نور به د فقهي ابوابو او شرعي احکامو څخه ناخبره پاتې کيږي خو دا درسته نه ده يوائې په قضاء کې به دا امور تقنين شوي وي نور به په مدارسو کې د تدريس او تأليف پروسه همداسې جاري وي، او هر باب کې به يې څيړني او ليکنې کيږي او په هيڅ ډول نه پآتې کيږي. تقنين نه شي کولای ټولو مجالاتو ته د ننه شي اما فقه کې خو خورا ډير مجالات دي مثلا عبادات به هيڅ ډول نه تقنين کيږي نوکولای شو ووايو چې تقنين فقهي تراث ته په هيڅ ډول خطر نه دی بلکې د زده کړې تعليم دروازه د تل لپاره وازه ده او تقنين د يادو مجالاتو مخه کله هم نه نيسي.

## د فقهاء د اقوالو تر منځ ترجيح

لکه څنګه چې بحث کې د دواړو ډلو دلايل په مفصل ډول بيان شوي دي او هرې ډلې دلايل او براهين ذکر شوي دي. د هر يو لوري دلايل او په هغو وارد مناقشات او اعتراضات په پوره علمي امانت سره ذکر شوي دي. يادو دلايلو ته په کتلو سره د تقنين پلوي دلايل قوي دي او لاندې دلايلو ته په کتلو سره ترجيح ورکړل شوي ده:

۱. د تقنين مانعينو او مخالفينو چې د قرآن کريم کوم آيتونو باندې استدلال کړی دی په ټوله معنی عام آيتونه دي آن تر دې چې ځنې خو يې لا د اصل مسألې سره تړاو نه لري.

۲. د تقنين مخالفين هم په دې اند دي چې محل د نزاع خپله شخص مقلد قاضي دی په داسې حال کې چې د يادې ډلې دلايل بيا تر الزام قاضي مجتهد پورې تړاو لري چې دا دليل په غير محل کې دی. اصل خو دا دی چې قاضي بايد مجتهد وي خو څلور واړه مذاهب په دې سره متفق دي چې که قاضي مجتهد نه وي امکان لري چې مقلد قاضيان ياد کار په مخ يوسي تر څو د مسلمانانو چارې معطلې پاتې نه شي.

۳. بله خبره دا ده چې د تقنين مانعينو د تقليد او تقنين تر منځ توپير نه دی کړی سره له دې چې د دواړو تر منځ خورا ډير فرق شته دی. تقنين د يو واحد مذهب او يا يوې ټاکلې رأيې تقليد نه دی او نه هم کوم فردي اجتهاد دی او نه تر کوم ټاکلي مذهب پورې محصور دی بلکې دا يو پياوړي ګروپ کار

---

[1] - تقنين الفقه الاسلامي، ص۲۸-۲۹.

دی چې هر عضوه یې د وړتیا، لیاقت او عدل په بنسټ سره یو ځای شوی وي او پایلې یې د شخصي غرضونو او هوی څخه خالي وی.

٤. ډېري هغه اعتراضات چې په تقنین باندې وارد دي منهجي اعتراضات دي بلکې تقنین د تحریم دلایل نه دي. اکثر د یادو اعتراضاتو یا احتمالي دي چې اصلا وجود نه لري او یا هم داسې دي چې په توقعاتو باندې بنا شوي دي. د یادولو وړ ده هغه اعتراضات چې د تقنین تر شکل او څرنګوالي پورې تړاو لري باید مراعات شي.

# دریيم څپرکی

# د اسلامي فقهې د تقنين هڅې

د اسلامي فقهې د تقنين موضوع له پخوا راهيسې يوه پراخه او ژوره بحثي موضوع پاتې شوې ده. د دې موضوع په اړه د فکري هڅو، سيمه ييزو کوښښونو، او ضوابطو ته توجه کول، د اسلامي قانون تطبيق او پالنه لا غوره کوي. د اسلامي فقهې د تقنين د پروسې هدف د فقهې اصولو سره سمون، د ټولنيز عدالت تامين، او د قانون د عملي کيدو لپاره اړين تدابير پيژندل دي.

په دې برخه کې، د اسلامي فقهې د تقنين اړوند هڅې په څو مختلفو اړخونو کې تحليل کيږي. لومړی، د تقنين فکري هڅې تشريح کيږي چې څنګه علماء او فقيهان د تقنين اصولو ته ورسيدل، او کومې نظرياتي تيورۍ يې وړاندې کړې چې د اسلامي شريعت اصولو سره سمون ولري. دويم، د تقنين سيمه ييز کوښښونه بيان شوي دي، په ځانګړې توګه د مصر او نورو اسلامي هيوادونو کې، ترڅو د دې هيوادونو د تقنين پروسې پرمختګ او ستونزې تحليل شي. دريېم، د تقنين ضوابطو په اړه بحث کيږي، چې په کومو اصولو او قواعدو بايد د اسلامي فقهې تقنين کې مراعات وشي، لکه د شرعي اصولو سره تطابق او د ټولنيز عدل تامين. دا تحليل د اسلامي فقهې د تقنين په برخه کې د تيوريکو، سيمه ييزو، او عملي اړخونو د پوهې لاسته راوړلو لپاره يوه بنسټيزه لارښوونه وړاندې کوي، چې هدف يې د اسلامي قانون د تطبيق او پالنې پروسې ته وده ورکول دي.

افغانستان يو اسلامي هيواد دی او د افغانستان قوانين په تاريخ کې تل د اسلامي شريعت څخه الهام اخيستی او د هغې څخه يې مرسته ترلاسه کړې ده. د همدې لپاره، د افغانستان تقنيني تاريخ له اسلام سره نږدې تړاو لري، د اسلامي قانون جوړونې تاريخ له وحی څخه پيل شوی، چې پر رسول اکرم صلى الله عليه وسلم نازل شوې وه.

## لومړی مبحث

## د اسلامي شريعت د تقنين تاريخچه او پړاوونه

د اسلامي تاريخ په اوږدو کې، شريعت د مسلمانانو د ژوند اساسي لارښود پاتې شوی دی. د شريعت تقنين د يوې منظمې ديني او سياسي هڅې په توګه د نبوي رسالت له پيل سره سم بنسټيزې بڼې غوره کړې. د اسلام په لومړيو پړاوونو کې، د شريعت قوانين د رسول الله صلى الله عليه وسلم په لارښوونو، او د خلفای راشدينو په مهارت لرونکي تدبيرونو کې روښانه شول. له دې وروسته، د وختونو د بدليدو او شرايطو د پيچلتيا له امله، د شريعت د تقنين او تطبيق په بېلابېلو دورو کې متفاوت اړخونه رامنځته شول.

په دې مبحث کې به د شريعت د تقنين تاريخي پړاوونه په بېلابېلو دورو کې څېړم. په لومړي مطلب کې د نبوي رسالت او خلافت راشده په دوره کې د شريعت د بنسټونو رامنځته کېدل وڅېړل شي. ورپسې به د اموي او عباسي دورو په وخت کې د تقنين په برخو کې شوي پرمختګونه او مختلفې هڅې بيان شي. دغه راز، د عثماني خلافت اړوند هڅې او په پای کې د د استعمار د وخت تقنيني پرمختګونه،

اغېزې او پايلې به هم په دې مبحث کې شاملې وي. د دې مبحث موخه دا ده چې د شريعت تقنين په بېلابېلو تاريخي شرايطو کې وڅېړل شي او د اسلامي تمدن د بېلابېلو دورو ځانګړنې روښانه شي.

## لومړی مطلب

## د شريعت تقنين د رسالت او خلافت په دوره کې

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، د اسلامي تشريع پيل په اسلامي نړۍ کې د وحی له نزول سره شوی. د رسول اکرم ﷺ ژوند کې تشريع او قانون جوړونه پر وحی ولاړه وه، رسول الله ﷺ د مدينې په ټولنه کې د شريعت د عملي کولو عملي بېلګه وړاندې کړه[1]. قرآن کريم په خپلو آيتونو کې تشريع کاوه، او سنت رسول الله ﷺ د الفاظو، اعمالو او تقريراتو له لارې قانون جوړونې ته شکل ورکاوه. بل هېڅ منبع د قانون جوړونې لپاره شتون نه درلود. وحی د انسانانو لپاره د هدايت په توګه ټاکل شوې وه او د ټولنې حقوقي مسائل يې تنظيمول. که په حضور کې يې حقوقي قضيې پېښېدې، رسول اکرم ﷺ خپله پرېکړه کوله او که حقوقي قضيې په ليرې سيمو کې پېښېدې، د صحابه کرام علماء په همغه ځای کې د قرآن او سنت له مخې پرېکړه کوله. که په قرآن او سنت کې موجود نه وو، نو صحابه کرام په هغه اړه اجتهاد کاوه او پرېکړه يې کوله، او دا عمل يې د رسول اکرم ﷺ په لارښوونه ترسره کاوه. لکه څنګه چې امام ترمذي او امام ابوداود په خپلو سننو کې روايت کړی دی: حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه ته رسول الله ﷺ وفرمايل: "که درته قضيه راوړل شي، څنګه پرېکړه به وکړې؟" هغه وويل: "د الله کتاب ته په کتو پرېکړه کوم." رسول الله ﷺ وفرمايل: "که د الله کتاب کې ونه موندل؟" هغه وويل: "د رسول الله سنتو ته به مراجعه کوم." رسول الله ﷺ وفرمايل: "که په سنتو کې هم ونه موندل؟" معاذ رضي الله عنه وويل: "اجتهاد به کوم او تر خپلې وسې پورې به هڅه کوم." رسول الله ﷺ د هغه پر سينې لاس کېښود او ويې فرمايل: "ستا شکر دی، ای الله، ....."[2]

---

[1]- ابن كثير، الحافظ اسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي، البداية والنهاية، تحقيق: عبدالله بن عبدالمحسن التركي، دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع، ط۱، ۱۹۹۷م، ج۳، ص۲۴۳.

[2]- عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ لَمَّا بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ قَالَ: كَيْفَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟ قَالَ: أَقْضِي بِمَا فِي كِتَابِ اللَّهِ. قَالَ: فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي كِتَابِ اللَّهِ؟ قَالَ: فَبِسُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ. قَالَ: "فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فِي سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ وَلَا فِي كِتَابِ اللَّهِ؟"
قَالَ: أَجْتَهِدُ رَأْيِي وَلَا آلُو. فَضَرَبَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ صَدْرَهُ وَقَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي وَفَّقَ رَسُولَ رَسُولِ اللَّهِ لِمَا يُرْضِي اللَّهَ وَرَسُولَهُ."
سنن أبي داود، حديث نمبر: ۳۵۹۲، محقق: الألباني (رحمه الله)، حکم: ضعيف، دليل: دا حديث د سند له مخې ضعيف ګڼل شوی ځکه چې په سند کې يحيی بن حسان موجود دی چې ځينې علماء يې د ضعف په اړه خبرې لري.
سنن الترمذي، حديث نمبر: ۱۳۲۷، حکم: الترمذي دا حديث حسن ګڼلی دی.

په دې روايت کې څرګنده ده چې اجتهاد د رسول الله ﷺ په وخت کې شتون درلود، خو د قانون جوړونې منبع نه وو، ځکه چې رسول اکرم ﷺ خپله حضور درلود او وحی به نازل کېده. که چيرې د اجتهاد په برخه کې کوم خطا وشوه، نو رسول الله ﷺ به هغه اصلاح کاوه. په پای کې، قرآن او سنت د تشريع او قانون جوړونې يوازينۍ منبع پاتې شوه.

د خلافت راشده په دوره کې د شريعت د تقنين بنسټ د اجتهاد او شورا اصولو ته لا پراختيا ورکړل شوه، چې د قرآن او سنتو سره په مطابقت کې نوې قضيې حل شوې[1]. هم قانون جوړونه پر قرآن او سنت ولاړه وه، خو د نن په څېر په تدوين شوې بڼه نه وه، چې قاضيان او محاکم ورته پابند واوسي. که په يوه قضيه کې قرآن او سنت شتون نه درلود، صحابه علماء به په هغې اتفاق کاوه او پرېکړه به يې کوله. که اتفاق نه وو، نو فردي اجتهاد به يې کاوه او پرېکړه به يې کوله. په دې عصر کې قاضيانو د اجتهاد پر اساس په محکمو کې فيصلې کولې. تدوين شوی قانون شتون نه درلود، چې قاضيان دې ورته پابند وي؛ البته د قرآن او سنت نصوص چې طبيعي توګه بايد مراعات شوي وای، خو د صحابه کرام د علم له نظره او د مدينې منورې د علماء د تجمع له امله، په دې دوره کې فقهی اختلافات ډېر کم وو. په همدې دليل، خلفای راشدينو هڅه نه کوله چې قضاء موحد کړي او يا اجتهاد باندې محدوديتونه وضع کړي. بلکې برعکس، هغوی د رسول اکرم ﷺ په وينا، چې فرمايي: "که حاکم اجتهاد وکړي او بريالی شي، نو دوه اجرونه ترلاسه کوي او که په اجتهاد کې حق ته ونه رسيږي، نو يو اجر لري[2]" – اجتهاد ته تشويق ورکاوه، چې د همدې تشويق له امله، يو لوی فقهی ميراث زموږ په لاس راغلی دی. حضرت عمر رضی الله د خپل خلافت په دوره کې د شريعت د قوانينو په عملي کولو کې ځنې نوي قوانين وضع کړل، لکه د خراج نظام او د قضايي چارو تنظيم، دا ټول د شريعت په اصولو ولاړ وو[3].

## دويم مطلب

## د شريعت تقنين د امويانو په دوره کې

د امويانو په دوره کې اسلامي ځمکه پراخه شوه، ډېر خلک له بېلابېلو کلتورونو څخه اسلام ته داخل شول. د صحابه علمای کرام مختلفو ښارونو ته لاړل او هلته يې فقهي مدرسې پرانيستلې. ډېرو خلکو

---

1- ابن القيم، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين ابن قيم الجوزية (المتوفى: ٧٥١هـ) ، اعلام الموقعين عن رب العالمين، محقق: محمد محيى الدين عبدالحميد، دار الجيل بيروت، ١٩٩١م، ج١، ص٩١.

2- ... عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا حَكَمَ الْحَاكِمُ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَصَابَ فَلَهُ أَجْرَانِ وَإِذَا حَكَمَ فَاجْتَهَدَ ثُمَّ أَخْطَأَ فَلَهُ أَجْرٌ"(صحيح البخاري- طوق النجاة، د حديث شمبره: ٧٣٥٢, (٩/ ١٠٨)

3- ابن خلدون، المقدمة، تحقيق: علي عبدالواحد وافي، دار النهضة العربية، ٢٠٠١م، ج٢، ص١٩.

له دوی څخه فقه او شريعت زده کړل، او هر صحابي عالم د استنباط احکامو کې خپل ځانته مستقل او متفاوت طريقه لرله. دغه عوامل په مجموعي توګه سبب شول چې د فقهي اختلافات، چې په راشده خلافت دوره کې ډېر کم وو، په دې دوره کې زيات شي. د قاضيانو اجتهادات او فيصلهګانې په محکمو کې له يو بل سره په تناقض او تضارب کې واقعې شوې، چې دې امر د وخت خلفاء د دې اړتيا ته متوجه کړل چې د قضايي احکامو يووالی رامنځته کړي. له همدې ځايه د شريعت د تقنين مفکوره (د قضايي احکامو يووالي) رامنځته شوه، او د شريعت د تقنين په لور هڅې پيل شوې. د امويانو په دوره کې د قضائي نظام په منظم ډول تنظيم شو، او قضايي مرکزونه د قاضيانو لپاره ځانګړي شول. د يادولو وړ ده چې دا دوره د فقهي استقلال لپاره د تيارۍ لومړني ګامونه بلل کېږي[1].

اولنۍ هڅه په دې اړه د وليد بن عبد الملک (۸۶-۹۶هـ ق) له خوا وشوه، هغه غوښتل خلک د يو فقيه قول ته اړ کړي، او له قاضيانو يې وغوښتل چې د خالد بن معدان کلاعی اقوالو ته په خپلو فيصلهګانو کې اعتبار ورکړي[2]. خو دا هڅه د هغه وخت د فقهي دودونو د موجوديت له امله برياليۍ نه شوه، ځکه خلک عادت شوي وو چې د هغو علماوو او مجتهدينو اقوالو ته ترجيح ورکړي چې په منځ کې يې ژوند کوي، او په هر ښار کې مشهور فقها موجود وو چې خلکو له هغوی څخه علم زده کاوه.

دويمه هڅه د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله له خوا وه، هغه د سنت تدوين پيل کړ. د ابو زرعه په وينا، د هغه مقصد له سنت نبوي څخه دا وو چې نوموړي غوښتل قضاء موحده کړي. ابو زرعه داسې وايي: عمر بن عبدالعزيز غوښتل چې د خلکو احکام او اجتهادات يو ځای کړي، ځکه چې په ښارونو کې د رسول الله ﷺ صحابه وو، او په منځ کې يې قاضيان وو چې د هغوی فيصلې د رسول الله ﷺ له صحابه له فيصلې غوره ګڼل شوې وې، او د ښارونو خلکو هم په اتفاق سره منلې وې[3]. په دې کې ښکاري چې عمر بن عبدالعزيز غوښتل چې د پيغمبر ﷺ سنت په شکل د يو موحد قانون تدوين کړي او خلک يې په پيروي مکلف کړي. سره له دې چې د عمر بن عبدالعزيز خلافت موده اوږده نه وه، هغه دا کار پيل کړ او روايت دی چې عمر بن عبدالعزيز خپل والي ته په مدينه منوره کې وليکل: د رسول الله ﷺ احاديث او سنت چې څه يې ومونდل، وليکه، زه وېرېږم چې د علم درسونه او علماء

[1]- تاريخ التشريع الاسلامي، ج۱، ص۱۰۴

[2]- الدمشقي ، أبو زرعة عبدالرحمن بن عمرو الدمشقي، تاريخ أبی زرعة الدمشقي، تحقيق: دوکتور يحيى محمد عوض الخلايلة، دار ابن حزم، ط۱، ۱۹۹۸م، ص۱۳۲.

[3]- تاريخ أبی زرعة الدمشقي، باب فی ذكر القضاء، ۹/۱.

له منځه ولاړ شي. خو عمر بن عبدالعزيز [1]وفات شو.[2] د يادولو وړه ده چې د امويانو په دوره کې د شريعت قانون د محلي رواجونو او قبايلي دودونو سره تطبيق ورکول کېده څو خلک د اسلامي نظام لاندې راولي[3].

## درېيم مطلب

## د شريعت تقنين د عباسيانو په دوره کې

د شريعت تقنين مفکوره د امويانو په دوره کې ډېره ابتدايي وه، په سم ډول واضح نه وه، او اړتيا يې هم دومره جدي نه وه، او ضمنا د امويانو د شريعت تقنين د سياسي مقاصدو لپاره هم کاراوه چې له دې لارې يې د خلافت مشروعيت ملاتړ کېده[4].خو دا مفکوره بيا د عباسيانو په دوره کې واضح تره شوه او ټولنيز فشار هم په دې دوره کې زيات شو، او د خلفاؤ هڅې د امويانو په پرتله په جدي ډول پيل شوې. په طبيعي توګه، د مجتهدو قاضيانو آزادې فيصلې، چې د قاضيانو په فيصلو کې تضارب رامنځته کاوه، په مذهبي چوکاټ کې محدودې شوې. سره له دې چې دا بشري تجربه بيا په راتلونکو دورو کې نوې بڼه خپله کړه، او دلته به دا هڅې په لنډ ډول بيان کړم.

### الف: د عبدالله بن المقفع وړانديز

د عباسيانو دوره کې بغداد د خلافت مرکز وو او ډېرى علماء او مفکرين په هغه ځاى کې راټول شوي وو. يو له هغو مفکرينو او علماوو څخه عبدالله بن مقفع وو، چې د قضايي احکامو په تضارب او تناقض او په ټولنه کې د هغې ناوړه اغيزو باندې پوه شو او غوښتل يې چې د خليفه په واسطه مسلمانان دې ته متوجه کړي. عبدالله بن مقفع يو ليک د عباسي خليفه (ابوجعفر منصور) ته وليکه، چې په نامه د "رسالة الصحابة" په نامه مشهور شو. په دې ليک کې عبدالله بن مقفع د اسلامي فقهي تقنين د اړتيا په اړه داسې بيان کوي[5]: "... امير المؤمنين بايد د کوفې او بصرې او نورو ښارونو او اطرافو په اړه دقيق شي، چې د قضايي احکامو تضاد موجود دى، او دا تضاد په وينو، نکاح، او مالونو کې د اوج درجې ته رسېدلى دى. په حيره کې وينې، نکاح، او مالونه روا بلل شوي دي، حال دا چې په کوفه کې دا احکام متضاد دي او حرام بلل کېږي. دا اختلاف حتى په کوفه کې دننه هم موجود دى، په يوه سيمه کې روا

---

[1]- د عمر بن عبدالعزيز لنډه پېژنده: عمر بن عبدالعزيز (۶۲–۱۰۱هـ / ۶۸۱–۷۲۰م) د امويانو پنځم خليفه او د اسلامي تاريخ له مشهورو عادل حکمرانانو څخه و. نوم يې عمر بن عبدالعزيز بن مروان دى او د "ثامن الخلفاء الراشدين" په توګه يادېږي. هغه د عدالت، اصلاحاتو او فقهي اصولو په رعايت کولو کې ټينګ و، او د ظلم او فساد پر وړاندې يې کلک مبارزه وکړه. عمر بن عبدالعزيز د اسلامي حکومت د سمون او د شريعت د پياوړتيا لپاره ډېر هڅې وکړې. (تاريخ الرسل والملوك للطبرى، ج۷، ص۴٥)

[2]- زيدان ، عبدالكريم زيدان، المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية، مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، ۱۹۶۶م، ص۱۴۰.

[3]- د.محمد عبدالرحيم، خلافت امويان و توسعه شريعت، دار الفكر العربى دمشق، ۲۰۱۰م، ج۲، ص۲۱۳،

[4]- التشريع والفقه فى الاسلام للشلبي ج۱، ص۱۷۷

[5] رسائل البلغاء، عبدالله بن المقفع، ناشر: مؤسسة هنداوي، ۲۰۲۴م، .hindawi.org

او په بله سیمه کې ناروا ګڼل کېږي..." که امیر المؤمنین په دې اړه توجه وکړي او هدایت وکړي چې دا قضایاوې، که سنت وي یا قیاس، راټولې شي او د امیر المؤمنین دربار ته وړاندې شي، امیر المؤمنین باید په هر قضیه کې خپل نظر څرګند کړي او پر هغه د درستوالي مهر کېږدي او د هغه پر خلاف قضا ونه شي. په دې اړه یو جامع کتاب ترتیب کړي او هغه ښارونو ته واستوي تر څو په دایمي ډول د لوی الله په اراده نافذ وي".

### ب: له امام مالک سره د خلیفه أبو جعفر منصور هڅې

شاید د عبدالله بن مقفع د لیک اغېز وو چې ابو جعفر منصور یې دې ته قانع کړی وو چې د قضاء یووالي ته اړتیا ده، او په دې کې ډېرې ګټې او مصلحتونه شته. خو ابو جعفر منصور ځکه چې خپله دیني عالم نه وو او د علماوو له اقوالو څخه د غوره قول د انتخاب وړتیا یې نه درلوده، او یا یې فکر کاوه چې د پاچا په توګه د غوره قول انتخاب به د خلکو له خوا و نه منل شي، او په ځانګړې توګه د علماوو انتقادونه به راپورته کړي، نو هر علت چې وو، هغه له امام مالک سره اړیکه ونیوه. شاید هغه په اصل کې د مدینې علم ته میل درلود، یا د امام مالک رحمه الله شخصیت هغه ځانته جلب کړی و، ځکه چې دا شخصیت د علماوو له خوا منل شوی وو، او د هغه فقهي صلاحیتونه به د ټولو خلکو له خوا ومنل شي، او له دې لارې به قضاء یو واحد سیستم جوړ کړي. نو کله چې ابو جعفر منصور په ۱۴۸ هـ ق کال کې د حج مناسک ادا کول، امام مالک ته ورغی او له هغه یې وغوښتل چې اجازه ورکړي ترڅو خلک د هغه مذهب ته اړ کړي. خو امام مالک رحمه الله دا غوښتنه ونه منله[1]. ابو جعفر منصور چې کله دویم ځل مناسک حج ادا کول په ۱۶۳ هـ ق کال کې، بیا یې له امام مالک رحمه الله سره ولیدل او خپله پخوانۍ غوښتنه یې تکرار کړه او ورته یې وویل: ابو عبدالله، دا علم تدوین کړه او په کتاب کې یې ولیکه، او د عبدالله بن عمر سختیو، د عبدالله بن عباس اسانتیاوو او رخصتونو او د عبدالله بن مسعود نادر اقوالو څخه ځان وساته، منځنۍ لارې ته پام وکړه او هغه څه ته چې ائمه او صحابه پرې موافق دي، څو خلک هغه څه ته اړ کړو چې تا لیکلي، او هغه ښارونو ته واستوو او هغوی ته امر وکړو چې هیڅوک دې د هغه مخالفت ونه کړي. خو امام مالک رحمه الله دا غوښتنه ونه منله[2]. امام مالک رحمه الله پخپله روایت کوي او وایي: کله چې ابو جعفر منصور مناسک حج ادا کول، ما ته یې بلنه راکړه، کله چې زه ورغلم، موږ خبرې وکړې او ما یې پوښتنو ته ځواب ورکړ. هغه ماته وویل: ما دا تصمیم نیولی چې ستا کتاب چاپ کړم او مسلمانانو ښارونو ته یې واستوم او هغوی ته امر وکړم چې په هغه عمل وکړي او نورعلوم پرېږدي. زه باور لرم چې د علم بنسټ د مدینې د خلکو

---

1 - الفقه الاسلامي و أدلته، ج۱، ص۶۵-۶۶

2- الحیصبی، قاضي عیاض بن موسی الحیصبی، ترتیب المدارک وتقریب المسالک لمعرفة أعلام مذهب مالک، دار المطبعة الحیاتیة، ط۱، ۱۹۶۵م، باب ذکر الموطأ، ج۱، ص ۶۰.

روایت او علم دی. امام مالک وایي: ما ورته وویل: امیر المؤمنین، دا کار مه کوه، ځکه چې خلکو ته د علماوو اقوال رسیدلي او احادیث یې اوریدلي دي، او روایتونه هغوی ته رسیدلي دي. هغوی هغه څه درک کړي دي چې هغوی ته د صحابه اقوالو او له هغوی وروسته رسیدلي دي، په هغه عادت شوي دي او عمل یې پرې کړی دی. له هغه څه څخه چې هغوی پرې باور لري، بېرته راګرځول به ګران وي. خلک پرېږده چې له هغه څه سره چې عادت شوي دي، پاتې شي، او هغه څه چې هر ښار ځان ته غوره کړي دي، پرېږده[1]. امام مالک وایي خلیفه ماته وویل: که تا زما خبره منلې وای، نو حتماً مې پر هغه امر کاوه[2]. باید وویل شي چې دا غوښتنه خلیفه (مهدی) هم وروسته له ابو جعفر منصور څخه امام مالک ته وړاندې کړه. هارون رشید هم په خپل خلافت کې همدا نظر تکرار کړ او امام مالک ته ورغی او له هغه یې وغوښتل چې خپل کتاب ترتیب کړي او ښارونو ته یې واستوي ترڅو د قضاء او فتوا مرجع شي، او ورته یې وویل: ابو عبدالله، دا خپل کتاب چاپ کړه او ښارونو ته یې واستوه څو امت هغه عملي کولو ته اړ شي. امام مالک وویل: امیر المؤمنین! یقینا چې د علماوو اختلاف د الله لوی رحمت دی؛ هر څوک د هغه څه متابعت کوي چې په صحیح ډول ورته رسیدلي وي، او ټول په سمه لار کې دي[3].

**ج: قضاء د یوې فقهي مذهب پر بنسټ**

مخکې د تقنیني هڅو په اړه خبرې وشوې چې بریالی نه وې، او د عملي کیدو فرصت یې ونه موند، دا یوازې یوه نظریه او مفکوره وه چې په عملي توګه یې مخالفت وشو. خو د اسلامي تاریخ په تجربو کې بریالی عملي تجربې هم شاملې دي چې په هغو کې د فقهاوو آراء تدوین او د یوې فقهي مذهب دننه د راجح اقوالو اختیارول او قاضي په هغه باندې مکلفول شامل دي چې دا عمل په اوسني عصر کې د تقنین په توګه ګڼل کیږي. دا تجربه د عباسي خلافت په دوره کې رامنځته شوه. په دې دوره کې امام ابویوسف د قاضيالقضات و، او هغه څوک یې قاضیان ټاکل چې پیژندلی یې او هغه چې د ده شاګردي یې کړې وه. دا عمل د فقهي مذاهبو په خپرولو، په ځانګړې توګه د حنفي مذهب په خپرولو کې مهم و. خو دا تجربه له اوسني عصر د قانون شکل سره توپیر لري، ځکه دا په قانوني موادو کې نه وه صیاغت شوې، او په یوه فقهي مذهب دننه قاضي ته د اقوالو په چوکات کې د اجتهاد او ترجیح یوه مساحه ورکړل شوې وه، یا د فقهي اقوالو پر بنسټ د مسائلو لپاره چې په مذهب کې حکم یې نه و تصریح شوی. د حنفي مذهب له دې تجربې سره مشابه، د امام مالک مذهب تجربه ده. قاضي ابو ولید باجي وایي: د قرطبه حکامو کله چې قاضي ټاکه، شرط یې دا و چې هغه باید د ابن قاسم په قول فیصله وکړي. د امام

---

1 - محمد یوسف موسی، تاریخ الفقه الاسلامي، دار الفکر ۱۹۶۸م. ج۱، ص۱۹۳،

2- ترتیب المدارک وتقریب المسالک، باب ذکر الموطأ، ۶۰/۱.

3- ترتیب المدارک وتقریب المسالک، باب ذکر الموطأ، ۶۰/۱.

مالک مذهب د یحی بن یحی له شتون او د هغه له موقف سره چې د حکم بن هشام په نزد یې درلود، په اندلس کې خپور شو. حکم بن هشام به هغه مهال قاضي ټاکه چې یحی بن یحی هغه نوماند کړی وو، او له همدې امله د امام مالک مذهب په هغه سیمه کې خپور شو، لکه څنګه چې د امام ابو یوسف شتون او د هغه موقف د عباسي خلفاوو په نزد د حنفي مذهب په ختیځ (عراق) کې د خپرېدو لامل شو[1]. امام ابو زهرة د امام ابن حزم اندلسي دا خبره نقل کړې ده: {دوه مذاهب د خپل ظهور په پیل کې د ریاست او سلطنت په مرسته خپاره شوي دي: لومړی د امام ابو حنیفه مذهب دی، ابویوسف کله چې د قضات مسؤلیت په غاړه واخیست، له اقصی مشرق تر اقصی افریقا پورې قاضیان د هغه له خوا ټاکل کیدل، او هغه څوک یې په حیث د قاضي ټاکه چې د هغه مذهب پورې تړاو لري. او په اندلس کې هم د امام مالک مذهب همداسې خپور شو؛ یحی بن یحی د سلطنت په دربار کې ځانګړی موقف درلود، او د هغه قول به منل کېده او قاضي به د هغه په مشوره او انتخاب ټاکل کیده، او هغه به هغه څوک انتخابوه چې د هغه مذهب سره تړاو ولري، او خلک دنیا ته مخه کوي، او هغه څه ته مخه کوي چې د خپلو اهدافو ترلاسه کولو لپاره یې ګټه وي. کله چې د بنی تاشفین حکومت په مغرب کې منځته راغی، د امام مالک مذهب هم هلته په اندازه د اندلس نفوذ وکړ[2].

## څلورم مطلب

## د شریعت تقنین د عثمانیانو په دوره کې

د عثماني خلافت په عصر کې د قضاء عملي کېدل پر یوه فقهي مذهب باندې دوام وموند، په ختیځ کې د حنفي مذهب پر بنسټ او په مغرب کې د امام مالک پر بنسټ، خو د عثماني خلافت په وروستیو کې نړۍ له قانوني پلوه د پام وړ پرمختګ وکړ، په اروپا کې قانوني وضعیت بدل شو، نوي قوانین په یوه نوې بڼه او په تسلسل موادو کې ترتیب شول، د قوانینو مشروعیت په دقیق ډول مطرح شو او دا چې قاضیان، خلک او مدافع وکیلان باید پوه شي چې د قانون متن څه حکم کوي؟

اسلامي فقهه د بېلابېلو اقوالو سره د دې ډول قانوني مشروعیت مفکوره سره سم ځواب ویونکی نه وه. او شاید د اروپایي هیوادونو فشارونه هم د نوي بڼه قانون په اړه پر عثماني خلافت په هغه وخت کې چې ضعیف وو، وارد شوي وي. دلته وه چې له اسلامي فقهي څخه قوانین په نوی بڼه او حدیثي شکل جوړ شول، البته په خپل مصدریت کې د مختلفو طریقو سره او په یوه مذهب کې محدودیت او یا په فقهي مذاهبو کې د بېلابېلو آراء څخه استفاده، او همدارنګه په دې عصر کې د شریعت د اسلامي فقهي په اساس د قوانینو جوړښت پیل شو. دا قوانین په جدیده بڼه جوړ شول، البته د مختلفو طریقو سره

[1] محمد أبو زهرة، مالک: حیاته وعصره آراءه الفقهیة، دار الفکر العربي، قاهرة، ص۴۶۲.

[2] ـ مالک: حیاته وعصره آراءه الفقهیة ، ص۴۶۲.

چې په ځانګړي فقهی مذهب کې محدود وو یا په متعددو فقهي مذاهبو کې له بېلابېلو آراوو څخه استفاده شوې وه. په دې عصر کې موږ د شریعت د تقنین په برخه کې انفرادي هڅې هم ګورو، چې د امت مخکښو علماوو فقهي احکام په مختصر او مسلسل قانوني موادو کې ترتیب کړل. اوس به په دې دوره کې په دغو عملي تجربو باندې په مختصر ډول تم شو.

## الف: مجلة الأحكام عدلية

د تقنین یا د قوانینو تنظیم او تدوین پروسه په پیل کې د ځینو افرادو یوه فردي هڅه وه، او په ځینو هیوادونو کې دا د حکومتي امر برخه وه. د یادې مجلې تدوین د اسلامي فقهې د تقنین په لور لومړی ګام بلل کیږي. عثماني خلافت په ۱۸۶۹ میلادي (۱۲۸۵ هـ ق) کال کې یوه کمیټه د احمد جودت باشا په مشرۍ او د حنفي مذهب د اوو علماوو په ګډون جوړه کړه ترڅو د حنفي فقهې له مخې د مدني معاملاتو قانون ترتیب کړي. دې کمیټې په ۱۲۸۶ هجري قمري کال کې خپل کار بشپړ کړ او دې ته يې "مجله احکام عدليه" نوم ورکړ. د دې مجلې مباحث يې د فقهي کتابونو له مباحثو سره سم ترتیب کړل، خو احکام يې د قانوني موادو په شکل په ۱۸۵۱ مادو کې تنظیم کړل. د دې مجلې احکام په عمومي ډول د حنفي مذهب د "ظاهر الرواية" کتابونو څخه اخیستل شوي دي او په ساده بڼه يې وړاندې کړي، دا هڅه د قانون جوړوني او د اسلامي فقهې د مدون کولو لومړنۍ تجربه ګڼل کېږي[1]. د یاد مذهب اصول يې د مدني قانون په توګه تدوین کړل، تر څو د شریعت تطبیق او د وخت اړتیاوو سره سم که په حنفي مذهب کې د امام ابو حنیفه او د هغه د اصحابو ترمنځ په کومه مسله کې اختلاف موجود وو، مجلې هغه قول غوره کړی چې د وخت غوښتنو او عامه ګټو سره تطابق لري. د مثال په توګه، مجله د سفیه په حجر کې د صاحبینو (امام ابو یوسف او امام محمد) او د استصناع په عقد کې د امام ابو یوسف رایه غوره کړې ده[2]. نو له دې امله، یاده مجله د اسلامي شریعت د تقنین په لومړنۍ تجربه کې چې یو مدني قانون يې له حنفي فقهې څخه اخیستل شوی و، وځلېږ[3].

که څه هم د اسلامي شریعت څخه اخستل شوې ټولو قانوني احکامو سره یوه بشپړه قانوني مجموعه ترتیبولو لپاره لومړۍ رسمي هڅه د قسطنطیني خلافت لخوا وه. دولت د لویو علماوو یوه کمیټه ګمارلې وه ترڅو د مدني معاملو لپاره یوه مجموعه د فقهي احکامو ترتیب کړي، چې وروسته له بشپړېدو يې "مجله الأحكام العدليه" ونوموه. دا مجله د ۱۲۹۳ هـ کال د شعبان په ۲٦ نېټه خپره شوه، او د اسلام د دولتي نظام لخوا لومړی بشپړ او لازمي قانون شو.

---

[1] - زیدان ، عبدالکریم زیدان، تاریخ تقنین الشریعة الاسلامیة، دار الفکر، ۱۹۸۵م. ص۵۴-۶۰،

[2] - المدخل الفقهي العام للزرقاء، ج۱، ص۲۰۹.

[3] - الخلایلة ، یحیی محمد عوض الخلایلة، تقنین احکام الشریعة الاسلامیة بین النظریة والتطبیق: دراسة مقارنة لتجربة باکستان ومشروع مصر فی التعزیر، الجامعة الاسلامیة العالمیة-اسلام آباد، ۲۰۰۲م، ص ۱۴۸.

مجله دوه مقدمې درلودې:[1]

١. لومړۍ مقدمه: د فقه علم او ډولونه يې.

٢. دوهمه مقدمه: د فقهي قواعدو وضاحت.

مجله په لاندې ترتيب سره برابره شوې وه:

١. بيع: له مادې ١٠١ څخه تر ٤٠٢ پورې.

٢. اجاره: له مادې ٤٠٣ څخه تر ٦١١ پورې.

٣. كفاله: له مادې ٦١٢ څخه تر ٦٧٢ پورې.

٤. حواله: له مادې ٦٧٣ څخه تر ٧٠٠ پورې.

٥. رهن: له مادې ٧٠١ څخه تر ٧٦١ پورې.

٦. امانات: له مادې ٧٦٢ څخه تر ٨٣٢ پورې.

٧. هبة: له مادې ٨٣٣ څخه تر ٨٨٠ پورې.

٨. غصب او تخريب: له مادې ٨٨١ څخه تر ٩٤٠ پورې.

٩. حجر، اكراه، او شفعة: له مادې ٩٤١ څخه تر ١٠٤٤ پورې.

١٠. شراكتونه: له مادې ١٠٤٥ څخه تر ١٤٤٨ پورې.

١١. وكالة: له مادې ١٤٤٩ څخه تر ١٥٣٠ پورې.

١٢. صلح او ببننه: له مادې ١٥٣١ څخه تر ١٥٧١ پورې.

١٣. اقرار: له مادې ١٥٧٢ څخه تر ١٦١٢ پورې.

١٤. دعوى: له مادې ١٦١٣ څخه تر ١٦٧٥ پورې.

١٥. شهادت او قسم: له مادې ١٦٧٦ څخه تر ١٧٨٣ پورې.

١٦. قضا: له مادې ١٧٨٤ څخه تر ١٨٥١ پورې.[2]

د ټولو شرعي معاملاتو احكام په مجله كې موجود وو پرته د احوال شخصي، د مدني احكامو يوه ټولګه وه چې موضوعاتي او اجرائيه احكام يې شامل وو.

مجله د امام ابو حنيفه مذهب ته متكي وه، ځكه چې دا مذهب د دولت رسمي مذهب وو. د مجلې جوړونكي د مذهب كتابونو ته رجوع كوله. همدارنګه د مجلې جوړونكي د داسې نظريو پر لور لاړل چې د موجوده عرف او عصري اړتياوو سره سمون ولري. عثماني خلافت د شريعت د تقنين له لارې

---

1 - موسوعة التشريع الاسلامي، اشراف وتقديم أ.د. محمود حمدي زقزوق، القاهرة، ٢٠١٣م. ص ٣٠٧،

2 - موسوعة التشريع الاسلامي ص ٣٠٨

د اسلامي احکامو عصري تطبيق ته وده ورکړه، دا هڅې د اسلامي فقهې د قواعدو سره سم دمعاصرو ستونزو حل لپاره وې[1].

د تشريعي پلوه د مجلې خپرول نور اسلامي هيوادونه دې ته وهڅول چې د شريعت څخه اخستل شوې تقنينات جوړ کړي، لکه د تونس د التزاماتو مجله. د تقنين حرکت د ۲۰مې پېړۍ په نيمايي کې خپل لوړ ټکي ته ورسېد، او په اسلامي نړۍ کې ګڼ شمېر قوانين صادر شول. د دغو قوانينو په لومړي پړاو کې د خلافت د دولت اغېز وو. همدارنګه يادې مجلې د فکر اوبه په خوځښت راوستې، او يوه فعاله هڅه پيل شوه چې د مجلې مختلفې شرحې وليکل شي. د يادو شرحو څخه د "على حيدر"، "رستم بازا"، "الاتاسي"، او "منير القاضي" شروح دي. ځينو فقهاء ځانګړې شروح د مجلې فقهي قواعدو ته ورکړي، لکه د علامه سورى "احمد الزرقا" شرحه. دا حرکت د حقوقو ښوونځيو ته هم پراختيا ومونده، په ځانګړې توګه د مصر په سلطنتي حقوقو ښوونځي کې، چې استادانو د مجلې موضوعاتو باندې فقهي شروح ترتيب کړل ترڅو د شريعت په څانګو کې د تدريس مواد وي. د دې مؤلفينو په منځ کې د "زيد الاباني"، "احمد ابو الفتح"، "احمد ابراهيم"، او "محمد سلامة" ليکنې مشهورې دي. دا شروح وروسته د منفردو مؤلفاتو او منهجي مطالعاتو په توګه پرمختګ وکړ، چې د معاملو احکام په اسلامي فقه کې د عبدالوهاب خلاف، فرج السنهوري، علي الخفيف، محمد ابو زهرة، محمد يوسف موسى، او محمد مصطفى شلبي لخوا ترسره شوې. وروسته نسلونه د دې پيغام سره راغلل او امانت يې ترسره کړ.[2]

## ب: د فاميلي قانون وضع کول

د عثماني خلافت قانون جوړوونکي په مدني معاملو کې د حنفي مذهب رايه غوره کړې او د نورو فقهي مذاهبو څخه يې هم مرسته اخيستې ده. عثماني خلافت په ۱۹۱۷ ميلادي (۱۳۳۶ هـ ق) کال کې د فاميلي قانون وضع کړ، په دې قانون کې قانون جوړوونکي ته اجازه ورکړل شوه چې له حنفي مذهب څخه بهر ولاړ شي او د نورو فقهي مذاهبو څخه مرسته واخلي. په دې قانون کې نه يواځې د څلورو مذهبونو څخه مرسته اخيستل شوې بلکې د هغو فقهاوو له نظرياتو څخه هم استفاده شوې چې له څلورو مذهبونو څخه بهر وو. د عثماني خلافت دا ګام د قانون جوړونې په تاريخ کې يوه نوې مرحله وه، چې د مذهب له دايرې څخه بهر د فقهي نظرونو څخه په استفادې سره يې قانون لا غني کړ[3]. د عثماني خلافت په دوره کې د عملي ستونزو او قضاياوو د حل لپاره د فقهي اصول په مدون قانوني چوکاټ بدل شول، دې تقنين د قاضيانو او محاکمو لپاره يو واحد معيار رامنځ ته کړ[4].

---

1 - تقنين الشريعة الاسلامية بين الجهد العلمي و السلطة السياسية، دار الفكر العربي، ۱۹۶۵م. ، ص۱۲۳-۱۲۴

2 - تقنين الشريعة الاسلامية بين الجهد العلمي و السلطة السياسية، ص۳۰۹.

3 - تقنين احكام الشريعة الاسلامية بين النظرية والتطبيق، ص ۱۵۳.

4 - الزحيلي ، وهبة الزحيلي، مجلة الأحكام العدلية و ضرورات التقنين، دار الفكر العربي، ۱۹۹۳م، ص۲۱۰-۲۱۱-۲۱۲.

## ج: په انفرادي توګه د شریعت تقنین هڅې:

انفرادی هڅې د فقهي د تدوین په توګه بنکاره شوې، چې د قانوني موادو په بڼه وړاندې شوې، خو دا تقنین نه وو چې د قاضیانو له لورې پرې عمل وشي. د دې انفرادی هڅو له مهمو بېلګو څخه د مصر وزیر "قدري باشا" لخوا وړاندې شوي فقهی مجموعې دي لکه "مرشد الحیران الی معرفة احوال الانسان"، "الأحوال الشخصیة" او "الإنصاف في أحکام الأوقاف". دا مجموعې د حنفي مذهب نه اخیستل شوې وې، په ورته ډول سره لکه د مجلة احکام العدلیه ، خو "قدري باشا" او "مخلوف المنیاوي" د دې هڅو سره سره د مصر په وضع شوي قوانینو کې د اسلامي فقهي سره د تطابق لپاره هڅه وکړه. "قدري باشا" د حنفي او "مخلوف المنیاوي" د امام مالک مذهب په اړه تبصره او مقایسه وکړه.[1]

د "قدري باشا" او "مخلوف المنیاوي" هڅې د نورو فقهاء په هڅو کې مرسته وکړه چې فقه تدوین کړي، لکه د مالکي مذهب احکامو مجله، د حنبلي فقهي نسخې، او علامه محمد جواد مغنیه د جعفري فقهي لپاره ورته هڅې وکړې. ټولې انفرادی هڅې یواځې په یوه مذهب باندې متمرکزې وې، یادو هڅو د تقنین د اهمیت لپاره فکرونه خلاص کړل او د تقنین غیر مذهبي بنسټ یې خورا ملاتړ وکړ.

ځینې تقنیني هڅې د ټولنیزو حرکتونو ملاتړ لپاره وې، لکه د طلاق لپاره لس مادې چې "قاسم امین" په خپل کتاب "تحریر المرأة" کې ولیکلې او همدارنګه استاد امام "محمد عبده" د مسلمانې ښځې د حالت د اصلاح لپاره وړاندیزونه.[2]

## د: محمد قدری باشا هڅې

محمد قدری باشا (وفات کال ۱۳۰۶ هـ ق / ۱۸۸۸م) د مصر د عدلیې وزیر وو. هغه په خپل انفرادي کوشش سره دری تقنیني مسودې د حنفي فقهي په رڼا کې تیارې کړې او هیله یې لرله چې دولت یې په رسمیت ومني او د قانون په توګه یې نافذ کړي. د هغه لومړنی علمي اثر "مرشد الحیران إلی معرفة احوال انسان" نومیږي، چې په ۱۰۴۵ مادو مشتمل دی او د مدني او تجارتي معاملو احکام پکې د حنفي فقهي له مخې تنظیم شوي دي. نوموړي د شریعت د احکامو دتطبیق لپاره قوانین په داسې بڼه تنظیم کړي چې د وخت د مدني اړتیاوو سره سمون ولري، هدف یې دا وو چې د شریعت د احکامو تطبیق اسانه او عملي کړي[3]. که څه هم دا کتاب د رسمي قانون په توګه ونه منل شو، خو تل د قانون پوهانو له خوا په پام کې نیول شوی او د قانوني او حقوقي مطالعاتو په برخه کې یې د یوې مهمې او اغېزمنې سرچینې په توګه خپل ځای ساتلی دی. د عربو هیوادونو ډېرو قوانینو له دې کتاب څخه مرسته اخیستې

---

1 - موسوعة التشریع الاسلامي ص ۳۱۰

2 - موسوعة التشریع الاسلامي ص ۳۱۰

3 محمد قدري باشا، مرشد الحیران الی معرفة أحوال الانسان، دار الطباعة ۱۸۸۰م، ص۱۲-۱۳.

ده. همدارنګه، محمد قدری پاشا د " قانون العدل والانصاف للقضاء على مشكلات الأوقاف" كتاب په ۶۴۶ مادو کې تألیف کړ، چې پکې د اوقافو احکام بیان شوي دي، او د الأحكام الشرعية فی الأحوال الشخصية، كتاب چې د کورنۍ، وصیت، حجر او میراث پورې اړه لري، په ۶۴۷ مادو کې تنظیم او تألیف شوي دي.

شهید عبدالقادر عوده د محمد قدری پاشا د کتابونو په اهمیت کې داسې لیکي: "مرحوم محمد قدری پاشا په خپل کتاب 'مرشد الحيران' کې د حنفي فقهي مدني احکام د مصر د مدني قانون په توګه په موادو او بابونو کې تنظیم کړي. په دې کار سره یې هغو کسانو ته چې کتاب یې مطالعه کوي، پرته له دې چې فقهي کتابونه وګوري، د اسلامي شریعت احکام او د قانون احکام په ساده او لنډه توګه د مقایسې وړ ګرځولي دي او مطالعه کوونکی په اسانۍ سره د اختلاف او اتفاق موارد درک کولی شي، پرته له دې چې د فقهي اصولو او قواعدو او د نورو فقهاوو له نظریاتو خبر وي."[1]

## و: د احمد علي القاري هڅې

کله چې د سعودي عربستان پاچا فرمان صادر کړ چې قضات باید د امام احمد ابن حنبل د قول راجح له مخې حکم وکړي، احمد علي القاري (ت ۱۹۴۰م) چې په مکه کې قاضي وو، په یوه ستاینې وړ هڅه کې د حنبلي فقهي له مخې شرعي احکام په نږدې زر مادو کې تنظیم کړه. که څه هم یاد کتاب په رسمي ډول د قاضیانو د مرجع په توګه ونه منل شو، خو دا چې د یو باتجربه قاضي لخوا په مکه معظمه کې تنظیم شوې وه، خپل قانوني وزن او ارزښت یې ساتلی دی. هغه بیانوي چې د اسلامي قوانینو پراختیا ته اړتیا ده تر څو د معاصرو ستونزو حلولو لپاره مناسبې حل لارې پیدا شي، مګر دا باید په دقیق ډول د شریعت د اصولو سره همغږي وي[2].

## ه: د محمد محمد عامر هڅې

محمد محمد عامر په ۱۹۳۷م کال کې په لیبیا کې د مالکي فقهي له مخې د قانون قواعد ترتیب کړل چې "ملخص الأحكام الشرعية على المعتمد من مذهب مالك" نومیده. دې کتاب کې د شرعي قضاء، د فامیلي حقوقو، مدني معاملو او د میراث احکام په ۹۲۸ مادو کې ترتیب شوي دي او هر وخت کې تقنین باید د زمان او مکان سره سمون ولري تر څو د شریعت احکام په سم ډول عملي شي.[3]

---

[1] - التشريع الجنائي مقارنا بالقانون الوضعي، ج۱، ص۹-۸.

[2] احمد علي القاري، شرح الفقه الأكبر، دار الكتب العلمية، ۱۹۸۴م، ج۱، ص ۵۷.salafiaqeedah.blogspot.com

[3] https://islamarchive.cc/bibliography-ar/٥٥٧٦٧٦

## پنځم مطلب

## استعمار وخت کې په اسلامي هیوادونو کې د تقنین هڅې

په الجزائر کې، یو فرانسوي مستشرق میسوناس په ۱۸۹۸م کال کې د امام مالک فقهي له مخې اسلامي مدني قانون وضع کړ، او همدارنګه، مارتینو چې په استعمار حکومت کې عسکري مترجم وو، د خلیل نصوص او شروح یې په قانوني موادو کې ترتیب کړل. دا کار یې یوې کمیټې ته وړاندې کړ چې په ۱۹۰۵م کال کې د اسلامي قانون د تنظیم لپاره جوړه شوې وه، ترڅو د الجزایر مسلمان اتباعو لپاره نافذ شي. په ۱۹۰۹م کال کې په لویدیځې افریقا کې چې د انګلستان تر تسلط لاندې وه، اسلامي قانون د محاکمو لپاره وضع شو. همدارنګه، په همدې کال کې په روسیه کې د ترکستان د خلکو د فامیلي او میراث معاملو لپاره د حنفي فقهې له مخې اسلامي قانون وضع شو. په ۱۹۱۳م کال کې په مراکش کې چې د فرانسې تر استعمار لاندې و، اسلامي مدني قوانین وضع شول.

د برطانوي استعمار پر مهال، د اسلامي فقې یو ګډ سیستم چې "انګلو-مسلمان قانون" بلل کېده، د مسلمانانو لپاره وکارول شو. د ۱۸۷۵م کال پورې د برطانوي قوانین د اسلامي فقهې په ډېری برخو کې ځای پر ځای شول، خو د کورنیو قانونونو او ځینو نورو مواردو په اړه اسلامي فقهه تر یوه حده عملي پاتې شوه[1]. د عثماني خلافت په وخت کې، د سلیمان اول په حکمراني کې، د اسلامي فقهې د قوانینو یو لړ لوایح تدوین شوې. دا قوانینو د اسلامي اصولو په رڼا کې جوړ شوي وو، خو ځینې غیر دینی جزئیات هم په کې ځای شوي وو، چې د ادارې د چارو په تنظیم او د اسلامي فقهې پراختیا کې مرسته وکړه[2].

د ۱۹مې پیړۍ په لومړیو کې، محمد علي پاشا د مصر په واکمنۍ کې د اسلامي قوانینو د تقنین لپاره هڅې وکړې. هغه د حنفي فقې د اصولو پر بنسټ د قوانینو تدوین پیل کړ او د شریعت د اصولو پر اساس د اسلامي فقهې یو منظم سیستم رامنځته کړ.

## دوهم مبحث

## اسلامي فقهې تقنین اړوند فکري هڅې

په دې مبحث کې د اسلامي فقهې د تقنین اړوند فکري هڅو یادونه شوې ده او د ټولو هغو کسانو چې اړوند هلې ځلې یې تر سره کړې دي یاد شوی دی.

[1] Islamic Law and the Colonial Encounter in British India, Michael R. Anderson, ۱۹۹۳.

[2] The Codification of Islamic Law in the Ottoman Empire, Samy Ayoub, published by: Islamic Law and Society, issue ۲nd, Volume ۱۶, page ۱۲۱

## لومړی مطلب

## د عبدالله بن المقفع هڅې

د عباسي خلافت په دوره کې بغداد د خلافت مرکز وو او ګڼ شمیر علما او مفکرین په دغه ځای کې راټول شوي وو. یو له دغو مفکرینو څخه عبدالله بن مقفع وو، چې د قضایي احکامو په تضاد او تناقض پوهیده او د دې اغیزې یې په ټولنه کې درک کړې وې. عبدالله بن مقفع سره له دې چې ځنو أئمة په زندیق[1]، دروغجن او آن دیني امورو ته په سپکاوي تورن کړی دی[2] غوښتل چې د خلیفه په واسطه مسلمانانو ته د دې تضادونو د حل لاره وړاندې کړي. نوموړي عباسي خلیفه ابوجعفر منصور ته یوه رساله ولیکله، چې د "رسالة الصحابة[3]" په نامه مشهوره شوه. په دې رساله کې یې د اسلامي فقهې تقنین د اړتیا په اړه وویل: "... امیر المؤمنین باید د کوفې، بصرې او نورو ښارونو او اطرافو په اړه دقیق شي، چې په کې د قضایي احکامو تضاد موجود دی، او دا تضاد په وینو، نکاح، او مالونو کې د اوج درجې ته رسېدلی دی. په یوه سیمه کې وینې، نکاح، او مالونه روا بلل شوي دي، حال دا چې په بله سیمه کې دا احکام متضاد دي او حرام بلل کېږي. که امیر المؤمنین په دې اړه توجه وکړي او هدایت وکړي چې دا قضایاوې، که سنت وي یا قیاس، راټولې شي او د امیر المؤمنین دربار ته وړاندې شي، نو امیر المؤمنین باید په هر قضیه کې خپل نظر څرګند کړي او د هغه پر خلاف قضاء نه شي. په دې اړه یو جامع کتاب ترتیب کړي او هغه ښارونو ته واستوي تر څو په دایمي ډول نافذ وي."

نوموړي په خپله رساله کې لیکلي وو چې که چېرې امیرالمؤمنین په دې سره فیصله وکړي نو باید پلې شي او هر هغه څه چې دسنت او قیاس له خلکو سره دي او د خلیفه د امر خلاف دي باید لرې کړی شي بیا به خلیفه په هره موضوع کې خپله فکر کاوه او له هغې وروسته چې خپل فکر به یې نهایي شو هغه به یې خپلو قاضیانو ته ولېږو او له یاد امر څخه سرغړونه جرم ګڼل کېده[4].

---

1- د زندقة، پاپولیزم پدیده د عباسي دور په پیل او له هغې وروسته په شدت سره را څرګنده شوه او خلیفه أبو جعفر المنصور د دوی په وړاندې ودرېد او د دوی ځنې غړي یې ووژل.

2 - البداية والنهاية، ج١٠، ص٩٦،

3- متن د یادې رسالې په لاندې ډول دي: " ومما ينظر أمير المؤمنين فيه من أمر هذين المصدرين وغيرهما من الأمصار والنواحي اختلاف هذه الأحكام المتناقضة التى قد بلغ اختلافها أمرا عظيما في الدماء والفروج والأموال فيستحل الدم والفرج بالحيرة وهما يحرمان بالكوفة ، ويكون مثل ذلك الاختلاف في جوف الكعبة فيستحل في ناحية ما يحرم في ناحية أخرى .. فلو رأى أمير المؤمنين أن يأمر بهذه الأقضية والسَير المختلفة فترفع إليه في كتاب ويرفع معها في كل قضية رأيه الذى يلهمه الله ويعزم له عليه وينهى عن القضاء بخلافه وكتب بذلك كتابا جامعا عزما لرجونا أن يجعل الله هذه الأحكام المختلطة الصواب بالخطأ حكما واحداً صواباً ، ورجونا أن يكون اجتماع السَير قربة لإجماع الأمر برأي أمير المؤمنين وعلى لسانه ..." محمد علي كرد، رسائل البلغاء، ص١٢٥-١٢٦.

٤- مذکور ، محمد سلام مذكور، القضاء فى الاسلام، دار النهضة العربية، ١٩٦٤م، ص/ عبدالرحمن القاسم، الاسلام و تقنين الأحكام، دار المعارف السعودية، ١٩٧٧م، ص ٢٣٩-٢٤٠.

عبدالله بن مقفع د تاريخي پلوه لومړی کس ګڼل کېږي چې د تقنين نظريه يې مطرح کړې ده. هغه د عباسي خلافت په پيل کې خليفه ابو جعفر منصور ته د تقنين کولو وړانديز وکړ. په خپله رساله کې يې ليکلي وو چې که اميرالمؤمنين فيصله وکړي، بايد پلي شي او هر هغه څه چې د سنت او قياس له مخې د خليفه د امر خلاف دي، بايد لرې کړل شي. بيا به خليفه په هره موضوع کې خپل نظر څرګندوي او هغه به خپلو قاضيانو ته وړاندې کوي، او له ياد امر څخه سرغړونه به جرم ګڼل کېږي.

## دويم مطلب

## خليفه ابو جعفر منصور هڅې

شايد د عبدالله بن مقفع د ليک اغېز وو چې ابو جعفر منصور يې دې ته وهڅاوه چې د قضاء يووالی اړين وګڼي. خو ځکه چې هغه ديني عالم نه وو، يا يې فکر کاوه چې د پاچا په توګه د غوره قول انتخاب به له خلکو او علماوو سره په مخالفت کې تمام شي، نو خليفه ابو جعفر منصور له امام مالک څخه د قوانينو د ترتيب غوښتنه وکړه[1] او غوښتل يې چې د امام مالک په موطأ باندې خلک پابند کړي. خو امام مالک (وفات کال ۱۷۹) له دې کار څخه ډډه وکړه او ويې ويل: "خلکو داسې مسايل او احاديث ترلاسه کړي دي چې موږ پرې نه يو خبر[2]". خليفه بيا په ۱۵۳ ه ق کال کې له امام مالک څخه دا غوښتنه تکرار کړه، خو امام بيا هم مخالفت څرګند کړ. په پای کې خليفه د امام دلايلو ته قانع شو او د قوانينو د ترتيب غوښتنه يې پرېښوده.

عباسي خليفه المهدي (وفات ۱۶۹ هجري) هم له امام مالک څخه ورته غوښتنه وکړه، خو امام د پخوا په شان په کلکه رد کړه. خليفه هارون الرشيد (وفات ۱۹۳ هجري) هم په خپل خلافت کې له امام مالک څخه دا غوښتنه وکړه، خو امام مالک بيا هم مخالفت وکړ. دا بايد وويل شي چې په دې اړه له امام مالک سره د نورو علماوو هيڅ مخالفت نه وو[3].

---

1- خليفه منصور امام مالک ته وويل: "يا أبا عبد الله ضع هذا العلم ودونه ودون منه كتابا وتجنب شدائد عبد الله بن عمر ورخص عبد الله بن عباس وشواذ بن مسعود وأقصد إلى أواسط الأمور وما اجتمع عليه الأئمة والصحابة رضى الله عنهم لنحمل الناس إن شاء الله على علمك وكتبك ونبثها في الأمصار ونعهد إليهم ألا يخالفوها ولا يقضوا بسواها " وردّ الإمام مالك قائلا: " أصلح الله الأمير إن أهل العراق لا يرضون علمنا ولا يرون في علمهم رأينا " فردّ الخليفة عليه قائلا :" يُحملون عليه وتضرب عليه هاماتهم بالسيف وتقطع طي ظهورهم بالسياط فتجعل بذلك وضعها ..." ولكن الإمام مالك رحمه الله لم يقّر الخليفة على ذلك وقال" لا تفعل يا أمير المؤمنين فقد سبقت الناس أقاويل وسمعوا أحاديث وأخذ كل قوم بما سبق إليهم فدع الناس وما اختار كل بلد لأنفسهم " وفي رواية أخرى أنه قال له : " إن أصحاب الرسول صلى الله عليه وسلم تفرقوا في الأمصار وعند كل قوم علم فإن حملتهم على رأى واحد تكون فتنة " الامامة والسياسة، ابن قتيبة، ج۲، ص۱۴۸.

2- (ان الناس قد جمعوا واطلعوا على أشياء لم نطلع عليها)

3- ابن الحاج علي بن محمد بن أحمد بن خلف المعروف بابن الحاج، المدخل الى المذهب المالكي ، دار التراث القاهرة-۱۹۷۲م. ، ج۱، ص۲۵

امام شوکاني (رحمه الله) وايي: په متواتر ډول روايت شوی چې هارون الرشيد امام مالک ته ويلي وو چې غواړي ټول خلک په مالکي مذهب عمل وکړي، خو امام مالک هغه له دې کاره منع کړ. دا موضوع د امام مالک هر کتاب کې راغلې ده[1].

خليفه هارون رشيد له مړينې وروسته بيا تر يوه وخته پورې د اسلامي فقهې د تقنين کيسه مړاوې وه تر دې چې د عثماني خلافت په اواخرو کې بيا را ژوندۍ شوه او په کال ۱۲۸۶کې يې مجلة الأحكام العدلية[2] صادره کړه چې يو لړ احکام په کې موجود وو لکه بيع، دعوې، او قضاء، د قانون په شان د عصر د روح سره برابره، البته ياده قضاء په حنفي مذهب باندې بنا وه او معمولا د راجح او مرجوح قول په پام کې نه نيولو سره، او بيا يې په محکمو کې په جبري ډول تطبيق په کال ۱۲۹۳ کې پيل کړ.

## درېيم مبحث

## سيمه ييزې هڅې

د تقنين اړوند سيمه ييزې هڅې په مختلفو عربي او اسلامي هيوادونو کې ترسره شوې دي. په مصر کې مختلفو دورو کې د قانوني نظام يووالي ته هڅې شوې، په عربستان کې د سعودی خاندان د عصري قانوني نظام جوړولو لپاره هڅې کړي، او په نورو هيوادونو لکه ترکيه، ليبيا، سوريه، اردن او ايران کې د اسلامي اصولو سره د عصري قوانينو يو ځای کولو هڅې شوې دي. دا هڅې د دې هيوادونو په قانوني سيستمونو کې د مهمو بدلونونو لامل شوې دي. په دې فصل کې په دې اړوند بحث شوی دی.

## لومړی مطلب

### مصر

د اسلامي فقهې تقنين په اسلامي نړۍ کې يو تاريخي بهير دی چې د شريعت اصولو د حقوقي او حکومتي نظامونو سره همغږي کولو لپاره ترسره شوی. دا هڅې په مختلفو هېوادونو کې د تاريخي، سياسي، او ټولنيزو شرايطو په رڼا کې ترسره شوې.

په مصر کې د تقنين هڅې د محمد علي پاشا په دوره کې د اسلامي اصولو د عصري کولو په موخه پيل شوې. محمد علي د عثماني خلافت له ادارې څخه خپلواک شو او هڅه يې وکړه چې مصر ته يو نوی قانوني نظام رامنځته کړي. هغه هڅه وکړه چې اسلامي فقهه د عصري دولت اړتياوو سره برابره کړي. د دې دورې په ترڅ کې د اسلامي محاکمو جوړښت د اروپايي حقوقي سيستمونو سره ترکيب شو او يو لړ اړين او مهم اقدامات يې تر سره کړل چې په لاندې ډول بيانېږي[3]:

---

1- الشوکانی ، محمد بن علی الشوکانی، القول المفيد فی أدلة الاجتهاد والتقليد، درا القلم- الکويت، ۱۹۷۶م، ص۱۷.

2- القضاء فی الاسلام، محمد سلام مذکور، ص۱۱۱.

3 - تاريخ التشريع الاسلامي، ج۱، ص۲۷۰-۲۷۵

۱- فقهي اصول د مدني او جزايي قوانينو په بڼه تنظيم.

۲- د محاکمو په لارښوونو کې د فقهي کتابونو کارول، لکه "الموطأ" او "الفقه المالکي"...

## دويم مطلب

## ترکيه

د عثماني خلافت په دوره کې د تقنين هڅې د اسلامي فقهي اصولو د مدني قانون په توګه د کاروني پر محور راڅرخېدې. لکه څنګه چې مخکې مفصلا په دې اړوند بحث شوی دی او پوره اړوند معلومات وړاندې شوي دي د "مجلة الأحکام العدليه" په نوم يو قانوني متن په ۱۸۷۷م کال کې ترتيب شو. دا قانون د حنفي فقهې پر اساس جوړ شوی وو او د عثماني خلافت د ټولو حقوقي چارو لپاره اساس وو. د يادې مجلې موخه د اسلامي فقهي اصول د عصري حقوقي اړتياوو سره همغږي کول وو. او يو لړ مهمې ځانګړنې يې په لاندې ډول سره بيانېږي[1]:

۱- د اسلامي اصولو حقوقي تفسير عام کول.

۲- د حنفي فقهي اصولو د تطبيق لپاره عملي لارښوونې.

۳- د امپراتورۍ د ټولو اتباعو لپاره يو واحد قانوني متن ترتيب کول.

د ترکيې سربېره په ځنې نورو هېوادونو کې هم ورته کوښښونه د اسلامي بنسټونو له لوري تر سره کېدل لکه هندوستان کې د تقنين هڅې د بريتانوي استعمار په دوره کې د اسلامي فقهي د اصولو په محدود تطبيق متمرکزې وې او د "محمدن لا" Mohammaden Law په نوم قانوني متن د مسلمانانو لپاره تدوين شو. ياد قانون د شخصي احوال (نکاح، طلاق، او ميراث) لپاره اسلامي اصول په نظر کې نيولي وو، او په بريتانوي محکمو کې د اسلامي فقهي اصول د مسلمانانو د کورنيو چارو لپاره منل شوي وو[2].

## درېيم مطلب

## تونس

په تونس کې د اسلامي فقهي د تقنين هڅې د ۱۹۵۶م کال په شاوخوا کې د احوال شخصي قانون په جوړولو متمرکزې وو. د "قانون الأحوال الشخصية" په نوم متن جوړ شو، چې د اسلامي اصولو پر بنسټ ولاړ وو. په دې قانون کې د ښځو او نارينه وو حقوقو ته ځانګړې پاملرنه شوې وه او ياد قانون د کورنۍ د چارو د تنظيم لپاره يو مهم ګام وو[3].

---

[1] - تدوين الفقه الاسلامي، ج۱، ص۱۵۰-۱۵۷

[2] - الزحيلي، وهبة الزحيلي، الفقه الاسلامي و تطوره، دار الفکر-دمشق، ۲۰۰۴م. ، ج۲، ص۳۱۰-۳۱۱

[3] - بن قدامة ، عبدالرحمن بن قدامة، المدخل الى تاريخ التشريع الاسلامي، دار الکتب العلمية-بيروت،۲۰۰۰م ، ج۱، ص۱۰۰-۱۱۰،

## څلورم مطلب

## سعودي عربستان

په سعودي عربستان کې د اسلامي فقهي اصول د حقوقي نظام اساس جوړوي. د حنبلي فقهي اصول د سعودي قوانین ټاکي. د شریعت محاکمې په مستقیم ډول د فقهي اصولو پراساس فیصله کوي. د تقنین پروسه په ځانګړې توګه د حنبلي اصولو په رڼا کې ترسره کیږي[1].

۱۳۳۴ هـ ق – کال مصر کې د واده او طلاق ځانګړی قانون جوړ شو. دغه قانون د واده، طلاق، او د دې اړوند مسائل لکه د مال او ماشومانو د پالنې په اړه ځانګړي قواعد او اصول وټاکل شوی او په عامه توګه یې موخه دا وه چې د ټولنیز عدل او انصاف لپاره یوه منظم چارچوب جوړ کړي. او ورپسې بیا د واده لپاره ځانګړی کم سن وټاکل شو، چې له دې وروسته د ماشومانو د واده نه مخنیوي لپاره یوه قانوني تګلاره رامنځته شوه. دا اقدام د ماشومانو د حقوقو ساتنه او د هغوی د تحصیلي او ټولنیز پرمختګ د خوندیتوب لپاره وو. همدارنګه د احوال شخصي قانون په ورته وخت کې صادر شو چې د مصر د مختلفو مذهبونو لپاره یې ځانګړي قواعد وضع کړل. دا قانون د عثماني خلافت د حنفي مذهب د تقنین سره په مخالفت کې وو، او د څلورو مذهبونو د قواعدو مطابق یې قانوني چارچوب رامنځته کړ. قدري باشا د واده او طلاق قانون په اړه یوه کتاب ولیکه (مرشد الحيران الى معرفة أحوال الانسان فى المعاملات الشرعية على غرار التقنيات الحديثة) چې د دې قانون ټولې جزئیات، اصول، او قواعد په کې شامل دي. دا کتاب د دې قانون د تطبیق، د هغې د مختلفو حالتونو تحلیل، او د حقوقي چارو د ښه پوهیدو لپاره یوه مهمه منبع ګڼل کیږي. همدارنګه د احوال شخصي قانون په اړه د قدري باشا بل کتاب (الأحكام الشرعية فى الأحوال الشخصية) د دې قانون د اصولو، قواعدو، او د تطبیق میتودونو په اړه تفصیل وړاندې کوي. دا کتاب د دې قانون د پیچلو مسایلو او د مذهبونو د اختلافاتو په اړه توضیحات ورکوي.

دا پروسه همداسې روانه وه تر دې چې دا کار ښخي عام شو. چون یوه علمي او دقیقه کمېټه چې د وړتیا په بنسټ ټاکلې شوې وي موجوده نه وه او نه هم د یاد امر لپاره مشترک هلې ځلې وشوې، نو بدبختانه په دې سلسلې سره غربي قوانین د ډېری عربي او اسلامي هېوادونو محکمو ته د ننه شول. او د یادولو وړ ده چې دا هر څه په یو ځل نه دي شوي، بلکې دا ټول په یوه سیستماتیکه توګه د یو اوږد پلان په پایله کې تحقق موندلی دی، خو بدبختانه چې مسلمانان دې ټکي ته پاملرنه نه درلوده او آن تر دې چې ځیني خو لا فکر کړي چې پرمختګ او تقدم په غربي قانون کې دی او باید په کلی ډول اسلامي قوانین یوازې تر مسجد او امام پورې محصور شي. یاد فکر د اسلامی قوانینو د تطبیق لپاره ستر خنډ

---

[1] - تاریخ التشریع الاسلامي، ج۱، ص۲۳۰-۲۳۵

شو، او د ستونزو د حل لپاره يوازينی لاره دا ده چې د وړ ټاکلي کمېټې له لارې د اسلامي فقهې د تقنين او تطبيق هڅې په سمه توګه ترسره شي، ترڅو د اسلامي قوانينو خلا ډکه شي او عدالت په مؤثره توګه تأمين شي.

## څلورم مبحث

## د تقنين ضوابط

دا چې تقنين يو پېچلی او ستونزمن کار دی او خورا ډېر زيار ته اړتيا لري نو په دې اساس ياد کار لپاره پياوړي او له هر پلوه رسيدلي کسان په کار دي تر څو له علمي او تجربي پلوه په ټولو اړوند برخو باندې احتوی ولري څکه تقنين يوازې په خپل سر نه شي کېدلای بلکي ياد کار لپاره يو لړ منلي او د باور وړ اصول او ضوابط شته دي چې په حتمي ډول بايد مراعات شي او که چېرې ياد ضوابط له پامه غورځول کېږي دې سره تقنين پروسه معيبه او ټکنی کېږي.

په دې مبحث کې د تقنين ضوابطو اړوند بحث شوی دی او هغه امور پکې ذکر شوي دي چې د اسلامي فقهي تقنين کې بايد مراعات شي. دری مطلبونو ته شامل دی. په لومړی مطلب کې د تقنين عام ضوابط او دوهم مطلب کې د تقنين شرعي ضوابط او ورپسې دريم مطلب کې بيا د تقنين شکلي ضوابط بيان شوي دي.

## لومړی مطلب

## عام ضوابط

لکه څرنګه چې فقهي أحکام وده کړي او ډېرېږي او هره ورځ نوي واقعاتو او حوادثو د وقوع سره سم مواکبت کړي نو په دې اساس معاصرو فقهاء ته لازم نه ده چې د پخوانيو علماء د اقوالو سره ودرېږي او يوازې هغه سره انتقالوي بلکي په کار ده چې دې اړوند خپل زيار تر سره کړي او اړوند اجتهادي مسايلو کې تجديد او زياتوالی راولي تر څو په ښه ډول سره بشري ژوند د قانون په رڼا کې تنظيم کړی شي. د يادولو وړ ده چې ياد دلايل له قرآن، سنت او نورو شرعي مصادرو څخه اخستل کېږي او بيا له فقهي آراء هغه ټاکل کېږي چې دليل يې قوي وي او همدارنګه په ښه ډول د خلکو اړتيا او مصالح په کې مصؤون وي. البته کوم چې شرعي ثابت نصوص دي هغو کې هېڅ نوع عدول نه شي تر سره کېدلای لکه چې وايي: لا اجتهاد فی مورد النص[1].

---

[1] - يعني: هره مسئله چې په اړوند يې د شارع له خوا نص موجود وي، مجتهدينو ته جايز نه دی چې په هغې کې اجتهاد تر سره کړي څکه چې د فروعو په احکامو کې د اجتهاد جواز د شارع له خوا د نص د نه موجوديت په شرط دی. علي حيدر افندي، درر الحکام فی شرح مجلة الأحکام،ج۱، ص۱۶.

مشرع یا قانون جوړوونکي ته په کار ده چې شرعي نصوصو هر اړخیز فهم ولري[1]:

**الف:** د ټولنیزو ګټو په چوکاټ کې د نصوص درک کول: شریعت د خلکو د ګټو د لاسته راوړلو لپاره راغلی دی نو له همدې امله فقهاء دلایلو، معاني، حکم او اهدافو ته دېره پاملرنه کړې او دې موخې ته د رسېدلو لپاره فقهاوو د فرد حقونه محدود کړي دي او د ټولنې ګټې چې تر ټولو خلکو تړاو لري، لومړیتوب ورکړی دی.

**ب:** د معاصرو او عصري پرمختګونو په چوکاټ کې د نصوصو درک کول: دا د وخت او ځای په بدلون سره د فتوا او احکامو د بدلون په اړه د فقهاء د پرېکړې له مخې ثابته شوې ده د فقهي احکامو رامنځ ته کول هم د قانون د تعدیل یو لوی لامل دی.

**ج:** د شرعي نص د روح او مقصد سره د هغه د لاسته راوړلو لپاره او متن په داسې غوښتنلیک کې پلي کول چې د آفتونو د پرمختګ لپاره مناسب وي او قانون له جمود او ګډوډۍ څخه لرې وساتي.

معلومه خبره ده چې اسلامي فقه داسې منابع لري چې له مخې یې احکامو ته رسېږي او دا منابع او شواهد د أصول فقه له مهمو موضوعاتو څخه دي او مقنن به په تقنین کې هر مصدر جلا یادوي بغیر له مذهبي خلافاتو یې ځکه هغې سره بحث خورا ډېر اوږدېږي.

مصادر او یا شرعي دلایل په اساس د مصدر په دوه ډوله دي:

۱- نقلي: دا متفق علیه مصادر دي لکه قرآن او حدیث او دا اصلي مصادر دي.

۲- عقلي: لکه اجماع چې یو عقلي تبعي متفق علیه مصدر دی سره له دې چې تفاصیلو کې اختلاف شته، اما مختلف فیه مصادر بیا: قیاس، استحسان، استصلاح (المصالح المرسلة)، عرف، استصحاب، قول صحابي، سدالذرائع، او شرع من قبلنا دي. هر یو د یادو مصادرو په تقنین کې خپل رول او اهمیت لري دا چې د بحث موضوع ډېر په تقنین باندې متمرکزه ده په دې اساس هر یو مصدر په جلا ډول نه بیانوم تر څو بحث د خپل اساسي محور نه بیرون نه شي، غواړم د تقنین په ټکي پاتې شم.

په اسلامي فقه کې یو لړ مسائل دي چې هغه د بنده او رب تر منځ دي او نور داسې مسائل دي چې هغه کې قضاء دخل لري او د بندګانو تر منځ دي، نو کولای شو ووایو هغه امور چې د بنده او رب تر منځ دي او تعبدي ګڼل کېږي تقنین له دې سره هېڅ تړاو نه لري او نه هم تدخل کولای شي. په عثماني خلافت کې هم همداسې وو چې عامو امورو کې چې یو تر بل یې تړاو درلود او معاملات وو په حنفي فقه به فیصله کېدله اما کوم چې عبادات دي ټول په کې خپلواکي وو هر څوک چې د کوم مذهب پلوي

[1]- نظرات فی تقنین الفقه الاسلامي، ص۲۶۸.

وو د هماغه مذهب په رڼا کې يې خپل عبادات تر سره کول. نو کولای شو ووايو چې قضاء او تقنين تر عباداتو تړاو نه لري[1].

د دې لپاره چې تقنين اسلامي وګڼل شي بايد مصدر يې اسلامي شريعت وي او د شريعت روح او مقصد سره برابر وي او په شرعي نقلي او عقلي دلايلو باندې استوار وي. داسې قوانين چې له غربي قوانينو څخه متأثره وي او سرچينه يې پردۍ وي په هېڅ ډول اسلامي نه شي ګڼل کېدی[2].

دوکتور محمد زکي د اسلامي فقهې تقنين لپاره يو لړ اسلوب ذکر کړي دي چې بايد مراعات شي او په لاندې ډول بيانېږي[3]:

١- تقنين بايد په درسته توګه تر سره شي او له هر ډول تناقض څخه خالي وي.

٢- د بې فايدې تکرار څخه بايد ډډه وشي مګر دا چې د يو اړتيا په بنا وي.

٣- د قانوني قواعدو د تطبيقي او عملي مثالونو له ذکر څخه ډډه وشي البته يواځې د اړتيا په وخت کې د يوې فايدې په بنا کله چې پرې خلاف له منځه لاړ شي.

٤- مناسب عبارات په کار يوړل شي څکه هغه عبارات چې مقنن يې استفاده کوي ځنې يې آمريه وي، اوځنې نور يې بيا ناهية وي او په امر او نهی کې بايد الفاظ قاطع وي او په مباحي امورو کې بايد لهجه يې نرمه وي.

٥- همدارنګه له يوه نص څخه بل نص ته بايد ډېره احاله تر سره نه شي ځکه دې کار سره سختي منځ ته راځي او د تقنين مراد دا دی چې سهولت او آساني منځ ته راوړي.

٦- د يادو امورو سربېره په تقنين کې بايد ځنې نور ټکي هم په پوره ډول پام کې ونيول شي لکه جغرافيه، نژاد، اخلاق، عادات، رواجونه او په ورته وخت کې د عصر د غوښتنو سره برابر وي.

## دويم مطلب

## شرعي ضوابط

د اسلامي فقهې د تقنين لپاره يو لړ شرعي ضوابط شته دي چې بايد په پوره ډول مراعات شي[4]:

**١-د شرعي احکامو مخالف نه وي**

دا چې د تقنين موخه دا ده تر څو عدل قائم شي او د فساد او ظلم مخه ونيول شي سره له دې چې نبي کريم ﷺ تقنين نه دی تر سره کړی اونه هم په دې اړه وحی نازل شوې ده خو د اوس عصر او

[1] - محمد عبدالجواد محمد، تقنين الشريعة الاسلامية، منشأة المعارف، ١٩٩١م، ص١٢.

[2] - تقنين الفقه الاسلامي، ص٨٠.

[3] - تقنين الفقه الاسلامي ، ص٩٣-٩۴.

[4] - نظرات في تقنين الفقه الاسلامي، ص٣٠١.

سیاست غوښتنه دا ده چې تقنین موجود اوسي او په دې کې عام مصلحت دی. د یادولو وړ ده چې یو عادل تقنین تر هغې صورت نه نیسي تر څو چې د اسلامي شریعت په رڼا کې نه وي تر سره شوی حتی په هغو مسایلو چې نوي واقع کېږي یا مستجدات دی هم باید د اسلامي فقهې د اصولو په رڼا کې ورته حل وموندل شي په داسې توګه چې د اسلامي اصولو خلاف نه وي تر څو تقنین د هغه خپل اصلي تګلارې څخه بهر لاړ نه شي.

اسلامي تقنین دې ته ویل کېږي چې فقهي احکام د قانون په بڼه ترتیب شي په داسې توګه چې د شریعت روح او مقصد په کې متحقق وي او د نصوصو خلاف نه وي بلکې د هر وخت او ځای لپاره په غوره ډول د تطبیق وړ وي[1]. د یادولو وړ ده چې اسلامي شریعت په عام او کلي ډول سره حلال او حرام بیان کړي دي نور یې هر څه په پوره تفصیل نه دي بیان کړي نو لازم نه دی هغه څه په اړه چې نص نشته حرام یا ناروا وګڼل شي یواځې په دې سبب چې په اړه یې کوم دلیل نشته دی، بلکې په کار ده چې عقد دشریعت عامو ضوابطو خلاف نه وي.

**۲-شرعي مقاصد په کې رعایت اوسي**

په تقنین کې باید د اسلامي فقهې مقاصد مراعات شي، البته که چېرې یاد مقاصد مراعات نه شي، نه شي کېدلای چې یاد تقنین په عدل سره تر سره شوی وي. د شرعي مقاصدو سربېره په تقنین کې باید لومړیتوبونه مراعات شي په داسې توګه چې لومړی ضروریات بیا حاجیات او وروسته تکمیلیات ته وار ورکړل شي او همدارنګه ټولګټې او عامه مصالح په پوره ډول پام کې ونیول شي، ځکه فردي مذهب یا هغه فکر چې یواځې په فردي ګټو باندې متمرکز دی هغه وضعي اقتصادي نظام دی اما اسلام خو لله الحمد د عدل او انصاف دین دی چېرته چې عامو ګټو ته په فردي ګټو مخکېوالی او لومړیتوب ورکړل شوی دی[2].

مقصد عام د تشریع دا دی لکه څنګه چې له دلالاتو یې څرګندېږي چې د ټولنیز نظم ساتنه وشي او عدالت ټینګ شي او همدارنګه ټولنه کې خیر او صلاح رامنځ ته شي او د هر شر او فساد مخه ونیول شي[3].

**۳- حرام معاملات په کې څرګند وي**

اسلامي شریعت د خلکو د آسایني او ټولنه کې د عدل او انصاف پیام له ځان سره راوړی دی، حلال او حرام یې په واضح توګه بیان کړي دي، د تقنین له اساسي او محورې ټکو یو دا دی چې باید پوره

---

1 - التشریع الاسلامي و مراحله ص۱۰۵.

2 - البعلی ، عبدالحمید محمود البعلی، مرتکزات استراتیجیة المعاملات المالیة الاسلامیة، مکتبة وهبة-القاهرة، ۲۰۰۰م، ص۴۵-۴۶.

3 -محمد أبو زهرة، أصول الفقه ، دار الفکر العربي، ۱۹۵۸م ، ج۱، ص۳۶۵

ډول ښکاره وي، کوم چې شريعت کې ناروا عقود دي لکه سود، دوکه، خيانت، احتکار، استغلال، چل، درواغ، نجش، مال ذخيره کول، قمار، ميسر، د نورو حق نه ورکول، د داسي يو شي خرڅول چې ملکيت کې نه وي، محاقله، مزابنة، د قرض خرڅول، بيع او شرط، غبن او نور، دا ټول حرام عقود په کې په ښکاره ډول حرام بيان شوي وي او همدارنګه يادو امورو ته د حيلې او لارو مخه ونيول شي په خاص ډول سود ته ځکه عامه فقهي قاعده ده چې وايي: ما أدى الى الحرام فهو حرام، يعني هر هغه څه چې د حرام سبب ګرځي يا حرام ته لار ورجوړوي، خپله هم حرام ګڼل کېږي.

**۴- د پخوانيو فقهاء د اقوالو تر منځ ترجيح**

په کار ده هغه حکم ګروپ چې تقنين چارې په مخ بيايي د پوره او غوره اخلاقو خاوند وي او هر ډول تعصب او کينې څخه خالي وي او اقوالو ته ترجيح يواځې د دلايلو د قوت او ضعف په بنسټ ورکړي، او هېڅکه د خپل فکر او يا خپل مذهب قول ته پر نورو ترجيح ورنه کړي يواځې په دې دليل چې نوموړی ياد مذهب ته انتماء لري. او که چېرې د غړو تر منځ د يوې موضوع اړوند خلاف رامنځ ته کېږي په داسې حال کې چې دلايل يې سره برابر وي نو د شورا په ډول د رايو اکثريت ته ترجيح ورکول کېږي او د اسلامي فقهي په اصولو کې، د قوي دليل پر وړاندې د اکثريت آراوو ترجيح ورکول د اجتهاد او استنباط په پروسه کې مهم اصل ګڼل کېږي[1].

**۵- د فقهي نص سياق بايد وساتل شي**

مقنن نه بايد فقهي نص له خپل سياق څخه په پوره ډول وباسي او يا يې له خپلې موضوع وباسي او دا جواز نه لري. او په تقنين کې بايد پوره کوښښ وشي تر څو اسانه مذهب غوره کړی شي، دا واضح خبره ده د يوې موضوع اړوند ممکن يو مذهب کې خورا تند موقف وي په داسې حال کې چې نورو مذاهبو کې دا امکان وي چې اسانه قول اخذ وشوی شي بايد په هغه قول اخذ وشي تر څو خلکو ته يو سهولت او آرامي رامنځ ته شي او کوښښ بايد وشي تر څو د سختی مخه ونيول شي البته دا کار يواځې تر هغو سرحده ممکن دی چې د صريح شرعي نص خلاف نه وي او همدارنګه مقنن چې کله د يو مصلحت په اساس يو قول ته ترجيح ورکوي په کار ده چې وجه د مصلحت يا په بل عبارت وجه د توجيه بيان کړي تر څو ښکاره او عامه وي او کله چې يې يو لوستونکی لولي د هغه لپاره اسانه وي چې پوه شي چې د يو ټاکلي قول په اساس ورته ترجيح ورکړل شوې ده، ځکه هلته مخالف اقوال هم بيان وي.

---

[1]- الموافقات، ج۳، ص۲۵۳

**۶- ټولګټو او عامه مصالحو ته باید په شخصي او ذاتي ګټو مخکښوالی ورکړل شي**

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه اسلام کې عامه مصلحتونه تر فردي ګټو مخکې ګڼل شوي دي او تقنین کې هم باید یاد ټکی په جدي ډول مراعات شي[1].

**۷- تقنین باید مکمل وي**

دا چې یو جزء تقنین شوی وي او بله برخه یې پاتې وي او د قاضي اجتهاد ته منتظره وي دا یو لوی خنډ او عیب دی په تشریع کې، تقنین باید پوره وي. تقنین له یوه پلوه علم او له بله اړخه بیا فن دی، علم په دې اساس دی چې دا مسئله باید په درست ډول درک شي او له هر اړخه وڅېړل شي او فن په دې اساس دی چې دا نورو ته یو موجه خطاب دی باید داسې الفاظو ترتیب شوی وي چې ټول پرې پوه شي بغیر له زیادت او نقصان څخه او دا یو اړین او مهم امر دی.

صیاغت د تقنین باید په داسې توګه تر سره شي چې تر یوې خاصې واقعې یا یو ځانګړي فرد پورې منحصر نه وي بلکې په عام ډول ولیکل شي تر څو په هر فرد او هره ورته واقعه باندې تطبیق شوی شي[2]. په همدې اساس نه باید تقنین ډېر تفصیلي وي ځکه دې سره له یوه لوري د قاضیانو کار ستونزمن کوي او له بله پلوه د قانون عمومیت تر سوال لاندې راځي.

**۸- کله چې د اسلامي فقهې تقنین تر سره کېږي نه باید کوښښ وشي چې یاد تقنین د وضعي قانون سره ورته او یا هم بلکل مخالف راشي**

بلکې حقیقت خبره دا ده چې فقه خپل اسلوب، ژبه، منهج او صیاغت لري او له نورو قوانینو پوره توپیر لري[3]. امام سنهوري په دې اړوند وایي: مونږ نه باید په دې لټه کې اوسو چې د غربي او اسلامي فقهې تر منځ ورته والی رامنځ ته کړو او نه باید یاد توپیر پټ کړو بالعکس باید یاد توپیر بیان کړو او دا د اسلامي فقهې خپله ځانګړنه ده او نه باید په یو غلط کوښښ سره د اسلامي او غربي فقهې تر منځ د نږدیوالي کوښښ وشي. اسلامي فقه یو لوی قانوني نظام دی داسې ځانګړنې لرې چې په هغو سره له نورو وضعي او بشري قوانینو خاص کړی شوی دی او زمونږ وجیبه دا ده چې فقه په همدې شان وساتو[4].

[1]- النبهان، محمد فاروق النبهان، أبحاث اسلامية فى التشريع والفكر والحضارة، مؤسسة الرسالة-ناشرون، ۱۹۸۶م، ص۹۹،

[2] - محمد كمال، فى الصياغة التشريعية، ص۲۲-۲۳.

[3] - بحوث فى الشريعة الاسلامية والقانون: أصول القانون مقارنة بأصول الفقه، منشأة المعارف، ۱۹۹۱م، ص۶۷-۶۸.

[4]- السنهوري ، عبدالرزاق أحمد السنهوري، مصادر الحق فى الفقه الاسلامى: دراسة مقارنة بالفقه العربي، جامعة الدول العربية، ۱۹۵۴م، ج۱، ص۲.

## ۹- تقنين باید مرونة ولري

په دې معنی چې قاضي تقدیري سلطة ولري او وکولای شي ظروفو او احوالو ته په کتلو سره په ښه ډول قانون پلی کړي البته که چېرې قانون په پوره ډول جامد وي او هېڅ ډول مرونة په کې نه لیدل کېږي نوپه دې صورت کې قاضي نه شي کولای ظروف او نور امور په خپله فیصله کې مراعات کړي بلکي څه چې قانون دی بس هغه به پلي کوي چې دا یې له عیبونو څخه ګڼل کېږي او دې سره عدل نه قایمېږي[1].

کله چې د اسلامي فقهي تقنین تر سره کېږي باید کوښښ وشي چې د یو واحد مذهب، فکر او ډلې تر تاثیر لاندې نه وي لکه څنګه چې مخکې په تفصیلي ډول بیان شوی دې اړوند تقنین باید داسې کسان تر سره کړي چې هغوي د علمي پلوه بسیا او تقواداره خلک وي او په هېڅ ډول تقنین د کوم فکري او یا مذهبي بهیر ته متحیز جوړ نه کړي او ضمنا ترجیح به هغه قول ته ورکول کېږي چې دلیل یې قوي وي او خلکو ته په کې آساني وي. د ټولني او بشریت ګټې په کې خوندي وي البته د سهولت خبره هم یوائې تر هغه سرحده د پام وړ ده چې د واضح شرعي نص سره په ټکر کې نه وي، که چېرې داسې څه واقع شي نو بیا سهولت ته اعتبار نشته دی. هغه تقنین چې د تعصب په بنا شوی اوسي، یو له عیبونو یې دا دی چې ټولنه کې خلک ورته په آسانۍ غاړه نه ږدي ځکه هغوی په کې عدم عدالت ویني او همدارنګه یاد کار له خپل اصلي مسیر څخه انحراف دی چې الله تعالی هم له دې کار منع کړې ده.په تقنین کې باید اخلاقي بعد هم په پوره ډول په پام کې ونیول شي او دا هغه څه دي چې اسلامي تقنین له غربي تقنین څخه پرې جلا کېږي. غرب په خاص ډول یونان د قانون او اخلاقو تر منځ فاصله راوستلې ده او له یو او بل یې جلا کړي دي اما اسلامي قانون بیا دواړه سره یو ځای کړي دی بلکي تقنین باید د اخلاقو په پام کې نیولو سره ترتیب شي[2]. د دې سربېره تقنین باید عملي بڼه ولري نه علمي او فقهي ځکه کوم چې د یو علمي اړخ یې دی چې تعریف او اړوند امورو ته یې شامل دی هغه د فقهي کار دی نه د قانون، نو په دې اساس دا اساسي خبره ده چې عملي بڼه ولري ځکه قانون د دې لپاره دی چې تطبیق شي امر وکړي نه چې تدریس شوی شي[3].

---

1- مدخل لدراسة القانون وتطبیق الشریعة، ص۲۳۹-۲۴۴.

2- معوقات تطبیق الشریعة الاسلامیة، ص۱۳۷.

3 - تقنین الفقه الاسلامي، ص۹۱-۹۲.

## درېیم مطلب

## شکلي ضوابط

عبارت له هغو ضوابطو څخه دي چې د تقنین تر شکل او اجراأتو پورې تړاو لري. په دې مسائلو کې هر نوع أخذ او رد، تطویر او اقتراح د قبول وړ ده د وخت او ځای په بدلون سره په پوره ډول تغییر لري[1]. یاد شکلي ضوابط په لاندې ډول بیانېږي:

### لومړی: ترتیب، تبویب او ترقیم

دا یوه علمي مرحله ده او په اوسني معاصرو قانونو کې خورا ډېره مهمه ده او په ترقیم کې نه باید هېڅ نوعه خلل واقع شي ځکه بیا هغه د لویو ستونزو سبب ګرځي نو په دې اساس کله چې تقنین ترقیم کېږي باید د ترقیم اصول کې مراعات شي[2].

اما تبویب بیا په معمول ډول د فقهي کتابونو په شان ترتیب کېږي البته د یادولو وړ ده چې پخوانیو علماء د خپل عصر مطابق ابواب تنظیم کړي وو اوس هېڅ ستونزه نشته ده چې د وضعي قانون سره سم د اسلامي تقنین ابواب برابر کړي[3].

دا چې ترتیب او تبویب د تقنین شمزۍ ګڼل کېږي باید په پوره غور او دقت سره تر سره شي او دا غوره خبر ده چې اوسني معاصر اسالیب د تقنین استفاده شي تر څو د اوسني عصر سره برابر وي.

کله چې تقنین تر سره کېږي باید دوه امور په کې مراعات شي:

- لومړی دا چې باید منطقي وي: په دې معنی چې بابونه او څپرکي یې یو له بل سره مرتبط او تړلي وي.
- دوهم دا چې عملي وي: په ابوابو او فصولو داسې وېشل شوی وي چې شرعي عملي أحکام بیان کړي[4].

په تقنین کې باید تبویب په تنازلي ډول سره لاندې توګه تنظیم شي[5]:

أ. **ابواب:** هر باب په فصلونو باندې وېشل کېږي او د هر باب په عنوان کې دا خبره څرګنده وي چې دې باب کې کوم موضوعات څېړل شوي دي یا کومو فصلونوته شامل دی یوه تمهیدي مقدمه لري. چې په عام ډول باب کې شاملو موضوعاتو باندې رڼا اچوي.

ب. **فصل:** لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه له باب وروسته فصل راځي یا په بل عبارت د فصلونو له مجموعې څخه باب جوړېږي. او د باب په شان فصل یا څپرکی هم نورو اقسامو ته شامل دی

---

1 - ده آبادي ، احمد حاجي ده آبادي، بایسته های تقنین ، ناشر: سازمان انتشارات پژوهشګاه فرهنګ و اندیشه اسلامي، ۱۳۹۵ه ش ، ج۱، ص۳۵۴

2 - أبحاث اسلامیة فی التشریع والفکر، ص۳۵.

3 - تقنین الشریعة الاسلامیة، ص۳۹.

4 - تقنین الفقه الاسلامي، ص۸۹.

5 - تقنین الفقه الاسلامي، ص۹۰. محمد کمال امام، فی الصیاغة التشریعیة، ص۱۶.

ت.   **أقسام:** د قسم لاندې اړوند مادې راځي او همدارنګه په هوامشو کې د اړوند مادو شرح او تفسیر هم ذکر کېږي تر څو د مادو فهم لا آسان کړي او مواد په لاندې ډولونو وېشل کېږي:

**۱- بند:** بندونه په ترتیب سره ترتیب شوي شمېرې لري چې د مادو له شمېرې څخه توپیر لري په دې بندونو کې یواځیني احکام شامل دي چې ځانګړو مسئلو سره تړاو لري حتی که په دې فقره کې یو عمومي حکم وي چې د یو څخه ډېرو مواردو کې پلي کېږي یا د هغې وتل یو شمېر شرایطو پوره کولو ته اړتیا لري.

**۲- فقرات:** د الفبا په ترتیب سره شمېرل کېږي تر څو د بند، مادې او شرح له شمېرو سره توپیر وکړي که چېرې فقره یو عمومي حکم ولري چې له یو څخه ډېرو مواردو کې پلی کېږي نو بیا په برخو وېشل کېږي.

**۳- شرائح:** په مسلسل ډول شرائح هم داسې شمېره کېږي چې له مادې، بند او فقرې سره یې شمېره فرق لري بلکې داسې لیکل کېږي چې لومړی، دوهم[1].

## دوهم: طرزالعمل

په دې اړوند چې علماء کوم اجراأت ذکر کړي دي په لاندې ډول دي:

- د تقنین لپاره تخنیکي کمېټو جوړول: د تقنین په پروسه کې د تخنیکي کمېټو جوړول د قانون جوړونې د کیفیت او د هغې د تطبیق د آسانتیا لپاره اړین دی. د کمېټو شمېر باید محدود وي چې لاسته راوړنې یې د یووالي او همغږۍ په روحیه حاکم وي په ځینو هېوادونو کې رواج دا وه چې تقنین کار یو کس ته سپاري مګر دا باید په پام کې ونیول شي چې یاد کار د یو کس له خوا څرنګه تر سره کېدای شي ځکه تقنین یو سخت او پیچلي تخنیکي کار دی چې ډېرو مهارتونو ته اړتیا لري نو غوره خبره دا ده چې یاد کار یوې داسې کمېټې ته وسپارل شي چې ګوته په شمېر غړي ولري[2].
- د تقنین د بیا کتنې لپاره د تخنیکي کمېټو جوړول: د یادولو وړ ده چې دا کمېټې باید د تقنین جوړولو له کمېټو څخه ډېرې وي او غوره ده چې یادې کمېټې د قضائي عنصر استازیتوب وکړي او همدارنګه د درست بیاکتنې لپاره باید د ژبپوهنې عنصر د بیا کتنې لپاره د ژبو پوهانو او اکاډیمیو له لوري استازیتوب وشي همدارنګه وکیلان، د فقهي علماء، اقتصاد پوهان او د مالي ادارو استازي هم شتون ولري تر څو د تقنین هر اړخیزه بیا کتنه په درست ډول تر سره شي.
- تقنین اړوند تولپوښتنې یا ریفرېنډم لپاره د درستې لارې چمتو کول: دا واضح او کره خبره ده چې له هر اړخه د تقنین بشپړول ناممکن دی پرته له دې چې چې هغه ارګان ته وړاندې شي چې په اړه یې

---

[1] محمد کمال امام، فی الصیاغة التشریعیة ، ص۱۷.

[2] - الموافقات، ج۳، ص۲۵۳

باید نظر واخستل شي. ځنې باحثین په دې اند دي چې تقنین، فقهي احکام دي او تر هغې تشریع نه ګنل کیږي تر څو چې د اجماع شروط یې نه دي پوره کړي، یا یې ملت د ټولپوښتنې له لارې تصویب کړي، او یا یې د أهل حل او عقد خلک یې غوره کړي، او د اساسي قانون له مخې یې د توضیحاتو سره سم صادر کړي[1].

- د تقنین صادرولو لپاره د طریقې چمتو کول: هغه څه چې باید په دې مرحله کې په پام کې ونیول شي دا دي چې ډاډ تر لاسه شي چې تقنین په پوره اوکامل ډول وړاندې شي او په تشریعي قوه کې یې په متن بحث و نه شي. او که چیرې دوی داسې څه ولیدل چې باید تعدیل شي بیرته یې هغې کمېټې ته وراستوي چې مسوده یې جوړه کړې ده تر څو وکولای شي اړین تعدیل رامنځ ته کړي تر څو تعدیل د تقنین یووالي او او دوام ته زیان و نه رسوي.

شیخ احمد شاکر وایي: کله چې زه د اسلامي تشریع خبره کوم په دې معنی نه ده چې زه غواړم تاسي د ابن عابدین او ابن نجیم پیروي وکړئ او یا د نورو فقهاوو د استنباطاطو پیروي وکړئ چې په کتاب او سنت کې نشته دي بلکې خبره دا ده چې یوه قوي لجنة د علماء او قانون پوهانو جوړه شي چې نوی تقنین وکړي چې په هېڅ رایه او مذهب پورې تړاو و نه لري بلکې په خالص ډول له کتاب او سنت څخه اخستل شوي وي د أئمة او علماء د أقوالو په رڼا کې، او همدارنګه د قانون پوهانو تر نظر لاندې ترتیب شي همدارنګه د خلکو ظروف او حالت هم کې مراعات شي[2].

## دریم: د تقنین بیا کتنه او تعدیل

دا اړینه ده چې وخت په وخت د تقنین بیا کتنه وشي او اړین تعدیلات په کې رامنځ ته شي تر څو د ټولنې شرایطو او پرمختګونو سره سم د قضاء او فقهي سره مطابقت ولري[3]. د دې بیا کتنې پرته، تقنین به د اوسنی قانوني وضعیت او د هغې د پراختیا شرایطو سره سم نه وي او د تقنین په اړه ده لازمي خبره ده چې وخت په وخت یې باید بیا کتنه وشي. تر څو په پخوانیو نصوصو او احکامو کې تغییر راولي او یا یې حذف کړي او یا نور احکام وراضافه کړي تر څو په احسنه توګه وکولای شي د ټولنې اړتیاوې پوره او ستونزو لپاره یو د وخت سره سم یو عادلانه او منصف حل وړاندې کړي[4].

په دې سره د تقنین شکلي، شرعي او منهجي ضوابط وړاندې شول. شرعي ضوابط باید په هېڅ صورت له پامه و نه غورځول شي ځکه هر تقنین چې باید اسلامي ونومول شي باید دا وصف په کې موجود وي او همدارنګه نور اړوند ضوابط باید تقنین کې موجود اوسي.

---

1- الشاوی، توفیق الشاوی، فقه الشوری والاستشارة، دار الوفاء للطباعة والنشر، ۱۹۹۲م، ص۱۹۸.

2 - شاکر، امام احمد بن محمد عبدالقادر شاکر، حکم الجاهلیة، مکتبة السنة، ص۱۲۳.

3 - تقنین الفقه الاسلامي، ص۹۸-۹۹.

4 - تطبیق الشریعة الاسلامیة فی العالم الاسلامي ص۴۹.

# څلورم څپرکی

# په افغانستان کې دتقنین مخینه

په افغانستان کې د تقنین یا قانون جوړونې بهیر د تاریخ په اوږدو کې د بېلابېلو سیاسي، مذهبي، او ټولنیزو شرایطو تر اغېزې لاندې وده کړې ده. د اسلامي فقهې تقنین، یا په بل عبارت، د اسلامي شریعت د اصولو او احکامو په قانوني چوکاټ کې ځای پر ځای کول، په افغانستان کې د یوه اوږده او پېچلي بهیر په توګه رامنځته شوی دی. دا بهیر نه یوازې د اسلام د راتګ او د اسلامي خلافتونو له منځته راتلو سره پیل شو، بلکې د افغانستان د بېلابېلو واکمنانو او حکومتونو د سیاسي، ټولنیزو، او اقتصادي اړتیاوو سره سم پرمختګ وکړ.

په افغانستان کې د اسلامي فقهې تقنین د وخت په اوږدو کې له ډېرو ستونزو، جنجالونو او پرمختګونو سره مخ شوی دی. په دې بهیر کې، د اسلامي فقهې اصول او ارزښتونه د یوه دیني او اخلاقي چوکاټ په توګه تل د خلکو په ژوند کې مهم ځای درلود. خو د وخت په تېرېدو او د مختلفو سیاسي بدلونونو په پایله کې، په افغانستان کې د اسلامي فقهې تقنین هم د پراخو تحولاتو شاهد وو.

د اسلامي فقهې د تقنین بهیر په لومړیو کې د اسلامي خلافتونو او د دیني عالمانو له لارې پیل شو، خو د افغان واکمنانو تر څارنې لاندې یې د یو رسمي او قانوني چوکاټ بڼه غوره کړه. په افغانستان کې د شاهي، جمهوري، او اسلامي امارت د دورو په اوږدو کې د اسلامي فقهې تقنین په بېلابېلو بڼو تطبیق شوی دی. په هره دوره کې، د اسلامي شریعت اصول او احکام د حکومتونو د سیاسي ارادې، ټولنیزو غوښتنو، او نړیوالو اړیکو تر اغېز لاندې وو.

د افغانستان په تاریخ کې د اسلامي فقهې د تقنین په اړه لا ژوره څېړنه اړینه ده، څو د دې بهیر په پېچلتیاوو او تحولاتو باندې بشپړ پوه شو. دلته به د هر مبحث په اړه تفصیلي او ژور معلومات وړاندې کړم.

## لومړی مبحث

## په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنین هڅې

په دې مبحث کې د اسلامي فقهې د تقنین اړوند هڅې په ګران هېواد افغانستان کې په لاندې مطلبونو کې تر بحث لاندې نیول شوی دی.

### لومړی مطلب

### د اسلامي فقهې د تقنین لومړۍ پړاوونه

په اسلام کې د قانون جوړونې بهیر په لومړیو وختونو کې په اوسنۍ بڼه نه وو تنظیم شوی، بلکه قاضیانو به د شریعت له دلایلو او اصولو څخه په کار اخیستنې د خپلو شخصي اجتهاداتو له مخې

پربکړې کولې[1]. دا حالت په لومړیو اسلامي دورو کې دوام درلود، چې د امویانو او عباسیانو په وخت کې یې هم همدا بڼه درلوده. په اموي دوره کې هم قانون په لیکلي ډول نه وو تدوین شوی او د قاضیانو پربکړې په انفرادي ډول د شریعت په رڼا کې ترسره کېدې. په عباسي دوره کې د قانون د تدوین لپاره ځینې هڅې وشوې، خو د قضاء یووالي په برخه کې یادو هڅو نتیجه ورنه کړه، او قاضیانو به د خپل اجتهاد او صوابدید پر اساس پربکړې کولې.

په افغانستان کې د اسلامي فقهې د تقنین لومړی پړاو د اسلام د راتګ سره تړاو لري. په ۷مه پېړۍ کې، کله چې اسلام دې سیمې ته ورسېد، د اسلامي خلافتونو له خوا د قاضیانو په وسیله د اسلامي شریعت اصول نافذ شول. دغه اصول د مدینې منورې او مکې مکرمې د ښوونو پر بنسټ جوړ شوي وو. په دې وخت کې، د اسلامي فقهې په مرسته د شخصي، کورني، او ټولنیزو چارو تنظیم پیل شو. د اسلامي فقهې اصول لکه زکات، حج، روژه او لمونځ د خلکو په ورځني ژوند کې ځای پر ځای شول.

په اموی او عباسي خلافتونو کې، چې د اسلامي تمدن د پراختیا او پراخېدو وخت وو، د اسلامي فقهې تطبیق لا پراخ شو. د امویانو او عباسیانو واکمنې په افغانستان کې د اسلامي شریعت پراختیا لپاره یوه مهمه دوره وه. په دې وخت کې، د اسلامي فقهې څلور لوی مذهبونه (حنفي، مالکي، شافعي، او حنبلي) هم رامنځته شول، چې د اسلامي فقهې اصولو ته یې نوې رنګونه ورکړل. په افغانستان کې، د حنفي مذهب د اصولو تطبیق تر ټولو زیات وو، ځکه چې دا مذهب د خلکو له دودونو سره ډېر همغږی وو.

په سلجوقي او غزنوي دورو کې، چې د ۱۰مې پېړۍ تر پایه پورې دوام درلود، د اسلامي فقهې تطبیق په افغانستان کې نور هم پرمختګ وکړ. سلجوقیان او غزنویان د حنفي مذهب پیروان وو او هڅه یې کوله چې د اسلامي فقهې اصول په خپلو حکومتونو کې پلي کړي. په دې وخت کې، د اسلامي فقهې اصول د حکومتولۍ او عدلیه نظام برخه وګرځېدله. د فقهي مدارسو پراختیا او د دیني عالمانو ونډه په دې برخه کې ډېره مهمه وه. همدارنګه بیا د مغلانو او تیموریانو دورو کې، د اسلامي فقهې اصولو ته ډېر پام کېده. مغلانو د حنفي مذهب پراختیا ته ځانګړی ځای ورکړ. د مغل شاهان لکه بابر او اکبر د حنفي فقهې اصولو ته د خپلو حکومتونو په قانوني چارو کې ځای ورکړ. د مغلانو حکومت په افغانستان کې د اسلامي فقهې تقنین د یوې نوې دورې بنسټ کېښود، چې د وخت په تېرېدو سره یې نور هم پرمختګ وکړ[2].

[1] - الأحکام السلطانیة ص۵۲۴.

[2] -محمد أبو زهرة، تاریخ فقه اسلامي، دار الفکر العربي، ۱۳۹۹ه ۱۹۷۹م ، ج۲، ص۲۳۰-۲۳۱-۲۳۳/وګورئ: الفکر السامي فی تاریخ الفقه الاسلامي، ج۲، ص۱۶۰-۱۷۰ /وګورئ: عبدالحی حبیبي، تاریخ افغانستان در عصر غزنویان و سلجوقیان، ص۹۸-۱۰۲.

## دویم مطلب

## د فقهي مذاهبو ترتیب او د قوانینو محدودیتونه

دا حالت تر هغه وخته دوام وکړ چې اسلامي فقهي مذاهب ترتیب او تنظیم شول. د فقهي مذاهبو له ترتیب او خپرېدو سره، د قاضیانو آزاد اجتهاد په شرعي محاکمو کې تر یوه حده محدود شو. قاضیانو به د مذهب په راجح نظر باندې پرېکړې کولې، خو هغه ساحې چې د مذهب کتابونو نه وې تنظیم کړې، قاضیانو به په هغو برخو کې د خپل اجتهاد له مخې پرېکړې کولې. دا مرحله د قاضیانو د آزاد اجتهاد او د شلمې پېړۍ د قوانینو تر منځ یوه منځنۍ مرحله بلل کېږي. په دې مرحله کې قاضیانو په خپلو اجتهاداتو کې پوره آزادي نه درلوده، بلکه د تدوین شوو مذاهبو په راجح نظر باندې یې پرېکړې کولې. په هغه مسائلو کې چې د امام مذهب یا د مفتیانو نظر موجود نه وو، یا پخوانیو فقهاؤ پرې خبرې نه وې کړې، قاضیانو به د فقهاؤ اجتهادي آراء کارولې یا به یې شخصاً اجتهاد کاوه. دا کار په فقهي ادبیاتو کې د فقهي نوازلو په نوم یادېږي.

په شلمې پېړۍ کې، قانون د قاضیانو د اجتهاد ساحه ډېره محدوده کړې ده[1]. د عباسي خلافت په دوره کې په مدني او جزایي مسائلو کې د فقهي مذاهبو اعتماد د اسلامي هیوادونو لپاره یو داسې جریان رامنځته کړ چې د نولسمې پېړۍ تر پای او شلمې پېړۍ لومړیو پورې دوام درلود. په اوسني وخت کې هم دا جریان په سعودي عربستان کې شتون لري. زموږ په هیواد کې هم د حدودو او قصاص قضیې د حنفي فقهې له مخې حل کېږي. "مجله احکام عدلی" د مدني معاملو په برخه کې لومړنۍ تقنیني تجربه وه چې د نولسمې پېړۍ په پای کې د ترکیې د یو شمېر علماوو له خوا په پرله پسې موادو کې ترتیب او تدوین شوه. دې مجلې په تقنین کې د اسلامي شریعت مواد په منظم او د اختلافاتو له منځه وړلو سره وړاندې کړل.

## درېیم مطلب

## په افغانستان کې د قانون سرچینې

د افغانستان اساسي قانون په واضح ډول تصریح کوي چې په دې هېواد کې هیڅ ډول قانون د اسلامي شریعت له اصولو او ارزښتونو سره په ټکر کې نشي راتلی. د همدې اصولو په اساس، اسلامي شریعت د قانون جوړونې اصلي سرچینه ګڼل کېږي. د قانوني اسنادو د مراحلو، خپرونې، او پلي کېدو اړوند قانون هم په تفصیل سره د قانوني اسنادو سرچینې ټاکلې دي او په لاندې ډول بیانېږي[2]:

۱. د اسلام دین احکام او عقاید.

---

[1] - تشریع الأحکام فی الاسلام تطوره و مجالاته، ج۲، ص۲۱۵-۲۱۷،۲۱۶

[2] - امین ، دوکتور عبدالباقي امین، قانونګذاري، ۱۳۹۷هش۲۰۱۸م، ط۱، مرکز تحقیقات قاصد کابل افغانستان، ص۹۶.

۲. اساسي قانون.

۳. د نافذه قوانینو اړوند سندونه.

٤. د هېواد د سیاست اساسي کرښې.

٥. تړونونه او نړیوال معاهدات او مواثیق چې افغانستان له هغو سره یو ځای شوی دی.

د یادولو وړ ده چې د اسلام دین احکام او عقاید د ټولو قانوني اسنادو اصلي سرچینه بلل کېږي.

د قانوني اسنادو فرعي مراجع په لاندې ډول دي:

۱. د ټولنې سالم عرف

۲. د نورو اسلامي هېوادونو مشابه قانوني اسناد.

د یادولو وړ ده چې نوي قانون یو شمېر مهم بدلونونه راوړي دي[1].

۱- د اسلامي شریعت تعبیر د اساسي قانون په الفاظو کې په لاندې عبارت شوی دی "د اسلام د مقدس دین عقاید او احکام". دا عبارت په حقیقت کې د اسلامي شریعت په مفهوم دی، او د دې دواړو تعبیرونو ترمنځ هیڅ توپیر نشته او یواځې یو یو لفظي تغییر دی.

۲- د اسلام د مقدس دین عقاید او احکام د ټولو تقنیني اسنادو اصلي سرچینه ګڼل شوې ده، په داسې حال کې چې مخکې په مقرره کې بیان شوې نه وه.

۳- د تقنیني اسنادو منابع په دوو برخو وېشل شوي دي. په لومړۍ برخه کې پنځه سرچینې ذکر شوې دي، او په دویمه برخه کې دوه سرچینې. خو په مقرره کې ټولې سرچینې په لنډ او مجمل ډول یادې شوې وې، که څه هم د ترتیب په لحاظ یې لومړیتوب څرګندېده.

۴- په قانون کې د سرچینو په ترتیب کې د ټولنې سالم عرف د نورو مشابه تقنیني تجربو پر وړاندې مقدم ګڼل شوی دی، په داسې حال کې چې د نورو هیوادونو مشابه تجربې ښایي د چارو د ښه تنظیم او د امکاناتو د غوره ادارې لپاره ګټورې وي. همدارنګه، دا تجربې د امنیت او ثبات د ساتلو لپاره مهمې ثابېتدلای شي. غوره به وه چې له دې تجربو په لومړي قدم کې ګټه اخیستل شوې وای.

۵- قانون د مشابه تقنیني تجربو کارونه یواځې اسلامي هیوادونو پورې محدود کړی دی، خو دا قید په مقرره کې موجود نه وو او دا قید هیواد له دې محرومولی چې د غیر اسلامي هیوادونو له غوره او رغنده تجربو څخه ګټه پورته کړي. نه پوهېږو چې دا قید په قانون کې د څه لپاره ځای پر ځای شوی دی، ځکه چې د تمدن غوښتنې دا ایجابوي چې له ټولو هیوادونو رغنده تجربې واخستل شي، البته په دې شرط چې د شرعي او اسلامي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي. اسلام هم د غیر مسلمانانو د تجربو کارونه نه منع کوي، که دا تجربې د اسلام له احکامو سره په تضاد کې نه وي. د نورو هیوادونو

[1] - قانونګذاري ، ص۹۷.

تقنيني تجربې په مطلق ډول د هيواد لپاره ستونزې جوړولی شي. بايد دا تجربې په دقت سره وکتل شي، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې دا د اسلامي ارزښتونو او د انکشافي او چاپيريالي اړتياوو سره سازګارې دي.

۶- په دې قانون کې د ليکوالانو او قانون پوهانو علمي تحقيقات د تقنيني اسنادو د سرچينو له ليست څخه حذف شوي دي، په داسې حال کې چې دا په مقرره کې شامل وو. د دې حذف منطق هم کمزوری ښکاري، ځکه چې د قانون پوهانو او استادانو ليکنې، د کنفرانسونو او علمي بحثونو نظريات د قانون په انکشاف کې مهم رول لوبوي. قانون جوړوونکي بايد د قانون د مسودې د ترتيب په وخت کې دې نظرياتو ته مراجعه وکړي او له هغوی الهام واخلي.اسلامي شريعت تعبير يې په اساسي قانون کې د ديني معتقداتو او اسلام مقدس دين احکام تر نامه لاندې ياد کړي، چې پخوا يې په دې اړه کم توضيحات ورکړل شوي وو.

## لومړۍ سرچينه: اسلامي شريعت

افغانستان اساسي قانون صراحتاً بيان لري چې د دې هېواد دين اسلام دی[1]. په درېيمه ماده کې راغلي چې په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولای د اسلام د مقدس دين له معتقداتو او احکامو سره په ټکر کې وي[2]. دا ماده د قانون جوړونې د لومړنۍ سرچينې په توګه اسلامي شريعت ټاکي او هر قانون بايد د دې سره سمون ولري. ځنې قانون پوهان په دې اند دي چې دې دې سره د قانون لاس نيول شوی دی او نه شي کولای د چې د عرف او نورو نړيوالو کنواسينونو څخه استفاده وکړي خو حقيقت دا دی چې اسلامي شريعت عرف د قانون مصدر ګرځولی دی البته په هغه صورت کې چې شرعي نص موجود نه وي، او ضمنا نړيوال قوانين او نور چې په صريح توګه د شرعي نص خلاف نه وي او همدارنګه د مسلمانانو ښېګڼې او ګټې په کې نغښتې وي اسلام يې د پلي کولو څخه مخنيوی نه دی کړی[3].

## دويمه سرچينه: د افغانستان اساسي قانون (پخوانی)

د افغانستان اساسي قانون د قانون جوړونې لپاره يو الهام بخښونکی سند دی. دا قانون د ګڼ شمېر نورو قوانينو د وضع کولو اساس جوړوي، چې د دولت د دندو او مسؤوليتونو په پوره کولو کې مرسته کوي. نوموړی قانون په ۱۳۸۲هش کال د مرغومي مياشت کې د هېواد لويې جرګې له لوري تصويب شو. ياد قانون د اسلامي اصولو په بنسټ جوړ شوی دی او په رسمي توګه د افغانستان لپاره د ټولو قوانينو د بنسټ په توګه د اسلامي شريعت د مصدر حيثيت تصديقوي.

1 - افغانستان اساسي قانون دويمه ماده.

2 - افغانستان اساسي قانون دريمه ماده.

3 - الموافقات فی أصول الفقه، ج۱، ص۲۶-۲۷-۲۸

**دریمه سرچینه: د هېواد نافذه قوانین**

د یو نوي قانون د جوړولو پر مهال د پخوانیو تجربو مطالعه او د اړوند تقنیني اسنادو څخه ګټه اخیستل اړین ګڼل کېږي. دغه قوانین د نورو تقنیني اسنادو لکه مقرره او اساسنامه په جوړولو کې هم اساسي رول لري، چې دا بیا د قانون پلي کېدو لپاره مهمې وسیلې ګڼل کېږي.

**څلورمه سرچینه: د هېواد د سیاست اساسي کرښې**

د هېواد د اساسي سیاست کرښې د تقنیني اسنادو د چمتو کولو او طی مراحل مقرره کې د تقنیني اسنادو د منبع په توګه یادې شوي دي. په اساسي قانون کې، د ۶۴مې مادې په رڼا کې، د ولسمشر له صلاحیتونو څخه یوه دا ده چې د اساسي سیاست کرښې باید د ملي شورا له تصویب څخه تېرې شي. دا کرښې په حقیقت کې د حکومت د اساسي سیاست کرښې دي چې د واکمنی په موده کې وړاندې کېږي او د پلي کېدو لپاره یې هڅه کېږي. که څه هم دا کرښې د هېواد د اساسي سیاست په توګه پېژندل کېږي، خو دا تسمیه مناسبه نه ده. د دې سیاست کرښې چې په کورني او بهرني سیاست کې شاملې دي، باید د پارلمان له لوري تصویب شي او یواځې له تصویب وروسته پلي کېدای شي. که دا سیاستونه د نوو تقنیني اسنادو جوړولو او یا په نافذه قوانینو کې د تعدیلاتو اړتیا رامنځته کړي، نو دا به د هېواد تقنیني ثبات ته زیان ورسوي، ځکه چې د حکومت د بدلون او د ولسمشر د بدلولو په صورت کې شاید دا سیاستونه له ملي شورا څخه د بیا تصویب غوښتنه وکړي. دغه بدلونونه په قوانینو کې د بیا بیا بدلونونو سبب کېږي، چې دا وضعیت د قانوني نظام په ثبات کې ستونزې راولاړوي.

**پنځمه سرچینه: تړونونه او نړیوال میثاقونه**

اسلامي شریعت یواځنی منبع د قانون جوړولو لپاره ګڼل کېږي، ځکه چې د اسلامي شریعت نصوص په خپل ځان کې هر څه روښانه کړي دي او هیڅ شی نه دي پرېښي، مګر د هغه حکم یې واضح کړی دی. که یو مشخص نص په کتاب او سنت کې موجود وي، نو هغه عمومي حکم یې څرګندوي، فقهاء او مجتهدین یې په ځانګړي ډول بیانوي. د نړیوالو تړونونو او قراردادونو په برخه کې هم تعهدات او مکلفیتونه د اسلام د احکامو په رڼا کې رامنځته کېږي، خو دا به د کتاب او سنت نصوصو سره په ټکر کې نه وي او نه به د هېواد ملي ګټو ته زیان رسوي. د افغانستان اساسي قانون په ۷مه ماده کې څرګندوي: {دولت د ملګرو ملتونو منشور، د دولتونو ترمنځ تړونونه، هغه نړیوال میثاقونه چې افغانستان یې غړیتوب لري، او د بشري حقونو اعلامیه رعایتوي.} دا ماده د افغانستان له لوري په نړیوالو میثاقونو کې د ګډون او د بشري حقونو د اعلامیې رعایت ته تعهد څرګندوي، او دا رعایت یواځې هغه وخت

ترسره کېږي چې د ملي شورا له لوري تصويب شي. کله چې ملي شورا د دې ميثاقونو محتوا تصويب کړي، نو دا ميثاقونه به د داخلي قوانينو برخه وګرځي[1].

## شپږمه سرچينه: د نورو هېوادونو مثبتې تقنيني تجربې

انساني ټولنې د ژوند د تنظيم لپاره بېلابېلې تجربې لري، چې د نسلونو په اوږدو کې پرمختګ کړی او د ټولنو تر منځ د انتقال وړ دي. په تاريخ کې انساني ټولنو له يو بل څخه ګټه اخيستې، او تمدني لاسته راوړنې تر يوې اندازې شريکې دي. د نن ورځې بشري حرکت هم په ډېرو مواردو کې ګډ دی، که څه هم په ځينو برخو کې فرهنګي اختلافات شتون لري. ځينې ټولنې کله ناکله د قانوني ترتيباتو په اړه ګټورې تجربې ترلاسه کوي، چې نورې ټولنې يې هم ګټه اخيستلی شي. کله چې د قانون پوهانو او نظريه پردازانو نظريات په يوه هېواد کې مطرح کېږي، نو د نورو بشري ټولنو وګړي هم له هغه ګټه اخلي. د علمي کادرونو تبادله د بېلابېلو هېوادونو د تحصيلي او تحقيقي ادارو تر منځ د همدې هدف لپاره ترسره کېږي. نن ورځ، د انساني پوهاوي او لاسته راوړنو پېژندنه په جغرافيايي حدودو کې محدوده پاتې کېدای نشي، بلکې انساني پوهه او معرفت د ټولو انسانانو ملکيت دی او بايد ټول خلک ترې ګټه پورته کړي. که څه هم ځينې هېوادونه هڅه کوي چې پوهه او معرفت په ځانګړو برخو کې، چې د ستراتيژيکو چارو او ځواکمنۍ سره تړاو لري، په خپل انحصار کې وساتي. لکه څنګه چې لوی ځواکونه هڅه کوي چې اتومي پېژندنه په انحصار کې وساتي.

يوه مهمه موضوع چې د بشري تقنيني تجربو يا هر انساني تجربه د يوې ټولنې څخه بلې ته د انتقال په اړه بايد په نظر کې ونيول شي، هغه د وطن‌سازۍ پروسه ده. دا وطن‌سازي هغه وخت ممکن کېږي، کله چې نوې ټولنه دا تجربه د اصلي ټولنې له محيطي تاثيراتو څخه بېله کړي او هغه د يوې خالصې انساني تجربې په توګه، چې د اصلي هېواد ځانګړتياوې نه لري، بدل کړي. د انساني تجربو لپاره وطن‌سازي د دوو مهمو ټکو رعايت ته اړتيا لري:

أ. فرهنګي او عقيدوي تاثيراتو څخه بېل کول: انساني تجربې د محيطي، فرهنګي او عقيدتي نښو نښانو څخه اغېزمنې دي، په ځانګړي توګه د نظريه پرداز داخلي قناعتونو له امله. د تجربې د انتقال پر مهال بايد دا تجربه له مخالفو عقيدتي تاثيراتو څخه بېله شي تر څو په يوه عامه انساني تجربه بدله شي او د اصلي ماحول د عقيدوي او فکري ځانګړتياوو سره انتقال ونه کړي.

ب. ټولنيز او اقتصادي شرايطو سره توافق: بايد دا قانوني تجربه په دقت سره وڅېړل شي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې دا تجربه د نوې ټولنې اقتصادي او ټولنيزو شرايطو سره همغږې ده. که دا شرايط

[1] ـ الموافقات فی أصول الفقه ، ص١٠٠.

توپیر ولري، نو د تجربې انتقال ممکن هغه پایلې ونه لري چې په اصلي هېواد کې یې درلودې، بلکې په ځینو مواردو کې منفي پایلې به له ځان سره ولري.

د دې موضوع د یادولو هدف دا دی چې ډېری خلک فکر کوي د پرمختللو هېوادونو ټولې تجربې پرته له پوښتنې او شک څخه د منلو وړ دي، خو دا یوازې هغه وخت ممکن دی چې د وطن‌سازۍ په پروسه کې دقیق ارزونې لاندې راشي.

## اوومه سرچینه: د ټولنې سم عرف

په ډېرو بشري ټولنو کې قوانین د ټولنې له منل شوو اعرافو څخه په روښانه توګه تدوین او تنظیمېږي، او عرف د دې قوانینو منبع ګڼل کېږي. دا بهیر په غیر اسلامي ټولنو کې ډېر روښانه دی. په اسلامي ټولنو کې هم عرف د تشریع او قانون جوړونې یوه مهمه منبع ګڼل کېږي، خو دا یوازې هغه وخت منل کېږي چې د شریعت له نصوصو سره په ټکر کې نه وي، چې دې ته د ټولنې سم عرف ویل کېږي. خو که عرف د شریعت له نصوصو سره په ټکر کې وي او د هغه احکامو سره مخالفت ولري، نو په دې صورت کې باید دا عرف بدل شي او قوانین له دې ناوړه اعرافو سره سم نه شي جوړېدای، بلکې باید مضر او ناسالم اعراف د تقنین له لارې له منځه یوړل شي.

د تقنین د اسنادو د ترتیب او پروسې مقرره هم عرف د تقنین له منابعو څخه ګڼلې ده، او قانون جوړونکی باید د قانون جوړونې پر مهال د ټولنې عرف په نظر کې ونیسي. که څه هم که قانون جوړوونکی غواړي چې د نورو ټولنو ګټورو تجربو څخه ګټه پورته کړي، خو که دا تجربې له منل شوو اعرافو سره همغږي ونه لري، نو باید له داسې تقنین څخه ډډه وشي، یا لږ تر لږه د ګټو او زیانونو پرتله وکړي او په روښانه توګه پرېکړه وکړي. د افغانستان مدني قانون هم که چیرې قانوني خلا شتون ولري او د حنفي فقهې په اړه هم کوم حکم موجود نه وي، نو عرف د دریمې مرحلې په توګه قاضیانو ته معرفي کوي ترڅو پرې مراجعه وکړي. د مدني قانون په دویمه ماده کې دا صراحت شتون لري: "په هغه مواردو کې چې په قانون او یا د حنفي فقهې د اسلامي شریعت په اساساتو کې کوم حکم موجود نه وي، محکمه باید د عمومي عرف په مطابق حکم صادر کړي، په دې شرط چې عرف د قانون او یا د عدالت له اساساتو سره په ټکر کې نه وي."

## آتمه سرچینه: قضایي سوابق

قضایي قوه قانون جوړوونکې قوه نه ده او نه هم کولای شي چې قوانین جوړ کړي، خو قضایي رویه د قانون یوه مهمه منبع ګڼل کېږي. په هغو مواردو کې چې د قانون حکم شتون ونه لري او محکمه د حنفي مذهب یا د ټولنې له اعرافو سره سم فیصله وکړي، قضایي رویه منځ ته راځي. د عادي محاکمو قضایي رویه نورو محاکمو لپاره الزامي نه ده، خو که دا رویه د هېواد د لوړو محاکمو لخوا تایید شي،

نو په دې اړه نورې محاکم هم د هغې پیروي ته اړ دي. البته، تر هغه وخته پورې چې په دې اړه د قانون متن شتون ونه لري، خو په ټینګار سره ویلای شو چې دا قضایي رویه، که په عادي محاکمو کې وي یا د لوړو محاکمو لخوا تایید شوې وي، د قانون جوړونې لپاره یوه مهمه منبع ده، چې د قانون د تعدیل او یا د نوي قانون د وضع کولو پر مهال باید پرې مراجعه وشي.

## نهمه سرچینه: د فقهاوو او حقوق پوهانو نظریات

د حقوق پوهانو نظریات د قانون او ټولو تقنیني اسنادو یوه مهمه منبع ګڼل کېږي. قانون جوړونه په تاریخ کې د حقوق پوهانو او د نړۍ د فلاسفه وو له نظریاتو اغېزمنه شوې ده، او د هغوی نظریاتو د تحقق لپاره تقنیني اسناد وضع شوي دي. د دې ډلې قانوني افکارو په نتیجه کې د ټولنې مخکښانو ته ذهني قناعت ترلاسه شوی دی. د بېلګې په توګه، د قواوو د تفکیک قانوني قواعد د مونتیسکو له نظریاتو څخه اغېزمن شوي، چې اوس په ډېرو هېوادونو کې په اساسي قانون کې شامل شوي او په عملي توګه د سیاسي نظامونو چوکاټ یې رامنځته کړی دی. په لوېدیځو هېوادونو کې د قانوني مؤیداتو او تحقیقاتو پایله علمي څېړنې دي، چې قانون جوړونکو سره د ټولنې د ضبط او کنټرول په برخه کې مرسته کوي. دا نظریات د علماوو په منځ تنظیم شوي او د قانوني قواعدو په بڼه وړاندې شوي دي. حقوقي څېړنې او تحقیقات دې نظریاتو ته وده ورکړې، او په پای کې حقوقي علم پراخ شوی او د قانوني قواعدو د جوړولو په لور حرکت کوي. قانون جوړونکي د قانون په ساحه کې د لیکوالانو له نظریاتو اغېزمن کېږي، او د قانون جوړونې په بهیر کې د خپلو علمي تجربو ترڅنګ، له دې لیکوالانو څخه هم زده کړه کوي او د هغوی کتابونو ته مراجعه کوي. د عدلي او قضایي ارګانونو او علمي اکاډمیو په چوکاټ کې څېړنیزې مجلې په دې برخه کې ګټورې تمامېږي. دا څېړنیز مرکزونه د همدې موخې لپاره جوړ شوي دي، ترڅو لیکوالان او د عدلي او قضایي ارګانونو کارکوونکي خپلې تجربې او نظریات سره شریک کړي، او په دې توګه د حقوقو په انکشاف او د قوانینو په اصلاح کې مرسته وکړي.

## دويم مبحث

## په افغانستان کې د قانون جوړونې بهير

دا مبحث څلور مطلبونو ته شامل دی چې په کې د تقنين اړوند مفصل بحث شوی دی.

### لومړی مطلب

### شاهي دوره کې قانون جوړونه

افغانستان تاريخ ته په کتو سره، چې يو بډای تاريخ لري، ځرګنديږي چې په دې سيمه کې تل يو ډول قانوني نظام موجود وو[1]. د اسلام د مقدس دين له راتګ وروسته، په مختلفو دورو کې لکه د امويانو، عباسيانو، سامانيانو، غزنويانو او سلجوقيانو په دوران کې قانون اسلامي شريعت او فقهي اجتهادي احکام وو چې په فقهي کتابونو کې ترتيب شوي وو. د ټولو واکمنانو پابندي او التزام په احکامو يو ډول نه وو، خو په ټوليز ډول، اسلامي شريعت د قانون اساسي منبع بلل کېده[2].

په اوسني افغانستان کې هم د احمد شاه دراني له تاسيس څخه تر شاه امان الله پورې ټولې دولتي چارې، په شمول د قضاء او محاکمو چارې، د حنفي فقهي او عرف له مخې پرمخ تللې. د قضاء ټول واک او د اړينو مراجعو تدوين د هيواد په مشهورو علماوو او فقهاوو پورې اړوند وو. د شاه امان الله د حکومت پر مهال، چې د انګليس څخه يې خپلواکي ترلاسه کړه، په قانون جوړونه کې نوې ګامونه پورته شول. ياد اقدامات خپل پلويان او مخالفين لري. له هغې وروسته په هره سياسي دوره کې، د نظامونو د استحکام او د دولت مردانو د درايت په تناسب، په قانون جوړونه کې پرمختګونه وشول، چې افغانستان يې د بشري قوانينو د تدوين په برخه کې اوسني مرحلې ته ورساوه[3].

د اماني دورې څخه مخکې هم، د اسلامي شريعت احکامو او د ټولنې عرفي ارزښتونو تر څنګ، د وخت زعيمانو لخوا د اداري چارو د تنظيم لپاره يو شمېر مقررات ترتيب او اجرا کېدل. د شاه امان الله له حکومت څخه وروسته، افغانستان په تدريجي ډول د قانون جوړونې په لاره کې پرمختګ وکړ. په ځانګړي ډول د ظاهر شاه د اوږدې واکمنۍ او د سردار داود خان نسبتاً مؤثر نظام په دورو کې د قانون جوړونې بهير ته ځانګړې پاملرنه وشوه. دا پرمختګونه په ۱۳۸۰مو کلونو کې خپل اوج ته ورسېدل، چې په پايله کې افغانستان د معاصر قانون جوړونې په برخه کې اوسني حالت ته ورسېد.

---

[1] - رسولي ، محمد اشرف رسولي، روش و فنون قانونګذاری، انتشارات سعيد، ۱۳۹۸ه ش، ص ۷۳.

[2] - درانی ، عزيز الدين وکيلي پوپلزائي درانی، دارالقضاء در افغانستان- از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت، ط۱، ۱۳۶۹هش، ص۴۵.

[3] - حيدري ، محمد تميم حيدري، قانونګذاري بشر از ديدګاه مذاهب اسلامي، انتشارات سعيد-کابل، ص۶۲.

د افغانستان د قانون جوړونې بهیر، که څه هم له ډېرو ستونزو او بدلونونو سره مخ وو، خو په تدریجي توګه یې د پرمختګ لاره موندلې او په معاصر وخت کې یې د قانون جوړونې د یوې منظمې او مدونې بڼې ته وده ورکړې ده.

د اماني دوره په قانون جوړونه کې د معاصرو میتودونو له مخې د پام وړ بلل شوې ده او د دې ډول قانون جوړونې پیل ګڼل کېږي. له همدې امله، د بحث مهمه برخه تشکیلوي او په تفصیل سره به په دې اړه خبرې وشي. د شاه امان الله د نوي قانون جوړونې اقداماتو لپاره انګېزه او د معاصرو نمونو معرفي هغه نور مطالب دي چې دلته به وڅېړل شي. سربېره پر دې، د اماني دورې څخه مخکې ځینې مهمو دورو ته اجمالي نظر، په هغو کې تقنیني اقدامات او د شاه امان الله تأثرات به نورې موضوعګانې وي چې پرې خبرې کېږي. بالاخره، دا چې د شاه امان الله څخه وروسته د معاصرو تقنیني پروګرامونو برخلیک څه شو او د وروسته واکمنانو عکس العمل څنګه وو، دا هغه پوښتنې دي چې په دې مطلب کې به وروباندې خبرې وشي.

## الف: ابدالي دوره کې قانون جوړونه

د افغانستان د قانون جوړونې تاریخ له ابدالي دورې څخه پیلېږي، او دا دوره د هېواد په سیاسي تاریخ کې له ډېر اهمیته برخمنه ده. په دې دوره کې اسلامي شریعت نظام د دولت اساس جوړاوه، او د عدل او انصاف پر بنسټ د خلکو د شخړو او جنجالونو حل د علماوو او فقیهانو په واک کې وو، چې دوی به د حنفي فقهې له مخې قضاوت کاوه. د احمد شاه دراني د واکمنۍ پر مهال، قاضیانو ته په ځانګړې توګه لارښوونه شوې وه چې د الهی احکامو او عدل پر بنسټ د قضایاوو څېړنه وکړي. په یوه فرمان کې یې راغلي وو چې قاضیان باید د حق او عدالت له لارې پرته له هر ډول توپیره د فقیر او امیر تر منځ فیصله وکړي او د خدای او د رسول الله ﷺ د احکامو پر اساس قضاوت وکړي[1].

د دې دورې لپاره د قاضیانو او محکمو د لارښوونې او د کار د اسانتیا په موخه، "احمدشاهی فتواوې" کتاب د عبدالله خان دیوان بیګي په مشرۍ او د هېواد د علماوو لخوا د حنفي فقهې له معتبرو منابعو څخه ترتیب او تدوین شو. البته، د دولت د اداري چارو د پرمخ بیولو لپاره، په ځینو مواردو کې اړین فرامین هم صادرېدل[2].

د شریعت د احکامو د هر اړخیز تطبیق لپاره، امپراتور له ځان سره یو شمېر جید علما هم درلودل چې د "جلیس السلطان" یا "د علمي او شرعي مشاورینو" په نوم یادېدل. د دغو علماوو دنده دا وه چې د شریعت د احکامو او حنفي فقهې له مخې مشورې ورکړي، د مدارسو او مسجدونو له حالاتو څخه

[1] - پوپلزائي، عزیزالدین وکیلي، دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت، ص۸۴.

[2] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت ، ص۸۸

خبر وي، او له شريعت سره د مخالفو احکامو د صدور مخه ونيسي[1]. احمد شاه ابدالي به خپلو زامنو او ځايناستو ته هم لارښوونه کوله چې د الهي احکامو پيروي وکړي. لکه څنګه چې هغه په ۱۱۷۴ هـ ق کال کې خپل زوی تيمورشاه د يو ولايت د واکمن په توګه وټاکه، ورته يې د شريعت د احکامو د ترويج او د الله تعالی د اوامرو د پيروۍ توصيه وکړه٢.

تيمور شاه او د هغه زامن هم د همدې اصولو پيروي کوله. مولوي عزيز الدين، چې يو له جيدو علماوو څخه وو، ټاکل شوی وو چې د شرعي قوانينو د تدوين دنده ترسره کړي٣. د افغانستان د قانون جوړونې د تاريخ د څېړنې پر مهال د ابدالي دوره د بنسټيز اهميت لرونکې ده. دا دوره نه يوازې د سياسي يووالي له پلوه يوه تاريخي لاسته راوړنه وه، بلکې د حقوقي نظام د بنسټ ايښودنې له اړخه هم ځانګړی ارزښت لري.

د احمد شاه دراني په واکمنۍ کې اسلامي شريعت د دولت د اساسي قانون حيثيت درلود او ټول عدلي، قضايي او اداري نظامونه د همدې پر بنسټ جوړ شوي وو. د اسلامي شريعت اصول د خلکو د ژوند د ټولو برخو لارښود بلل کېدل او د شريعت د خلاف هر ډول فرمان يا اقدام مردود ګڼل کېده. د قضاوت او عدالت په برخه کې د ابدالي واکمنانو ځانګړې هڅې دا وې چې ټول خلک ــ که هغه شتمن وي او که بېوزلي ــ د قانون تر سيوري لاندې په مساوي توګه وګڼل شي. د احمد شاه دراني د فرمانونو له مخې قاضيان مکلف وو چې د عدل او انصاف پر بنسټ پرېکړې وکړي، او د هغه په باور، د سلطنت د بقا او ثبات اساسي لامل د الهي او شرعي احکامو عملي کول وو. د همدې لپاره يې له جيدو علماوو يوه ډله د ځان سره مشاورين ټاکلي وو چې د "جليس السلطان" په نوم پېژندل کېدل. د دې شورا دنده يوازې د مشورې ورکول نه وو، بلکې د شريعت د احکامو له مخالفت سره د هر ډول اقدام د مخنيوي مهم مسووليت هم درلود. احمدشاهي فتواوې د افغانستان د حقوقي تاريخ له لومړنيو مدونو اسنادو څخه شمېرل کېږي. د دې اثر تدوين د هغه وخت د مشهورو علماوو په هڅو او د عبدالله خان ديوان بيګي تر مشرۍ لاندې ترسره شو. دا کتاب د حنفي فقهې پر بنسټ ترتيب شوی و او د محاکمو او قاضيانو لپاره يې د قضاوت لارښوونې برابرولې. له همدې امله، دا د اسلامي فقهي اصولو يو ډول مدون کوډ ګڼل کېدای شي چې د افغانستان په عدلي نظام کې د يوې تاريخي مرحلې استازيتوب کوي.

د احمد شاه دراني د واکمنۍ په ترڅ کې د ديني او مدني چارو ترمنځ يو ډول متوازن اړيکه موجوده وه. د شرعي احکامو د حاکميت تر څنګ، د دولت د اداري چارو د پرمخ بيولو لپاره ځانګړي سلطنتي فرامين هم صادرېدل. دا فرامين ډېر وخت د مالياتو، پوځ، دولتي مامورينو او د اداري تشکيلاتو په اړه

---

[1] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت، ص۱۴۱.

[2] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت ، ص ۱۳۸.

[3] - روش و فنون قانونګذاری ، ص۷۶.

وو. که څه هم دا فرامین د شریعت د اصولو ځای ناستي نه وو، خو د عملي چارو په تنظیم کې یې مهمه ونډه لرله.

تیمور شاه دراني چې د خپل پلار ځایناستی شو، د همدې پالیسیو د دوام هڅه وکړه. د هغه په واکمنۍ کې هم د شریعت د حاکمیت اصل ثابت پاتې شو او د علماوو درناوی وساتل شو. د مولوي عزیزالدین په څېر جیدو علماوو ته دنده وسپارل شوه څو د شریعت د قوانینو د تدوین هڅې پر مخ بوزي. دا ښیي چې د قانون جوړونې او د اسلامي فقهي اصولو د مدون کولو هڅې یوازې د احمد شاه دراني پورې محدودې نه وې، بلکې د هغه له مړینې وروسته یې هم دوام درلود.

په ابدالي دوره کې یو بل مهم اړخ د شریعت او عرف ګډ تطبیق وو. د افغانستان په قبایلي ټولنه کې د دودونو او رواجونو نفوذ خورا ژور وو، او د خلکو ډېری شخړې د قومي جرګو او عرفي غونډو له لارې حل کېدې. خو د دولت عدلي نظام هڅه کوله چې دغه عرفي رواجونه تر هغه بریده ومني چې د اسلامي شریعت له اصولو سره ټکر ونه لري. په دې ډول، د شریعت او عرف ترمنځ یو ډول متوازن تعامل رامنځته شوی وو، چې د خلکو د باور او عدالت د اغېزمنتیا سبب ګرځېدلی وو.

دا ټول عوامل په ګډه د دې سبب شول چې د افغانستان د قانون جوړونې بهیر په ابدالي دوره کې ځانګړی رنګ او بڼه پیدا کړي. د دې دورې مهمې ځانګړتیاوې د شریعت مطلق حاکمیت، د علماوو او فقهاوو لوړ مقام، د فقهي متونو او آثارو تدوین، د سلطنتي فرامینو له لارې د اداري چارو تنظیم، او د عرفي رواجونو نسبي مراعات ګڼل کېږي. همدا عناصر د دې دورې قانون جوړونه له نورو دورو بېله کوي او د افغانستان د حقوقي تاریخ د بنسټ ډبره یې ګرځولې ده.

### ب: امیر شیر علي خان واکمني

د افغانستان په سیاسي او حقوقي تاریخ کې د امیر شیر علي خان واکمني د یوې مهمې مرحلې په توګه یادېږي، ځکه نوموړی د هېواد د نظم او نسبي عصري دولتدارۍ د ټینګښت لپاره د پام وړ هڅې وکړې. د هغه دوهمه واکمني (۱۲۵۹-۱۲۴۷ هـ ق / ۱۸۷۹-۱۸۶۳م) د داسې شرایطو شاهد وه چې افغانستان له یوې خوا له کورنیو ستونزو او سیاسي شخړو سره مخامخ وو[۱]، او له بلې خوا د استعمار غوښتونکو قوتونو، په ځانګړي ډول د برتانوي هند له لوري د سیاسي او پوځي فشار لاندې وو. د دغو شرایطو تر څنګ د عدلي او اداري چارو د تنظیم اړتیا لا زیاته شوې وه، او همدلته د تقنین موضوع د امیر د پام وړ وګرځېده.

په دې وخت کې د شریعت د حاکمیت اصل لا هم ثابت پاتې وو. د افغانستان ټول حقوقي نظام د حنفي فقهې پر بنسټ ولاړ وو او علما، فقها او قاضیان د ټولنیزو شخړو د حل اساسي مرجع ګڼل کېدل. خو د

[۱] دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت ، ص ۳۵۸.

دولتي نظم د ټینګښت او د نوي بنې د اداري د رامنځته کولو اړتیا داسې وه چې یوازې د عمومي فقهي اصولو پر تطبیق بسنه نه کېده. له همدې امله د امیر شیر علي خان دنده دا وګڼل شوه چې د فقهي منابعو پر اساس د عملي اړتیاوو مطابق یو مدون اثر جوړ کړي. د همدې موخې لپاره د "امیری فتواوو" کتاب د قاضي عبد القادر په وسیله ترتیب شو. یاد کتاب په حقیقت کې د حنفي فقهې د احکامو یوه ټولګه وه چې د هغو مسایلو په اړه ترتیب شوې وه چې په ورځني ژوند کې ډېر را منځته کېدل. دا اثر له دې امله ځانګړی اهمیت لري چې د افغانستان په تاریخ کې د لومړنیو رسمي تقنیني هڅو څخه شمېرل کېږي. کتاب د شریعت د اصولو د وضاحت تر څنګ د دولتي اداري د اړتیاوو ځینې اړخونه هم تر نظر لاندې نیولي وو. په دې کې د عسکري چارو د تنظیم، د مامورینو د دندو د حدودو، د مالیاتو او عوایدو د راټولولو، او د خلکو د شخړو د حل په اړه ځانګړې لارښوونې راغلې وې. په پوځ کې د بې انضباطی، تېښتې او جرمونو د مخنیوي لپاره مشخص اصول وضع شول. د عسکرو لپاره د جزا او سزا ځانګړې مادې ترتیب شوې وې، څو د پوځ د یووالي او څواکمنتیا تضمین وشي. د دې ترڅنګ د دولتي مامورینو د مسوولیتونو په اړه هم څرګند احکام موجود وو، څکه د اداري فساد او بې مسوولیتی خطرونه هغه مهال د دولت د سترو ستونزو له ډلې ګڼل کېدل. د دې احکامو یوه موخه دا وه چې مامورین د خپلو دندو په ترسره کولو کې د شریعت د احکامو او د امیر د فرمانونو پابند پاتې شي.

د ملکي وګړو د ستونزو د حل برخه هم د "امیری فتواوو" یوه مهمه برخه جوړوله. د ځمکو د ملکیتونو شخړې، د کرنیزو ستونزو حل، د واده او طلاق مسایل، د مالي شخړو څېړنه او د دیني احکامو پر اساس پرېکړه کول د دې اثر له محوري موضوعاتو څخه وو. په حقیقت کې، دا اثر د هغو مواردو لپاره چې د خلکو په ورځني ژوند کې ډېر تکرارېدل، یو ډول عملي لارښود ګڼل کېده[1].

که څه هم عرفي رواجونه د ټولنې په جوړښت کې لا هم ستر ځای درلود، خو امیر هڅه وکړه چې د هغو د عملي کولو پر مهال د شریعت د اصولو له چوکاټ څخه بهر نه شي. په ډېرو قضیو کې د قومي مشرانو د جرګو پرېکړې هغه وخت نافذې وې چې له شریعت سره یې ټکر نه درلود. له همدې امله، په دې دوره کې د شریعت او عرف ترمنځ یو ډول ګډ عمل رامنځته شو، خو د رسمي قضاوت او قانون جوړونې په بهیر کې د شریعت د حاکمیت اصل لوړ پاتې شو[2].

د امیر شیر علي خان د تقنیني هڅو اهمیت په دې کې هم دی چې د افغانستان په حقوقي تاریخ کې یې د عصري دولتداری د اړتیاوو د درک لومړنی نښې څرګندې کړې[3]. تر هغه وړاندې که څه هم احمد

[1] کاتب، فیض محمد، سراج التواریخ، ج۲-۳.

[2] فرهنگ، محمد صدیق .افغانستان در پنج قرن اخیر .تهران: موسسه مطالعات و تحقیقات فرهنگی، ۱۳۶۹.

[3] غبار، میر غلام محمد، افغانستان در مسیر تاریخ، کابل، مطبعه دولتی، ۱۳۴۶.

شاه دراني د "احمدشاهی فتواوو" په نوم یو اثر ترتیب کړی وو، خو هغه په بشپړ ډول د فقهي احکامو د ټولګي په بڼه وو. برعکس، د امیر شیر علي خان هڅه دا وه چې د فقهي د احکامو په رڼا کې داسي لاربښود جوړ کړي چې د اداري او عسکري چارو د عصري کولو اړتیاوې هم ورسره ځواب شي.

البته دا هڅې له محدودیتونو هم خالي نه وې. د سیاسي بې ثباتی، د کورنیو جګړو او د برتانوي هند له لوري د فشارونو له امله دا تقنیني حرکت دوامدار نه شو. سربېره پر دې، د افغانستان د سنتي ټولنې جوړښت د دې لامل کېده چې د خلکو ډېری ستونزې لا هم د قومي مشرانو او د عرفي دودونو له لارې حل شي. د امیر د قوانینو او فرامینو د پلي کولو وړتیا د اداري ضعف او د دولت د منابعو د کمښت له امله ډېره محدوده وه. خو سره له دې ټولو ستونزو، د امیر شیر علي خان د تقنین هڅې د افغانستان د حقوقي تاریخ په اوږدو کې د یوې مهمې مرحلې په توګه ثبت شوې. دا هڅې د شریعت پر بنسټ د تقنین د نوې تجربې استازیتوب کوي، چې وروسته یې په نورو دورو کې د اصلاحاتو او د قانون جوړونې په بهیر کې الهام ورکاوه.

## ج: د امیر عبدالرحمن خان واکمني

امیر عبدالرحمن خان په افغانستان کې یو مقتدر واکمن وو، چې د قانون جوړونې په برخه کې یې د اسلامي فقهي تطبیق ته ځانګړی پام وو. د هغه په واکمنۍ کې، د اسلامي فقهي اصول د حکومت او عدلیه نظام بنسټ وګرځېدل. امیر عبدالرحمن خان د "اصولي نظام" په نوم یو قانوني چوکاټ جوړ کړ، چې په هغه کې د اسلامي شریعت اصولو ته ځانګړی ځای ورکړل شوی وو. دغه اصول د شاهي حکومت د عدلیه نظام د تنظیم لپاره کارول کېدل. په دې دوره کې، امیر عبدالرحمن خان د هېواد د امنیت او ثبات لپاره سخت قوانین وضع کړل، چې په هغې کې د اسلامي فقهي اصول بنسټ وو.

د امیر عبدالرحمن خان په وخت (۱۲۷۹-۱۲۵۸ هـ ش) کې، د حکومتي او اداري چارو د تنظیم لپاره یو شمېر مقررات لکه "دستور العمل حکام"، "اساس القضاء"، "احتساب الدین"، او "خط مشی امیر" تدوین او ترتیب شول، چې دا ټول د شریعت د احکامو پلي کېدل بیانوي. د یادو فرامینو او دستورالعملونو له جملې څخه یو هم اساس القضاء دی چې د امیر عبدالرحمن خان په امر مولوي احمد جان الکوزي په کال ۱۲۶۳کې چاپ کړ یاده رساله د محکمې او قضاء اصولو کې د حنفي مذهب په رڼا کې لیکل شوې وه[۱]. په دې دورې کې د شریعت د اصولو پر بنسټ د قاضیانو د روزنې لپاره "مدرسه شاهی علوم دینیه" تاسیس شوه، او د تدریس د چارو لپاره یې جید مدرسین له ټول هېواد څخه راوبلل. د دې مدرسې فارغو علماوو د "سراج الاحکام" کتاب، چې د "ضیاء الاحکام" په نوم پېل شوی

[۱] - روش و فنون قانونګذاری د رسولي، ص۷۷.

وو، بشپړ کړ. سربېره پر دې، د اړتیا په صورت کې، د وخت دولت د فساد او رشوت د مخنیوي په اړه اشتهارات هم نشرول[1].

د ابدالي دورې واکمنانو یو مثبت اړخ دا وو چې په شرعي محاکمو او قضایاوو کې مداخله نه کوله، او محکمې په بشپړ ډول خپلواکې وې. امیر عبدالرحمن خان د یوې دعوې په اړه په عریضه کې ځواب ورکړی وو چې دا مسله شریعت پورې اړه لري او دولت له لوري پرې حکم نه کېږي؛ باید شریعت ته مراجعه وشي او د حق ثبوت ترلاسه شي. که چا د قاضي القضات په اړه شکایت درلود، نو کولای شي چې مستقیماً دربار ته مراجعه وکړي[2]. امیر عبدالرحمن خان د افغانستان د معاصر دولت جوړونې په بهیر کې ځانګړی ځای لري. هغه د واک په ترلاسه کولو سره یوازې د یوې سیمې یا یوې قبیلې مشر نه و، بلکې غوښتل یې چې د ټول افغانستان د مرکزي دولت بنسټونه ټینګ کړي. د هېواد جغرافیایي موقعیت، د قبایلو خپلواکي، او د نړیوالو قدرتونو سیالۍ داسې شرایط رامنځته کړي وو چې پرته له یوه قوي او متحد نظامه د دولتدارۍ تصور ناشونی و. د همدې اړتیا له مخې، امیر عبدالرحمن خان پر دې باور و چې یوازې د ځواک کارول نه شي کولای د واکمنۍ دوام تضمین کړي، بلکې باید د خلکو د دیني او مذهبي ارزښتونو په رڼا کې د مشروعیت یوه سرچینه هم موجوده وي. همدا لامل شو چې د اسلامي فقهې د اصولو پر بنسټ د تقنین هڅې د هغه د واکمنۍ د سیاستونو مرکزي برخه وګرځي.

په دې دوره کې د اسلامي شریعت اهمیت یوازې د فردي عباداتو یا د مذهبي مناسک پورې محدود نه و، بلکې د ټولنیزو اړیکو، اقتصادي معاملو، جزایي نظام او حتی د سیاسي واک د مشروعیت د سرچینې په توګه مطرح شو. امیر عبدالرحمن خان هڅه وکړه چې د شریعت له اصولو څخه یو حقوقي چوکاټ جوړ کړي چې د دولت او ټولنې د ټولو برخو لپاره د لارښود په توګه عمل وکړي. هغه دا درک کړې وه چې که د عدلي نظام او حکومتي ادارو کارونه د شریعت د چوکاټ نه بهر ترسره شي، نو نه یوازې د خلکو مخالفت راپاروي، بلکې د دولت مشروعیت هم له منځه وړي.

د همدې لیدلوري پر بنسټ ده د "اصولي نظام" په نوم یو داسې حقوقي او اداري چوکاټ جوړ کړ چې پکې د حنفي فقهې اصولو ته ځانګړی ځای ورکړل شوی و. د دې نظام له مخې، ټول عدلي، جزایي او مدني قوانین د شریعت د احکامو سره سم ترتیبېدل. قاضیان، والیان او حکومتي چارواکي اړ و چې د خپلو پرېکړو په وخت د اسلامي فقهې اصول په پام کې ونیسي. په دې سره یو ډول معیاري چوکاټ رامنځته شو چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د قضا د یووالي لامل شو.

[1] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت د پوپلزائي، ص ۳۷۲، ۳۷۶، ۳۷۷.

[2] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت د پوپلزائي، ص ۳۸۲، ۳۸۳، ۳۵۷.

د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په موده کې یو شمېر مهم فرمانونه او مقررات ترتیب شول. د "دستور العمل حکام" په نوم سند د حکومتي مامورینو لپاره یو ډول قانوني لارښود و چې پکې د شریعت د اصولو پر بنسټ د خلکو د چارو د سمبالولو څرنګوالی بیان شوی و. "اساس القضاء" د عدلي نظام لپاره ځانګړې رساله وه چې د قضا د تشکیل، د محکمې د واک او د دعوا د اورېدلو کړنلارې پکې ذکر شوې وې. "احتساب الدین" د دیني چارو د څارنې لپاره مقرره وه، چې د بازارونو د کنټرول، د خوراکي توکو د کیفیت، د حلال او حرام د څارنې او د عامه اخلاقو د خوندي کولو په برخه کې یې رول درلود. د "خط مشی امیر" په نوم سند بیا د حکومتي چارو د رهبرۍ لپاره لارښود و چې د امیر سیاسي او حقوقي لیدلوری یې څرګنداوه. دا ټول فرمانونه د شریعت د اصولو پر بنسټ تنظیم شوي وو او د تقنین د لومړنیو هڅو ښکاره بېلګې ګڼل کېږي.

په همدې موده کې د قضا د نظام د پیاوړتیا لپاره "مدرسه شاهی علوم دینیه" تاسیس شوه. دا مدرسه یوازې د دیني زده کړو ځای نه و، بلکې په ځانګړي ډول د قاضیانو د روزنې لپاره جوړ شوی مرکز ګڼل کېده. دلته د هېواد له بېلابېلو سیمو څخه غوره علما راوبلل شول او د اسلامي فقهې په رڼا کې یې زده کړې کولې. فارغان یې وروسته د محاکمو په چوکاټ کې د قاضیانو په توګه کار پیل کاوه. د دې مدرسې یوه ستره لاسته راوړنه د "سراج الاحکام" کتاب بشپړول و، کوم چې د "ضیاء الاحکام" په نوم پیل شوی و. دا کتاب د قضا د چارو لپاره یو تفصیلي لارښود و چې په هغه کې د مدني معاملو، جزایي مسایلو، میراث، نکاح، طلاق، قرض او نورو موضوعاتو په اړه تفصیلي احکام وړاندې شوي دي.

امیر عبدالرحمن خان د فساد او رشوت پر وړاندې ځانګړې پالیسي غوره کړې وه. هغه به وخت پر وخت د خلکو د پوهاوي لپاره اشتهارات خپرول او ټینګار به یې کاوه چې رشوت ورکوونکي او اخیستونکي دواړه د شریعت له مخې مجرم ګڼل کېږي. د فساد د مخنیوي لپاره دا ډول اقدامات په خپله د اسلامي فقهې د تقنین یوه بېلګه وه، ځکه چې د شریعت نصوص د عملي قانون بڼه غوره کوله. دا پالیسي د هغه وخت د ټولنې لپاره ډېره مهمه وه، ځکه چې د عدالت په تامین کې یې د خلکو باور زیات کړ او د عدلي فساد د کچې په کمولو کې یې مرسته وکړه.

سره له دې چې امیر عبدالرحمن خان یو مستبد او مطلقه واکمن و، خو د قضا د خپلواکۍ په برخه کې یې ځینې وخت پام ښود. د هغه د فرمانونو له مخې، که یوه دعوه د شریعت پورې اړه لرله، دولت به پکې مستقیمه مداخله نه کوله او پرېکړه به یوازې د قاضیانو له خوا کېده. که څوک د قاضي القضات پر وړاندې شکایت درلود، کولای شو چې مستقیم دربار ته مراجعه وکړي. دا کار د دې ښکارندوی و چې د قضا په چارو کې د شریعت د خپلواکۍ اصل تر یوه بریده رعایت کېده، که څه هم په عملي ډګر کې به ډېری وخت د امیر اراده هم پرې اغېز لرله.

د امیر عبدالرحمن خان د تقنین هڅې څو مهمې پایلې لرلې. لومړی دا چې د عدلي نظام یو ډول معیاري بڼه غوره کړه او قاضیانو د یوې واحدې لارې په رڼا کې پرېکړې کولې. دویم دا چې د دولت د مشروعیت لپاره د دیني بنسټونو کارول د خلکو باور زیات کړ او حکومت یې د ټولنې په نظر د شرعي واکمن په توګه معرفي کړ. درېیم دا چې د فساد پر وړاندې د دیني-حقوقي میکانېزمونو جوړېدل د عملي عدالت په تامین کې مهم رول ولوباوه. څلورم دا چې د قضا د مسلکي کولو لومړنۍ بنسټ کېښودل شو او د فارغانو له لارې یو متخصص عدلي قشر وروزل شو.

له بلې خوا د ده سیاستونو ځینې منفي اغېزې هم لرلې. د هغه سخت لاس واکمنۍ ډېر وخت د عدالت د نرمښت مخه نیوله. د شریعت د اصولو تطبیق کله ناکله د امیر د سیاسي ګټو او د دولتدارۍ د اړتیاوو تابع کېده. د مطلقه واکمنۍ په فضا کې که څه هم د شریعت نوم ډېر یادېده، خو ځینې وختونه د پرېکړو تر شا د امیر شخصي اراده هم غالب وه. د همدې له امله ویلای شو چې د عبدالرحمن خان د تقنین هڅې له یوې خوا د افغانستان د عدلي او حقوقي تاریخ د بنسټ ډبرې کېښودې، خو له بلې خوا یې د استبداد تر سیوري لاندې د قضا خپلواکي محدوده پاتې شوه.

په ټوله کې د امیر عبدالرحمن خان د واکمنۍ په دوره کې د اسلامي فقهي د اصولو پر بنسټ د قانون جوړونې هڅې د افغانستان د تقنین په تاریخ کې یو مهم فصل جوړوي. دا هڅې د هېواد د دولتدارۍ د پیاوړتیا، د عدلي نظام د یووالي، د قضا د مسلکي کولو او د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ژور اغېز لرلی. سره له دې چې د وخت سیاسي شرایطو او د مطلقه واکمنۍ طبیعت ځینې محدودیتونه رامنځته کړي وو، خو بیا هم دا دوره د افغانستان د تقنین د بنسټیزو مرحلو په توګه د ځانګړي اهمیت وړ ده، او د هغه وخت اثار او قوانین لکه "اساس القضاء" او "سراج الاحکام" تر نن ورځې پورې د تاریخي او حقوقي څېړنو لپاره ارزښتناک سرچینې ګڼل کېږي.

## د: د امیر حبیب الله خان واکمنۍ

د امیر حبیب الله خان (۱۹۱۹-۱۹۰۱) په واکمني کې هم د اسلامي فقهي تقنین ته ډېر پام کېده. امیر په ځانګړي ډول هڅه وکړه چې د اسلامي فقهي اصول او عصري قوانینو ترمنځ یو توازن رامنځته کړي. د نوموړي په (۱۲۹۷-۱۲۷۹ هـ ش) دور کې هم د اداري، قضایي، کورني احوالو، او نورو برخو لپاره مقررات او نظامنامې ترتیب شوې. په ۱۹۱۲م کال کې "د پوهنې نظامنامه"، "تذکرې نظامنامه"، "واده نظامنامه"، "ګمرک نظامنامه"، "د بهرني هېوادونو څخه دمالونو پېرلو نظامنامه"، "د جامو نظامنامه" او د خوړو نظامنامه په همدې دوره کې د تقنیني چوکاټ برخه وګرځېدلې[1].

[1] دانش، سرور، درآمدي بر وضع وتصويب قانون اساسي جديد، كابل، مركز فرهنگى اجتماعي سراج، ص ۳۴۴.

سربېره پر دې، "سراج الاحکام فی معاملات الاسلام" کتاب، چې په امیر عبدالرحمن خان دوره کې یې کار پیل شوی وو، په ۶۷۴ پاڼو کې بشپړ او خپور شو، او د قضاوت لپاره یې د اساس حیثیت خپل کړ[۱]. په دې دور کې هم د محاکمو د قضاوت بنسټ د شریعت احکام وو. لکه څنګه چې محمود طرزي په ۱۲۹۳ هـ ش کال کې په "سراج الاخبار افغانیه" کې لیکلي وو، افغانستان د دیني صلابت له مخې په نړۍ کې مشهور وو. د محمدي شریعت مسند په محکمه شرعیه کې خپور وو، او د الهي قوانینو پلي کول د خلکو د رفاه او سعادت لپاره موجود وو.

امیر حبیب الله خان د "سراج ارکان الاسلام" کتاب د چاپ او نشر په اړه په یو فرمان کې ویلي وو چې د دې کتاب یوائینی موخه دا ده چې د افغانستان د رعیت خلک د اسلام د پنځه ارکانو په اړه اسانه او بې له کومې ستونزې پوه شي، او په خپلو معاملو کې د شریعت احکامو سره سم عمل وکړي.

په پایله کې ویلای شو چې په ټولیز ډول په دې سیاسي دورو کې واکمن قانون د شریعت احکام وو، او محاکمو به د حنفي فقهي له اصولو سره سم د قضایاوو او شخړو فیصله کېدله. د دې دورو قانون جوړونه په دودیزه توګه د فقهي او شرعي احکامو په تدوین سره ترسره کېده. که څه هم په دې دورو کې قانون جوړونه په اوسنۍ معنا او بڼه نه وه مطرح شوې، خو د فتاوو او شرعي احکامو ترتیب او تدوین یو معمول وو چې د وخت د واکمنانو لخوا د اړوندو چارو د اداره کولو لپاره ترسره کېده. دا ډول قانون جوړونه د وخت د اړتیاوو په اساس وه، که څه هم په معاصر شکل نه وه. امیر حبیب‌الله خان د افغانستان په معاصر تاریخ کې د یو داسې پاچا په توګه پېژندل کېږي چې د خپل پلار، امیر عبدالرحمن خان له سخت لاس او استبدادي واکمنۍ وروسته یې د یو څه نرمښت فضا رامنځته کړه، خو بیا هم د اسلامي فقهي د اصولو تطبیق د ده د واکمنۍ یوه مهمه ځانګړنه وه. د هغه واکمني د شلمې پېړۍ له پیل سره سمون خوري، هغه وخت چې په نړیواله کچه د عصري دولتدارۍ مفکورې خپرې شوې وې او د اسلامي نړۍ ډېری هېوادونه د قانون جوړونې او ادارې د اصلاح په اړه هڅې کولې. په همدې لړ کې د افغانستان د سیاسي او حقوقي نظام په جوړښت کې هم د شریعت اصول د بنسټ حیثیت درلودل، خو په عین حال کې د نوي دور د اړتیاوو لپاره د مقرراتو او نظامنامو جوړولو ته پام کېده.

د امیر حبیب‌الله خان په وخت کې د اسلامي فقهي تقنین د دوو موازي لارو له لارې پر مخ ولاړ. له یوې خوا د محاکمو بنسټ لا هم د شریعت د احکامو پر اساس ولاړ و، او قاضیان به د حنفي فقهي په رڼا کې د قضایاوو پرېکړې کولې. له بلې خوا، د عصري اداري اړتیاوې دې ته اړ ایسته چې د شریعت د اصولو تر څنګ د اداري او حقوقي مقرراتو په بڼه مشخصې نظامنامې جوړې شي، څو د معاصر دولتدارۍ د اړتیاوو ځواب ووایي. همدا ځانګړنه د ده د واکمنۍ دوره له پلار د واکمنۍ دورې سره

---

[۱] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت د پوپلزائي ، ص۴۰۶

توپیر کوي، ځکه چې عبدالرحمن خان یوازې پر فقهي تکیه لرله، خو حبیب‌الله خان هڅه وکړه چې فقهي او نوي تنظیمي اصول سره یو ځای کړي.

په همدې لړ کې باید یادونه وشي چې د هغه وخت نړیوال چاپېریال هم د تقنین پر بهیر اغېز لرلو. د عثماني خلافت په ترکیه کې د "مجلې الاحکام العدلیه" تر نامه لاندې د حنفي فقهي د مدني اصولو د کوډي کولو هڅې لا د نولسمې پېړۍ په وروستیو کې پیل شوې وې. دا کار د اسلامي نړۍ د نورو هېوادونو لپاره هم د یوې بېلګې حیثیت درلود. په مصر، ایران او هند کې هم ورته هڅې رواني وې. د افغانستان پاچا د دې تجربو څخه ناخبره نه و او هڅه یې کوله چې له یو خوا د شریعت د اصولو پابندي وکړي او له بلې خوا د عصري اداري اړتیاوو ته ځواب ووایي.

په همدې دوره کې د قانون جوړونې بنه لا هم دودیزه وه. یعني د معاصرې پارلماني تقنیني پروسې پر ځای، د شریعت احکام، د قاضیانو فتاوې او د علماوو د نظرونو تدوین د قوانینو حیثیت درلود. کله چې د نوي نظامنامو اړتیا پیښېده، پاچا به د شریعت د اصولو په رڼا کې فرمانونه ورکول او هغه به د تقنین د یوه ډول محصول په توګه نافذېدل. دا ډول نظامنامې که څه هم د نننۍ قانون جوړونې په بڼه نه وې، خو د هغه وخت د افغانستان د اړتیاوو ځواب وې.

په دې لړ کې د یو شمېر مهمو مقرراتو او نظامنامو ترڅنګ باید د قضا د کارونو لپاره د "سراج الاحکام فی معاملات الاسلام" د بشپړېدو او خپرېدو یادونه وشي. دا اثر په اصل کې د عبدالرحمن خان د دورې یوه لاسته راوړنه وه، خو په بشپړه بڼه یې خپرېدل د حبیب‌الله خان په واکمنۍ کې ترسره شول. دا کتاب د شریعت د اصولو پر اساس د قضا د چارو یو تفصیلي لارښود و، چې په محاکمو کې د عملي کار لپاره کارېده. د دې اثر بشپړېدل او رسمي خپرېدل په خپله د اسلامي فقهي د تقنین په برخه کې یو لوی ګام و، ځکه چې د یوې منظمې فقهي مجموعې په توګه یې د معاصر قانون د بنسټ حیثیت خپل کړ.

سربېره پر دې، د حبیب‌الله خان په وخت کې د دیني پوهاوي د زیاتولو لپاره هم مهم اقدامات وشول. د "سراج ارکان الاسلام" په نوم کتاب د همدې موخې لپاره چاپ او نشر شو. دا اثر د اسلامي دین د پنځو بنسټونو په اړه د خلکو د پوهاوي لوړولو لپاره برابر شوی و، څو خلک په خپلو ورځنیو چارو کې د شریعت د اصولو پابندي وکړي. که څه هم د دې کتاب محتوا د فقهي تقنین په بڼه نه وه، خو د عامه پوهاوي په برخه کې یې د شریعت د اصولو د ترویج رول ولوباوه.

د هغه وخت د مطبوعاتو رول هم باید هېر نه شي. محمود طرزي د "سراج الاخبار" تر نامه لاندې یو فکري او سیاسي جریده خپروله، چې په هغې کې د اسلامي فقهي د اهمیت او د افغانستان د دیني هویت په اړه لیکنې کېدې. د طرزي په وینا، افغانستان د دیني صلابت له مخې په اسلامي نړۍ کې ځانګړی ځای درلود، او د محمدي شریعت د پلي کېدو له امله یې د خلکو رفاه او سعادت خوندي و. دا

ډول فرهنګي او فکري هڅې د دې لامل شوې چې د شريعت د اصولو تطبيق نه يوازې د عدلي نظام برخه پاتې شي، بلکې د سياسي او ټولنيز هويت يوه بنسټيزه ستنه هم وګرځي.

په عمومي توګه، د امير حبيب‌الله خان د واکمنۍ د اسلامي فقهې د تقنين هڅې د هغه د پلار له دورې څخه په دوو برخو کې توپير درلودې. لومړۍ دا چې هغه هڅه وکړه د شريعت د اصولو ترڅنګ د معاصرې ادارې اړتياوې هم په پام کې ونيسي او د نظامنامو له لارې د يو ډول منظم دولتدارۍ تجربه رامنځته کړي. دويم دا چې د ده په دوره کې د اسلامي فقهې د تدوين کارونه يو څه زيات معياري شول، ځکه چې لوی فقهي اثار لکه "سراج الاحکام" په بشپړه بڼه خپاره شول او د رسمي قضا د بنسټ حيثيت يې خپل کړ.

که څه هم د امير حبيب‌الله خان د دورې تقنين د معاصرې معنا له مخې قانون جوړونه نه وه، خو د افغانستان د حقوقي تاريخ په بهير کې يوه مهمه مرحله ګڼل کېږي. دا دوره د اسلامي فقهې د اصولو پر بنسټ د تقنين دوام څرګندوي، خو په عين وخت کې د عصري قوانينو او مقرراتو د نفوذ پيل هم ښيي. په حقيقت کې، دا دوره د دوديزو او عصري عناصرو د ګډ ژوند مرحله وه، چې په هغې کې د فقهي د اصولو پابندي د دولت د مشروعيت بنسټ پاتې شوه، خو د نوو اړتياوو ځواب د نظامنامو او اداري مقرراتو له لارې ورکړل شو.

## دويم مطلب

## اماني دوره کې قانون جوړوونه

عليحضرت شاه امان الله خان د افغانستان لومړنی اساسي قانون ۱۹۲۳ کې جوړ کړ، چې په هغه کې د اسلامي شريعت اصولو ته ځانګړی ځای ورکړل شوی وو. د امان الله خان هڅه وه چې د اسلامي ارزښتونو په رڼا کې افغانستان د عصري نړۍ سره همغږی کړي. د هغه په واکمنۍ کې، د ښځو حقوق، د تعليم او تربيې د پراختيا، او د اقتصادي اصلاحاتو لپاره قوانين جوړ شول، چې د اسلامي شريعت د اصولو سره همغږي درلوده. د شاه امان الله د واکمنۍ دوره چې له ۱۲۹۸ نه تر ۱۳۰۹ هـ ش پورې وه، د افغانستان د قانون جوړونې په تاريخ کې يوه له تر ټولو مهمو دورو څخه ګڼل کيږي. شاه امان الله خان وروسته له دې چې د افغانستان خپلواکي يې ترلاسه کړه، د هيواد په سياسي، ټولنيز، او قانوني تاريخ کې نوی فصل پرانيست. هغه په پيل کې د دين خدمت، د عدالت پلي کول، او د قانون حکومت د خپل شعار په توګه وړاندې کړل. لکه څنګه چې هغه په لومړيو کې اعلان وکړ چې: "په افغانستان کې به له دې وروسته يواځې قانون حکومت کوي." په همدې توګه، هغه په يوه فرمان کې وليکل چې په

افغانستان کې به د الله جل جلاله د قانون پرته بل هیڅ حکم نافذ نه وي او له شریعت پرته به بل هیڅ امر حاکم نه وي[1]. همدارنګه نوموړي د خپل سلطنت شعار په لاندې ډول وو:

لومړی: "موخه د حضرت سید المرسلین ﷺ د دین د خدمت دی چې تر ټولو مقاصدو او موخو غوره او ښه دی. دویم: زما یواځینی هیله مظلومان حق ته رسېدل او بې وسه خلکو ته عدالت ورکول دي. زما یواځینی نیت دا دی چې د الله تعالی لخوا راکړل شوی استعداد او وړتیا چې د عدالت پلي کولو او ظلم او بدعت له منځه وړلو په اړه زما په ذهن او زړه کې ننه ایستل شوې ده، په عمل کې راولم[2]."

شاه امان الله سره له دې چې له پراخو نړیوالو اړیکو سره مخ وو، ډېر اصلاحات یې پیل کړل او په جدي توګه د ټولنې د موجوده ستونزو د حل لپاره د مناسبو لارو په لټه کې وو.

د هغه په نظر، د افغانستان د هغه وخت ټولنې یوه اړتیا د قانوني نظام اصلاح او معاصره کول وو، او د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره یې ډېر کارونه وکړل. د بېلابېلو اهدافو او دندو لپاره یې مجلسونه او شوراګانې جوړې کړې، تر څو هر یو په خپله برخه کې د اړتیا وړ قوانینو په جوړولو او ترتیبولو کې ونډه واخلي. البته، عثماني دولت د فقهي احکامو د تدوین په اړه د معاصرو قوانینو په بڼه د افغانستان لپاره یو مهم الګو وو.

## الف: د تمسک القضاء الامانیة تدوین

یو له مهمو اقداماتو څخه چې شاه امان الله خان د قانوني نظام د اصلاح په برخه کې وکړ، د "تمسک القضاة الامانیه" په نوم کتاب تدوین وو، چې د هغه په امر مولوي عبدالواسع[3] لخوا ترتیب او تألیف شو. د دې کتاب د تألیف هدف او عمومي محتوا په هغه فرمان کې چې د دې کتاب د تدوین په اړه صادر شوی، بیان شوی دی.

امان الله خان د عدلي اصلاحاتو او عدالت د پلي کولو په برخه کې بېلابېل قوانین جوړ کړل یا یې له سره وکتل. په دغو سندونو کې یو له مهمو سندونو څخه تمسک القضاة الأمانیة وه چې په هغه کې د اسلامي قضاوت اصول په یو مدون ډول وړاندې شوي وو[4].

فرمان د اهمیت له امله، لفظاً نقل شوی دی:

بسم الله الرحمن الرحیم ....

---

1 - غبار ، غلام محمد غبار، امان الله خان او د افغانستان نوې دوره، ص۳۲۱.

2- غبار، ، میر غلام محمد، غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، ص۷۵۲

3- مرحوم مولوي عبدالواسع د یاد کتاب د تألیف علاوه په مهمو قضائي او قانون جوړوني بستونو باندې کار کړی دی: معلم مکتب حکام، د قوانینو محفل غړی، دولت شورا غړی، عدلیه وزارت غړی او څني نور. پوپلزائي۴۵۸-۴۵۹.

4- فرهنګ ، محمد صدیق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخیر ، انتشارات معارف-کابل۱۳۴۶ه ش ، ج۱، ص۶۵۳

فنشهد أن لا اله الا الله و نشهد أن محمدا رسول الله. اما بعد! راعی عباد الله و حامی بلاده (الغازی امیر امان الله) پادشاه دولت مستقله اسلامیه خدا داد افغانستان به هر خاطر اسلامیه جمله اشخاص امت محمدی عموماً و بر ضمایر دیانت ذخایر کافه افراد ملت نجیبه افغانستان خصوصاً واضح میدارد که ترقیات دین و دنیای دول و ملل اسلامیه به قرار دلایل یقینیه شرع و عقل و تجارب صحیحه تاریخ و نقل مشروط به اجرای احکام محکمه قرآنی و مربوط امضای قواعد حقه آسمانی است، بنابران برای ایفای حق حقیقی اولو الأمری دینی و جهت ادای وظیفه فرض منصبی پادشاهی اسلامی خواستم که در ممالک محروسه دولت خدا داد مستقله افغانستان حکم غیر خدای جل و علی و امری بجز شریعت حاکم نباشد و چون کتب فقهی این زمان دارای اقوال و روایات بعبارات عربی بوده و استخراج حکم معلوم الصحة هر حادثه از آنها صعوبتی دارد که از عموم حکام و کارگزاران دولت بلکه از خصوص سایر قضات و مفتیان امید کرده نمی شود، امر فرمودم تا علمای حضور روایات صحیحه مذهب مهذب حنفی را مطابق معمول فرصت حال یکجا کرده و به زبان فارسی که محاوره اکثر ممالک محروسه افغانستان است، مدون نمایند. حسب الحکم کتاب تمسك القضاة الامانیه را تدوین ساخته کل مسایل و روایات آن به نظر دقت شاهانه ام رسده، حکم فرمودم که قضاة محاکم حقوق و جزا و احکام ادارات عدلیه مرکزی دار السلطنه و ولایات و محلات در فیصله دعاوی و مرافعات، احکام مندرجه کتاب موصوف را معمول داشته، از روایات دیگر کتب و مجموعات صرف نظر نمایند و اگر حادثه فرضاً واقع گردد که حکم آن در مسایل مذکوره کتاب مزبور نباشد، فیصله حکم مذکور را معطل کرده کیفیت محضر و صورت حال آن را کاملاً بحضور وزارت عدلیه برسانند وزیر عدلیه مأمور است که کیفیت ارسالی قضاه را بلا معطلی تقدیم حضور انور پادشاهی بدارد تا باتفاق اهل محفل شورای علوم تعیین حکم غیر مذکور فرموده شده، بعد از امضای پادشاه برای تکمیل مسایل کتاب داخل آن کرده شود و برای احکام تعزیرات شرعیه که حدود معینه نداشته مفوض به رأی امام و اولو الامر است نظامنامه های علیحده ملکی نظامی و احتسابی تألیف گردیده، مقادیر تعزیر هر قباحت و جنحه و جنایت در آن مفصل ضبط و تحریر است تا قضاه دولت افغانستان، در هر حکم جزا تقلید مواد قضاییه تمسک القضاة الامانیه و پیروی از فقرات نظامنامه های جزائیه را در احکام تعزیریه کرده، رأی غیر شرعی و حکم نفسانی و هوایی را در عباد و بلاد الهی جل شأنه جاری و ساری ندارند[1].

له دي امله چې د عدليه اداري حقوقي او جزايي برخې جلا شوي وې، "تمسک القضاة الامانیه" هم په دوو برخو ویشل شوی وو:

- د حقوق برخه

[1] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت د پوپلزائي ، ص ۴۶۰-۴۶۲.

- د جزا برخه

ترڅو د حقوقو برخه د حقوقي محاکمو اساس او د جزا برخه د جزايي محاکمو دستورالعمل وي او ټول شرعي فيصلې د هغو مطابق عملي شي. د دې کتاب د صحت او موافقت لپاره، وروسته له ترتيب او تدوين، حکم وشو چې علماء، قاضيان، او مفتيان يې کليات او جزئيات مطالعه کړي او د دې د صحت تصحيح او تنقيح وکړي. د قاضي القضاة، قاضي عسکر، او نورو محکمو د قاضيانو او مفتيانو په لاسليک، دا حکم د شاه امضا ترلاسه کړي او د عمومي اجرا حکم يې صادر شوی دی. له الله جل جلاله څخه د دې شريعت په پلي کولو د افغانستان د دولت او ملت لپاره د ديني او دنيوي پرمختګ غوښتنه کوم."

شاه امان الله خان د کتاب د دويمې برخې له بشپړولو او د مؤلف له لاسليک وروسته، په ۱۳۰۰ هـ ش کال کې پرې د تأييد مهر ولګاوه. قاضيانو په پای کې دا جمله ليکلې وه: "لکه څنګه چې د تمسک القضاة الامانيه کتاب د حاضرو علماوو لخوا ترتيب شوی او د شاه لاسليک يې ترلاسه کړی ده، دا د قاضيانو او محکمو لخوا په بشپړه توګه وليدل شوی او د هغه مسايل صحيح دي. الله تعالی دې په برکت د حضرت صاحب، د نبی کريم محمد ﷺ دين او شريعت قايم وساتي او نوموړی د الله د دين او دنيا په پرمختګ کې کامياب او د دښمنانو له بدو سترګو څخه وساتي. آمين."

په تمسک القضاة الامانيه کتاب کې د حنفي فقهې له ډېرو کتابونو څخه استفاده شوې ده، چې ځيني يې دا دي: الهدايه، قاضيخان، محيط برهاني، الاشباه والنظائر، خزانة الرواية، تاتارخانيه، معين الحکام، بدائع الصنائع، فتاوای عالمگيريه، فتح القدير، کنز، جامع الرموز، خزانة المفتيين، البحر الرائق، خلاصه فتاوای کرخی، تمرتاشي، الجوهرة النيرة، مبسوط، سراجی، قدوری، شرح طحاوی، در المختار، رد المحتار او ځيني نور معتمد کتابونه.

د افغانستان مشهور مؤرخ ميرغلام محمد غبار د تمسک القضاة الامانية کتاب د تأثيراتو په اړه ليکلي دي: "شاه امان الله خان د يوه شمېر متجدد فقهاوو په مرسته چې مولوي عبدالواسع خان قندهاري يې مشري کوله، د دې کتاب په تدوين سره د قاضي واکونه محدود کړل او تعزير يې په تقدير بدل کړ، يعني تمسک القضاة يې د جزايي قانون په بڼه ترتيب کړ، چې په موادو کې يې د هر جرم جزا ذکر شوې وه. قاضي نه شوای کولی چې د يو جرم جزا کمه يا زياته کړي، او دا په افغانستان کې يو اساسي فقهی بدلون وو[1]."

---

[1] - افغانستان در مسير تاريخ د غبار، ص۷۹۵.

## ب: د نظامنامو تدوین

لکه څرنګه چې مخکې يادونه وشوه، شاه امان الله خان د خپل سلطنت پیل د دې شعار سره وکړ چې: {په افغانستان کې به قانوني حکومت وي او حکومت به مشورتي او قانوني وي.} شاه امان الله خان وويل چې بايد نظامنامې ترتيب او تطبيق شي، او علماء بايد په نظامنامو غور وکړي او تصويب يې کړي. د دې اهدافو د تحقق لپاره، شاه د {تمسك القضاة الأمانيه} کتاب ترتيب کړ، او د علومو شورا يا د حاضرو علماء شورا په نوم شورا يې تأسيس کړه چې د ديني کتابونو او رسايلو د تأليف او تدوين لپاره جوړه شوې وه. په دې ترڅ کې، شاه يوه بله شورا د قانون اېښودلو په نوم جوړه کړه، چې هدف يې دا وو چې د تمسك القضاة سره سره، د دولت او اړوندو ادارو لپاره نور ضروري قوانين، مقررات او لوايح تدوين او تصويب کړي، چې په هغه وخت کې ورته نظامنامه ويل کيده.

يادوني وړ ده چې د محفل وضع قوانين د غړو په منځ کې ګڼ شمېر علماء، ليکوالان او ژباړونکي شامل وو. ځيني تُرک علماء لکه بدری بيګ هم د دې مجلس غړي وو، چې د مجلس مرستيال رئيس هم وو او تر خپل ژوند پورې په همدې مقام پاتې شو. جمال پاشا، بل تُرک عالم، هم د دې مجلس غړی وو چې د بدری بيګ سره يو ځای يې د نظامنامو ترتيبولو کې ډېر کار وکړ. وروسته، محفل وضع قوانين د شورای دولت تر رياست لاندې راغی او وروسته د شورای ملی په نوم بدل شو[1].

د {مجله معرف معارف} مجله، چې يوه علمی، عرفانی، ادبي او تاريخي مجله وه، په ۱۳۹۸ هجري شمسي کال کې د نظامنامو د تدوين پيل او د دې هدفونه داسې توضيح کړل: {اعليحضرت امان الله شاه د دولت د ځينو اړينو کارونو د ترسره کولو وروسته د ملوکانه ارادې سره هڅه وکړه چې د خپلو صادقانه اتباعو، له امير څخه تر مأمور پورې، د اجراآتو طريقه وښيي او د دولت ګډوډي له منځه يوسي. د دې هدف لپاره يې علماء راغوند کړل او امر يې وکړ چې د حنفي مذهب مطابق مهم مسائل راټول، تدوين او په مجلدات نظامنامه کې ټولنې ته وړاندې شي. په دې توګه ملت او دولت به د خپلو حقوقو او واجبونو په اړه پوه شي او د ديانت او صداقت لارې ته لاړ شي[2].}

همدارنګه، مرحوم پوپلزايی، د {دار القضاء در افغانستان} کتاب ليکوال، ليکي چې د افغانستان بشپړ استقلال د اعليحضرت امان الله شاه د فرمان سره سم، شورای علوم، شورای محفل وضع قوانين او د دولت شورا تأسيس شول او د نظامنامو د تأليف کار پيل شو. د دولت علمي او تقنيني چارواکو ته لارښوونه وشوه چې ټول فقهی مسائل په پښتو او دري ژبو وژباړي، ترڅو خلکو ته شفافيت ورکړي، هره نظامنامه بايد د حاضرو علماء لخوا لاسليک او وروسته چاپ شي. په دې توګه، دولت د خپلو

---

[1] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت د پوپلزائي ، ص۵۱۹.

[2] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت د پوپلزائي ، ص۴۴۷.

قوانینو په تطبیق او ترویج کې ژمنه وکړه او د شورای دولت، کابینې وزیرانو، او لوی جرګو له لارې يې يو شمېر قوانين تصويب کړل. د دې قوانینو په منځ کې، اساسي قانون د لوی جرګې په غونډه کې تصویب شو، چې د دولت د اساسي جوړښت په اړه مهمې پرېکړې وشوې[1].

## ج: د نظامنامو مرحلې او خپرونه

د تاریخي متونو له مخې، د نظامنامو د طی مراحل پروسه داسې وه: هرکله چې د یوې ادارې یا وزارت لپاره د نظامنامې ترتیب ته اړتیا پیدا شوه، اداري اړونده طرحه ترتیبوله او د دولت شورا ته يې وړاندې کوله. دولت شورا وروسته د طرحې بیا کتنه کوله او د تصویب لپاره یې د عالي وزراء مجلس ته وړاندې کوله. د مجلس د تصویب وروسته، شاه هغه نافذ ګڼل او د تطبیق لپاره یې اړوندو مراجعو ته لېږل.

د نظامنامو د نشر لپاره، {جریده ابلاغ} چې د شاهی دار التحریر د مدیر میرزا محمد اکبر خان لخوا اداره کیده، د ۱۳۰۰ هجري شمسي کال د حمل له لومړۍ نيټې پیل شو. دغه جریده د شنبه، دوشنبه او چهارشنبه په ورځ خپرېده او تر ۱۳۰۵ هجري شمسي کال پورې خپریدله. ټولې نظامنامې، قواعد او قانوني اصول په پښتو او دري ژبو کې د دې جريدې له لارې خپرېدل. د عامه پوهې لپاره، جریده ابلاغ د کابل او کندهار ښارونو دیوالونو ته نصب کیده او د کابل په مرکزي ولایت کې یې د ورځې په ټاکل شوو وختونو او ځایونو کې لوستل کیدل[2].

جریده ابلاغ د پوپلزايي په وینا، د اماني دوره د دیني، عدلي او قانوني موقف لپاره مشهوره وه. د دې نشراتي پالیسی هدف دا وو چې خلک د نظامنامو په اړه خبر شي او پوه شي چې نظامنامې د اسلامي فقه کتابونو ژباړې دي او د علماء لخوا تایید شوې دي. چارواکي مکلف وو چې د اخبار محتوا خلکو ته وړاندې کړي او هغوی ته وښيي چې نظامنامې د اسلامی فقهې کتابونو سره سم ترتیب شوي دي[3].

## د: د دار التألیف تأسیس

د اماني دورې د قانون جوړونې یو بل مهم اقدام د لویې جرګې جوړول وو چې په ۱۳۰۳ هجري شمسي کال کې پغمان کې جوړه شوې وه، د فتاوای امانیه د تألیف لپاره د دار التألیف تأسیس وو. شاه امان الله دغه وړاندیز ومنلو او ۹ تنه مشهوره علماء د دې فتاوا د تألیف لپاره وټاکل شول. یادو علماء ته هدایت وشو چې د شرعي مقرراتو او قوي روایاتو سره سم کار وکړي او د قانوني فروعو تطبیق ته جدي پام وکړي. د دې علماء لخوا د فتاوای امانیه تألیف د مولوي محمد ابراهیم خان په مشرۍ پیل شو.

1 - افغانستان در مسير تاريخ د غبار، ص۷۹۵.

2- روش و فنون قانونگذاری د رسولي ، ص۷۹.

3 - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت د پوپلزائي، ص۴۹۳.

د پورته توضیحاتو پراساس، د اماني دورې قانون جوړونه د پخوانيو دورو په پرتله زيات بدلون کړی وو. د حنفي فقهي احکام د محاکمو لپاره په فارسي ژبه وژباړل شول او د {تمسك القضاة الأمانيه} په نوم کتاب کې د مدني او جزايي قانونونو په توګه ترتيب شول. د دولت د نظامنامو د تدوين لپاره، د {محفل وضع قوانين} په نوم مجلس تأسيس شو، چې تُرک علماء يې هم غړي ول. دغه نظامنامې د اوسني دور سره سم ترتيب او طی مراحل شول او وروسته د شاه لخوا تصويب شول. د محفل وضع قوانين ترڅنګ، د علومو شورا چې فقهاء او قضات پکې شامل وو، د نظامنامو د غور او تاييد لپاره مقرر شول. د دې سره سره، د اماني دورې د قانون جوړونې يوه مهمه لاسته راوړنه د افغانستان د اساسي قانون وضع وو، چې د ۱۳۰۱ هجري شمسي کال په لويه جرګه کې تصويب شو. د دې قانون له مخې، د شاهي واک د قانون او سياسي موسسو لکه د وزراء هيئت، دولت شورا او محاکمو لخوا محدود شو، چې دا د افغانستان په تاريخ کې يوه ځانګړې او مهمه مرحله ده[1].

د اماني دورې ځينې مهمې نظامنامې عبارت دي له:

- نظامنامه اساسي دولت عليَّه افغانستان (اساسي قانون)
- تمسك القضاة الأمانيه (۱۳۰۰ ش)
- نظامنامه ماليه (اول) حمل ۱۲۹۹ ش
- نظامنامه نشان‌های ذيشان دولت عليّه مستقله افغانستان (۱۲۹۹ ش)
- نظامنامه تذکره نفوس (۱۷ نور ۱۳۰۲ ش)
- نظامنامه فروش املاک سرکاری (۱۵ جوزا ۱۳۰۲ ش)
- نظامنامه مکاتب خانگی (۱۶ سنبله ۱۳۰۲ ش)
- نظامنامه قونسلگری دولت عليه افغانستان اول عقرب ۱۳۰۲ ش
- نظامنامه استعفای مأمورين ملکی (۱۵ دلو ۱۳۰۲ ش)
- نظامنامه پروگرام دار المعلمين‌ها و دار المعلمات مرکز (۱۳۰۲ ش)
- نظامنامه مطبوعات (۱۰ جدی ۱۳۰۳ ش)
- نظامنامه تربيه اطفال يتيم (۱۱ عقرب ۱۳۰۵ ش او ۲۳ جدی ۱۳۰۵ ش)
- نظامنامه اصول محاکمات جزائيه مأمورين (۲۰ حوت ۱۳۰۲ ش)
- نظامنامه جزای عمومی اول ميزان ۱۳۰۳ ش
- نظامنامه محاکم شرعيه در باب جرايم (۳۰ جوزا ۱۳۰۶ ش)[2]

---

1 - قانونګذاري بشر از ديدگاه مذاهب اسلامي د حيدري، ص۶۴.

2 - روش و فنون قانونگذاری د رسولي ، ص۷۹-۸۰.

## درېيم مطلب

## اماني دورې وروسته قانون جوړوونه

### الف: حبيب الله کلکاني دوره

د يو لړ دلايلو په بنسټ د شاه امان الله حکومت سقوط وکړ او حبيب الله کلکاني، چې {خادم دين رسول الله} لقب يې درلود او په بچه سقاو باندې مشهور وو په واک کې راغی (۱۳۱۰-۱۳۰۹ هـ ش). کله چې کلکاني د هېواد د چارو اداره ونيوله، يوه شورا چې د هيئت تنظيميه اسلامی په نوم وه، د محمد اعظم خان په مشري جوړه کړه[1]. دې شورا د يو فرمان له لارې د مجلس ملي انتظاميه اسلامی د جوړېدو لپاره د ټاکنو امر وکړ. د دې مجلس لپاره ۳۰ کسان د لاندې شرايطو سره غوره شول:

- د سواد لرل.
- د ۳۰ کالو عمر بشپړول.
- د جرمونو په ارتکاب کې متهم نه وي، د مرکز او ولاياتو څخه ټاکل کېدل[2].

ځنې معاصر تاريخپوهان ادعا کوي چې په هغه لنډمهاله دوره کې چې کلکاني د هېواد واکمن وو، د دولت اساسي اصول هم وضع او تدوين شول، مګر ياد اصول د تطبيق مرحلې ته ونه رسېدل. ويل کيږي چې په دې اصولو کې د عسکري خدمت د فرضي کولو څخه تنازل شوی وو او د هغه پر ځای د رضا سره د عسکري خدمت مقرر شو. که څه هم د دې اصولو تدوين په تاريخي اسنادو کې لړ ياد شوی، کلکاني د تير کالونو مالياتو د معافيت لپاره فرمان صادر کړ، مګر د خزانه خالي کېدو راپور ته په پام سره يې د مالياتي معافيت ورکولو نه لاس په سر شو. د کلکاني ټول فرمانونه او احکام د {جريده حبيب الاسلام} په نوم نشريه کې خپرېدل[3].

### ب: امير محمد نادر خان دوره

د نادر شاه په وخت کې، د امان الله خان د اصلاحاتو په وړاندې شته مخالفتونو ته په پام سره، هڅه وشوه چې د اسلامي فقهې اصول او دوديز قوانين بيا ځلي پياوړي شي.د کلکاني د لنډمهاله حکومت د راپرځېدو وروسته، د شاه امان الله يوه مهم شخصيت محمد نادر د هېواد واک ترلاسه کړ. په ۱۳۰۸ هجري شمسي کال د عقرب په پنځمه نېټه، په کابل کې اعلان وشو چې نادر شاهی حکومت به د مقدس اسلام او حنفي مذهب د احکامو سره سم هېواد اداره کړي او د محمدي شريعت د تطبيق لپاره د ملي شورا رياست او د عدليې وزارت مسؤل دي. د دې حکومت يوه مهمه برخه د احتساب څانګه ده او د

---

1 - محمد صديق فرهنګ، افغانستان در پنج قرن اخير، ج۱، ص۷۲۵.

2 - روش و فنون قانونګذاری د رسولي ، ص۸۰.

3 - عدليې وزارت، عدليې وزارت تاريخچه، افغانستان اسلامي جمهوريت عدليې وزارت رسمي سايټ.

دین احکامو سره سم، د افغانستان خلک د قومیت په پام کې نیولو پرته یو بل سره د ورورولي او مساوي حقوقو سره پیژندل کیږي.[١]

د دې دورې په ۱۳۱۰ هجري شمسي کال د عقرب په اتمه نېټه، چې د ۱۳۵۰ هجري قمري کال د جمادي الثانی سره سمون خوري، د افغانستان د دولت اساسي اصول په (۱۱۰) مادو تصویب او تطبیق شول. دا اصول د اماني دورې د اساسي قانون یا نظامنامې په پرتله د فعالیت او تاثیر له مخې ضعیف ثابت شول.[٢]

د اساسي اصولو په بنسټ، دوه مجلسونه په پام کې نیول شوي وو:

۱- ملي شورا چې د ۱۱۱ غړو څخه جوړ شوې وه، او د خلکو لخوا ټاکل کېدل.

۲- د اعیان مجلس چې د ۳۸ دایمي غړو څخه جوړه وه او د شاه لخوا د ملک د فضلا او نجباو څخه ټاکل کېدل.

که څه هم د اساسي اصولو سره سم، د ملي شورا غړي د خلکو لخوا ټاکل کېدل، مګر دا کار د محمد نادر د حکومت تر پای پورې عملي نه شو، بلکه غړي د حکومت لخوا ټاکل کېدل. په دې پروسه کې، هغه کسان چې د حکومت د والیانو او محلي حاکمانو د اعتماد وړ وو، د مرکز لپاره نماینده معرفي شول او د ځینو ځایي خلکو، په ځانګړې توګه د ملکانو او اربابانو لخوا د دوی د اعتبار تضمین کېده.[٣]

د نوي اساسي اصولو له مخې، چې په ۱۳۱۲ هجري شمسي کال چاپ شوي، په محاکمو کې داسې ذکر شوی وو: {عدلیه محاکم د عامه شرعي دعوو مرجع ده. په شرعي محاکمو کې دعوې د حنفي مذهب د مقرراتو سره سم فیصله کیږي او ټول محاکم د هر ډول مداخلت نه آزاد دي. په عدلیه محاکمو کې دعوې په علني توګه فیصله کیږي، پرته له هغو مسایلو چې شارع یې د پټې فیصلې لپاره هدایت کړی دی.}[٤]

د دې دورې ځینې اصولنامې او قوانین عبارت دي له:

- د افغانستان اساسي اصولنامه (۱۳۰۹ ش)
- د شورى وکیلانو د ټاکنو اصولنامه (۱۳۰۹ ش)
- د دولت خزانې اصولنامه (۱۳۱۱ ش)
- د عدلیې محاکمو او منازعاتو د فیصلې اصولنامه
- د بلدیه اصولنامه او د هغې دندې

---

1 - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت د پوپلزائي ، ۵۹۲.

2 - قانونگذاري بشر از ديدگاه مذاهب اسلامي د حيدري ، ص۶۵.

3 - روش و فنون قانونگذاری د رسولي ، ص۸۱.

4 - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت د پوپلزائي ، ص۶۰۸.

- د وزیرانو د مسؤلیت اصولنامه
- د ابتدایي تعلیماتو اصولنامه.[1]

سربېره پر دې، د ۱۳۱۱ هجري شمسي کال سالنامه د دې دورې تقنیني فعالیتونو یادونه کوي او ځینې نور لوایح او اصولنامې هم ذکر کوي چې ځینې یې تکراري دي او ځینې یې مهمې او د پام وړ دي، لکه:

- د دولتي ادارو د جوړښتونو او دندو لوایح، لکه وزارت حربیه، داخله، عدلیه، مالیه، معارف، تجارت، طبی مدیریت، د پوست او تلگراف مدیریت.
- د ولایاتو او بلدیي ادارو اصولنامه.
- د محصول، مواشي، د موټر چلولو اصولنامه.
- د خزانې، حاضري، رخصتي، او د مامورینو د قوانینو اصولنامه.
- بهرنیان منع له حق استملاک څخه.
- بهر کې د خارجي، حربي او محصل واده منع...[2]

## ج: د ملت بابا ظاهر شاه دوره

کله چې نادر خان وفات شو نو د هغه ځوان زوی محمد ظاهر، په کال ۱۳۱۲ هجري شمسي (۱۹۳۳ میلادي) کې د هیواد واکمن شو. ظاهر شاه په پیل کې د خپل پلار د دورې د اساسي اصولو له مخې حکومت چلوه، خو د ۲۰مې پېړۍ نړیوالو تحولاتو او په هیواد کې د سیاسي فعالیتونو د زیاتیدو په پام کې نیولو سره، شاه اړ شو چې نوې گامونه په سیاسي او تقنیني برخه کې پورته کړي. د دې نوو اقداماتو په جملې کې د یو نوي اساسي قانون جوړول چې د ټولنې د سیاسي، ټولنیز، او کلتوري اړتیاوو سره سم وي، لومړیتوب پیدا کړ. شاه چې په افغانستان کې د شاهي حکومت وروستی واکمن وو، د اسلامي شریعت اصولو ته د خپل حکومت په قانوني نظام کې ځای ورکړ. د هغه په وخت کې، د افغانستان دویم اساسي قانون ۱۹۶۴ جوړ شو، چې په هغه کې د اسلامي شریعت اصولو ته ځانگړی ځای ورکړل شوی وو. دا قانون د افغانستان د حقوقي نظام یوه مهمه برخه وگرځېده[3].

دا چې د ظاهر شاه دوره د افغانستان د تاریخ په اوږدو ترینو دورو کې شمیرل کیږي، او د دې دورې په دویمه نیمایي کې په مختلفو برخو، په ځانگړې توگه د قانون جوړونې په برخه کې ډېر کارونه ترسره شول.

---

[1] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوریت د پوهلزائي ، ص۶۱۲

[2] - روش و فنون قانونگذاری د رسولي ، ص۸۲

[3] - افغانستان در مسیر تاریخ د غبار، ص۱۰۲۳، ۱۳۴۲ه ش

د افغانستان دریېم اساسي قانون، چې د اماني دورې او نادر شاه د دورې وروسته و، په کال ۱۳۴۳ هجري شمسي (۱۹۶۴ میلادي) کې تصویب شو. دا قانون د محمد ظاهر شاه له لوري توشېح شو او د تطبیق لپاره وړاندیز شو. د دې قانون مهم ټکي عبارت دي له ملي هویت ټاکل، رسمي ژبه ټاکل، شوراګانې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په توګه بدلول، او نور اړوندې موضوعات. په دې توګه، د ظاهر شاه د دورې د قانون جوړونې سیستم نسبتاً د تیرې دورې په پرتله ډېر پرمختګ وکړ. د دې دورې د قانون جوړونې هڅې په ځانګړې توګه د اساسي قانون جوړونې او نورو تقنیني اسنادو د ترتیب په برخه کې واضحې شوې. د دې دورې په اوږدو کې شاوخوا ۱۴۵ قانونونه، اصولنامې، تقنیني فرمانونه، مقررات، اساسنامې، موافقت نامې، میثاقونه، او نړیوال قراردادونه ترتیب او تنظیم شول.[1]

د تقنیني اسنادو د تیاري او دقت لپاره د تقنین اداره د دې دورې یوه مهمه لاسته راوړنه وه. دا اداره په لومړي سر کې د تقنین مشاوریت او تقنین مدیریت په نومونو رامنځ ته شوه، خو د کار زیاتوالي او د اداراتو اړتیاوو ته په پام سره، په کال ۱۳۳۵ هجري شمسي (۱۹۵۶ میلادي) کې د عدلیې وزارت سره یوځای شوه. د اهمیت له مخې، د تقنین مدیریت په کال ۱۳۴۲ هجري شمسي (۱۹۶۳ میلادي) کې د تقنین ریاست ته لوړ شو چې د قوانینو د مطالعې، تشریح، جزایي قوانین، مدني قوانین، او اقتصادي قوانین ډیپارتمنتونو هم ورشامل شول.[2]

د تقنین د نوو طریقو او پرمختللو مرحلو په برخه کې، یوه بله مهمه لاسته راوړنه د رسمي جریده پیلول وه چې د کال ۱۳۴۲ هجري شمسي (۱۹۶۳ میلادي) په ۱۶ حوت خپره شوه. په دې جریده کې د تقنیني اسنادو، قوانینو، مقرراتو، اساسنامو، تعدیلاتو، فرمانونو، تعلیمي لیکونو، لوایحو، نړیوالو مقالاتو، معاهداتو، او د دولت رسمي اعلامیو خپرول شامل وو.

په دې توګه، د ظاهر شاه د دورې د قانون جوړونې سیستم د نورو دورو په پرتله پرمختللی شو او د قانون جوړونې په برخه کې یې مهم ګامونه واخیستل.

## څلورم مطلب

## جمهوري دوره کې قانون جوړوونه

### الف: سردار محمد داوود خان دوره

د محمد ظاهر شاه سلطنت د ۱۳۵۲ هجري شمسي (۱۹۷۳ میلادي) د یوې پلان شوې کودتا په ترڅ کې د چنګابښ په ۲۶مه سقوط وکړ، کله چې ظاهرشاه د ایټالیا په سفر کې وو، محمد داوود خان جمهوریت اعلان کړ او د پاچاهۍ اوږده دوره پای ته ورسېده چې د افغانستان سیاسي جوړښت یې په

[1] - دارالقضاء در افغانستان از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت د پوپلزائي ، ص۶۲۳-۶۲۶

[2] - روش و فنون قانونگذاری د رسولي ، ص۸۴.

بشپړ ډول بدل کړ[1] او افغانستان د نوو مثبتو او منفي ابعادو سره يوې نوې مرحلې ته ورننوته. د کودتا وروسته، سردار محمد داود خان خپل ځان ولسمشر اعلان کړ، شاهی نظام يې لغوه کړ او د جمهوريت نظام يې ځای پر ځای کړ. څو کاله د قانون اساسي پرته تېرولو وروسته، په ۲۵ دلو ۱۳۵۵ هجري شمسي (۱۹۷۶ ميلادي) څلورم اساسي قانون د افغانستان تصويب شو چې په (۱۳) فصلونو او (۱۳۶) مادو کې ترتيب شوی وو، او د حوت په ۵مه ۱۳۵۵ هجري شمسي نېټه محمد داود خان توشيح کړه.[2]

د جمهوريت نظام د شاهی نظام په ځای کېدلو سره، د ۱۳۴۳ هجري شمسي اساسي قانون ټول په حالت تعليق کې وو. د قانوني خلا د ډکولو لپاره، داود خان درې فرمانونه صادر کړل، چې تر اساسي قانون د ۱۳۵۵ د نافذ کيدو پورې د اساسي قانون ځای ناستی وو. لومړی فرمان له (۹) مادو، دويم فرمان له (۴) مادو، او درېيم فرمان له (۱۸) مادو څخه جوړ وو. دا فرمانونه د مهمو سياسي، اداري، قضايي او نورو مسايلو په اړه صادر شوي وو.[3]

د سردار محمد داوود خان په واکمنۍ کې، چې د ۱۹۷۳ کال د کودتا وروسته د افغانستان لومړنی جمهوريت اعلان کړ، د اسلامي فقهي تقنين ته نوی رنګ ورکړل شو. داوود خان هڅه وکړه چې د اسلامي شريعت اصول او عصري قوانين په يو چوکاټ کې سره همغږي کړي. د هغه په وخت کې، د افغانستان د اساسي قانون د جوړولو پروسه پيل شوه، په ۱۹۷۷ کال کې د اسلامي شريعت د اصولو ځای پر ځای کول په قانون کې د اساسي موضوعاتو څخه وو. داوود خان په خپل حکومت کې د پرمختګ او عصري کولو هڅې کولې، خو په ورته وخت کې يې هڅه کوله چې د اسلامي ارزښتونو او اصولو څخه مخ وانهړوي. نوموړي هڅه کوله چې د هېواد سياسي او اقتصادي جوړښت ته نوې بڼه ورکړي، د جمهوريت اساسي قانون جوړېدل، د ښځو د حقونو د پراختيا قوانينو تطبيق، او د ځمکې اصلاحات د هغه د حکومت د قانوني اصلاحاتو برخې وې.[4]

په دې دوره کې، د اساسي قانون ۱۳۵۵ سربيره، (۲۶) قوانين، (۱۲) تقنينی فرمانونه، (۱۲) مقررات، او (۳۰) اساسنامې هم ترتيب او نافذې شوې. دا قوانين د افغانستان د قانون جوړونې په تاريخ کې مهم او لويه لاسته راوړنه ګڼل کيږي. د جزا قانون چې په (۵۲۳) مادو او مدني قانون چې په څلورو کتابونو کې د (۲۴۱۶) مادو سره ترتيب شوی وو، د دې دورې له عمده تقنينی کارونو څخه ګڼل کيږي. د دې قوانينو جوړونه د يادې دورې د قانون سازانو مهارت، صداقت، او اخلاص څرګندوي.

[1] - افغانستان در پنج قرن اخير، ج۲، ص۱۱۲۳

[2] - قانونګذاري بشر از ديدګاه مذاهب اسلامي د حيدري ، ص۶۶

[3] - روش و فنون قانونګذاری د رسولي ، ص۸۵.

[4] - افغانستان در مسير تاريخ د غبار، ص۸۵۷.

## ب: کمونیستي رژیم دوره

د سردار محمد داود خان حکومت د سقوط او د خلق او پرچم ډلې د واکمنۍ وروسته، قانون او قانون جوړونه په غیر عادي حالت کې وه. په دې دوره کې، ځینې قوانین چې د اعلامیو او اساساتو په نوم اعلان شوي وو، د حزبي مراجعو او انقلاب شورا له لارې وضع کیدل، نه د معتبر قانوني او قانون جوړوني مراجعو له لارې. ځینې لیکوالان وایي چې د دې دورې حاکمان او د هغوی ملاتړي د قانون څخه د وسلې په توګه کار اخیست، او د خلکو او د هغوی د برخلیک په اړه د مطلقه واکمنۍ سره عمل کاوه. د یادې دورې حاکمان د خلکو دیني او اعتقادي ارزښتونو ته هم توجه نه ورکوله.

نور محمد ترکی د دې دورې لومړنی رئیس جمهور وو، چې د ثور ۱۹مه ۱۳۵۷ هجري شمسي نېټه یې د خپلو سیاسي او خارجي نظریاتو په اړه د ۳۰ مادو بیان وکړ.

په ۱۹۷۸ کال کې د کمونیستي کودتا وروسته، په افغانستان کې د اسلامي فقهي د تقنین بهیر ته سخت زیان ورسېد. کمونیستي حکومت، چې د مارکسیستي-لیننیستي اصولو پیرو وو، د اسلامي شریعت پر ځای خپل ایدیولوژیک قوانین نافذ کړل. د دې رژیم په واکمنۍ کې، د اسلامي فقهي تقنین تقریباً له منځه لاړ. د کمونیستي رژیم هڅه دا وه چې د افغانستان ټولنیز او حقوقي نظام د مارکسیستي اصولو پر بنسټ جوړ کړي. خو دا اقدامات د خلکو له سخت مخالفت سره مخ شول، چې په پایله کې یې د جهاد او مقاومت حرکتونه پیل شول.

**حفیظ الله امین** د ۱۰۰ ورځو د حکومت په دوره کې هم ځانګړي قانوني بدلونونه نه وو، بلکه هغه هم شپږ فرمانونه صادر کړل. یوه کمیسیون د نوي قانون اساسي ترتیب لپاره مقرر شوه، مګر امین ووژل شو او د اساسي قانون تسوید پای ته ونه ورسید.[1]

**ببرک کارمل** په ۲۵ د وري ۱۳۵۹ هجري شمسي، پنځم اساسي قانون د انقلابي شورا له لورې په ۱۰ فصلونو او ۶۸ مادو سره تصویب او تطبیق شو. دغه سند چې د اساسي قانون په نوم یادیږي، د قانون جوړوني اساساتو او نورو اړوند مسایلو پر ځای د سوسیالیستي شعارونو په اړه بحث کوي. د دې دورې په ترڅ کې، ځینې نور قوانین او تقنیني سندونه هم تصویب شول چې عمدتاً د انقلابي، سیاسي او امنیتي مسایلو په اړه وو[2].

**ډاکټر نجیب الله** د ببرک کارمل وروسته د رژیم مشري په غاړه واخیسته. هغه په ۱۳۶۶ هجري شمسي کې د نوي اساسي قانون ترتیب پیل کړ، چې بیا په ۱۳۶۹ هجري شمسي کې له ځینو اصلاحاتو سره تصویب شو. شپږم اساسي قانون د ۱۳۶۶ هجري شمسي د قوس په ۸مه نېټه د لویه جرګې لخوا د ۱۳

---

[1] - قانونگذاري بشر از دیدگاه مذاهب اسلامي د حیدري ، ص۶۶.

[2] - روش و فنون قانونگذاری د رسولي ، ص۸۷.

فصلونو او ۱۳۹ مادو سره تصويب شو، او اووم اساسي قانون چې د ۱۳۶۶ اساسي قانون سره د ځينو اصلاحاتو سره وو، په ۱۳۶۹ هجري شمسي کې تصويب شو.[۱]

په دې اساسي قانون کې د قانون جوړونې عمومي اصول، د اتباعو حقوق او آزادی، د دولت دندې، د قواو تفکيک، او د قدرت وېش په پام کې نيول شوي وو. د دې قانون له مخې، ملي شورا چې د ۱۳۵۲ هجري شمسي کودتا وروسته لغوه شوې وه، بيا احيا شوه او يو شمېر قوانين د هغې له لارې تصويب شول. د اساسي قانون شورا، د سياسي ګوندونو قانون، د ټولنيزو سازمانونو قانون، د مطبوعاتو قانون، د انتخاباتو لويه جرګه، د لوړو زده کړو موسسو قانون، د ملکي اصولو محاکمې قانون، د نړيوالو معاهدو قانون، د بيمې قانون، د ښاروالیو قانون، د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزې قانون، د څارنوالی قانون، د دفاع وکالت قانون، او د اضطراري حالت قانون.[۲]

## ج: مجاهدينو حکومت دوره

په ۱۳۷۱ هجري لمريز کال د ثور په ۸ مه نېټه، د ډاکټر نجيب الله حکومت سقوط وکړ او مجاهدين پلازمينې کابل ته ننوتل. مجاهدينو د مؤقت حکومت تر پای ته رسيدو وروسته، چې مشري يې حضرت صبغت الله مجددي کوله، استاد برهان الدين رباني د مجاهدينو د حکومت مشري په لاس کې واخيسته. د دې دورې په پيل کې، د اساسي قانون پرته، پخواني قوانين عملي شول. وروسته، د اړتياوو په اساس، ځينې نوي قوانين د دولت له خوا جوړ او نافذ شول. په ۱۹۹۲ کال کې د مجاهدينو له بريا وروسته، يو ځل بيا د اسلامي فقهې تقنين ته ځانګړې پام وشو. د مجاهدينو حکومت، چې د اسلامي شريعت د اصولو پيرو وو، هڅه وکړه چې د اسلامي فقهې اصولو ته د هېواد په حقوقي نظام کې ځای ورکړي. د دې وخت په حکومت کې د اسلامي شريعت تطبيق او تقنين يو له مهمو اهدافو څخه وو. په دې وخت کې، د مجاهدينو حکومت د اسلامي شريعت اصول په اساسي قانون او نورو قوانينو کې ځای پر ځای کړل. دا قوانين د اسلامي شريعت د سختو تفسيرونو پر بنسټ جوړ شوي وو او هڅه وشوه چې د افغانستان ټولنيز او حقوقي نظام د اسلامي ارزښتونو سره سمون ومومي.

استاد رباني د يو پنځوس کسيزه کميسيون د جوړولو فرمان صادر کړ، ترڅو د نوي اساسي قانون مسوده جوړه کړي. ټاکل شوي کميسيون د "د افغانستان اساسي اصول" په نامه مسوده په (۱۰) فصلونو او (۱۱۴) موادو کې چمتو او ترتيب کړه، چې په ميزان مياشت ۱۳۷۲ هجري لمريز کال کې تصويب شوه. البته، ځينې خلک باور لري چې دا اساسي قانون د هغه وخت د جګړې د تحميل شويو شرايطو له امله هيڅکله نه تصويب شو، نه توشيح شو او نه هم اعلان شو.[۳]

---

[1] - قانونگذاري بشر از ديدگاه مذاهب اسلامي د حيدري ، ص۶۶.

[2] - روش و فنون قانونگذاری د رسولي، ص۸۹.

[3] - قانونگذاري بشر از ديدگاه مذاهب اسلامي د حيدري، ص۶۶-۶۷.

په نورو قوانينو کې، ځينې محدود قوانين مراحل تير کړل، چې مهم يې عبارت دي له: د معادنو قانون، د پيسو او بانکدارۍ قانون، د مطبوعاتو قانون، د کنترول او تفتيش قانون، د معاملاتو لاربنود قانون، د تعليمي او تحصيلي موسسو فارغانو د تقسيم قانون، او د احتکار د منع کولو قانون.[1]

له دې سره سره چې د نامساعدو سياسي شرايطو له امله نوي قوانين ډير تدوين او تصويب نه شول، خو هڅه وشوه چې له ډيرو پخوانيو قوانينو څخه د اړينو تعديلاتو او اصلاحاتو په واسطه او په ځينو مواردو کې له تعديل پرته کار واخيستل شي، ترڅو په مختلفو ساحو کې د قانوني تشې مخنيوی وشي.

له مجاهدينو وروسته د ۱۹۹۶ کال په سپټمبر کې، طالبانو د کابل ښار ونيو او خپل اسلامي امارت يې اعلان کړ. په دې دوره کې، طالبانو د سخت اسلامي تفسير پر بنسټ خپل قوانين جوړ کړل. طالبانو د اسلامي شريعت د اصولو په تطبيق کې له سختو تدابيرو څخه کار واخيست. دوی په ټولنه کې د شريعت اصولو د تطبيق لپاره ځانګړي قوانين جوړ کړل، چې په هغې کې د ښځو حقوقو محدوديتونه، د لمانځه حاضري، د طالباني حجاب اغوستلو او ځنې نورو تطبيق شامل وو. د طالبانو حکومت د اسلامي شريعت د اصولو په سختو تفسيرونو کې جوړ شوی وو او د هغوی قانوني نظام په همدې بنسټ ولاړ وو.

د طالبانو يو شمېر مشران چې سواد يې درلود، يواځې د مدرسو خصوصي تعليمات يې درلودل بس، نو پر همدې اساس نه يواځې دا چې دوی عصري قوانينو او مقرراتو ته د ټولنې اړتيا څخه ناخبره وو بلکې هغوی پر خپل فهم دا کار ناجايز هم ګڼله.

له همدې امله، په پيل کې هغوی په دې برخه کې بې پروا او بې توجه وو. وروسته يې يو څه دا اړتيا احساس کړه او ځينو يې غوښتل چې په دې اړه کار وکړي. داسې چې دوی يو سند "د اسلامي امارت دستورنامه" په نامه په (۱۰) فصلونو او (۱۰۶) موادو کې چمتو کړ، خو تر پای پورې يې مراحل بشپړ نه شول.[2] يوازينی کړنه چې په دې دوره کې په قانون جوړونه کې ترسره شوه دا وه چې يو شمېر قوانين او تقنينی اسناد د "اسلامي شريعت سره د قوانينو تطابق" په نامه په يو واحد او ځانګړي ډول راټول او ترتيب شول. د دولت عنوان او نښان يې له "د افغانستان جمهوريت" يا "د افغانستان اسلامي دولت" څخه " اسلامي امارت" ته بدل کړ او په بله بڼه او رنګ کې بيا چاپ کړ. د دې برنامې په شمول، د قوانينو او تقنينی اسنادو مجموعه (۴۸) سندونو ته رسېده.[3]

---

[1] - روش و فنون قانونګذاری د رسولي، ص۹۰-۹۱.

[2] - روش و فنون قانونګذاری د رسولي، ص۹۱.

[3] د يادولو وړ ده څه شی چې په دې دوره کې د تقنيني اسنادو په نوم ترتيب او تهيه شوي وو په دې اساس چې د قانون جوړونې اوسني معاصرو عناصرو او لازم شرايطو څخه برخمن نه وو، نه شي کېدلای قانون او يا هم د تقنيني سند نوم پرې اطلاق شوی شي. رسولي، مخکينی، ص۹۱-۹۲.

طالبانو هڅه کوله چې د اسلامي شریعت اصولو ته د ټولنې په ټولو برخو کې ځای ورکړي، دوی غوښتل چې د شریعت اصول په سختو تدابیرو سره نافذ کړي، چې په دې کې د ښځو حقوقو محدودیتونه، د تعلیم او کارموندنې په برخو کې محدودیتونه او بندیزونه، او نور شامل وو.

## د: وروستنی جمهوریت

افغانستان یو اسلامي هیواد دی چې د تاریخ په اوږدو کې یې د اسلامي شریعت پر اساس خپلې حقوقي چارې تنظیم کړې دي. د طالبانو د رژیم له نسکورېدو وروسته، په ۲۰۰۱ کال کې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د افغانستان اسلامي جمهوریت جوړ شو. په دې دوره کې د قانون جوړونې او د اسلامي شریعت د تطبیق په برخه کې خورا مهم ګامونه واخیستل شول.

د طالبانو د رژیم له راپرځېدو او په افغانستان کې د نوي نظام له راتګ وروسته، د هېواد په تقنیني او قانون جوړونې برخه کې یو له مهمو اقداماتو څخه د حامد کرزي، د انتقالي دولت د رئیس، له لوري د نوې اساسي قانون د مسودې د چمتو کولو لپاره د ځانګړي کمېسیون جوړول وو. دا اقدام په دې حساسه او حیاتي مرحله کې د افغانستان لپاره یو مهم ګام ګڼل کېږي، ځکه چې نوی اساسي قانون د هېواد د راتلونکي سیاسي، اقتصادي، او ټولنیز جوړښت لپاره بنسټ ایښودونکی وو.

د یاد اساسي قانون مسوده د تسوید او تدقیق کمېسیون له لوري په (۱۲) فصلونو او (۱۶۲) موادو کې ترتیب شوه. د لویې جرګې له لارې، چې له ۱۳۸۲ هـ ش کال د قوس له (۲۲) څخه د جدي تر (۱۴) نېټې پورې جوړه شوې وه، د دې مسودې تصویب د یوې مهمې سیاسي پروسې په توګه ترسره شو. د دې پروسې په پایله کې، د ۱۳۸۲ هـ ش کال د دلو په (۶) نېټه، دا قانون د حامد کرزي له لوري لاسلیک او نافذ اعلان شو. سره له دې چې دا قانون په ځینو برخو کې له نیوکو سره مخ شو، خو په نهایت کې د هېواد د اکثریت خلکو له خوا منل شوی او د خپل دقت، پراختیا، او د عصري اړتیاوو په نظر کې نیولو سره، له پخوانیو اوو اساسي قوانینو څخه یو ځانګړی ځای لري.

دا نوی اساسي قانون په خپلو بنسټیزو اصولو کې داسې مواد لري چې د هېواد د قانوني او تقنیني نظام د اعتبار لپاره یې د اسلامي ارزښتونو او معتقداتو له مخالفته خوندیتوب تضمین کړی دی. دا موضوع په اسلامي هېواد کې یوه حیاتي مسله ده، ځکه چې د قانوني سندونو او اصولو منل او اعتبار په پراخه توګه له اسلامي ارزښتونو سره د هغوی د مطابقت له مخې سنجول کېږي.

په عین حال کې، افغانستان د نړیوالې ټولنې یوه برخه ده، او له همدې امله، د دولت د مسؤولیتونو په چوکاټ کې دا مهمه ګڼل شوې چې د دولتونو ترمنځ معاهدات، نړیوال میثاقونه، او هغه نړیوالې اعلامیې رعایت کړي چې افغانستان ورسره یوځای شوی دی. د دې قانون (۱، ۳، او ۷) مادې په دې برخه کې څرګند او روښانه دي، چې دا موضوع د افغانستان د نړیوالو مسؤولیتونو په رڼا کې څېړل شوې ده.

پر دې سربېره، چې د اساسي قانون نهايي کول او نافذول د دې لسيزو مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېږي، بلکې د دې سربېره د (۲۰۰) زيات تقنيني اسناد، چې پکې قوانين، مقررات، او فرمانونه شامل دي، تصويب او نافذ شوي دي. په دې قوانينو کې ځيني ډېر مهم قوانين، لکه د جزا کود، شامل دي، چې دا ټول د افغانستان په تقنيني نظام کې د يوه لوی پرمختګ په توګه ګڼل کېږي. دا پرمختګ په داسې حال کې شوی چې په تېرو اوږدو سياسي دورو کې يې ساری نه وو ليدل شوی، او د افغانستان د حقوقي او قانوني پرمختګ لپاره يوه مهمه لاسته راوړنه ده.

په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان نوی اساسي قانون تصويب شو، چې په دې قانون کې د اسلامي شريعت اصول د قانون د جوړوني بنسټ وګرځول شو. د اساسي قانون په ۳مه ماده کې واضح شوي چې "په افغانستان کې هيڅ قانون نشي جوړيدای چې د اسلام د سپېڅلي دين له معتقداتو او احکامو سره په ټکر کې وي.[1]" يادې مادې د اسلامي فقهې د تقنين لپاره يو قانوني چوکاټ جوړ کړ چې د ټول قانون جوړونې بهير باندې يې اغيزه لرله.

د افغانستان ولسي جرګې او مشرانو جرګې د قانون جوړونې په بهير کې مرکزي رول لوبوه. د اسلامي فقهې د تطبيق لپاره، پارلمان د قانون جوړونې په هر پړاو کې د اسلامي اصولو رعايت ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. د پارلمان غړي، چې د مختلفو سياسي او مذهبي ډلو استازيتوب کوي، په خپلو بحثونو کې د اسلامي فقهې اصولو ته ځانګړې پاملرنه کړله او د ديني علماوو څخه مشوره اخستله. د قانون جوړونې په پروسه کې د ديني علماوو او فقهې متخصصينو ګډون مهم ګڼل کېږي. په دې برخه کې د اسلامي فقهې د متخصصينو او د ديني علماوو شوراګانې جوړې شوې چې د مختلفو قوانينو د شرعي تفسير او تاييد مسئوليت يې درلود. يادو شوراګانو په پارلمان کې د قانون جوړونې پر بهير نظارت کاوه او ډاډ يې ترلاسه کاوه چې د نوي قوانينو احکام له اسلامي شريعت سره په مطابقت کې دي. همدارنګه په دې دوره کې، د فقهې د تطبيق لپاره يو لړ کميسيونونه جوړ شول چې هدف يې د موجودو قوانينو د اسلامي شريعت سره برابرول وو. يادو کميسيونونو قوانين، فرمانونه، او مقررات د اسلامي اصولو پر بنسټ تحليل او څېړل، او په هغو کې يې د اړتيا په صورت کې اصلاحات وړاندې کول. د دې سربېره ياده دوره کې د علماوو شوراګانې په ملي او ولايتي کچه فعالې وې. دغه شوراګانې د اسلامي فقهې د تطبيق او د قوانينو د شرعي اعتبار په اړه خپل نظرونه وړاندې کول. د علماوو شوراګانې د مختلفو قضيو په اړه د شرعي فتواګانو صادرولو او د اسلامي اصولو د تطبيق په اړه د حکومت مشوره کولو مسئوليت درلود.

---

[1]- د افغانستان اساسي قانون دريمه ماده

د افغانستان اسلامي جمهوریت په دوره کې د اسلامي فقهې د تدریس په برخه کې یو لړ اصلاحات راوستل شول. په دې برخه کې د مدارسو او پوهنتونونو درسي نصابونه نوي او معیاري شول. د اسلامي علومو په پوهنځیو کې د فقهې تدریس ته ځانګړې پاملرنه وشوه، او په دې برخه کې د نویو کتابونو چاپ او توزیع پیل شوه. د درسي موادو په جوړولو کې د معاصرو علمي میتودونو ترڅنګ د اسلامي شریعت اصولو ته پوره پاملرنه وشوه. د اسلامي فقهې په برخه کې یو لړ کتابونه او رسالې چاپ او توزیع شوې. دا کتابونه او رسالې د اسلامي شریعت مختلفو برخو ته تفصیلي پاملرنه کړې او د معاصر اسلامي فکر او فقهې پرمختګونو ته یې ځای ورکړی. په دې دوره کې د افغانستان د دینی علماوو لخوا یو لړ مهم فقهي کارونه ترسره شول چې په اسلامي نړۍ کې د پام وړ وګرځېدل. همدارنګه په یاده دوره کې د قضایي سیستم په بیا جوړونه کې اسلامي شریعت ته ځانګړې پاملرنه وشوه. قاضیان په منظمه توګه د اسلامي شریعت په اصولو کې روزل شوي او د شریعت پر بنسټ د قضاوت کولو لپاره ځانګړي روزنیز پروګرامونه ترسره شوي. د اسلامي فقهې په اړه د قاضیانو پوهه او مهارتونه لوړولو لپاره یو لړ روزنیز کورسونه او سیمینارونه جوړ شول.

په افغانستان کې د ښځو حقوقو په برخه کې د اسلامي فقهې له اصولو سره سم یو لړ اصلاحات او نوښتونه رامنځته شول. د ښځو د حقوقو د خوندي کولو لپاره ځانګړي قوانین تصویب شول، او د اسلامي شریعت پر اساس د ښځو حقونو ته ځانګړې پاملرنه وشوه. د ښځو د میراث، نکاح، او کورني تاوتریخوالي په اړه نوې قوانین معرفي شول چې د اسلامي فقهې له اصولو سره په مطابقت کې وو. د ماشومانو د حقونو او ساتنې په برخه کې هم یو لړ مهم اصلاحات رامنځته شول. د اسلامي شریعت پر بنسټ د ماشومانو حقوق او ساتنه په قوانینو کې ځای شول. په دې دوره کې د ماشومانو د کار، تعلیم، او روغتیا په برخه کې ځانګړي قوانین تصویب شول، چې د اسلامي فقهې او نړیوالو حقوقي معیارونو تر منځ تعادل جوړ کړی وو.

په اقتصادي چارو کې هم د اسلامي شریعت پر بنسټ یو لړ اصلاحات راوستل شول. د سود د مخنیوي، د زکات او خیرات د نظام د جوړولو، او د اسلامي بانکدارۍ د ترویج په برخه کې د فقهې اصولو پر بنسټ نوي قوانین معرفي شول. دغه اصلاحات د اسلامي اقتصادي اصولو تطبیق او د ټولنیز عدالت پر ځای کولو لپاره وو.

د افغانستان اسلامي جمهوریت له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۱ پورې په دې هڅه کې وو چې یو داسې حقوقي سیستم رامنځته کړي چې د اسلامي شریعت اصول او نړیوال حقوقي معیارونه سره یو ځای کړي. په دې دوره کې د اسلامي فقهې د تقنین او تطبیق لپاره یو لړ مهم ګامونه واخیستل شول، چې د افغانستان په قضایي، قانوني، او تعلیمي سیستمونو کې ژورې اغیزې درلودې. دغه ګامونه د افغانستان د حقوقي سیستم د جوړولو او د اسلامي فقهې د تطبیق په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ګڼل کېږي.

## پایله

د "اسلامي فقهي تقنين او په افغانستان کې يې هڅې" تر عنوان لاندې مې خپله څېړنه د اسلامي فقهي د تقنين پر اهمیت، اصولو، ځانګړتیاوو، او په افغانستان کې د هغې د تطبیق بهیر متمرکزه کړې ده. په دې څېړنه کې مې هڅه کړې چې د تقنین د مفهوم او شرعي بنسټونو علمي توضیح وړاندې کړم او د اسلامي شریعت سره د هغې اړیکه څرګنده کړم. دغه راز، مې د اسلامي فقهي د تقنین اړتیاوې او ټولنیزې اغېزې څېړلې دي. ځانګړې پاملرنه مې په افغانستان کې د تقنین د تاریخ، پرمختګونو، او ستونزو ته کړې ده. د څېړنې په پای کې لاندې مهمو پایلو ته رسېدلی یم:

1- اسلامي فقهه د ټولنیزو او حقوقي اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو جامع چوکاټ وړاندې کوي، چې د عدالت او نظم د تأمین لپاره د هغې تقنین اړین ګڼل کېږي. د تقنین اساس د اسلامي شریعت اصول دي، چې د ټولنیزو اړتیاوو سره د توافق وړتیا لري او د شرعي اهدافو (مقاصد الشریعه) د تحقق لپاره عملي حل لارې وړاندې کوي.

2- د اسلامي فقهي تقنین د ټولنیز عدالت لپاره اغېزناک رول لري. د تقنین په مرسته اسلامي شریعت د معاصرو ټولنیزو او حقوقي ننګونو سره تطابق موندلی، چې د ټولنیز عدالت او نظم د ټینګښت لامل ګرځېدلی دی. په افغانستان کې د اسلامي فقهي تقنین د معاصرو سیاسي او ټولنیزو تحولاتو له امله یوه اړینه اړتیا ګڼل شوې، چې د قوانینو په جوړولو کې د اسلامي شریعت مراعات تضمین کړي.

3- اسلامي فقهه د زمان او مکان له غوښتنو سره د تطابق وړتیا لري، چې په تقنین کې د هغې انعطاف یوه مهمه ځانګړنه ده.

4- اسلامي فقهه د نړیوالو قوانینو سره د همغږۍ ظرفیت لري، چې د تقنین په بهیر کې د هغې د انعطاف او جامعیت څرګندونه کوي.

5- د اسلامي فقهي تقنین د اسلامي ټولنو د پرمختګ او یووالي لپاره بنسټیز رول لري، چې د معاصرو ستونزو د حل لپاره یو مهم میکانیزم دی.

6- اسلامي فقهه د تقنین له لارې د معاصرو ټولنیزو، اقتصادي، او سیاسي ستونزو لپاره تطبیقي او عملي حللارې وړاندې کوي، چې د اسلامي ټولنو لپاره یې اهمیت زیاتوي.

7- د تقنین په پروسه کې د اجتهاد رول بنسټیز دی، ځکه چې د نوي پېچلي وضعیتونو لپاره د شریعت څخه د نوو احکامو استنباط تضمینوي او د اسلامي شریعت مقاصد (مقاصد الشریعه) د تقنین د بهیر لارښوونه کوي، چې د عدل، خیر او عامه ګټو د تحقق لپاره د قوانینو جوړښت اسانه کوي.

8- تقنین کې د اسلامي فقهي ترڅنګ د عرف او دودونو د رعایت کولو ارزښت هم مهم دی، چې د ټولنې غوښتنې او اړتیاوې په قوانینو کې منعکسوي.

9- د تقنین په بهیر کې د نورو اسلامي هېوادونو تجربې او نړیوال حقوقي چوکاټونه مرسته کوي چې د اسلامي شریعت تطبیق لا عملي او اغېزناک شي.

## وړاندیزونه

زه د یاد بحث په پای کې لاندې څو وړاندیزونه لرم:

1- د اسلامي فقهې د تقنین لپاره د واحدې فقهي شورا جوړول، د دیني علماوو، حقوقي متخصصینو، او پوهانو په همکارئ دې یوه شورا جوړه شي چې د اسلامي شریعت د اصولو پر بنسټ د تقنین پروسه پرمخ بوسي او د هېواد د ټولنیزو اړتیاوو سره همغږي رامنځته کړي.

2- د معاصرې ټولنې اړتیاوو سره د فقهې د تقنین تطابق، اسلامي فقهه دې د شریعت د اصولو په رڼا کې داسې تفسیر او تطبیق شي چې د افغانستان د ټولنې حقوقي، اقتصادي، او سیاسي اړتیاوې پوره کړي.

3- د تقنین د خنډونو د حل لپاره ټولنیزه او سیاسي اجماع، د دیني او سیاسي مشرانو ترمنځ همغږي او اجماع دې پیاوړې شي ترڅو د تقنین په برخه کې موجودې ستونزې او اختلافات حل شي.

4- د اسلامي فقهې قوانینو په اړه عامه پوهاوی، د خلکو د عامه پوهاوي د لوړولو لپاره دې د اسلامي شریعت د اصولو په اړه تعلیمي پروګرامونه، ورکشاپونه، او کمپاینونه تنظیم شي ترڅو خلک د قوانینو اهمیت او ګټې درک کړي.

5- د اسلامي نړئ د بریالیو تجربو څخه زده کړه، په اسلامي هېوادونو کې د فقهي تقنین د تطبیق تجربې دې وڅېړل شي او د افغانستان د شرایطو سره سم دې د تطبیق وړ برخې عملي شي.

6- د فقهې د تقنین د پرمختګ لپاره د نړیوالو کنفرانسونو تنظیم، په ملي او نړیواله کچه د کنفرانسونه او سیمینارونه تنظیم شي چې د اسلامي فقهې د تقنین پر اړتیاوو، ننګونو، او حللارو بحث وکړي. دا به مرسته وکړي چې د اسلامي نړئ پوهان او متخصصین د خپل تجربو او نظریاتو شریکولو له لارې د افغانستان لپاره ګټوري طرحې وړاندې کړي.

زه باور لرم چې پورته وړاندیزونه به د اسلامي فقهې تقنین په تطبیق او په افغانستان کې یې د اغېزمنو هڅو په بریالیتوب کې مثبت اغېز ولري.

## د ایتونو فهرست


| شمېره | ایت | سورت | صفحه |
|---|---|---|---|
| ۱ | {وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا} | الفرقان: ٦٣ | ۹ |
| ۲ | وَلَهُ أَسْلَمَ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا } | آل عمران:۸۳ | ۹ |
| ۳ | َّ اللَّهَ اصْطَفَى لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ} | البقرة: ۱۳۲ | ۹ |
| ٤ | فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ} | التوبة: ۱۲۲ | ۱٤،۹ |
| ٥ | {وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِنْ لِسَانِي} | طه: ۲۷ | ۱۰ |
| ٦ | { وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا} | الحشر: ۷ | ۱۷ |
| ۷ | وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ ...} | الأحزاب: ٣٦ | ۲۹ |
| ۸ | {وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ} | الشورى: ۳۸ | ۷٤,۸۸ |
| ۹ | يُهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ} | النساء: ٥٩ | ۹٥،۸۷ |
| ۱۰ | رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ...} | النساء: ۸۳ | ۸۸ |
| ۱۱ | {إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ ...} | النساء: ۱۰٥ | ۹٥ |
| ۱۲ | اوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ...} | ص: ۲٦ | ۹٥ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٣ | {وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ} | الشورى: ١٠ | ٩٥ |

| د احاديثو لړليک | | |
|---|---|---|
| ګڼه | حديث | پاڼه |
| ١ | "القضاة ثلاثة: واحد فى الجنة واثنان فى النار، فأما الذى فى الجنة..." | ٩٦ |
| ٢ | "السمع والطاعة على المرء فيما أحب أو كره، الا أن يؤمر بمعصية..." | ٨٨ |
| ٣ | "اذا حكم الحاكم فاجتهد ثم أصاب فله أجران، واذا حكم فاجتهد ..." | ٩٣ |
| ۴ | "بِمَ تَقْضِي إِذَا عَرَضَ لَكَ قَضَاءٌ؟" قَالَ: أَقْضِي بِكِتَابِ اللَّهِ..." | ١٨ |
| ۵ | "اللهم علمه الدين وفقهه في التأويل..." | ١٠ |
| ۶ | "لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يَكُونَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ..." | ٢٩ |
| ٧ | "مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ، وَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ وَاللَّهُ يُعْطِي..." | ١٠ |
| ٨ | | ١٨ |
| | | |

# د اعلامو لړليک


| شمېره | نوم | صفحه |
|---|---|---|
| ١ | الغزالي | ١١ |
| ٢ | ابو اسحق الشيرازي | ١٣ |
| ٣ | ابن عابدين | ١٥ |
| ٤ | ابن جزى الكلبي | ١٦ |
| ٥ | ابن جريج | ٤٨ |
| ٦ | ابن حجر العسقلاني | ١١ |
| ٧ | ابن حزم | ٩٨ |
| ٨ | ابن شهاب | ٢١ |
| ٩ | ابن عبدالسلام الهوارى | ٧٤ |
| ١٠ | ابن طلال | ٧٣ |
| ١١ | ارسطو | ٤٥ |
| ١٢ | اسماعيل بن قسطنطين | ١٩ |
| ١٣ | امام رافع | ٢١ |

| | | |
|---|---|---|
| ١٤ | أبوزهرة | ٥٦ |
| ١٥ | القرضاوي | ٣٣ |
| ١٦ | القرافي | ٧٢ |
| ١٧ | بدرالدين الزركشي | ١١ |
| ١٨ | پروفيسر لامبير | ٥٤ |
| ١٩ | حسن البصري | ١٢ |
| ٢٠ | حماد بن سليمان | ٢٠ |
| ٢١ | سفيان الثوري | ٢٣ |
| ٢٢ | سيد عفيفي | ٥٤ |
| ٢٣ | شويس المحاميد | ٣٥ |
| ٢٤ | شيخ حسنين مخلوف | ٧٦ |
| ٢٥ | شيخ يوسف القرضاوي | ٢٧ |
| ٢٦ | صالح بن فوزان | ٢٧ |
| ٢٧ | طارق البشري | ٣٣ |

| | | |
|---|---|---|
| ٢٨ | عبد الله بن المقفع | ٤٨ |
| ٢٩ | عبدالله بن حميد | ٧١ |
| ٣٠ | عمربن عبد العزيز | ٩٨ |
| ٣١ | قاضي بن سريج | ٧٣ |
| ٣٢ | لوسون | ٩٩ |
| ٣٣ | مصطفى زرقاء | ٣٤ |
| ٣٤ | محمد رشيدرضا | ٥٣ |
| ٣٥ | محمد عبده | ٥٣ |
| ٣٦ | محمد الأمين الشنقيطي | ٧١ |
| ٣٧ | وهبة الزحيلي | ٣٣ |
| ٣٨ | هيثم الرومي | ٢٩ |

# منابع او مصادر


١- القرآن العظيم.

٢- ابراهيم مصطفى ـ أحمد الزيات ـ حامد عبد القادر ـ محمد النجار، المعجم الوسيط، تحقيق / مجمع اللغة العربية ، دار الدعوة

٣- ابن كثير، الحافظ اسماعيل بن عمر بن كثير القرشي الدمشقي، البداية والنهاية، تحقيق: عبدالله بن عبدالمحسن التركي، دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع، ط١، ١٩٩٧م.

٤- ابن قدامة، عبدالرحمن بن قدامة،المدخل الى تاريخ التشريع الاسلامي، دار الكتب العلمية-بيروت،٢٠٠٠م.

٥- ابن التيمية، السياسة الشرعية فى اصلاح الراعي والرعية، المحقق: عبدالرحمن بن عبدالله بن قاسم، مكتبة المعارف-رياض، ١٩٩٩م.

٦- ابن تيمية، احمد بن عبدالحليم ابن تيمية، الخلافة والملك، مكتبة المنار الاسلامية، ١٩٩٤م.

٧- ابن القيم الجوزي، شمس الدين محمد بن أبى بكر بن أيوب بن سعد الزرعي الدمشقي-المعروف بابن القيم الجوزية، اعلام الموقعين عن رب العلمين، درا الكتب العلمية-بيروت، ٢٠٠٢م.

٨- ابن القيم الجوزي، شمس الدين محمد بن أبى بكر بن أيوب بن سعد الزرعي الدمشقي-المعروف بابن القيم الجوزية، الطرق الحكمية فى السياسة الشرعية، تحقيق محمد خامد الفقي، دار الكتب العلمية، بيروت.

٩- ابن خلدون، المقدمة، تحقيق: علي عبدالواحد وافي، دار النهضة العربية، ٢٠٠١م.

١٠- ابن عاشور، محمد الطاهر بن محمد بن محمد الطاهر بن عاشور التونسي، مقاصد الشريعة الاسلامية، المحقق: محمد الخبيب بن الخوجة، الناشر: وزارة الأوقاف والشئون الاسلامية-قطر، ٢٠٠٤م، عدد الأجزاء ٣، ط١.

١١- ابن قيم الجوزية، أحكام أهل الذمة، دار الفكر العربي- قاهرة-مصر ، ١٩٨٠م.

١٢- ابن منظور، جمال الدين أبى الفضل محمد بن مكرم بن منظور، لسان العرب، ط٣، بيروت، دار احياء التراث العربي.

١٣- ابن نجيم، زين الدين بن ابراهيم بن محمد ابن نجيم المصري، الأشباه والنظائر على مذهب أبى حنيفة النعمان، محقق: الشيخ زكريا عميرات، دار الكتب العلمية-بيروت، ١٩٩٩م.

١٤- أبو زرعة، أبو زرعة عبدالرحمن بن عمرو الدمشقي، تاريخ أبى زرعة الدمشقي، تحقيق: دوكتور يحيى محمد عوض الخلايلة، دار ابن حزم، ط١، ١٩٩٨م.

١٥- أبو زيد، بكر، فقه النوازل، قضايا فقهية معاصرة، بحث التقنين والالزام، مؤسسة الرسالة.

١٦- أبو يوسف يعقوب بن ابراهيم الانصاري، كتاب الخراج، دار المعرفة للطباع والنشر-بيروت، ١٩٧٩م.

١٧- امام مالک بن انس، الموطأ، دار احياء التراث العربي، ١٩٨٥م، محقق: محمد فؤاد عبدالباقي.
١٨- امين ، دوکتور عبدالباقي امين، قانونگذاري، ١٣٩٧هش٢٠١٨م، ط١، مرکز تحقيقات قاصد کابل افغانستان.
١٩- الآجري، ابوبکر محمد بن حسين، الفقه والشريعة، دار الکتب العلمية، ط٢، ٢٠٠٣م.
٢٠- البخارى ، محمد ابن اسماعيل البخاري، صحيح البخارى، ط١، حديث نمبر ٧١، دار ابن كثير –بيروت
٢١- البشري ، طارق البشري، الوضع القانوني المعاصر بين الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي، دار الشروق، ط١٩٩٦-١م
٢٢- البعلي، عبدالحميد محمود البعلي، ضرورة تقنين أحكام الفقه الاسلامي لتطبيق الشريعة الاسلامية، ادارة البحوث والدراسات٢٠٠٨م.
٢٣- البعلى ، عبدالحميد محمود البعلى، مرتكزات استراتيجية المعاملات المالية الاسلامية، مكتبة وهبة-القاهرة، ٢٠٠٠م، ص٤٥
٢٤- الجزيرى ، عبدالرحمن الجزيرى، الأحوال الشخصية فى الفقه الاسلامي، قاهرة-مصر، دار الکتب العلمية، ١٩٩٠م.
٢٥- الثعالبي ، محمد بن الحسن الحجوي الثعالبي، الفکر السامي في تاريخ الفقه الاسلامي، دار الکتب العلمية، ١٩٢٧م.
٢٦- الحاکم، محمد بن عبدالله الحاکم النيساپوري، المستدرک على الصحيحين، دار الکتب العلمية
٢٧- الخلايلة ، يحيى محمد عوض الخلايلة، تقنين احكام الشريعة الاسلامية بين النظرية والتطبيق: دراسة مقارنة لتجربة باكستان ومشروع مصر فى التعزير، الجامعة الاسلامية العالمية-اسلام آباد، ٢٠٠٢م.
٢٨- الزحيلي ، محمد مصطفى الزحيلي، معالم النهضة الفقهية المعاصرة، دار العصماء، ١٩٩٥م.
٢٩- الزحيلي، وهبة الزحيلي، حقوق الانسان فى الاسلام، دار الفكر العربي، ١٩٨٦م، دمشق.
٣٠- الزحيلي، وهبة الزحيلي، مجلة الأحكام العدلية و ضرورات التقنين، دار الفكر العربي، ١٩٩٣م
٣١- الزحيلى، وهبة، الذرائع فى السياسة الشرعية والفقه الاسلامى، دار المكتبى، دمشق.
٣٢- الزحيلي، وهبة، الفقه الاسلامي و ادلته، دار الفکر، دمشق.
٣٣- الزحيلى، وهبة، جهود تقنين الفقه الاسلامى، دار الفکر، ٢٠١٤م.
٣٤- الزرقاء ، مصطفى الزرقاء، المدخل الى الشريعة الاسلامية، دار القلم-دمشق، ١٩٨٩م.
٣٥- القاري ، احمد علي القاري، شرح الفقه الأکبر، دار الکتب العلمية، ١٩٨٤م.

٣٦- الدارمي ، عبدالله بن عبدالرحمن الدارمي، سنن الدارمى، دار البشائر الاسلامية-بيروت، المحقق: نبيل بن هاشم الغمري.
٣٧- الذهبي، شمس الدين أبو عبد الله محمد بن أحمد بن عثمان بن قَايْماز، تاريخ الإسلام ووفيات المشاهير والأعلام، المحقق: عمر عبد السلام التدمري، دار الكتاب العربي، بيروت، ط٢، ١٤١٣ هـ - ١٩٩٣ م.
٣٨- الذهبي، شمس الدين محمد بن أحمد بن عثمان، سير أعلام النبلاء، مؤسسة الرسالة،ط١١، ١٩٩٦م.
٣٩- الرازى، زين الدين ابو عبدالله محمد بن أبي بكر بن عبدالقادر الحنفى، مختار الصحاح، بيروت، مكتبة لبنان ناشرون، محقق: محمود خاطر، ١٩٨٩م.
٤٠- الزرقا، مصطفى، المدخل الفقهى العام، دار القلم، دمشق.
٤١- الزركشي، بدرالدين محمد بن بهادر، البحر المحيط فى أصول الفقه، دار الكتبى، ط١، ١٩٩٤م.
٤٢- الزركشي ، بدرالدين محمد بن عبدالله الزركشي، البرهان في علوم القرآن، دار المعرفة بيروت، تحقيق: محمد أبوالفضل ابراهيم.
٤٣- السجستاني، أبو داواد سليمان بن الأشعث السجستاني، سنن أبى داود، دار الرسالة العالمية، ط١، ٢٠٠٩م
٤٤- السديري ، توفيق بن عبدالعزيز السديري، الإسلام والدستور، الناشر: وكالة المطبوعات والبحث العلمي وزارة الشئون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد، الطبعة: الأولى، ١٤٢٥هـ.
٤٥- الماوردي ، أبو الحسن علي بن محمد بن حبيب الماوردي، الأحكام السلطانية والولايات الدينية، دار الفكر، ٢٠٠١م
٤٦- الغزالي ، أبو حامد محمد بن محمد الغزالي، الوسيط فى المذهب، تحقيق: أحمد محمود ابراهيم-محمد محمد تامر، دار السلام-القاهرة، ط١، ١٩٩٧م.
٤٧- العاني، ابراهيم عبدالرحمن العاني، فقه الموازنات بين المصالح والمفاسد في ضوء مقاصد الشريعة، دمشق، دارالسلام، ط١، ٢٠٠٨م.
٤٨- الشاوى ، توفيق الشاوى، فقه الشورى والاستشارة، دار الوفاء للطباعة والنشر، ١٩٩٢م.
٤٩- الصاوي ، د.صلاح الصاوي، الوجيز فى فقه الخلافة، دار الاعلام الدولى.
٥٠- السبكي، تاج الدين عبدالوهاب بن علي بن عبدالكافي السبكي، الأشباه والنظائر، دارالكتب العلمية.
٥١- السرخسي، شمس الأئمة السرخسي، محقق: خليل محى الدين الميس، دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع-بيروت، ٢٠٠٠م، عدد الأجزاء ٣٠، ط١.

٥٢- السيوطى، عبدالرحمن بن أبى بكر، الأشباه والنظائر، دار الكتب العلمية، بيروت، لبنان.
٥٣- الشاطبى، أبو اسحاق ابراهيم بن موسى اللخمي الشاطبى، الموافقات في أصول الشريعة، دار الكتب العلمية-بيروت، ٢٠٠٤م.
٥٤- الشاطبي، أبو اسحق ابراهيم بن موسى بن محمد اللخمي، الموافقات، محقق: أبو عبيدة مشهور بن حسن آل سلمان، دار ابن عفان، ١٩٩٧م.
٥٥- الشافعي، محمد بن ادريس، الرسالة، محقق: عبداللطيف الهميم و ماهر ياسين فحل، دار الكتب العلمية-بيروت، ٢٠٢١م، ط١.
٥٦- الشلبي، محمد مصطفى شلبي، قواعد الفقه، دار النهضة العربية للطباعة والنشر، ١٩٨١م، ط١.
٥٧- القرافي ، شهاب الدين احمد بن ادريس القرافي، الاحكام في تمييز الفتاوى عن الأحكام وتصرفات القاضي والامام، دار الكتب العلمية، ١٩٩٥م، ط٢.
٥٨- القرافي ، شهاب الدين أحمد بن ادريس القرافي، الذخيرة، تحقيق: محمد حجي، دار الغرب الاسلامي-بيروت، ١٩٩٤م، ط١.
٥٩- المحاميد ، شويش هزاع علي المحاميد، مسيرة الفقه الاسلامي المعاصر وملامحه-دراسة وثائقية تحليلية، دار عمار للنشر والتوزيع ٢٠٠١م.
٦٠- الشيرازي، أبو اسحاق ابراهيم بن على بن يوسف، اللمع فى أصول الفقه، دار الكتب العلمية، ط٢، ٢٠٠٣م.
٦١- الطبري، محمد بن جرير، جامع البيان فى تأويل القرآن، تحقيق: أحمد محمد شاكر، مؤسسة الرسالة، الطبعة الأولى.
٦٢- القاسم ، عبدالرحمن القاسم، الاسلام و تقنين الأحكام، دار المعارف السعودية، ١٩٧٧م،
٦٣- الشتري ، عبدالرحمن بن سعد بن علي الشتري، حكم تقنين الشريعة الاسلامية، دار النهضة العربية، ١٩٩٧م.
٦٤- السنهوري ، عبدالرزاق أحمد السنهوري، مصادر الحق فى الفقه الاسلامى: دراسة مقارنة بالفقه العربي، جامعة الدول العربية، ١٩٥٤م.
٦٥- العسقلاني، امام احمد بن علي بن حجر، فتح البارى بشرح صحيح البخارى، القاهرة، دار الريان للتراث.
٦٦- الأشقر ، عمر سليمان الأشقر، تاريخ الفقه الاسلامى، مكتبة الفلاح-كويت، ط٢، ١٩٨٩م
٦٧- الأشقر ، عمر سليمان الأشقر، معوقات تطبيق الشريعة الاسلامية، دار النفائس، عمان، ط١، ١٩٩٢م.

٦٨- السلمي ، عياض بن نامي السلمي، أصول الفقه الذى لا يسع الفقيه جهله، دار التدمرية-رياض، ٢٠٠٥م.

٦٩- الغزالي، أبو حامد محمد بن أحمد الغزالي، احياء علوم الدين، الناشر: دار المعرفة-بيروت،١٩٩٢م، عدد الأجزاء ٤، ط.

٧٠- الغزالي، أبو حامد محمد بن محمد الغزالي الطوسي، المستصفي من علم الأصول، دار الكتب العلمية، ١٩٩٨م.

٧١- الغزالى، محمد بن محمد الغزالى أبو حامد، المستصفى فى علم الاصول، تحقيق محمد بن عبدالسلام عبدالشافعى، دار الكتب العلمية، بيروت الطبعة الاولى ١٤١٣ه.

٧٢- العواء ، فاطمة محمد العواء، عقد التحكيم فى الشريعة والقانون: دراسة لتقنين الفقه الاسلامي والتأثير التشريعي لمجلة الأحكام العدلية، المكتب الاسلامي للطباعة والنشر ٢٠٠٢م.

٧٣- الحيصبى ، قاضي عياض بن موسى الحيصبى، ترتيب المدارک وتقريب المسالک لمعرفة أعلام مذهب مالک، دار المطبعة الحياتية، ط١، ١٩٦٥م، باب ذكر الموطأ.

٧٤- القرضاوى، يوسف، الساسة الشرعية فى ضوء الكتاب والسنة، مؤسسة الرسالة، بيروت.

٧٥- القرضاوى، يوسف، مدخل لدراسة الشريعة الاسلامية، موسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، دار الفرقان للنشر والتوزيع، ٢٠٠١م.

٧٦- القيسي، رافع ليث سعود جاسم، نظرات فى تقنين الفقه الاسلامي تاريخه فقهه ضوابطه، مركز نماء للبحوث والدراسات، ٢٠١٥م.

٧٧- الماوردي، ابو الحسن على بن محمد بن حبيب، الأحكام السلطانية والولايات الدينية، تحقيق د.أحمد مبارک البغدادي.

٧٨- الصدر ، محمد باقر الصدر، اقتصادنا، بيروت-لبنان، دار الفكر، ١٩٩٠م.

٧٩- الشوكانى ، محمد بن على الشوكانى، القول المفيد فى أدلة الاجتهاد والتقليد، درا القلم- الكويت، ١٩٧٦م،

٨٠- القرطبي ، محمد بن فرج القرطبي المالكي ابن الطلاع، أقضية رسول الله ﷺ ، دار احياء الكتب العربية، ١٩٢٧م

٨١- النبهان ، محمد فاروق النبهان، أبحاث اسلامية فى التشريع والفكر والحضارة، مؤسسة الرسالة-ناشرون، ١٩٨٦م.

٨٢- القشيري ، مسلم بن الحجاج أبو الحسين القشيري النيسابوري، صحيح مسلم، تحقيق محمد فؤاد عبدالباقي، دار احياء التراث العربي، بيروت.

٨٣- المنياوي، أبو المنذر محمود بن محمد بن مصطفى بن عبدالطيف، شرح الكبير لمختصر الأصول، المكتبة الشاملة، القاهرة، ط١، ٢٠١١م.

٨٤- الموسوعة العربية الميسرة، مجموعة من العلماء والباحثين، المكتبة العصرية-بيروت.

٨٥- المحاميد، شويش، مسيرة الفقه الاسلامي المعاصر، دار عمان، الاردن.

٨٦- النووى، محيى الدين يحى بن شرف، المجوع شرح المهذب، تحقيق: لجنة من العلماء، ادارة الطباعة المنيرية- مطبعة التضامن الأخوى- القاهرة، ١٩٢٨م، عدد الأجزاء ٩.

٨٧- الرومي ، هيثم بن فهد بن عبدالرحمن الرومي، الصياغة الفقهية فى العصر الحديث، دار ابن حزم، ٢٠١٤م.

٨٨- القرضاوي ، يوسف القرضاوي، في فقه الأقليات المسلمة، دار الشروق، ٢٠٠١م.

٨٩- القرضاوي ، يوسف القرضاوى، مدخل لدراسة الشريعة الاسلامية، دار الفرقان للنشر والتوزيع، ٢٠٠١م.

٩٠- بك ، محمد الخضري بك، تاريخ التشريع الإسلامي، ط٦، ١٩٩٤م، دار الفكر العربي.

٩١- پوپلزائي ، عزيز الدين وكيلي پوپلزائي درانی، دارالقضاء در افغانستان- از اوائل عهد اسلامي تا عهد جمهوريت، ط١، ١٣٦٩هش.

٩٢- جمعة ، عماد علي جمعة، المكتبة الاسلامية، الناشر: سلسلة التراث العربي الاسلامي، ط٢، ٢٠٠٣م.

٩٣- حيدري ، محمد تميم حيدري، قانونگذاري بشر از ديدگاه مذاهب اسلامي، انتشارات سعيد-كابل، ص٦٢.

٩٤- خلاف ، شيخ عبدالوهاب خلاف، علم أصول الفقه، مكتبة الدعوة-شباب الأزهر، ١٩٨٢.

٩٥- خلاف ، عبدالوهاب خلاف، تدوين الفقه الاسلامي، دار المعارف، قاهرة، ١٩٨٥م.

٩٦- دانش، سرور، درآمدي بر وضع وتصويب قانون اساسي جديد، كابل، مركز فرهنگی اجتماعي سراج.

٩٧- رسولي ، محمد اشرف رسولي، روش و فنون قانونگذاری، انتشارات سعيد، ١٣٩٨ه ش.

٩٨- رضا، محمد رشيد رضاء، الخلافة، الزهراء ببلاعلام العربي، مصر.

٩٩- رضا، محمد رضا، الفاروق عمر بن الخطاب، ط٣، ١٩٨٤م، دار الفكر العربي.

١٠٠-رضا ، شيخ محمد رشيد رضا، تفسير المنار، دار المعرفة للطباعة والنشر-بيروت، ١٩٩٠م.

١٠١-زيدان ، عبدالكريم زيدان، المدخل لدراسة الشريعة الاسلامية، مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، ١٩٦٦م،

١٠٢-شلبي ، احمد شلبي، التشريع والفقه فى الاسلام، مكتبة النهضة العربية، ١٩٩٤م.

١٠٣-عبدالبر، محمد زكي، تقنين الفقه الاسلامي-المبدأ والمنهج والتطبيق، دار النهضة العربية، ١٩٩٧م
١٠٤-عطية ، جمال الدين عطية، مسألة تقنين الشريعة الاسلامية من حيث المبدأ، مجلة المسلم المعاصر، ١٩٧٧م.
١٠٥-عودة ، عبدالقادر عودة، التشريع الجنائي الاسلامي مقارنا بالقانون الوضعي، دار الحديث، ٢٠٠٩م.
١٠٦-على جمعة محمد عبد الوهاب، المدخل إلى دراسة المذاهب الفقهية، دار السلام – القاهرة، ط٢، ١٤٢٢ هـ - ٢٠٠١ م.
١٠٧-علي عبدالرازق، الاسلام و أصول الحكم، دار الكتاب العربي-القاهرة، ٢٠١١م.
١٠٨-علي محمد جعفر، تاريخ القوانين ومراحل التشريع الاسلامى، بيروت، المؤسسة الجامعية للدراسات والنشر والتوزيع١٩٨٦م.
١٠٩-غبار ، غلام محمد غبار، افغانستان در مسير تاريخ، ص١٠٢٣، ١٣٤٢هش، انتشارات معارف-كابل.
١١٠-غلام محمد غبار، امان الله خان او د افغانستان نوى دوره.
١١١-فرهنگ ، محمد صديق فرهنگ، افغانستان در پنج قرن اخير، انتشارات معارف-كابل١٣٤٦ه ش.
١١٢-فرحات ، محمد نور فرحات، القضاء الشرعي فى مصر فى العصر العثماني، الهيئة المصرية العامة للكتاب، القاهرة، ١٩٨٨م.
١١٣-محمصاني ، صبحي رجب محمصاني، فلسفة التشريع فى الاسلام،دار الكشاف بيروت، ١٩٤٦م.
١١٤-معلوف ، لوئيس معلوف، المنجد فى اللغة، المطبعة الكاثوليكية-بيروت، ١٩٣١م.
١١٥-نجم ، عبد المنعم السيد نجم، تدوين السنة ومنزلتها، الجامعة الإسلامية المدينة المنورة، الطبعة: السنة الحادية عشرة- العدد الثالث- ربيع الأول ١٣٩٩هـ.
١١٦-محمد الخضر حسين، الشريعة الاسلامية صالحة لكل زمان و مكان، دار النهضة مصر للطباعة والنشر والتوزيع، القاهرة، ١٩٩٩م.
١١٧-عبدالغفار ، محمد حسن عبدالغفار، تيسير أصول الفقه للمبتدئين، دار السلام القاهرة، ٢٠٠١م.
١١٨-عبدالبر ، محمد زكى عبدالبر، تقنين الفقه الاسلامي المبدأ والمنهج والتطبيق، ادارة احياء التراث الاسلامى، ١٩٨٦م، ط٢.
١١٩-مذكور ، محمد سلام مذكور، القضاء فى الاسلام، دار النهضة العربية، ١٩٦٤م،
١٢٠-محمد، محمد عبدالجواد محمد، بحوث فى الشريعة الاسلامية والقانون، منشأة المعارف ١٩٩١م.
١٢١-موسى ، محمد يوسف موسى، التشريع الاسلامي و مراحله، ط٢، دار الفكر العربي.

**١٢٢-**موسى ، محمد يوسف موسى، تاريخ الفقه الاسلامي، دار الفكر ١٩٦٨م.
**١٢٣-**موسى ، محمد يوسف موسى، تقنين الشريعة الاسلامية بين الجهد العلمي و السلطة السياسية، ص١٢٤-١٢٣، دار الفكر العربي، ١٩٦٥م.
**١٢٤-**واصل ، نصر فريد واصل، فقه المعاملات المدنية والتجارية فى الشريعة الاسلامية، المكتبة التوفيقية القاهرة، ١٩٩٨م.
**١٢٥-**وجدى، محمد فريد، الاسلام فى عصر العلم، دار الكتاب العربي، بيروت، ١٩٨٥م.
**١٢٦-**أبو زهرة ، محمد أبو زهرة، مالک حياته وعصره آراءه الفقهية، دار الفكر العربي، قاهرة.
**١٢٧-**إمام ، محمد كمال الدين امام، فى الصياغة التشريعية، دار المطبوعات الجامعية، ٢٠١٢م.
**١٢٨-**إمام ، محمد كمال الدين امام، فى الصياغة التشريعية، دار المطبوعات الجامعية، ١٩٩٧م، ط١.
١٢٩- Islamic Law and the Colonial Encounter in British India, Anderson, **١٩٩٣**
١٣٠- Robertson, Crimes against humanity, ٩٠.
١٣١- The Codification of Islamic Law in the Ottoman Empire, Samy Ayoub, published by: Islamic Law and Society, issue ٢nd, Volume ١٦, page ١٢١.

# Summary of the Research

This research, titled "**Codification of Islamic Jurisprudence and its Efforts in Afghanistan**", is a valuable and significant scholarly work, as it presents an in-depth academic discussion on issues related to the codification of Islamic jurisprudence. The study begins with a clear exposition of the concept and historical development of Islamic jurisprudence, outlining its foundational principles, sources, and various phases of implementation.

In particular, the codification of Islamic jurisprudence is extensively analyzed, with the study scientifically exploring the reasons and needs for codification. It presents multiple perspectives, supported by authentic and well-referenced arguments. The research seeks to answer the fundamental question of why and how the branches of Islamic jurisprudence can be incorporated into a formal legal framework.

The study also examines the experiences of other Islamic and non-Islamic countries in the field of legal codification. It provides a detailed analysis of the established principles and regulations for codification that align with Shariah, offering a practical guide for drafting Islamic legal codes that also address the needs of modern societies.

The final chapter of the research focuses on the efforts made in Afghanistan to codify Islamic jurisprudence. This section provides a comprehensive analysis of various historical stages—especially the initiatives of modern Afghan governments—to draft and implement laws within the framework of Shariah. The study highlights legal and political challenges, contradictions between religious and secular ideologies, and the obstacles and opportunities inherent in the codification process.

The codification of Islamic jurisprudence is portrayed as a foundational component of Islamic civilization, one that seeks to present the principles of Islamic Shariah in a legal format compatible with contemporary needs. This

endeavor is seen not only as essential for achieving social justice but also as a sacred effort to attain the pleasure of Allah Almighty.

The research employs descriptive and analytical methodologies, ensuring that every topic discussed is substantiated with credible references. It strives to provide a clear and comprehensive analysis of the needs and challenges surrounding the codification of Islamic jurisprudence, with a particular emphasis on the achievements and obstacles related to the formulation and implementation of Islamic law in Afghanistan.

Salam University
Faculty of Sharia and Law
Master Program in Jurisprudence & Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# The Codification of Islamic Jurisprudence and Its Efforts in Afghanistan

## A Master's thesis

**Student:** Rohullah Elyas
**Supervisor:** Dr. Najibullah salih

**Year:** 2023

Salam University
Faculty of Sharia and Law
Master Program in Jurisprudence & Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
DM of Academic Affairs

# The Codification of Islamic Jurisprudence and Its Efforts in Afghanistan

A Master's thesis

Student: Rohullah Elyas
Supervisor: Dr. Najibullah salih

Year: 2023